د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د علومو اکاډمي
معاونیت بخش علوم بشری
مرکز زبانها و ادبیات
د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت

# کابل

## په دې گڼه کې:


- استاد جاج نیمه پیړۍ د علم او فرهنگ...
- منثور او منظوم شعر او منثور نظم
- په اوسني پېر کې د ادبي کره کتنې وضعیت
- په انگیو کې د ښځو د یادونو او فریادونو انځور
- دودیزه آرپوهه
- په ژبه او وینا کې د مغزو ونډه
- په معاصر پښتو ادب کې...

او نور ...





- مهالنۍ
- دریمه دوره
- کال: ۱۳۹۷ لمریز
- د تأسیس کال: ۱۳۱۰ لمریز
- کابل- افغانستان

۱

څېړنیزه، ژبنۍ، ادبي او فولکلوري مجله

کابل

۱۳۹۷ لمریز کال، ۱ گڼه


# KABUL

## Monthly Journal

Establishment 1931
Academic Publication of
Afghanistan Academy of Science

Address:
Academy of Science of Afghanistan
Torabaz Khan, Shahbobo Jan Str.
Shar-e-Now, Kabul,Afghanistan
Tel: 0202201279- 0796650658

دافغانستان اسلامي جمهوري دولت د علومو اکاډمي
معاونیت بخش علوم بشری
مرکز زبانها و ادبیات
د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت

# کابل

خېړنیزه، ژبنۍ، ادبي او فولکلوري میاشتنۍ مجله

د تأسیس کال: ۱۳۱۰ لمریز
گڼه: ۱

**یادونه:**

✓ مقاله دې له یوې رسمې پتې څخه چې پـه هغـې کـې د لیکـوال نـوم، تخلـص، علمـي رتبـه، د ټېلېفون شمېره او برېښلیک پته وي د علومو اکاډمۍ ادارې ته را ولېږل شي.

✓ رالېږل شوې مقاله باید پوهنیزه ـ څېړنیزه، بکره او له منل شوو علمي معیارونو سره برابره وي.

✓ رالېږل شوې مقاله باید په بله خپرونه کې نه وي خپره شوې.

✓ د مقالې سرلیک باید لنډ او له منځپانګې سره سمون ولري.

✓ مقاله باید د ۸۰ او ۲۰۰ کلمو ترمنځ لنډیز ولري او د څېړنې پوښتل شوې پوښتنه ځواب کـړای شي. همدغه راز لنډیز باید د یونسکو په یوې ژبې ژباړل شوی وي.

✓ مقاله باید د سریزې، اهمیـت، مبرمیـت، مـوخې، د څېړنـې پوښـتنې، د څېړنـې روش، پـایلې او مأخذونو لرونکې وي او په متن کې مأخذ ته نغوته شوې وي.

✓ مقاله باید د لیکوالۍ له اصولو سره سمه وي، املایي او انشایي تېروتنې ونه لري.

✓ د مقالې حجم حد اقل یې ۷ مخه او حد اکثر یې ۱۵ معیاري مخونـه وي، د فونـټ سـایز ۱۳، د کرښو ترمنځ فاصله باید (Single ) وي او ادارې ته دې سافت او هارد کاپي دواړه را ولېږل شي.

✓ د مجلې کتنپلاوی د علومو اکاډمۍ د نشراتي لایحې له مخې د یـوې مقـالې د تائیـد او رد واک لري.

✓ د رالېږل شوو مقالو شننه او څېړنه د لیکوالو فکري زېږنده ده، لیکوال ته بویه چې سپیناوی یې په خپله وکړي، اداره یې په سپیناوي کې کوم مسوولیت نه لري.

✓ د مجلې له چاپ شوو مقالو څخه استفاده کول، بې له مأخذه جواز نه لري.

✓ ادارې ته رالېږل شوې مقاله بېرته لیکوالو ته نه ورکول کېږي.

بسم الله الرحمن الرحيم

**خپرندوی:** د علومو اکاډمۍ د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

**مسوول مدیر:** څېړنوال سیدنظیم سیدي

**مهتمم:** څېړندوی شکیلا میاخېل

**کتنپلاوی:**

څېړنپوه ډاکټر خلیل الله اورمړ

څېړنپوه نصرالله ناصر

څېړنوال عبدالظاهر شکېب

څېړنوال محمد آصف احمدزی

**ډیزاین:** محمد مجتبی همایون

**چاپ ځای:** شمشاد هاشمي مطبعه

**تیراژ:** **۵۰۰** ټوکه

**پته:** د افغانستان د علومو اکاډمي، طره باز خان واټ،

کابل، نوی ښار، د شابوبو جان کوڅه

**د اړیکو شمېرې:**

۰۲۰۲۲۰۱۲۷۹ - ۰۷۹٦٦٥۰٦٥۸

**د مجلې برېښلیک:** magazinekabul@gmial.com او

informationasakabul@gmail.com

**کلنۍ ګډون بیې:**

په کابل کې: ۹٦۰ افغانۍ

په ولایاتو کې: ۱۴۴۰ افغانۍ

په نورو هېوادونو کې: ٦۰ امریکایي ډالر

په کابل کې د یوې ګڼې بیه:

- د علومو اکاډمۍ د څېړونکو او استادانو لپاره: ۷۰ افغانۍ
- د زده کوونکو او محصلینو لپاره: ۴۰ افغانۍ
- د نورو ادارو لپاره: ۸۰ افغانۍ

# لیکلړ


| شمېره | سرلیک | لیکوال | مخګڼه |
|---|---|---|---|
| ۱. | استاد حاج نیمه پېړۍ د... | څېړنوال محمد اصف احمدزی | ۱ |
| ۲. | دودیزه آرپوهه | پوهندوی ډاکټر اجمل ښکلی | ۲۱ |
| ۳. | په پښتو حمدیه شاعرۍ... | رحمت الله حکیمي | ۳۳ |
| ۴. | منثور او منظوم شعر... | پوهنوال ډاکټر لال پاچا ازمون | ۴۷ |
| ۵. | په اوسني پېر کې د ادبي... | څېړنوال سیدنظیم سیدي | ۵۹ |
| ٦. | د نړۍ د نومیالیو لیکوالو... | ژ/ صدیق الله بدر | ۸۵ |
| ۷. | په معاصر پښتو ادب... | څېړندوی ګل غوټۍ خاورې | ۹۹ |
| ۸. | په پښتو شعر کې نوې... | *پوهیالی* محمدصدیق | ۱۱٦ |
| ۹. | په ژبه او وینا کې د... | پوهندوی شاه محمود کډوال | ۱۲٦ |
| ۱۰. | د استاد خادم ځینو اثارو... | محمدآصف صمیم | ۱۳۵ |
| ۱۱. | په انګیو کې د ښځو... | څېړندوی سمیله احمدزۍ | ۱۴۵ |
| ۱۲. | په پښتني فولکلور ټولونې... | څېړندوی عبدالاحد منګل | ۱٦۱ |
| ۱۳. | ډرامه مخ پر ودې ژانر | پوهندوی ببرک میاخېل | ۱۷۵ |
| ۱۴. | د ګل پاچا الفت په هنري... | پوهنمل سیداصغر هاشمي | ۱۸۳ |

**څېړنوال محمد اصف احمدزی**

# استاد جاج نیمه پېړۍ د علم او فرهنګ په خدمت کې

چې پیـــــدا شوې تا ژړل خلکو خندا کړل
داسې مړ شوې چې ته خاندې خلک ژاړي

**لنډیز**

پوهنمل حبیب الله جاج پښتونزوی چې د پکتیا ولایت اصـلي اوسـېدونکی و او ډېر وخت په کابل کې پاتې شوی دی، د کابل پوهنتون د ژبو اوادبیاتو پـوهنځي پـه پښتو څانګه کې یې نږدې نیمه پېړۍ (۴۹ کاله) تـدریس کـړی دی. پـر دې سربېـره یې د نړۍ مختلفـو هېوادونـو تـه علمـي سفرونه کـړي او پـه انګلیسي- ژبـه کـې وارد شخص و چې په همدې دوران کې یې د نړۍ ادبیات پښتو ته را وژبـاړل او دلتـه یـې خپلو شاګردانو ته ور انتقال کړل. دی چـې د پښـتو څـانګې د آمریـت دنـده یـې هـم ترسره کړې، په ۱۳۹۳هـ ش کال کې تقاعد شو او په کور کې کښېناست. بـالاخره د ورپېښې نـاروغي لـه امله د ۱۳۹۷هــ ش کـال پـه لـومړۍ میاشـت کـې وفـات شـو. نوموړی ځو چاپ او ناچاپ آثار لري.

**سریزه**

کابل پوهنتون چې د هېواد په کچه پخوانۍ او غوره علمـي مؤسسـه ده، اسـتاد جاج په کې د ادبیاتو او بشري علومو پـه پـوهنځي کـې د لیسـانس دورې تـر فراغـت وروسته، د هغه د لیاقـت او وړتیـا لـه مخـې د اسـتاد پـه توګـه وګومـارل شـو. تـر دې وروسته نوموړي وخـت پـه وخـت انګلسـتان، امریکـا او ګـڼ شـمېر نـورو هېوادونـو تـه علمي سفرونه کړي او ترڅنګ یې د استادۍ سپېڅلې دنده هم پر مخ ته بېـولې ده.

په دې مقاله کې د استاد پر ژوند، زده کړې، تدریس او لیکوالۍ تر خپلې وسې پورې بحث شوی دی او په دې توګه مو غوښتي چې د استاد حق د دې مقالې په خپرېدو سره څه ناڅه پرځای شي.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

دا چې یو چا نږدې نیمه پېړۍ داستاد په توګه او هغه هم د هېواد په کچه په لوړه علمي مؤسسه کې د استادۍ دنده ترسره کړې وي او هم یې په همدې موده کې څو اثره، ګڼ شمېر مقالې او هم د نړۍ پر سلګونو علمي اصطلاحاتو کار کړی او هغه یې پښتو ته را ژباړلي وي، نو په کار ده چې د دغسې یوې علمي هستۍ په اړه تحقیقات وشي او د هغه د ژوند تیاره اړخونه روښانه شي چې همدغه مسایل په دې لیکنه کې ځای په ځای شوي او څېړل شوي دي.

## د څېړنې موخه

له یوې خوا به د پوهنمل جاج پښتونزوی ژوندلیک برابر شوی وي او له بلې خوا به د هغه د شخصیت په اړه اوسنیو او راتلونکو نسلونو ته معلومات وړاندې شوي وي. دغه راز به مو د علم او فرهنګ لارویان دې ته متوجه کړي وي چې استاد ډېر علمي او ادبي خدمت کړی او په کار ده، چې د هغه دغه کړی کار را ټول او په کتابي بڼه چاپ او د علم او پوهې مینه والو ته په واک کې ورکړل شي.

## د څېړنې پوښتنې

د استاد جاج بشپړ ژوندلیک څه دی؟ د ده د تدریس چاره څنګه وه؟ او نوموړی کوم آثار لري؟

## د څېړنې میتود

په دې لیکنه کې له تشریحي – تحلیلي او مقایسوي میتودونو څخه استفاده شوې ده.

## د مقالې متن

د هېواد د لرغوني ولایت پکتیا د زرمت (زرمل) ولسوالۍ د نوي کډوس د کلي د عباس خان په کور کې په ۱۳۱۳هـ ش کال کې یو ماشوم دې نړۍ ته سترګې وغړولې چې د کورنۍ له خوا ورباندې حبیب الله نوم کېښودل شو.

د نوموړي د زوکړې د نېټې په اړه باید وویل شي چې په "څلور بحثونه" اثر کې

د هغه د زېږېدو نېټه د ۱۳۲۲هـ ش کال د وري د میاشتې وروستۍ ورځ ښودل شوې، خو په "بي بي سي" وېبپاڼه کې د هغه د مرګ له خبر سره، نوموړی ٨٤ کلن ښودل شوی چې پر دې بنسټ یې د زېږېدو نېټه ۱۳۱۳هـ کال کېږي(۱). دی چې په خټه ممموزی علي خېل دی، په ۱۳۲۸هـ ش کال کې د باتور کلي په «اوله حصه» ښوونځي کې شامل او په ۱۳۳۳ هـ ش کال کې یې لومړنۍ زده کړې بشپړې کړې، په ۱۳۳٤ هـ ش کال کې د کابل د ابن سینا په متوسطه کې شامل او په ۱۳۳٦ هـ ش کې ترې فارغ شو او بیا د کرنې په لېسه کې شامل شو.

حبیب الله چې وروسته په "جاج" او بیا "پښتونزوی" مشهور شو، په شعر او شاعرۍ کې د لاس لرلو په وجه په ۱۳۳۹هـ ش کال کې له یادې لېسې څخه تر فراغت وروسته، استاد ګل پاچا الفت د وخت د پوهنې وزیر علي احمد خان ته بوته او په ادبیاتو پوهنځي کې یې د هغه د شمولیت امر ترې واخیست. په ۱۳٤۰ هـ ش کال کې د ادبیاتو پوهنځي کې شامل او په ۱۳٤۳ هـ ش کال کې ترې په لوړه درجه فارغ او د پښتو ټانګې په علمي کادر کې ومنل شو. په ۱۳٤۷هـ ش کال کې د لا لوړو زده کړو د ترلاسه کولو لپاره انګلستان ته لاړ او هلته یې په «لندن» پوهنتون کې ماستري پیل کړه او تر بشپړولو وروسته یې په ۱۳٤۹ هـ ش کې بېرته خپل هېواد ته راغی. په ۱۳٥٤ هـ ش کې د مېلمه استاد په توګه امریکا ته لاړ او د ۱۳٥۷ هـ ش کال په حمل کې تر ډګري اخیستلو وروسته بېرته خپل هېواد ته راستون شو(۲). نوموړي چې په ۱۳٤٤هـ ش کال کې په کابل پوهنتون کې د استاد په توګه دنده پیل کړې وه، تر ۱۳۹۳هـ ش کال پورې یې دوام وکړ، تر هغه چې تقاعد شو.

استاد جاج دوه ځله د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانګې مشر هم پاتې شوی دی. څېړنپوه نصرالله ناصر په دې اړه وایي: «کله چې ما په ۱۳٥۸هـ ش کال کې د علمي کادر لپاره غوښتنلیک وړاندې کړ او د امر له اخیستو وروسته مې پښتو ټانګې ته یوور، د څانګې د آمر په څوکۍ مرحوم جاج صاحب تشریف درلود». پوهاند محمد صابر خیشکی هم دغه خبره تاییدوي او وایي چې نوموړی په همدغه وخت کې دوه درې کاله د څانګې آمریت کړی دی. استاد جاج په را وروسته کلونو (غالباً ۱۳۸۳- ۱۳۸۴هـ ش) کې هم د ژبو او ادبیاتو

پوهنځي د پښتو څانګې د آمر په توګه دنده ترسره کړې ده.

د يادولو ده چې د استاد جاج ګڼ شمېر هېوادونو ته سفرونه هم کړي دي.

څېړنوال محمد نبي صلاحي چې دی هم د زرمل اوسېدونکی دی، ليکي: "استاد حبيب الله جاج پښتونزوی د خپل کوچنيوالي ژوند په ډېر غربت کې تېر کړی دی، په لس کلنۍ کې يې ښوونځی پيل کړ، هغه د زرمت په باتور ښوونځي کې په خپل ټولګي کې اول نومره و، په ابن سينا منځني ښوونځي او د زراعت په لېسه کې يې اعلی درجه لرله. همدغه درجه يې د ادبياتو او بشري علومو په پوهنځي کې د ليسانس په دوره کې هم وساتله او د خپل لياقت پر اساس انګلستان ته لاړ او هملته يې د نړۍ په ادبياتو کې ماستري ترلاسه کړه. د استاد جاج په وينا، له څه مودې خدمت وروسته د دکتورا د اخيستو لپاره د امريکامتحده ايالاتو ته ولاړم، خو د يو شمېر عذرونو له امله بېرته راستون شوم(۳)".

په خپله استاد جاج د خپل ليسانس د دورې وروستی حالت داسې بيانوي: «د ۱۳۴۳هـ ش کال په منې کې چې د کابل پوهنتون د ادبياتو او بشري علومو پوهنځي د پښتو ژبې او ادبياتو له څانګې څخه فارغ او د نومړې څانګې په علمي کادر کې په ښوونه وګومارل شوم، نو ما منثور او منظوم متون او ګرامر تدريسول. له څو کاله ښوونې وروسته مې د بريتانيې د فرهنګي شورا له خوا د انګليسي- ژبې د کانکور په ازموينه کې ګډون وکړ او تر بريالیتوب وروسته بريتانيې ته ولاړم او د لندن پوهنتون د شرقي او افريقايي مطالعاتو په مدرسه کې په زده کړه بوخت شوم. په عمومي ژبپوهنه او وېکټوريايي ادبياتو کې مې د تحصيل سند واخيست چې بېرته راغلم، نو د کره کتنې په ښوونه بوخت شوم.

څه وخت وروسته د امريکا د متحده ايالاتو د اريزونا ايالت د توسان پوهنتون ته د مېلمه استاد په توګه ولاړم او تر يو تعليمي کال وروسته د تحصيل لپاره د نبراسکا ايالت د اوماها پوهنتون موافقه راسره وکړه. د تحصيل تر ختمولو وروسته د ۱۳۵۷هـ ش کال د حمل په لسمه د سهار په لسو بجو او لسو دقيقو وطن ته راغلم او د نړۍ د ادبياتو، ادبي نقد او ادبي تيوري په ښوونه لګيا شوم. ورسره په څنګ کې مې فولکلور پوهنه، ليکوالي او عمومي سيمانتيک تدريس کړي دي(۴)».

جاج پښتونزوی ته د نړۍ ادبياتو په برخه کې د خپلو کارونو او څېړنو په خاطر

تېر کال (۱۳۹٦هـ ش) د ولسمشر محمد اشرف غني له خوا مډال هم ورکړل شو.

دغه راز د ۱۳۹٦هـ ش کال په مرغومي مياشت کې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت په وړانديز او د ولسمشر محمد اشرف غني په منظورۍ له ۲۷ تنو هنرمندانو، ليکوالانو، استادانو، خبريالانو او فرهنګيانو سره د هغوی د ناروغۍ او درملنې په موخه نقدي مرستې وشوې.



استاد جاج ته جمهور رئيس محمد اشرف غني مډال ورکوي

يو له دغو کسانو څخه استاد جاج و. نوموړي هغه مهال چې له روغتيايي پلوه له ستونزو سره مخامخ و، د دې مرستو په اړه ويلي و: «د افغانستان له جمهور رئيس او د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت څخه د زړه له تله منندوی يم چې زموږ له حاله ځان خبروي، د دوی دا خبراوی په اصل کې د ارزښتونو يادونه ده او موږ ته د ځوانۍ د وختونو انرژي راکوي(۵)».

نوموړی د ور پېښې ناروغۍ له امله د ۱۳۹۷هـ ش کال د حمل په ۲۰مه له دې نړۍ څخه سترګې پټې کړې. د جنازې لمونځ يې د کابل په عيدګاه جومات کې د هغه د خپلوانو او فرهنګيانو په حضور کې وشو او وروسته د شهداء صالحينو په هديره کې خاورو ته وسپارل شو.

ولسمشر محمد اشرف غني او اجرائيه رئيس ډاکتر عبدالله عبدالله دواړو د اروښاد پښتونزوی پر مړينه خواشيني ښودلې او د هغه مړينه يې د پښتو ادب لپاره لويه تشه ياده کړې وه.

دلته د استاد جاج تدريس او ليکوالۍ ته لړ تم کېږو او دغه موضوع د پوهانو د څرګندونو پر استناد پر مخ بيايو.

## د استاد جاج تدريس

حبيب الله جاج په کابل پوهنتون کې نږدې نيمه پېړۍ تدريس کړی او له دې لارې يې زرګونه ځوانان په علم سمبال ټولنې ته وړاندې کړي دي چې د ده دغه خدمت نه هېرېدونکی او د قدر وړ دی. ده چې کله په کابل پوهنتون کې تدريس

کاوه، نو د بېلا بېلو تدریسي مضامینو، لکه د نړۍ ادبیات، عمومي سیمانتیک، ادبي تیوري او ادبي کره کتنې لپاره یې مبتکر او مغتنم چیپترونه برابر کړي وو چې اوسمهال ترې د مأخذ په توگه استفاده کېږي. نوموړي په نړیوالو ادبیاتو او فولکلور کې دقیقه مطالعه لرله. هغه د لیسانس په دوره کې د نړۍ ادبیات، ادبي تیوري، ادبي نقد او عمومي سیمانتیک او د ماسترۍ په دوره کې فولکلور پوهنه او د نړۍ ادبیات مضمونونه تدریسول.

د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي مرستیال سمیع وحدت وایي: "استاد حبیب الله جاج پښتونزوی د کابو نیمې سلیزې لپاره، یعنې له ۱۳۴۴ کاله تر ۱۳۹۳ کاله پورې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو په پوهنځي کې پر تدریس بوخت و. استاد پښتون زوی د نړۍ په ادبیاتو کې، خصوصاً په اسور و بابل، رنسانس او فولکلور برخو کې پراخه مطالعه درلوده. په دې برخه کې ده پراخې څېړنې کړې دي. له ده نه "د فولکلور تاریخچه" او "څلور بحثونه" او سلگونه مقالې پښتو ژبې ته راپاتې دي(٦)".

یو مهال چې زه د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي محصل وم، نو د ده د شاگردۍ ویاړ مې درلود. استاد چې موږ ته یې د لیسانس (۱۳۸٦هـ ش کال) او بیا د ماسترۍ (۱۳۸۹هـ ش کال) دورې کې د نړیوال ادب، سیمانتیک او نورو مضامینو درس راکاوه، له دوو اړخونو په ټولو محصلینو گران و؛ یو دا چې استاد په خپل مسلک کې وارد شخص و، پر نړیوالو ادبیاتو پوه و او دا ځکه چې ده په بهر کې زده کړې کړې وې، انگلیسي ژبه یې زده وه، د بهرنیو ژبو د آثارو مطالعه یې کړې وه او د نړۍ مختلفو هېوادونو ته یې سفرونه کړي وو چې همدغو ټولو د استاد علمي سویه لوړه کړې وه، نو د ده هر لیکچر به راته دومره په زړه پورې و چې تراوسه مې هم د هغه د درس راکولو خوند په ذهن کې تداعي کېږي، د ده هغه ځانگړي حرکات او د لیکچر ورکولو خاص انداز به مې تل په یاد وي. دوهمه دا چې د استاد په فطرت کې له انسانیت سره مینه اغږل شوې وه، له همدې امله، نوموړي له کابو ټولو محصلینو سره د یوه مهربانه پلار په څېر چلند کاوه. تل به یې موږ د ورځنې ژوند د ښه تېرولو، د علم حاصلولو او مطالعې کولو ته هڅولو، آن دا چې کله کله به یې شاگردانو ته د خپل راتلونکي ژوند (واده) په اړه هم گټورې مشورې ورکولې. د

استاد هغه ورځنی تکیه کلام مې تل په مغزونو کې انګازې کوي چې له هر څو خبرو وروسته به یې ویل: "که د رب رضا وه".

څېړنوال صلاحي لیکي چې د ارواښاد استاد علمي او تدریسي کار د زمانې په لحاظ د ډېر ارزښت وړ دی، د استاد د تدریس او په یوه تمثیلي ټوټه کې د یوه هنرمند د رول ترمنځ توپیر ډېر ګران و. هغه استادي د کمال برید ته رسولې وه او تدریس یې د یوه ماهر هنرمند په طرز سره ترسره کاوه، د سبق د تشریح په وخت کې به یې د خپلو غیر لفظي مفاهموي چینلونو په ښودلو سره په ډېرې ځیرکۍ سره د محصلینو پام د خپل ځان پر لور اړاوه. هغه په ټولګي کې په چوکۍ د کښېناستلو عادت نه لاره، تل به په ټولګي کې ولاړ و، د تدریس په وخت کې به یې خوندورې او له پند او نصیحت نه ډکې ټوکې هم کولې، محصلین به یې په اعتماد کې اخیستل او هغوی ته یې د خبرو کولو جرئت ورکاوه. د خبرو کولو په طرز یې پوهول او له نورو سره یې د مفاهمې لارې چارې او چلونه ورښودل. په امتحان کې یې سختګیري نه کوله، مګر محصلین به یې د آزموینې په وخت کې په ډېرې ځیرکۍ سره څارل چې نقل ونه کړي. استاد د خپلو زده کوونکو ډېر نږدې دوست او صمیمي آشنا پاتې شوی دی. استاد په ټولو علمي چارو کې د هغوی همکار و، استاد له هغه چانه کرکه کوله چې خپل ځان د شاګردانو رقیب وګرځوي.

دی زیاتوي: استاد د لرغوني یونان د هومر (الیاد) او (اودیسې) د آثارو ډېره برخه په یادو باندې ټکي په ټکي یاده کړې وه، د لرغوني یونان افسانې به یې دومره په خوند بیانولې، تا به ویل چې دا هر څه د ده په مخکې تېر شوي دي(۷).

پوهندوی آصف بهاند د استاد جاج په اړه وایي: "د خپلو زده کړو د لیسانس په دوره کې څلور کاله په ټولګي کې ورته ناست یم. استاد جاج پښتونزوی د خبرو کولو او تدریس یو منحصر به فرد سبک درلود چې ما په هېڅ استاد کې نه و لیدلی. ډېر لږ داسې پېښېدل چې د زړه خبره یې پر ژبه نه راتله، تُرت او سپین سپېڅلی سړی و، ډانګ پېیلې خبرې یې کولې او له هېڅ چا څخه نه وېرېده. پښتونزوی مې د ۱۳۵۵ کال په حمل میاشت کې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي کې ولید او په هماغه لومړي سمستر کې یې موږ ته تدریس پیل کړ. په هغه وخت کې د ده شخصیت له دوو اړخونو ما ته د پام وړ و:

- ډېر متحرک او شیک پوشه سړی و.

- د هغه وخت په نویو علومو او نویو تیوریو سمبال و او خپـل دغـه نـوي علـوم او تیوري ګانې یې په خوږه ژبه او ځانګړي انداز سره وړاندې کول.

زما چې یادېږي، جاج صاحب موږ ته د لرغـوني یونـان او روم اسـاطیر، لوېـدیځ ادبي ښـوونځي، ادبي کـره کتنـه او نړیـوال ادبیـات تدریسـول. د غـربي اسـاطیرو او لرغوني روم په باب یې په خپلو لیکچرونو کې چې کوم ځایونه او اشـخاص یـاد کـړي وو، روم ته مې د سفر په وخت کې ټول یاد ځایونه ولیدل او پـه موزیمونـو کـې مـې د یادو اشخاصو مجسمې ولیدلې؛ د هر ځای او هـرې مجسـمې پـه لیـدلو سره د جـاج صاحب خبرې او لیکچرونه را یادېدل؛ ټـول څـه چـې ده ویـلي وو، کـټ مـټ هلتـه د ځایونو او اشخاصو د معلوماتو په پاڼو کې لیکلي وو. په روم کې هغې ودانـۍ تـه هـم ورغلم چې غلامان به یې سره جنګول، د مریانو د جنګولو د ځای ننداري ته تـر لسـو دقیقو ډېر ودرېدم. په روم کې د تاریخي ځایونو د لیدلو په موده کې مې استاد جاج او د ده لیکچرونه داسې په ذهن کې تداعي کېدل او بېرته را یادېدل، لکـه دی چـې راسره وي او همدا اوس یې راته تشریح کوي".

بهاند زیاتوي چې استاد جاج له تعلیم، پوهنتون، پوهې او د نوي نسل له روزلو سره دومره مینه درلوده چې له تدریس، ټولګي، پوهنتون او شاګردانو نه یـې جـدایي تـه مړینـه ویلـه. دا د ده د زوی د خـولې خـبره ده چـې د ده یـو شـاګرد او همکـار (محمود مرهون) ته یې کړې ده: «په کومه ورځ چـې مـې پـلار تقاعـد شـو او کـور تـه راغی، سخت خفه وو او ما ته یې وویل چې بچیه! زه نن مړ شوم، داسې یې و نه ویـل چې تقاعد شوم(۸)».

پوهنوال بریالي باجوړي په خپلې فېسبوک پاڼه کـې د «اسـتاد جـاج پـه ابـدي سفر ولاړ» تر سرلیک لاندې لیکلي: "پـه ۱۳۵۵ کـال د کابـل پوهنتـون تـه راغلـم، د لومړي ځل لپاره مې جاج صاحب ولید. دنګ پوخ زلمی، توره دریشي، سره نیکټایي، فعال او باانرژي خوځند شخصیت و. نـوی لـه امریکـې نـه راغـلی و، د نویـو علومـو او نویو تیوریو سره. د لومړي ځل لپاره یې په څانګه کې د نړیوالـو ادبیـاتو تـدریس پیـل کړ. د یونان اسطورې، ادبي کره کتنـه او غـربي مکتبونـه د ده مضـامین وو چـې ډېـر خلک ورسره نابلد وو او حتی ځینو خو بـه ویـل چـې جـاج صـاحب د یونـان جغرافیـه

تدریسوي. کله یې چې د ګیلګمش حماسه تدریسوله، نو ځینو به دا خبره کوله، خو د وخت په تېرېدو سره د جاج صاحب د مضامینو په اهمیت ورو ورو خلک پوهېدل. جاج صاحب د ډېر لوړ استعداد خاوند و، د تدریس خاص اصول یې درلودل، زما نه یادېږي چې په ټولګي کې به چا د ستړیا احساس کړی وي. صنف یې ژوندی او ویښ ساته. د درس په جریان کې به یې نکلونه د مثال په توګه وړاندې کول او ټول نکلونه به یې د خپل کلي په میرزا ګل کاکا پورې تړل چې درس به یې ډېر جالب کاوه. کلونه وروسته چې زه بیا استاد شوم، نو یوه ورځ ترې ما پوښتنه وکړه چې دا د میرزا ګل کاکا کیسې څنګه وې؟ جاج صاحب راته وویل چې د میرزا ګل کاکا په نوم هېڅوک نه و، خو د میرزاګل کرکټر اوس هم زما په ذهن کې نقش دی. زه ډېر وروسته په دې پوه شوم چې ده زموږ لپاره درس جالب کاوه. جاج صاحب ډېر خوږ نثر لیکه چې د ده د نثر نمونې په وړمه مجله کې خپرې شوې دي. حبیب الله جاج پښتونزوی د ډېر لوړ استعداد خاوند و، خو غربت او بېوزلي د ده ځواني او استعداد وخوړ، ډېر ژر یې په ملا کړوپ کړ، هغه ورځ چې تقاعد شو، ویې ویل چې تقاعد دوهم مرګ دی(۹)".

د کابل پوهنتون استاد اجمل ښکلي بیا استاد جاج د زمانې سقراط بللی او په خپله یوه لیکنه کې یې چې شپږ کاله وړاندې یې کښلې، ویلي: "له دې تور رنګ، انجړ سر، پراخ تندي... سره به چې ناست و، تا به ویل چې ګنې سقراط له خپل ټول جلال سره ناست دی. د اپلاتون ګومان مې پرې ځکه نه راته، چې د اپلاتون په اړه مې اورېدلي وو چې پهلوان و؛ نو زما په ذهن کې داسې چاغ چاغ تداعي کېږي؛ خو د سقراط کیسې مې چې د همده له خولې اورېدلې وې چې غریب و، خو درونډ سړی و، شاګردانو ته تر ایمان تېر و؛ نو بس ما ویل ګنې سقراط بیا راژوندی شوی، ګنې پوهېدم چې یونانیان تور نه وي، خو د ده د خبرو طرز، د څېرې جلال ټول د سقراط وو.

د تدریس په وخت کې به همه تن تدریس وو، یواځې خبرې یې نه کولې، بلکې لاسونه، پښې، سترګې، خوله، تندی، هر څه به یې خوځېدل. یوه ورځ یې د سقراط کیسه کوله چې شاګردان ترې راتاو وو چې ښځه یې راغله او ورغبږ یې کړ (استاد ورسره خوله ویته کړه او نری اواز یې له خولې راوایست): "کور کې دې ګرد

اوړه نشته او خلکو ته فلسفي ښيي". اپلاتون پسې راپاڅېد، بودی ته يې په لاس کې پيسې کېښودې او ورته ويې ويل چې په دې پيسو خپل حاجت پوره کړه؛ خو استاد مه په عذابوه.

وايي چې (استاد جاج) په ځوانۍ کې تر دې هم تکړه و؛ خو د طالبانو په وخت کې يې په زرمت کې په کوم جومات کې د هومر، سقراط او اپلاتون صفتونه کړي او طلباوو حضارو اورېدلي وو. سړی يې رانولی و چې ښه! ته اوس د جومات غوندې مقدس ځای کې د کفارو صفتونه کوې، دا مجاهد ولس کافروې! بد بد يې وهلی و. يو کوټک په سر هم لګېدلی و او کتابتون يې هم ورته سوځولی و. له همغې ورځې سړی خراب شو، څه د کاري ګوزارونو له لاسه چې پر سر يې خوړلي وو، څه د خپل سپکاوي احساس او څه د کتابتون د سوځېدو غم ويلی کړ(۱۰)".

څېړنوال عبد الغفور لېوال وايي: "استاد جاج پښتونزوی زما د خوښې مضمون (نړيوالو ادبياتو) استاد و، له هغه مې ډېر څه زده کړي ول. خدای دې پرې ورحميږي. د استاد پوهه د هغه په شاګردانو کې د جاريه صدقې په څېر لا ژوندۍ ده او باور لرم، چې پر هغې نړۍ به يې ابدي ژوند ته رڼا او د ستر څښتن ښښنه ورپه برخه کړي(۱۱)".

څېړنوال صلاحي وايي چې استاد که څه هم د ادبي تيوري، ادبي کره کتنې، ليکوالي، د ختيځ او لوېديځ د ادبياتو او مفاهمې مضمونونو د تدريس چارې پر مخ وړې، مګر د ده په نظر، استاد د فولکلور د ماهرينو او متخصصينو له جملې څخه و(۱۲).

د استاد حبيب الله جاج پورتنيو ځانګړنو ته په کتلو سره ويلی شو چې نوموړی د دې ترڅنګ چې د استادۍ او معلمۍ پر اصولو پوه او يو تجربه کار ليکچرر و، د لوېي حوصلې خاوند و، په خپلو شاګردانو يو مهربانه شخصيت و او له کبله يې د خپلو ټولو زده کوونکو په زړونوکې د يوه مهربانه او خواخوږي استاد په توګه ځای نيولی و.

## د استاد جاج ليکوالي

پوهنمل جاج سره له دې چې د عمر زياته برخه د هېواد بچيانو ته د تدريس په چاره کې تېره کړې، محصلينو ته يې مخامخ ليکچرونه ورکړي او هغوی ته يې

بېلابېل مضامين تدريس کړي او همدا لامل دی چې لیکلي او چاپي آثار یې کم دي، خو له دې سره سره يې څو مغتنم او گټور آثار د علم او فرهنگ شاگردانو او مينه والو ته په ميراث پرېښي دي چې ځينې يې چاپ او ځينې ناچاپ دي. د ده دوه اثره د هغه په ژوند چاپ شوي دي. د دې ترڅنگ نوموړي گڼ شمېر مقالې پښتو ادب ته ور ډالۍ کړې دي.

دلته د استاد دوه چاپ شوي آثار په لنډيز سره معرفي کوو او بيا د دواړو آثارو لنډ جاج اخلو.

**۱- څلور بحثونه:** دا (۳+۱۳۱) مخيز اثر د حبيب الله جاج پښتونزوی لومړی چاپ اثر دی چې د مجيب الرحمن اميري په اهتمام، په کابل کې د صميم خپرندويې ټولنې له خوا په A5 سايز کې په ۱۳۸٦هـ ش/۲۰۰۷م کال کې د زرو ټوکونو په شمېر خپور شوی دی. دا اثر په خپله استاد په دې بيتونو استادانو، ښوونکو، محصلانو او زده کوونکو ته ډالۍ کړی دی:

چې پـــه صنف کـــــې د څــــراغ غوندې بلېږي
هر اســــــتاد، معلم ته ځـــای د خوشحالۍ دی
په تدريس باندې چې بوخت وي هم په زده کړه
دا کـــــــتاب مې هغـــو ټولو ته ډالۍ دی(۱۳)

پر کتاب د صميم ادبي ټولنې يادښت راغلی او بيا په درېوو مخونو کې سريزه راغلې او ورپسې د کتاب متن پيل شوی دی، خو متأسفانه چې فهرست نه لري. د دې په زړه پورې څېړنيز اثر منځپانگه له څلورو بحثونو څخه جوړه شوې ده. لومړی بحث ژبنۍ څېړنې او د ليکنې تيوري دی چې د ژبې پيداينښت، انکشاف او تحول په کې څېړل شوي دي. دوهم بحث ايټالوي رنسانس دی چې د هيومنيوم له پيل او د رنسانس تر ختمېدو پورې موضوع په کې څېړل شوې ده. دريم بحث په فولکلور کې کيسې او افسانې دي چې فولکلوريکې کيسې او افسانې، په هغه کې بيا د اتلانو کيسې، سوچه افسانې يا اسطورې، ولسيـ کيسې او همدا شان د کيسو او افسانو د مطالعې ميتود تشريح شوی دی او په څلورم بحث کې د هنر په باب تيوريکي څېړنه شوې ده. په عمومي ډول د دې اثر محتوا پر نړيوالو ادبياتو راڅرخي. د کتاب د هرې برخې په پای کې مأخذونه راغلي چې ټول يې په

انګلیسي ژبه دي.

**۲- د فولکلور تاریخچه:** دا د حبیب الله جاج پښتونزوی دوهم اثر دی چې دوه ځله چاپ شوی دی. په لومړي ځل د ختیزې سیمې د لیکوالو او ژورنالیستانو د خپلواکې ټولنې له خوا په ۱۳۸۷هـ ش / ۲۰۰۹م کال او دوهم ځل بیا په ۱۳۹۳هـ ش / ۲۰۱۳م کال د دانش خپرندیې ټولنې له خوا په A5 سایز کې خپور شوی دی.

زه دلته دغه اثر د دوهم ځلي چاپ له مخې معرفي کوم. د دې کتاب د دوهم خپراوي په اړه یادښت کې راغلي: "دا کتاب په لومړي ځل د ختیزې سیمې د لیکوالو او ژورنالیستانو د خپلواکې ټولنې له خوا خپور شوی، خو د کتاب د ارزښت او لوستوالو د لېوالتیا له امله په لږ وخت کې نایاب شو. دانش خپرندویې ټولنې د کتاب ارزښت ته په پاملرنه د یادې شوې ټولنې له مسوولینو سره د بیا خپراوي په اړه اړیکې ټینګې کړې چې هغوی په ورین تندي او لوریېنه د کتاب د بیا چاپونې امتیاز او سپارښت دانش خپرندویې ټولنې ته وباخښه(۱۴)".

له دې کرښو څخه جوتېږي چې دغه اثر څومره اهمیت لري او د همدې ارزښت له کبله د دې لپاره چې لوستونکي یې زیات دي، دوهم ځل چاپ شوی دی.

په دې ۱٤۳ مخیز اثر کې لومړی د فولکلور د کلمې لغوي او اصطلاحي معنا، د فولکلوري موادو، د فولکلور د کلمې پر لنډې تاریخچې، د فولکلور ځینو معمولو تعریفونو او د هغو کره کتنې او د فولکلور پر منابعو خورا په زړه پورې بحثونه شوي دي. ورپسې د کتاب په دوهمه برخه کې په فولکلور کې افسانې او کیسې، سوچه افسانې یا اسطورې، د اتلانو کیسې، ولسي یا فولکلوري کیسې، د افسانو او کیسو د مطالعې میتود. د لرغوني مصر اسطورې، د لرغوني مصر په اسطورو کې د خلقت مفکورې، د لرغوني مصر ارباب الانواع او آلهې، بیا یوه تحلیلي او انتقادي کتنه، ورپسې د "یوه ضروري تبصره" تر سرلیک لاندې په جادو، د مړو مومیامي کولو، اهرامونو جوړولو، تردې وروسته د طوفان موضوع، د میسوپوتامیه فولکلور او اسطورې، د کاسیانو حکومت، د دوو لمبو ترمنځ ښار او سریاني هیجان، د بابل سقوط، د سریانیې سقوط او ارباب الانواعو باندې هر اړخیزه څېړنه شوې ده.

د دې اثر غوره والی په دې کې دی چې د هرې برخې سرچینو ته یې چې که

پام وشي، نو زياتره يې د انگليسي ژبې مأخذونه دي چې دغه کار زموږ په اوسنيو ځېړنو کې متأسفانه کمرنگه دی، خو استاد جاج چې په انگليسيـ ژبه پوه او له بهرنيو ادبياتو سره يې اشنايي لرله، د بهرنيو آثارو نظريات او معلومات يې زموږ په واک کې راکړي دي؛ خو په دې کتاب کې يوه نيمگړتيا هم شته او هغه دا چې نه فهرست لري او نه هم سريزه، د څېړندويې تولنې تر يادښت وروسته، مستقيماً د کتاب اصلي متن پيل شوی دی.

په هر حال، د کابل پوهنتون استاد اجمل ښکلی د يادو کتابونو او همدارنگه د استاد ليکنو ته په اشارې سره وايي: "استاد جاج په ځوانۍ کې کار کړی و. دوه کتابه (فوکلور[فولکلور] پېژندنه) او (ځلور مقالې [بحثونه]) يې اوس اوس چاپ شوي وو. ما چې ولوستل، خدای شته لياقت او بلاغت ته يې حيران شوم. دومره ښه معلومات. د بېلابېلو ادبي موضوعات په اړه نوي بحثونه او بيا روان، ساده نثر. که دا کتابونه دې يې نه وای لوستي، گومان دې نه کاوه چې دی د دومره پاخه سبک خاوند دی او ښکاره ده چې پوخ سبک په ډېر تمرين د سړي په برخه کېږي. چيپټرونه يې هم همداسې په ښکلي خط په روانه ژبه ليکلي وو او د نړۍ د ادبياتو او نورو موضوعاتو په اړه يې موضوعات نوي وو(١۵)".

يوه خبره چې دلته بايد وويل شي، هغه دا چې دا دواړه کتابونه له خپلو ښېگڼو سره سره، يوه ستونزه لري او هغه دا چې يوه غوښنه موضوع يو په بل کې تکرار راغلې ده چې د تأمل وړ ده؛ په دې معنا چې د "ځلور بحثونه" اثر دريم بحث چې "په فولکلور کې کيسې او افسانې" دي او د کتاب له ٦٢- ١٠٣ مخونه رانغاړي، همدا موضوع "د فولکلور تاريخچه" کې هم راغلې او د دې کتاب له ١٨-۵١ مخونه پرې ډک شوي دي. دا چې دوهم کتاب دوهم ځل هم چاپ شوی، نو که په لومړي ځل په کې سهواً راغلې وي، نو کاشکې په دوهم چاپ کې يې مخه نيول شوې وای.

محمد نبي صلاحي د استاد جاج د ليکنو په اړه وايي چې نوموړي ښايسته پښتو ليک درلود، په دري يې هم ليکنه کولای شوه، ښه روانه انگليسي يې ويلی او ليکلی شوه، گڼو هېوادونو ته يې علمي سفرونه کړي وو. نوموړی د دې ترڅنگ چې يو لايق استاد و، ښه ليکوال او شاعر و، ښکلې ادبي ټوټې يې ليکلې دي، د (سپيره ډاگ) تر نامه لاندې يې چې زرمل ته کوم ليک ليکلی دی، د هغه الوتې ځېره يې

ښه په کې منعکسه کړې ده... استاد د لوړو علمي رتبو د اخیستلو هڅه نه کوله او د خپلو کتابونو د چاپ په برخه کې یې هم پاملرنه، نه ده کړې، مگر د ګڼ شمېر چاپ مقالو خاوند دی، پوره ۲۸ مقالې یې د کمال الدین کمال په نامه د پکتیا پوهنتون د پښتو څانګې یوه استاد راټولې کړې دي، هیله ده په راتلونکي کې د ټولګې په توګه چاپ شي. دا مقالې د استاد جاج ټولې چاپ شوې مقالې نه دي، نورې هم شته چې باید راټولې شي. دا مقالې په علمي اسلوب برابرې دي، املایي او انشایي تېروتنې نه لري، د استاد د علمي قد او قامت ښه استازیتوب کولای شي. د استاد د خپل عمر په وروستیو شپو او ورځو کې له قلم او کتاب سره رابطه وشکېده، د زهیر صورت او د سترګو د ډېر کمزوري لید له امله د مطالعې له نعمت نه محروم شوی و او دا یې د خپل ژوند تر ټولو نه ترخه خاطره بیانوله(۱٦).

ډاکتر لطیف یاد د استاد جاج د لیکنو په اړه وایي: "د ارواښاد پوهنمل حبیب الله جاج پښتونزوی مړینه د پښتوژبې او ادب لپاره ستره ضایعه ده. هغه وخت چې زه د افغانستان د علومو اکاډمۍ علمي غړی وم، دی به د پښتو څېړنو نړیوال مرکز ته راته او خپلې مقالې به یې د کابل مجلې ته د چاپ لپاره له ځانه سره راوړې. د پښتو څېړنو د نړیوال مرکز د پښتو مجلې او نورو علمي او تحقیقي مجلو کې هم د ده ډېرې مقالې خپرېدلې(۱۷)".

اکبر کرګر د اسطورو په بحث کې یادونه کړې چې په پښتو ادبیاتو کې د اساطیرو په باب څېړنه ډېره کمرنګه وه، یواځې استاد جاج پښتونزوی څو کاله [ډېر کلونه] وړاندې ځینې یوناني اسطورې له بهرنیو ژبو څخه ژباړلي او په وړمې مجلې کې یې خپرې کړې دي(۱۸).

که د استاد جاج چاپ شوو آثارو ته دقیق شو، سره له دې چې د کمیت له پلوه کم، خو د کیفیت او محتوا له پلوه بډای او غني دي، ځکه ده هغه موضوعات مطرح کړي چې هغه تر دې وخته په هېواد کې دود نه و او د ده د څېړنو او لیکنو په نتیجه کې د کابل پوهنتون له لارې د ده له خوا عام شول.

تر دې وراخوا استاد جاج پر سلګونو اصطلاحاتو باندې کار کړی چې د ده له قوله شمېر یې (۵۷٤) ته رسېږي او د دې اصطلاحاتو یواځې (٤) یې په "څلور بحثونه" نومي کتاب کې ځای کړي دي. په دې باب دی لیکي: "په تېرو څلوېښتو

کالو کې چې موږ له مختلفو غربي او امريکايي او ځينو شرقي آثارو څخه د مختلفو رشتو کوم اصطلاحات را اېستلي، معنا کړي، څېړلي او ژباړلي دي، شمېر يې پنځه سوه څلور اوياوو (٥٧٤) ګړنو ته رسېږي او اتلس کاله مو کار ورباندې کړی دی. دا کتابګوټی د هغو ګړنو له جملې څخه فقط څلور ګړنې دي(١٩)".

په هر حال، استاد جاج د ژوند دوه پر دريمه برخه د علم او فرهنګ تدريسولو او خپرولو ته وقف کړی و، تر هغه چې له دې نړۍ يې سترګې پټې کړې او له موږ څخه جلا شو. اروا دې يې ښاده او جنت دې ځای شي.

پوهاند مجاور احمد زيار چې کله د استاد پښتونزوی په مړينې خبر شوی، نو د هغه له خولې داسې غږ راوتلی دی:

باران او ياران
کله چې باد راته
خبر د مرګ و ژوبلې
د يارانو راوړي...
ورکښم ويرنې
د ښو په څوکو
او د سرو اوښکو د باران
په لاس يې
ور استوم تالا والا،
وران و ويجاړ بورجل ته!(٢٠)

دغه راز کله چې پياوړی څېړونکی محمد معصوم هوتک هم د استاد له جدايۍ خبر شوی، نو د هغه خپګان له امله چې ورباندې تېر شوی، خپل د زړه آواز يې په دې بيتونو کې را اېستلی دی:

بيا نازل سو پر پښتون د غم سورسات
بيا لښکر سو د مرګي باندې رامات
نن بيا بله پګړۍ ولوېده له سره
مرګي واخيست له ژوندونه بيا کسات
د ادب د لارويانو له تولیه

یو بل دروند تـن سـو کنـډو افسـوس هیهـات
لـه تدریسـه چـې مـــوندلی ډېـرو فـیض وو
زه یــې هــم پــه شاګــردۍ کـــړم مباهــات
ټول کـړه وړه، فکـر و عـــمل یـې د پښـتون وو
وقــف کـــړی یــې وو پـــوهې تــه حیــات
زمانــه راتــه لــه خښـــمه ســـره و شــنه ده
تــه وا زړه یـــې نــه ســـړېږي پـــــه مـمات
و تــاریخ تــه یــې د مړینــې وم چـــورت وړی
په دې فرد کـې ځـان څرګنـد کـړ پـه اثبـات
زړه د "ویــر" دوه واره ولوېــد"اه" یـــې وخــوت
"پښـــتونزوی حبیــب الله جــاج ســـو وفــات"
هوتک د وروستۍ مصرع د حـل پـه اړه وایـي
چـې دا یـوه تـاریخي مـاده ده چـې ابجـدي
ارزښـت یـې ۱۴۲۳ کېـږي. د (ویـر) زړه (ی)
دی چې دوه واره شي، (۲۰) لاس ته راځي. د
(اه) ارزښت (٦) دی. دواړه (۲٦) کېږي. دغـه
عدد چې د (ولوېـد) او (وخـوت) پـه قرینـه لـه
(۱۴۲۳) څخه منفـي شي، ۱۳۹۷ پـاتېږي او
دا د اروابښـاد حبیــب الله جــاج پښـــتونزوی د
وفات کال دی(۲۱).

د استاد یوه مقاله چې "د شومه دم پلوشې" تر سرلیک لاندې یې د خپـل عمـر په وروستیو کې لیکلې، څو تاریخي واقعیتونه او د خپل ژونـد یـو دردوونکـی داسـتان یې په کې بیـان کـړی چـې دلتـه یـې یـوه برخـه د هغـه د نـثر د نمـونې پـه توګـه لـه لوستونکو سره شریکوم:

"د ۱۳۸۵ وم لېږدیــز لمریــز کــال د لینــدۍ د میاشــتې وروســتنۍ، یعنــې د پنجشنبې شپه وه. خلك دا شپه د ((یلدا)) شپـه بـولي او وایـي چـې د کـال تـر ټولـو شپو لویه، یعنې ۱۴ساعته ده، دا شپه د هغه زوم دپاره چې د خسر کره جنغلبازیو ته

تللی وي او له خپلې چنغلې سره په يـوه ځانتـه کوټـه کـې پـه راز او نيـاز بوخـت وي، جنت، خو د ناروغانو دپاره تيار جهنم دی.

برق نه و، زه په دې شپه کې په يوولسو بجو پرېوتم او پـه يـوه بجـه بېرتـه راويښ شوم، هر څومره لټې په لټ واوښتم، خوب چې له سترګو وتښتېده، راپاڅېدم چـې يـو څه وليکم. اليکين مې ولګاوه، له څنګ سره الماری ته مې ور لاس کړ، قلم او کاغـذ مې را واخيستل، خو چې زه ليکنې ته برابرېدم، د چراغ شـور شـو، ((پـپ پـپ پـپ)) يې پيل کړل، نو مې خولې ته داسې څه راغلل، يوه لنډۍ ترې جوړه شـوه او هغـه دا چې:

خاونده برق پرې را ايله کړې
چراغ وړې وړې سلګۍ کړي اوس به مرينه

زه پوه شوم چې اوس به بيا يا د پخوا غوندې ټپ مړ شي او يا به يې رڼا په لمبـه او غوړنجه بدله شي او اور به واخلي. چراغ ټپ مړ شو چې لړ سوړ شو، بيا مې ولګـاوه او پلته مې يې ټيټه کړه.

اودس مې وکړ، بيا مې د الله پاك حضور ته دوه رکعته لمـونځ  اد ا کـړ. بيـا مـې قلم او کاغذ را واخيستل، لومړنۍ ټکی مې چې ياد ته راغی، دا و چې د نړۍ پـه دوه دېرشو هېوادونو کې چې زه ګرځېدلی يم، راته څرګنده شوې چې د تـاريخ لـه معنـا، مفهـوم او ماهيـت سره سـم پـه هـېڅ هېـواد کـې هېچـا صـحيح تـاريخ نـه دی ليکلی.  چې پوښتنه ترې وکړې چې تاريخ څه ته وايي؟ ايله بيلـه دومـره درتـه ووايـي چې: ((تاريخ د تېرو زمانو د پېښو بيان دی))، حال دا چې: تاريخ  د تـاکليو نېټـو پـه ترتيب د هغو پېښو، په زماني تسلسل ولاړ بيان دی چې پېښېدل يې څرګند وي. بې له دقيقو نېټو بيان ځکه تاريخ نه دی چې د تـاريخ اسـاسي ټـکی پـه صـحيح زمـاني تسلسل کې د پېښو ترمنځ رابطه ده.

تاريخ د بشري ژوند اساسي تګلارې او په انساني چارو کـې د بنيـادي ميلانونـو ماهيت څېړي او موږ پرې پوهوي. د تاريخ وظيفه زموږ د هغو ټولو اعمالـو کنټـرول او رهنمايي ده چې آينده جوړوي.

د تاريخ معقول سير د هغو واکمنانو د حيثيت او مقـام پـه وسـيله  ټاکـل کېـږي چې قدرت او اقتدار ورسره وي او په مهـارت سره يـې اسـتعمالوي. د تـاريخ  دنـده دا

هــم ده چـــې تقــوا او فضــیلت تــه مکافــات، جنایــت او بــد چلنــدي تــه جــزا ورکړي... (۲۲)".

دا لیک د ډېـر تـاریخي او دینـي ارزښـت وړ دی، پـه حقیقـت کـې یـو عاجزانـه سپارښت او وصیت هم حسابېدای شي، چې په وروستي عمر کې یې د استاد د قلـم نښه او د نثر غوره نمونه هم بللی شو.

## پایله

پوهنمل حبیب الله جاج پښتونزوی د هېـواد لـه هغـو علمـي شخصـیتونو څخـه دی چې کلونه کلونـه یـې پـه کابـل پوهنتـون کـې علمـي خـدمت کـړی، پـه زرګونـو محصلینو ته یې د پوهې فیض رسېدلی، هغوی یې د نړۍ له ادبیاتو سره اشنا کـړي، د ادبي تیوري، ادبي کره کتنه، لیکوالي، مفاهمې او سیمانتیک مضامینو پـه اړه یـې بکر او اېډېټ معلومات او نظریات هېواد ته را انتقال او خپلو محصلینو تـه ور رسـولي دي.

## وړاندیزونه

- که چېرې کابل پوهنتون د اسـتاد جـاج درسي چیپترونـه او ناچـاپ مقـالې چې په ورمې او نورو خپرونو کـې چـاپ شـوي، راټـولې او پـه یـوه ټولګـه کـې خپـرې کړي، ګټه به یې عامه شي.
- هغه اصطلاحات چې استاد جـاج ژبـاړلي او څېـړلي او شـمېر یـې ۵۷۴ تـه رسېږي، چې له دې څخه یې ۴ اصـطلاحات چـاپ شـوي، پـاتې نـور دې یـې هـم د استاد د کورنۍ په همکارۍ چاپ او خپاره شي.
- نوموړی چې د ډېرو کسانو لارښود استاد پاتې شوی، نـو د خپلـو شـاګردانو پر مونوګرافو او تیزسونو یې د لارښود استاد په توګه نظـر ورکـړی یـا دا چـې پـه ځینـو آثـارو یـې تقریظونـه او سریـزې کښـلي، هیلـه ده، دغـه ډول لیکنـې دې د هغـه کـوم شاګرد راټولې او په یوې جلا مجموعه کې چاپ کړي.
- د استاد «د فولکلور تاریخچه» کې چې د هغه د بل اثـر «څلـور بحثونـه» اثـر کوم تکراري بحث راغلی، د دې کتابونو په بیا چاپ کې دې پام ورتـه وشي او حـذف دې شي.
- د اسـتاد جـاج د اصـطلاحاتو پـه اړه د ماسـترۍ یـوه محصـل تېـزس لیکـل

شوی، هیله ده د لیکوال له خوا چاپ او خپور شي.

## مأخذونه


۱. بي بي سي وېبپاڼه، استاد حبیب الله جاج پښتونزوی په ۸۴ کلنۍ کې ومړ، (http://www.bbc.com/pashto/afghanistan-43702774)، د ۲۰۱۸م کال د اپریل ۹مه (د ۱۳۹۷هـ ش کال د وري ۲۰مه)

۲. مجیب الرحمن امیري، د حبیب الله جاج پښتونزوی (څلور بحثونه)، صمیم ادبي ټولنه: کابل، ۱۳۸٦هـ ش کال، د کتاب وروستۍ پښتي.

۳. د څېړنوال محمد نبي صلاحي قلمي یادښت، د ۱۳۹۷هـ ش کال د غویي ۳۰مه.

۴. حبیب الله جاج پښتونزوی، څلور بحثونه، صمیم ادبي ټولنه: کابل، ۱۳۸٦هـ ش کال، الف- ب مخونه.

۵. باختر اژانس (http://www.bakhtarnews.com.af/pashtu/culture/item/68302).

٦. بي بي سي وېبپاڼه، استاد حبیب الله جاج پښتونزوی په ۸۴ کلنۍ کې ومړ، (http://www.bbc.com/pashto/afghanistan-43702774)، د ۲۰۱۸م کال د اپریل ۹مه (د ۱۳۹۷هـ ش کال د وري ۲۰مه).

۷. د څېړنوال محمد نبي صلاحي قلمي یادښت.

۸. پوهندوی آصف بهاند، د استاد حبیب الله جاج پښتونزوی مړینه، تاند وېبپاڼه (http://www.taand.com/archives/106219)، د ۲۰۱۸م کال د اپریل ۱۲مه.

۹. د استاد بریالي باجوړي فېسبوک پاڼه (Baryali Bajawri).

۱۰. اجمل ښکلی، اوبه خلک (خاکې)، سقراط د زمانې، کلاسیک خپرندویه ټولنه: ننګرهار، ۱۳۹٦هـ ش کال، ۱۵-۱٦ مخونه.

۱۱. د څېړنوال عبدالغفور لېوال فېسبوک پاڼه (Abdul Ghafoor Liwal).

۱۲. د څېړنوال محمد نبي صلاحي قلمي یادښت.

۱۳. حبیب الله جاج پښتونزوی، څلور بحثونه.

۱۴. د فولکلور تاریخچه، حبیب الله جاج پښتون زوی، د دویم خپراوي په اړه یادښت، دانش خپرندویه ټولنه: پېښور، ۱۳۸۷هـ ش کال.

۱۵. اوبه خلک، ۱۷ مخ.

۱٦. د څېړنوال محمد نبي صلاحي قلمي یادښت.

۱۷. د لطیف یاد فېسبوک پاڼه (Latif Yad).

۱۸. اکبر کرگر، ولې "په ادبیاتو کې داسطورو څېړنه"؟
http://www.taand.com/archives/97431، د ۲۰۱۷م کال د اکتوبر ۱۳مه.

۱۹. څلور بحثونه، ج مخ.

۲۰. پوهاند مجاور احمد زیار، د استاد پښتونزوی پر یاد تاند وېبپاڼه، (http://www.taand.com/archives/۱۰٦۳۱۰)، د ۲۰۱۸م کال د اپریل ۱۵مه.

۲۱. محمد معصوم هوتک، د استاد حبیب الله جاج پښتونزوی د مړینې په مناسبت، تاند وېبپاڼه
(http://www.taand.com/archives/106118)، د ۲۰۱۸م کال د اپریل ۹مه.

۲۲. حبیب الله جاج پښتون زوی، د شومه دم پلوشې، http://loyghar.bloguna.tolafghan.com/posts/٤۰۹٥، د ۲۰۰۸م کال د جنوري ۳۰مه.

پوهندوی ډاکټر اجمل ښکلی

# دودیزه آرپوهه

## لنډیز

دودیزه ارپوهه له تاریخي پلوه د کلمو پر ریښو غږېږي. کله چې د ریښــې بحث راځي: نو تاریخ هم راداخلېږي. دودیزه ّرپوهه د یوې کلمې پـر ټـولنیز علـت بحـث کوي او بالعموم ورته داستانونه جوړوي، چې لـه مخــې یــې لـه دې زاویــې یـوه کلمـه رامنځته شوې ده. دا کلمې یا د ځایونو نومونه دي یا د شیانو او اشخاصو او نورو؛ خـو څرنگه چې دودیزه آرپوهه د تاریخي ژبپوهنې له علمي اصولو نـه اسـتفاده نـه کـوي؛ نو په علمي مباحثو کې یې د کلمو په اړه استدلال د منلو وړ نه دی.

## سریزه

په نولسمه پېړۍ کې د دودیـزې ژبپـوهنې پـر وړانـدې تـاریخي ژبپوهنـه راولاړه شوه. دې نوې ژبپوهنې ژبې ته له تاریخي زاویې نه وکتل او د فرهنـگ د بـل هـر اړخ غوندې یې ژبه هم بدلېدونکې پدیده وګڼله، چې بېلابېلـې دورې لـري او پـه بېلابېلـو دورو کې یې ګرامري جوړښتونه او د کلمو زېرمه، بڼې او معناوې تـوپیر لـري. پـه دې توګه پر یوه ژبه هله ښه پوهېدای شو، چې له تاریخي منشاء او بدلونه یې خبر اوسـو. د تاریخي ژبپوهنې مشهور عالم ولیم جونز د سانسـکریت او نـورو اٰریـایي ژبـو تـرمنځ جوړښتي او وییزه همرنګي ولیده او داسـې د ژبـو تـاریخي پرتلـې تـه لار هـواره شـوه. تاریخي ژبپوهنې د بېلابېلو ژبو د کلمو د ریښو د پېژندلو او ورتـه والي لـه مخـې ژبـې ډلبندي کړې. کومو ژبو چې له تاریخي پلـوه ګـډ خصوصـیتونه لـرل، خپلـوانې ژبـې

وبلل شوې او په يوه کورنۍ کې وشمېرل شوې. مثلاً: هندو اريايي کورنۍ چې آريايي ژبې په کې راځي.

دوديزه آرپوهه هم د کلمو د تاريخي ريښو لټه کوي او له علمي تاريخي ژبپوهنې سره موازي روانه وي؛ خو د تاريخي ژبپوهنې او دوديزې آرپوهې ترمنځ مهم توپيرونه موجود دي. تاريخي ژبپوهنه علم دی، چې د علمي اصولو له مخې عمل کوي. تاريخي ژبپوهنه د کلمو ريښه په داستانو او کيسو کې نه ګوري، ځکه چې کلمې د پېښو ايجاد نه دي، بلکې داسې ټولنيز ترون دی، چې خلکو پرې سره هوکړه کړې. پر دې بنسټ تاريخي ژبپوهنه دکلمو او ګرامري جوړښتونو پر تاريخ په مجرده توګه غږېږي. تاريخي ژبپوهنه د علمي آرونو په رڼا کې د بېلګو له مخې د کلمو د بڼو، معناوو يا دواړو پر بدلون غږېږي؛ خو دا بدلون يواځې تر يوې بېلګې محدود نه وي، بلکې د څو مهالي(Diachronic) نظام پر ډېرو بېلګو مسلط وي او د يوه منظم سيستم په توګه په ډېرو بېلګو کې ځان ښيي.

## د څېړنې اهميت او مبرميت

د دې څېړنې اهميت او مبرميت په دې کې دی چې دوديزه آرپوهه د تاريخي ژبپوهنې علمي اصول نه مني او نه د کلمو د بڼې او معنا بدلون ته علمي پاملرنه کوي. په دې کې هره بېلګه البته چې منطق لري؛ خو دا منطق علمي نه، ولسي-بنسټ لري. په دوديزه آرپوهه کې د زياترو بېلګو تر شا لکه د متلونو غوندې کيسې هم موجودې وي. په دې توګه ويلای شو، چې دوديزه آرپوهه د کلمو په اړه ولسي-پوهه او پانګه ده؛ نو څرنګه چې ورته پانګه وايو، د فوکلوري توکيو په توګه ارزښت لري او په کار ده، چې خوندي شي.

پر دې سربېره چې دوديزه آرپوهه ولسي ارزښت لري او بايد خوندي شي، يو بل ارزښت هم لري او هغه دا چې په دې طريقه مور له ژبې سره علمي چلن ته متوجه کوي.

## د څېړنې موخه

د دې څېړنې موخه په دې کې ده چې د دوديزې آرپوهې بنسټ په ژبنې التباس کې دی. زياتره کلمې ډېرې پخوانۍ او د مړو يا پرديو ژبو اړوندې دي؛ خو دوديزه آرپوهه يې د اوسېدونکو له موجودې ژبې سره التباسويني او کله ورپسې

کیسه جوړوي. مثلاً: ''تکتو'' په سویلي پښتونخوا کې د یوه غره نوم دی. تاریخي ژبپوهنه وايي، چې ''تو'' لکه په ''جغتو'' او داسې نورو کلمو کې د ځای روستاړی دی؛ خو ځایي خلکو د پښتو د ''تېکه'' او ''تو'' له کلمو سره د التباس له مخې داسې انګېرلې، چې د یوې نجلۍ یخني کېده؛ نو دې غره ته یې ورتو کړل، چې تېک ولاړ یې، له ما دې لمر پټ کړي. د دې غره کیسه به په لاندې لیکنه کې راځي.

## د څېړنې پوښتنې

په دې څېړنه کې لاندې پوښتنې پوښتل شوي:

- ✓ دودیزه آرپوهه څه ده؟
- ✓ پر څه بحث کوي؟
- ✓ مباحث یې څومره علمي دي؟
- ✓ د دودیزې ارپوهې ارزښت څه دی؟

او دې ته ورته کوچنۍ پوښتنې په کې مطرح شوي چې لاندې یې ځوابونه موندلای شو.

## د څېړنې میتود

په دې څېړنه کې تر ډېره له تشریحي تحلیلي او د اړتیا په صورت کې له انتقادي میتود څخه استفاده شوې ده.

**۱- آر ویونه:**

تاریخي ژبپوهنه، دودیزه ارپوهه، د ځایونو نومونه، د کلمو تاریخي تحول.

**۲- دودیزه آرپوهه پر څه غږېږي؟**

"د کوټې ښار چې د کومو غرونو په کلا کې راګیر دی، په هغو کې د یوه غره نوم (تکه تو) تکتو دی، چې شاید د دې په شاوخوا کې په لکونو اوسېدونکو خلکو کې به ډېرو کمو د دې پر معنا غور کړی وي او ممکن دی، هېڅوک هم په څه نتیجه نه وي رسېدلي. په دې ترڅ کې (متل) زموږ مرسته کولای شي، خو اول د یوه متل پسر منظر:

دا غر یوه دره لري چې د بوستان و خوا ته یې لاره ده، چې د کوشنۍ درې په نامه مشهوره ده. د دغې درې و یوه اړخ ته په پخوا زمانه کې یو کور و، چې ورته له یوې خلاصې او میداني سیمې څخه یوه نجلۍ د ژمي په موسم کې هغه وخت

راواده شوله، چې لا دې غره څه نوم نه درلود. د غره ژمی خو هسې هم سوړ وي، پیتاوی(لمر څریکی) ځکه زیاتره نه وي په کې، چې تقریباً هرې خوا ته غره د لمر مخ نیولی وي، نو په دې دره کې هم یو خو سهار نهه نیمې- لس بجې لمر راخېژي او بیا یوولس نیمې- دولس بجې چې زوال شروع شي، نو بېرته د ماسپښین سایې راولوېږي او د لمر سترګې وډره شي. مازیګر څلور بجې خو بیا کټ مټ داسې ښکاري چې ګویا د ماښام تیارې وغوړېدې، یعنې د ورځې په تقریباً لس ګنټو کې غوټې دوې یا درې ګنټې روڼا یا لمرڅرکی وي. د ژمي پر پار(موسم) ګویا څلور میاشتې دغه کیفیت وي.

نو یوه ورځ چې په دره یا غره کې راګیره دغه ناوکۍ د یخ له لاسه ډېره زیاته تنګه شوله؛ نو و غره ته داسې مخاطب شوه:

**تیکه تو (تکه تو)**

(تېک) په لغت کې و نبغ خو و بیهوده ولاړ چا ته وایي او د (تو) معنا ده لعنت یا پېټ، چې د دې ټولې کلمې معنا شوه: ای بې مقصده یا بې کرامته ولاړ غره! درباندې لعنت دې شي، چې دنګ ولاړ یې او ستا له لاسه هم د لمر له روڼا محرومه یم او هم یې له پیتاوي یا حرارت څخه استفاده نسم کولای.

د (تکتو غره) د دغه نامه تصدیق د پښتو له یوه بل متل څخه هم کېږي، په کوم کې چې سربېره پر (تکتو) د درو نورو علاقایي غرونو لکه د مسلېغ، اجرم او خواجه عمران بابا نومونه هم راغلي دي، چې په دې ډول دي:

تو پر تکتو، مسلېغ لکه چاکو، په اجرم کې مو ځای نشته خو اجمران بابا ته ځو.

په لومړي او دویم متل کې پر تکتو غره باندې (تو) ویل شوی دی، چې مطلب یې دا شو چې د ناوکۍ له خولې راوتلی توری د تکتو غره وجه تسمیه ګرځېدلې ده."(۱) کامې ته ځکه کامه وایي چې هر قام په کې اوسېږي. د (کامې) او (قامې) ترمنځ تلفظي التباس د (هرقامه) تصور راپیدا کړی او د هر قامه ګڼلو دلیل سره یې مرسته کړې. ځینې خلک وایي چې دلته کعبه جوړېده؛ خو چې ځمکه یې کږ کړه، کمه وخته. دلته هم د کامې، کعبې او کمې ترمنځ د تجانس له امله ولس دا معنا ورکړې.

د ځايونو د نومونو په اړه دا ډول تصور دوديزه آرپوهه جوړوي. په دې تصور کې تلفظي همرنګي مهم نقش لري. نومونې(تسمیې) د معنا له پلوه په دوو ډولو وېشلای شو، چې یو ډول ته یې محمد رضا باطني رڼې او بل ډول ته تتې وایي:

" له رڼو کلمو مو موخه هغه کلمې دي، چې د غږ یا بڼې له مخې یې پر معنا وپوهېږو یا یې حدس ووهو. برعکس تتې چې تلفظ یا بڼه یې راسره د معنا په پوهېدو کې مرسته ونه کړي. په بله وینا رڼې(transparent) هغه کلمې دي، چې ټوله یا څه نا څه معنا یې له بڼې سره تړاو ولري؛ خو تتې(opaque) کلمې دا ځانګړنه نه لري. (۲)"مثلاً: سپینغر چې له نومه یې پوهېږو، چې سپین غر ورته سرو کال پرې د واورې د موجودیت له امله وایي. همداسې د تورو ډبرو د درلودو له امله تور غر. استاد رشاد په (جغرافیایي یادابښتونه) کې وایي: ''په اوستا کې راغلی د غره نوم spita-gaona-gairi دغه اوسنی سپین غر، چې په ننګرهار کې واقع دی او اوس یې هم پښتانه سپین غر یا سپینه غره بولي.''(۳)

همدا راز د ځینو ځایونو نومونه چې وروسته اېښودل شوي، هغه یوه معنا لري. مثلاً: هسکه مېنه، شین ډنډ او داسې نور؛ خو ځینې داسې ځایونه دي چې د هغوی نومونه له پخوا نه راپاتې دي او د ابوالخیر ځلاند په اند: "... په پیل کې هر توري[1] د جوړېدو په وخت څه نا څه معنا درلوده، خو د وخت له تېرېدو سره سره د خلکو د ځینو تورو معنا هېره شوله، چې اوس که څه هم ځینې نومونه یا الفاظ موجود دي، لاکن په مطلب یې زیاتره خلک نه پوهېږي"(۴) ځکه چې وخت په وخت په کې شکلي بدلونونه راغلي دي؛ خو خلک په دې نومونو کې هم معنا ګوري. مثلاً: د ستالیف په اړه د ځینو پوهانو وینا ده چې دا ''ستا لپه'' ده، ځکه چې په ستالیف کې زیارت دی او زیارت ته د دعا لپاره خلکو لاسونه لپه کوي؛ خو ما له استاد حبیب الله جاج پښتونزوی نه اورېدلي وو، چې یوه ورځ له مشهور ختیځپوه مارګنستېرن سره ستالیف ته تللی وم، چې له یوه ځایي اوسېدونکي نه مو د ستالیف د نوم د معنا پوښتنه وکړه. هغه ویل: "اینجا انګورستان بود." مارګنستېرن تایید کړه، چې ستالیف په یوناني کې انګورو ته وایی. یونانیان چې دې سیمې ته راغلي او

[1] مراد یې کلمه ده.

انگور يې ليدلي؛ نو د ستاليف نوم يې پرې ايښی؛ خو د "ستا لپه" خبره د دوديزې آرپوهې استازي کوي.

ابوالخير ځلاند د (تکتو) د نوم په اړه روايت له ملا عبدالسلام اڅکزي بابا نه کوي: "و ما (ځلاند) ته د ناوکی دغه متل او پس منظر د سيمې د نامتو شاعر اروانښاد ملا عبدالسلام اڅکزي بابا (المتوفی ۲۴ جنوري ۱۹۷۴) له خولې رارسېدلی دی.". د دې معنا دا ده چې نالوستي وګړي څه، چې پوهان هم پر دې ناعلمي ولسي روايتونو باور کوي او آن جوړوي يې. باطني په دې لړ کې د برهان قاطع بېلګه ورکوي، چې د ډېرو کلمو عامياني اشتقاقي وجهې يې راخيستې دي، چې په دې کې يوه د (خدا) کلمه هم ده: "د خود آ لنډيز(مخفف) دی، يعنې هغه کس چې په خپله راغلی. خدا د پهلوي له خودای(xwaday) راغلی... چې د لرغونې ريښې په اړه يې ويلای شو، چې xwa له خود سره اړيکه لري؛ خو دوهم توک day يې له آمدن(راتلو) سره هېڅ ډول تړاو نه لري، بلخې له توانېدلو سره همريښه دی.(۵)

د غزل په اړه د بېلابېلو قاموسونو په حواله دهخدا وايي:

سستی آوردن سگ و آن چنان باشد که چون به گرفتن نزديک شود، آهو از ترس وی بانگ کند پس سگ بازگردد. (منتهی الارب) (از اقرب الموارد). متحير شدن از بانگ کردن آهوبره در روی بره(تاج المصادر بيهقی).

بانګ هغه زګېروي يا فرياد ته وايي چې په غشي د لګېدو يا د تازي سپي تر ليدو وروسته د غزال (د هوسی د بچي) له خولې وځي، چې دا چغه له درده او اغېزه ډکه وي. غزل د اغېز له امله پخوانو ادبپوهانو له همدې کلمې راوتی ګڼلی.

د ننګرهار په کړه کې د "کړسو" په نامه يو خوړ دی چې په اړه يې ځينو پوهانو نظر څرګند کړی و، چې دې ته ځکه کړسو وايي، چې لاروي ترې په کړس تېرېږي؛ خو دا په اصل کې " قره سو" ترکي کلمه ده چې "توري اوبه" ته وايي.

پر دې سربېره د (تو پر تکتو، مسېلغ لکه چاکو، په اجرم کې مو ځای نشته؛ خو اجمران بابا له ځو) په مرسته هڅه کوي، چې د خپلې خبرې لپاره سند ومومي. د تکتو د نومولو تر شا کيسه ولسي ده. د يوه ځای د نوم په اړه چې مستند تاريخي سند نه وي، دوديزې آرپوهې ته مخه کوي او په دوديزه آرپوهه يې په اړه ولسي-

روایتونه راټولوي، چې بنسټ یې په تلفظي التباس ولاړ وي.

خو علمي آرپوهه وايي، په "تکتو" کې "تو" د ځای د نوم روستاړی دی، چې په جغتو، چنارتو، اوبه تو، ارگه تو او تکته تو کې هم لیدل کېږي. (٦)

د کسي غر په ځینو روایتونو کې د پښتنو جد امجد قیس ته منصوب شوی، چې له حضرت پیغمبر سره یې لیده شوي وو؛ خو څېړنې د قیس په نامه د پښتو د جد امجد په نامه څوک نه پیژني. صفیه حلیم د کسي- غره په اړه په یوه انځوریزه لیکنه کې کاږي: "هم دلته (د کسي په غره کې) د ډبرو یو اوږد پروت ځلی دی. دې ځلي ته خلک د قېس په نامه یاد سوي "کس گور" وایي. خلک وایي چې دا قېس یو صحابي و او له مرگه وروسته دلته ښخ کړل شوی و؛ خو د دې خبرې هیڅ کوم سند نشته، ولې چې د ډبرو کوم ځلي ته خلک "گور" وایي دا د یو گور په شکل نه دی جوړ بلکې د یوه اوږده (12 ته تر 15فټه پوري) ټیټ دېوال دی."

صفیه حلیم د کسي په همدې لیکنه کې د کسي د غره د یوه بل ځای په اړه وایي: "د "قېس گور" څخه پر لږ واټن د غره هوار مېدان پایته رسېږي او یوه ډېره ژوره کنده ده چې څو کلومېټره به ژوره وي. د دې کندې سره دوه نیم میټره لاندې یوه چوتره ده چې خلک ورته د "سلېمات تخت" وایي. د خلکو کیسه ده چې د سلیمان (پیغمبر) باچا تخت دلته کېناسته او د دې تخت یو پښه پر دې چوتره لگېدلې وه، خو دا خبره هیڅ کوم تاریخي سند نه لري."[1]

"د ځایونو نومونه چې بالعموم لرغوني دي او د نومونې لامل او تاریخي شالید یې هېر شوی د ی، د دودیزې آرپوهې مهم مبحث دی. تبرېز ځینې له تب او رېز نه مرکب گڼي، یعنې هغه ځای چې د انسان تبه په کې سړېږي! همدان ځینې د همه او دان مرکب گڼي، یعنې هغه ځای چې ټول خلک یې دانا او پوه دي. د مشهور غره بېستون په اړه ځینې وايي چې له بې او ستون نه جوړ دی، یعنې بې ستنو، په داسې حال کې چې دا کلمه له (بغ+ستان) نه جوړه ده، چې د خدای د ځای معنا لري او د لرغونې پارسي بڼه یې baghistana ده: "په مفاتیح العلوم کې یې پارسي نوم بغستان او په معجم البلدان کې بهستان دی او ځینو عرب پوهانو بهستون بللی

[1] صفیه، حلیم. ۲۰۱۳: https://www.safiahaleem.com/?p=2023

دی."[۲]، چې د غړیزو بدلونونو په پایله کې په بیستون اوښتی. ځینې خلک سمرقند د سمر او قند مرکب ګڼي، چې دوهم توک یې د (قند و شکر) په معنا اخلي. په داسې حال کې چې (قند) د (کند) عربي شوې بڼه ده، چې د ښار معنا لري، لکه په تاشکند کې هم ده، چې دا له خوراکي قند سره هېڅ تړاو نه لري. (۷)

محمد رضا باطني د دودیزې آرپوهې په اړه وايي:

دودیزه آرپوهه د ناخبرو کسانو له خوا د کلمې د غږ او معنا ترمنځ د اشتقاقي، ترکیبي او مجازي اړیکې د پیدا کولو هڅه ده، چې په دې ډول تتې کلمې په رڼو هغو واړوي. خلک هڅه کوي چې کلمو ته رغښتي یا معانیزه انګېزه پیدا کړي، داسې انګېزه چې واقعیت نه لري، ځکه خو وایو چې دا ناعلمي هڅه ده، چې د اړیکو د پیدا کولو لپاره یې د غړیز بدلون له علمي اصولو او په تړوله کې د ژبې له واقعي تحوله کار نه اخیستل کېږي، بلکې شخصي حدس او ګومان او ذوق او استنباط په کې کارېږي، چې د ژبې پر تاریخي واقعیتونو نه وي ولاړ. (۸) استاد رشاد په "جغرافیایي یادښتونه" کې د "قدیم هندوستان کي تاریخ" په مأخذ د ایزپ(نیکه) په اړه لیکي: "ایزپ اوس د یوسف اوښتی شکل ګڼل کېږي، چې له اسلامي پوهې سره باید پښتو ته راغلی وي، مګر موږ د دوو زرو کالو پخوا (زمانه کې) دا نوم په اراکوزیایي پاچهانو کې وینو. تر "ماوس" وروسته ایاز ایزس او تر هغه وروسته دوه پاچهان د ایزپس په نامه په دغه کورنۍ کې تېر شوي دي." (۹)

د دویزې آرپوهې په مټ د ځینو کلمو بڼې او معناوې کله داسې مسخه شي، چې له اخلاقي پلوه ترې ابتذال ځاځي، چې په دې لیکنه کې یې نشو راوړای.

### ۳- د دودیزې آرپوهې ډولونه:

له کلمو سره د دودیزې آرپوهې چلن درې ډوله پایلې لري، چې محمد رضا باطني یې د دودیزې آرپوهې درې ډولونه بولي:

### ۳-۱- یواځې معنا

چې دودیزه آرپوهه یواځې په معنا پورې محدوده شي او په بڼه کې یې بدلون رانه ولي. ځینې خلک ناخدا(ماڼو) له نا او خدا نه ترکیب شوی ګڼي؛ خو دا په اصل کې د ناوخدا لنډیز دی، چې د خدای ناو یا (د کیښتۍ څښتن) معنا لري.

---

[۲] په برهان قاطع کې د بیستون پر کلمه د دکتر معین لمنیک

### ۳-۲- شکلي او معانيز بدلون:

کله ناکله دودیزه آرپوهه پر معنا سربېره د کلمې بڼه هم بدلوي. مثلاً: د انګلیسي bridegroom(زوم) د لرغوني انګلیسي- له brydgruma نه راوتی، چې لومړی توک یې bryd د ناوې او دوهم جز یې guma د سړي معنا لري. د بدلون په بهیر کې guma د سړي په معنا له کاره ولوېده او په دې توګه د دې کلمې دوهم توک تت شو. خلکو د دودیزې آرپوهې په مټ guma له groom سره، چې د ځوان په معنا دی، یو وګاڼه. په داسې حال کې چې دا دواړه کلمې له تاریکې او اشتقاق پلوه هېڅ تړاو نه لري. په دې توګه دودیزې آرپوهې د کلمې بڼه او څه نا څه معنا بدله کړه.

د "پنجشېر" په مورد کې هم د بڼې او معنا توپیر وینو. خلک وایي، چې د دې معنا پنځه زمري ده؛ خو استاد رشاد یې راته تاریخي ریښه راپېژني:

" کومه سیمه، چې اوس موږ هغه د پنجشیر په نامه یادوو، زوړ او پخوانی نوم یې پنجهیر دی، په دې کې پنج د (پنځه) عدد معنا ورکوي او هېر، چې دی د غره یا د درې معنا ښندي. ابن بطوطه چې تقریباً اووه سوه کاله مخکې په دې لاره باندې تیر شوی دی، هغه لیکي: "موږ د اندراب له لارې څخه پنجهیر ته ورسیدو او هلته په یوه لنګر کې د یوه سړي له طرفه میلمانه شوو او هغه زموږ ډېر عزت وکړ، بیا موږ د پنجهېر درې ته ننوتو." د پنجهیر معنا خمسه جبال ده، چې په عربي ژبه کې د پنځو غرونو معنا لري.

ابن بطوطه د پنجهیر د ښکلا ښایست او طراوت ډېر ذکر کوي. همدارنګه ابوریحان البیروني زرکاله مخکې د دې ځای نوم پنجهیر ذکر کړی دی. دلته د هېر کلمه د ګیر او ګیري کلمو مبدل ده، ځکه ګیري په سانسکریت کې د غره معنا لري او اوس په پښتو کې هغه په دغه شکل تلفظ کېږي، کله کله (ك) په (ه) باندې هم اوړي. مثلاً ګره په روسي، بلاروسي، اوکرایني او بلغاریایي ژبو کې د غره معنا لري، اما په پولنډي ژبه کې ګره په (هره) بڼه ویل کېږي، نو په پنجهېر کې "پنج" د پنځه معنا ښندي او هیر د غره او یا درې مفهوم افاده کوي.

که ځیر شو، اوس هم پنجشېر په پنځو درو ویشل شوی دی، چې یوه په هغو کې دره هزاره ده." (۱۰)

**۳-۳- یواځې بڼه:**

په دې ډول کې دودیزه آرپوهه یواځې د کلمې بڼه بدلوي. مثلاً: په انګلیسۍ کې island او isle دوه بېلې کلمې دي، چې دواړه د (ټاپو) په معنا دي. له تاریخي او اشتقاقي پلوه دا دواړه هېڅ اړیکه نه لري؛ خو خلکو د دودیزې آرپوهې په رڼا کې دا دواړه یو وبلل او د قیاس له مخې یې isle -چې s په کې دی- د منځنۍ انګلیسۍ د iland له املایي بڼې سره یوځای کړ او island یې ترې جوړ: په دې مورد کې د کلمې په معنا کې بدلون رانغی، یواځې بڼه یې بدله شوه. (۱۱)

ښاغلی باطني د پوروینو په لړ کې هم د دودیزې آرپوهې خبره کوي. د نوموړي په اند: "ځرنګه چې د پورویینو معنا تته وي او خلک یې له تاریخي جوړښت او اشتقاقي وجهې خبر نه وي؛ نو د دودیزې آرپوهې په مټ یې د پېژندلو هڅه کوي. مثلاً: د hamburger (هامبرګر) په انګلیسۍ کې له اصولي پلوه هامبورګي دی، چې له هامبورګ ښار نه راوتلی. دا کلمه د hamburger steak ځایناستې ده، چې د (هامبورګي ستیک) معنا لري. د وخت په تېرېدو خلکو د دودیزې آرپوهې په مټ د ham او burger په دوو برخو وېشلې او لومړۍ برخه یې د انګلیسۍ له ham یعنې (خوګ) سره یوه ګڼلې او دوهمه برخه یې د دې خوړو د تهیې په معنا اخیستې ده او بیا یې ترې beefbugre، doublegruger cheeseburger او نور جوړ کړي."

استاد رشاد په جغرافیایي یادښتونه کې د ښارونو د نومونو د بدلون لاملونه په ګوته کړي دي، چې ځینې لاملونه یې زموږ له موضوع سره تړاو لري:

یو؛ کله چې فاتح یا مجاور قومونه د مفتوحو ملکو نومونه په خپله ژبه ژباړي؛ لکه: تاش کند (د ډبرو کلا) په عربي جغرافیاوو کې ''برج الحجار'' شوی دی.

دوه؛ کله کله فاتح قومونه د مفتوحو ملکونو نومونه د خپلې ژبې له فونیتیکي غوښتنو سره سم اړوي؛ لکه: ګرګان په جرجان، چین په صین، ګندهارا په قندهار.

استاد حبیبي د پټې خزانې په تعلیقاتو کې د امیر کروړ په ویاړنه کې د راغلي ''جروم'' په اړه لیکي، چې دا په اصل کې ګرم و؛ خو په عربي کې چې ګ نه و، دا یې په جرم واړاوه او بیا یې جمع کړ، چې ''جروم'' شو، د کندهار او سیستان او شاوخوا تودو سیمو ته وایي. (۱۲)

درې؛ په ځینو مواردو کې د نوم بدلون ښکاره لامل نه لري. (۱۳)

د ځایونو نومونه لرغوني ریښه لري او د تاریخي ژبپوهنې په مټ یې پـه لرغونـو ژبو کې ریښې مونـدلای شـو؛ خـو د دودیـزې آرپـوه پـه مـټ داسـې ډېـرې کیسـې او لاملونه موندلای شو، چې خلکو په یوې کلمې پسې په ګړنۍ بڼـه جـوړ کـړي دي. دا کیسې له یوه پلوه فولکلوري ارزښت لري او له بل پلوه مو د خپلو کلمو تـاریخي بهـیر ته متوجه کوي. په پښتو کې داسې ډېرې سیمې دي، چې نومونه یې خلکـو تحریـف کړي او همداسې نورې کلمې هم دي، چې د تېزسونو په کچ پرې کار کولای شو.

## پایله

دودیزه آرپوهه د کلمو پر ریښو غږېږي؛ خو دا بحث علمي اساس نه لري، بلکې ولس له خپله انده د ځینـو کلمـو د التبـاس لـه مخـې پـه ځینـو کلمـو پسـې کیسـې جوړې کړې وي او له دې لارې یې د یوې کلمـې پـه بڼـه، معنـا یـا دواړو کـې بـدلون راوستی وي، چې دې ته موږ د آرپوهې ډولونه وایو. دا بـدلون د دودیـزې آرپـوهې یـو بل مخ دی، چې تر شا یې بېلابېلو لاملونه لري. مثلاً: کله سوبمنو قومونو د ځـایي کلمـو په بڼه کې بدلون راولي او د خپلې ژبې له فونولوژیکي امکاناتو سره یې برابر کـړي او کله یې ترجمه کړي.

آرپوهه چې د ولسي پوهې زېږنده ده، په ولس کې دومره عامه وي، چـې خلکـو ته واقعیت ښکاري او آن کله د پوهانو پر فکر هم سیوری وغـوړوي، چـې مـوږ د تکتـو په بېلګه کې ولیدل.

په ټوله کې په دې پوهېږو چې دودیزه آرپوهه له کلمو سره نـاعلمي چلـن کـوي او باید د علمي څېړنـو پـه چوکـاټ کـې ورسره احتیـاط وشي. څرنګـه چـې دا ولسي-پوهې ته اشاره کوي؛ نو له دلچسـپۍ خـالي نـه ده او پـه کـار ده، چـې د فولکلـوري توکو په توګه خوندي شي.

## مأخذونه


۱ - ځلاند، ابوالخیر، د متلونو قصې(دوهم ټوک)، پښتو اکېډمۍ بلوچستان: کوټـه،- ۲۰۰۵ زېږدیز کال، ۳۵-۳۷ مخونه.

۲ -باطني، محمد رضا،کلمات تیره و شفاف، بحثی در معنـا شـناسی، بخـارا، شـماره ۱۱۵ دی: تهران، ۱۳۹۵لمریز کال.

۳ - رشاد، عبدالشکور، جغرافیایي یادښتونه، علامه رشاد اکاډیمي: کنـدهار، ۱۳۸۹

لمریز کال، ۱۲۵ مخ.
۴- ځلاند، ابوالخیر، د متلونو قصې(دوهم ټوک)، پښتو اکېډمی بلوچستان: کوټه، ـ ۲۰۰۵ زېږدیز کال، ۳۵-۳۷ مخونه.
۵- باطني، محمد رضا، کلمات تیره و شفاف، بحثی در معنا شناسی ـ بخارا ـ شماره ۱۱۵ ـ دی: تهران، ۱۳۹۵ لمریز کال.
٦- جغرافیایي یادښتونه، ٥٧٦ مخ.
۷- باطني، ۳۰ مخ.
۸- پاسنی اثر، ۲۹ مخ.
۹- جغرافیایي یادښتونه، ۱۲
۱۰- بدر، صدیق الله، د سیمو تاریخي جغرافیه، دانش خپرندویه ټولنه: کابل،۱۳۹٦ لمریز کال، ٤٤-٤٥ مخونه.
۱۱- باطني، محمد رضا، کلمات تیره و شفاف، بحثی در معنا شناسی ـ بخارا ـ شماره ۱۱۵ ـ دی: تهران، ۱۳۹۵ لمریز کال.
۱۲- هوتک، محمد، تذکره الشعرا پټه خانه، د عبدالحی حبیبي په زیار، د پوهنې وزارت د دارالتالیف ریاست: کابل، ۱۳۳۹لمریز کال، ۲۳۲-۲۳۳ مخونه.
۱۳- جغرافیایي یادښتونه، ٥٦۰-٥٦٦ مخونه.

رحمت الله حکیمي

# په پښتو حمدیه شاعرۍ کې عرفاني ښکلاوې

## لنډیز

په پښتو ژبه کې حمدیه شاعري ډېره ده، خو څېړنیز اړخ ته یې لکه څنګه چې په کار ده توجه نه ده شوې. په دې مقاله کې ما لومړی د پښتو په حمدیه شاعرۍ بحث کړی او بیا مې د حمدیه شاعرۍ عرفاني اړخ تر بحث لاندې نیولی، ځکه دا ثابته خبره ده چې په عرفاني شاعرۍ کې د خدای پېژندنې پلوشې تر نورو اړخونو رنګینې او ځلېدونکې دي، خو دا رنګیني هله پرکېدونکي شي، چې توجه ورته وشي او د یو معتبر ارزښت په توګه تر څېړنې لاندې ونیول شي.

په دې مقاله کې دا بحث د پښتو ژبې د لویو شاعرانو په کلامونو کې په ګوته شوی او درنو لوستونکو ته په تفصیل سره وړاندې شوی دی.

## سریزه

که په ټوله کې د پښتو ژبې شاعري له نظره تېره شي، نو په کمي لحاظ په کافي اندازې شاعري په کې شوې او لا روانه ده کېږي، خو په کیفي لحاظ بیا ډېرې پوښتنې او ننګونې لا هم ورته متوجه دي.

په دې معنا زموږ ځینې شاعرۍ په زور شوې، ځینې د ذوق له مخې شوې او ځینې هم د شهرت لپاره، هغه چې پر مینې، ذوق، الهام او هنري مراندو ولاړې دي، هغه په رښتینې معنا له زړه پاڅېدلې او پر زړه ناسته شوې ده، خو هغه چې د نورو ملاحظو له مخې شوې، نو هغه خپلې ستونزې او نیمګړتیاوې لري.

موږ دلته په دې مقاله کې په دې بحث کړی چې په پښتو ادب کې حمدیه

شاعري څنګه ده، چا کړې او د څه هدف لپاره يې کړې، بيا په حمديه شاعرۍ کې عرفاني شاعري څه ډول ده، ځکه کله چې د حمديه شاعرۍ خبره کوو، نو بايد د عرفان معنا ترې وانه خيستل شي او که چېرې د عرفان شاعري وايو، نو بيا بايد ټوله د حمديه شاعرۍ معنا ترې وانه خيستل شي. په دې مقاله کې دا دواړه بريد پولې سره وېشل شوي او هره يوه له خپلو ځانګړنو سره راغلې ده.

## د څېړنې اهميت او مبرميت

د دې څېړنې اهميت او مبرميت په دې کې دی، چې موږ د پښتو شعر عرفاني کلام وپېژنو چې کوم دی او پر کومو مسايلو چورلي، ترڅنګ يې په ټوله کې د حمديه کلام ارزښتونه هم را په ګوته کوي، ځکه موږ ډېره شاعري په دې قالب کې لرو چې حمديه شاعري نه ده يا هم په ټوله کې د عرفان ځانګړنې په کې نه تطبيقېږي، خو د جولې له مخې حمديه يا عرفاني شاعري ده، نو دا مقاله دغه اهميت او مبرميت را برسېره کوي.

## د څېړنې موخه

د دې څېړنې موخه په دې کې ده چې عرفاني شاعري په ټوله معنا په کې جوته شوې او له حمديه شاعرۍ سره يې حتا نرۍ بريد پولې هم جلا او توپير شوې دي او ترڅنګ يې د عرفاني شاعرۍ لوی شاعران هم موږ ته را پېژني، يعنې څوک په دې لار کې سرلاري دي.

## د څېړنې پوښتنې

په دې څېړنه کې تر ډېره لاندې پوښتنو ته ځوابونه موندل شوې دي:

- ✓ حمديه کلام کوم دی؟
- ✓ عرفاني شاعري څه ډول شاعري ده؟
- ✓ د حمديه او عرفاني شاعرۍ ترمنځ بريد پولې کومې دي؟
- ✓ کومو شاعرانو په دې برخه کې ښه او اوچته شاعري کړې؟

او دې ته ورته ځينې کوچنې پوښتنې هم پوښتل شوي چې په مقاله کې يې ځواب موندلای شئ.

## د څېړنې ميتود

په دې مقاله کې تر ډېره له تحليلي، تشريحي او توضيحي ميتود څخه

استفاده شوې ده.

## اصلي متن

پښتانه لوستوال، عرفان د خدای (ج) دقرب وسیله ګڼي او د خپل نفس تذکیه د خپل خالق په ستاینه او اذکارو کوي؛ نو د پښتو ژبې او ادب لمن په عرفاني مرغلرو ډکه ده، په بې شمېره حمدیه کلامونو کې یې دالله (ج) پېژندنې ننداره د پښتني شاعرانو له خوا وړاندې شوې، چې ما یې لنډ انځور وړاندې کړو، له دې څخه د حمزه بابا هغه وینا دسړي سترګو ته درېږي چې وایي (( پښتون من حیث مسلمان دی. )) یعنې دپښتون په خټه کې داسلام مبارک دین تومنه ورګډه ده، حمزه بابا وایي که پښتون له اسلام نه واوړي هغه پښتون نه دی؛ نو ځکه په یوه ځای کې وایي:

د پښتو فطرت مې دومره اسلامي دی
که اســلام نه وای نو هم به مسلمان وم

عرفاني ادبیات هغه اغېزمنې لیکنې او ګړنې ویناوې دي، چې خدای (ج) پېژندنې ته خلک رابولي، دغه ادبیات دهنر په پیمانه کې دخدای مینه انسان ته ورکوي، داچې دپښتنو له خټې څخه داسلام مبارک دین وړمې خپرېږي او د اسلامي عرفان روح هم اسلام دی؛ نو پښتانه لوستوال داسلام مقدس دین له مخې عرفاني ادب دخدای (ج) دقرب وسیله ګڼي، له ښه مرغه همدې ته په پام مې دې موضوع ته پام شو او څه نا څه مې پرې ولیکل، البته دلته غواړم چې په حمدیه کلامونو کې عرفاني څرکونه په تحلیلي توګه وسپړم، داچې پښتني ادب په تیره بیا د هغه لرغونې دوره له عرفاني خوبیو څخه ډېره برخمنه ده او تر معاصرې دورې پورې په ادبیاتو کې داروح لا پسې روان دی، د حمد له نامه څخه جوتېږي چې دالله (ج) ستاینه په کې شوې وي، طبیعي ده چې د شعر دغه ډول عرفاني خواږه لري. زه غواړم دلته په لنډ ډول په هغو اشعارو کتنه وکړم چې دالله (ج) ستاینه په کې شوې وي، لومړی موضوع له عرفان او حمد پېژندنې پیل شوې ورپسې په لرغونې، منځنۍ او معاصره دوره کې د ځینو شاعرانو دحمدیه کلامونو بېلګې له تحلیلي کتنې سره مشت نمونه خروار په ډول راوړل شوي، دا په کې روښانه شوي چې نوموړي کلامونه عرفاني خواږه په کومه پیمانه لري، د درانه استاد پوهاند احمد شاه زغم نه په مننې چې زموږ په زړونو

کې دعرفان او خدای پېژندنې نیالګي کینښنوي او د موضوع په تخنیکي او محتوایي برخه کې راڅخه خپلې مشورې نه سپموي.

## عرفان

د عرفان کلمه په عربي ژبه کې د پېژندنې معنا ورکوي او د اصطلاح له مخې خدای (ج) پېژندنې ته وایي، چې دا پېژندنه د مسلمان په روح، زړه او د چارو په سپېڅلتیا ترسره کیږي، نه په منطق او استدلال یا عرفان هغه لاره ده، چې اهل الله یې د خدای پېژندنې او قرب لپاره خوښوي.

د تصوف له پیله د عرفاني اشعارو اړتیا پیدا شوه چې استعاري شکل یې درلود، عارفان (حال) ته د رسیدلو لپاره چې دالهي رحمت نزول یې ګڼي په ډېر لوړ ارزښت قایل و، د داسې وسایلو لټون په شدت سره روان وو چې د حال انګیزه یې رامنځ ته کوله، ډېر ژر جوته شوه چې د حال او وجد د رامنځ ته کولو ګټوره وسیله شعري اواز دی، ځکه همدغه شعري ترنم دی، چې حال او وجد ته ځواک وربخښي اوصوفي د ملکوت په پولو ورواړوي، نو د همدغه شعرونو په کتار کې یو هم حمدیه اشعار دي چې د الله (ج) پېژندنې څرکونه په کې له ورایه ښکاري.

په عرفاني ادب کې دوه عرفاني فلسفې د (وحدت الوجود او وحدت الشهود ) په نامه شتون لري، په دې ادبیاتو کې ټول درد، خروش او ذوق له همدغه شرابو څخه اخیستل شوی، چې دغه خیال په لومړي قدم کې له حقیقي مینې څخه زېږیدلی ښکاري.

وحدت الوجود دا رانښیي چې د حق وجود (هستي) یوه ده، نور ټول د حق د وجود مظاهر اوصافت دي یا دحق وجود مونږ ته موجود ښکاري په خپله هېڅ وجود نه لري لکه میرزاخان انصاري چې وایي:

دابودیګانګی نوم یې دریـــــاب شي
چې لږ لږ ځینې بیلیږي قطرات شي
(۹ : ۱۰)

یا لکه رحمان بابا چې وایي:

زه د یارمینې په یار باندې شیدا کړم
که څوک ماګڼي زه نه یم واړه دی دی

(۹ : ۲٦)

بل ځای په همدې باب حمزه صاحب وايي:

حمزه کــــه کړې حجاب د ماسوا د زړه نه دور
کثرت عین وحدت دی په کثرت کې نشته هيڅ

( ۸: ۳۷)

وحدت الشهودوالا بيا په هرڅه کې د يوه ذات مشاهده کوي؛ نو په هغه وخت کې به د شیانو وجود محسوس او مشهود نـه وي يـواځې د ذات وجـود بـه محسـوس وي (همه ازوست) فلسفه وايي چې په هرڅه کې دغه يو ذات گـورو، دوی وايـي چـې صفات غير ذات بولي، دواړه فلسفي ذات يوګڼي يواځې د الفاظو خبره په کې تـوپير لري، د شهودي فلسفې په اړه خوشحال خان وايي:

مخ ديار له خط وخاله مستغني دی
د غنی وي هر اسباب له خپله کوره

( ۸ : ۴۱)

اوس غواړو د همدغو دوو عرفاني فلسفو څرکونه په حمديه اشعارو کې پـه ګوتـه کړو، موضوع له حمد پېژندنې پيلوو:

## په حمديه اشعارو کې عرفاني افکار

حمد په لغت کې ثنا، صفت او د حق پر ځای کولو تـه وايـي، پـه اصـطلاح کـې (حمد) يواځې د الله (ج) ثنا، صفت او ستايلو ته وايـي، دا چـې حمديـه اشـعار د الله (ج) د توصيف او پېژندنې ننداره لوستونکو ته وړاندې کوي طبيعـي ده چـې عرفـاني څرکونه به په کې له ورايه ښکاري، يعنې هغه منظومې وېناوې چې دالله (ج) سـتاينه په کې شوې وي حمد بلل کيږي.

پېړۍ پېړۍ کيږي چې د پښتو شـاعرانو پـه حمديـه اشـعارو کـې د عرفـاني او تصوفي افکارو ونډه ليدل کيږي، لامـل يـې زمـوږ د ولـس د خـدای او خـدای پـالنې سره بې حده مينه او علاقه ده، د پښتو ادبياتو لمن له بـې شـميره عرفـاني منظومـو ډکه ده، يو هم له هغو څخه حمد دی چې پـه هـر فـورم کـې راتـلای شي او د منځپانګې له مخې دغه نومونـه ورتـه ځکـه ځـانګړې شـوې چـې د الله (ج) پېژنـدنې ننداره وړاندې کوي په لرغونې دوره کې پاخه عرفاني افکار د بيـت نيکـه پـه منظومـو

کې دي چې د مناجاتو په شکل کې دی، نه د حمد ځکه لـه الله (ج) څخـه د خپلـو خلکو د ډېرښت غوښتنه شوې چې د مینې اصلي جوهر سم په ځای نه پاتې کیـږي وایي:

لویــــه خدایه لــــویه خـــدایه
ســــــتا پــــه مینه په هرځایه
غـــر ولاړ دی درنــــــاوی کې
تـــــوله ژوي پـــه زاری کـــې
دلـــــته دي د غـــــرو لمـنې
زموږ کیږدی دي په کې پلنې
دا وګــــړي ډېـــر کړي خدایه
لـــویه خـــدایه لـــویه خدایه
(۵ : ۳)

پورته منظومه مناجات دي نه حمد، ځکـه پـه لـومړي کـې د الله (ج) د قـدرتونو یادونه شوې وروسته د خپلو خلکو د زیاتوالي دعا په کې شوې، دا چې د مینـې په پار د الله (ج) ستاینه شوې وي هغه بیا حمد دی لکه شیخ متـي چـې لـه الله (ج) سره د مینې په پار له سوزه ډکې نارې کـړي او پـه هرڅـه کـې د خپـل خـالق ننـداره کوي او د عرفاني شهودي فلسفې روح په کې چلیږي وایي:

کـــه لمـــر روښـــانه مـــخ یـــې ســـپین دی
یــــا د ســـــــپوږمۍ تنـــــدی وریــــــن دی
کـــه غـــــــر دی ښـــــکلی پرتمیــــــن دی
لکـــه هینـــــداره مـــخ یـــې سپیــــــن دی
ســــــــتا د ښـــــکلا دا پـلـــوشـــــــــه ده
دا یـــــــې یـــــوه ســــــپکه ننــــــــداره ده
دلتــــــــه لــــــوی غرونـــــه زرغــــــونیږي
د ژونـــــد وږمـــــې پــــــه کـــــې چلیـــــږي
بـــــــــوراوې شـــــــــاوخوا کـــــــــــړیږي
ســــــــترګې لیدوتــــــه یـــــــې هښـــــیږي

لویـــــه خاونـــــده! ټولـــــه تـــــه یـــــې
تـــــل د نـــــړۍ پـــــه ښـــــکلیده یـــــې
زړه مـــــې دا ســـــتا د مینـــــې کـــــور دی
ســـوی د عـــــــشق پـــه ســـوځند اور دی
رب یـــــې وتاتـــــه ســـــتا پـــــه لـــــور دی
بـــې لـــه دې هـــېڅ دی ورک یـــې پلـــور دی
ســـــتا دجـــــمال پـــــه لیـــــدو ښـــــاد دی
کـــــه نـــــه وي دغـــــه نـــــور بربـــــاد دی
زه چـــــې څرګنـــــد پـــــه دې دنیـــــا ســـــوم
دښـــــکلي مـــــخ پـــــه تمـــــا شـــــا ســـــوم
ســـــتا پـــــرجمال بانـــــدې شـــــیدا ســـــوم
لـــــه خـــــــپلې ســـــتې را جـــــلا ســـــوم
پـــــــه ژړا ژاړم چـــــــــې بېلتـــــــون دی
یمـــــه پـــــردیس بـــــل مـــــې تـــــون دی
وګړیـــــــــــو! ولـــــــــې متـــــــــي ژاړي
ســـــوري یـــــې اورئ غـــــاړې غـــــاړې
څـــه غـــواړي، څـــه وایـــي، څـــه بـــاړي ؟
خپـــــل تـــــون، کـــــور او کلـــــی غـــــواړي
چـــونې چـــې بیـــل سي نیمـــه خـــواسي
تـــــل یـــــې د بـــــڼ پـــــه لـــــور ژړا سي
(۲ : ۵۴۳)

**تحلیلي کتنه:**

شیخ متي په عرفان او تصوف کې د پوخ فکر څښتن وو، دپښتو متصوفو شاعرانو امام ګڼل کیږي، ددغه فکر ډېوه بیا وروسته نورو شاعرانو بله ساتلې، د شعر بڼه یې ملي رنګ لري د فکر له لحاظه یې ډېره جمالیاتي وینا کړې لومړی ځل یې په کایناتو کې د الهي جمال وړانګې ولیدلې او خپله یې ځان په دې وړانګو وړانګن بللی، شیخ متي (رح) د خدای (ج) له اسم (هوالظاهر) څخه ببرته د حق اسم

(هوالباطن) ته ورتګ غوارې، دی له خپله اصله را بېل دی، په غوږو کې یې د ((الست بربکم)) غږ ځپانده دی، د وصل شېبې په لټه کې دی، له همدې درده ځړیکې وهي او د کایناتو د نظم سندریز غږونه ورته د بېلتون د شپېلۍ سوزونکې نغمې، سوزنده چیغې او فریادونه ښکاري د مولانا بلخي دې وینا ته ورته نارې وهي:

کز نیستان تا مرا ببریده اند
از نفیرم مرد وزن نالیده اند
(۸: ۱۰۳)

شیخ متي هم له خپلې ستې څخه د بېلتون له سوزه ژاړي بیا خپل کور او کلی غواړي چې له جمال سره اوسیده او د ((الله نور السموات والارض)) په پلوشو وړانګن و د خپل اصل لټه په لاهوت او جبروت کې کوي؛ نو ځکه وایي:

له خپې ستې را جلا سوم
یمه پردیس، بل مې تون دی

له دې نه پس د پښتو ژبې او ادب د ستر لاروي خوشحال خان خټک له خولې څخه حمدیه رنګه نارې له خپل خالق سره د مینې په پار وتلي وایي:

صورت ګر چې ښه صورت په دیوال ساز کا
کل عالم یې په صفت زبان دراز کا
د هغه نقاش په صنعه نظر نه کا
چې له څه خاکې دا نقش طراز کا
( ۱ : ٦)

خوشحال بابا وایي که یو عادي مصور چې یو بې روحه جسد، تصویر وکاږي یا یې له ډبرو نه جوړ کړي؛ نو ټول عالم یې په صفتونو خولې وازې کړي او ستاینه یې شروع کړي؛ خو حقیقي مالک چې له یوه خاځکي څخه یې انسان جوړکړی، ځمکه او اسمانونه یې پیدا کړي هېڅوک څه نه وایي او نه ورباندې فکر کوي، د خوشحال خان په پورته بیان کې د عرفان د شهودي فلسفې رنګ ښکاري.

همدارنګه په کلاسیکه دوره کې نوموتی صوفي شاعر عبدالرحمان بابا د حقیقي عشق پیالې نوش کړې زموږ خلکو ته یې د خدای پېژندنې مینه په زړونو کې ور واچوله  د حمدیه کلام یو څو بېتونه یې د نمونې په ډول رواړو:

گـــــوره هســــــې کردگار دی رب زما
چې صـــاحب دکل اختیار دی رب زما

همګي بزرګواران چې ځوک یې وایي:

ترهـــــمه وو بزرګـــوار دی رب زمـــــا
هر تعمیر چې د دنـــیا او دعقـــبا دی
دهـــــــمه واړو معـــــــمار دی رب زما
هسې نـــه چې واحدي یې ده له عجزه
پـه یـــوه وجود بســــــیار دی رب زما
هیڅ تغیر او تبدیل نه لـــــري رحمانه!
تل تـر تله بــــــرقرار دی رب زمــــــــا
(۴ : ۱)

تحلیلي کتنه: د حضرت مولانا عبدالرحمن بابا په پورته بیتونو کې د (همه ازوست) عرفاني فلسفي روح ځپانده دی، په هر څه کې د یوه ذات ننداره کوي؛ نو ځکه وایي په یوه وجود بسیار دی رب زما، د دنیا او عقبی دټولو ودانیو معمار خالق بولي، نوموړی صوفي مزاجه او په الله مین شاعر دی، هره وینا یې د سپېڅلې مینې په پار کړې د خالق او مخلوق ترمنځ یې هغه اړیکه راسپړلې چې حقیقي مینې ټینګه کړې.

بل ځای وایي:

همـــه واړه پـــه تســـبیح د ده مشـــغول دي
کـه ملـک دی کـه پېـری دی کـه انسـان دی
هـر مـاهی یـې پـه دریـاب کـې حمـد وایـي
هـر مارغـه یـې پـه چمـن کـې ثنـا خـوان دی
نه یې ځوک پـه سـترګو وینـي نـه لیـدای شي
او بـــې چونـــه بـــې چګونـــه نمایـــان دی
که ځـوک وایـي لیـدی نـه شي لیـدی نـه شي
کــه څــوک وایــي و هرچــاو تــه عیــان دی

بل ځای وايي:

پــه نامــه د هغــه خــدای مــې دابيــان دی
چې يـو نـوم يـې په نومونـو کـې سـبحان دی
پــه ســجده يــې ځمکــې سر دی لگــولی
هــم يــې ځوړنــد پــه رکــوع سره اســمان دی

که پورته بېتونو ته ځېر شو رحمان بابا لومړی د خپل خالق هسې لوړ صفتونه بيانوي چې په هېڅا کې نه وي، په دې سره د انساني غرور د نرگيسيت لمن ورټولوي بيا د همدغه لوړ صفته خالق عبادت ته خلک را بولي، حتی ځمکه او اسمان د الله (ج) په عبادت کېويني:

د وحد ت الوجود په اړه وايي:

زه د يــار مينــې پــه يــار بانــدې شــيدا کــړم
کــه ځــوک مــا گنهــي زه نــه يــم واړه دی دی
(۸: ۳۴)

د رحمان بابا پورتنی بيت د (همه اوست) عرفاني فلسفې له حقيقي شرابو ځخه رنگ اخيستی، نوموړی وايي چې زما او يار ترمنځ مينه اچوونکی ذات شتون لري، له خپل محبوب سره مې مينه په حقيقي محبوب مينوي، د رحمان بابا دغه وړاندينه په را ورسته کې ښاغلي الفت صاحب داسې کړې:

ښــکلی مــخ چــې لــه هرلــوري راښــکاره شي
دالفــت ســتــرگو ليــدلی لا پـــه خـــوا دی
(۸: ۸۵)

د پښتو ژبې بل نوموتی شاعر پيرمحمد کاکړ دی، چې شاعري يې له سوزه ډکه ده د حمديه کلام يوه برخه يې  په لاندې ډول ده:

پــه نامــه د هغــه خــدای مــې دا بيــان دی
چې يـو نـوم يـې په نومونـو کـې سـبحان دی
دی صـــانع دهمگـــــــــي واړه اشـــيادی
هــم ســامع د مــچ ميــږي پــه هــر گفتــار دی

هــم واحــد ولم یولــد دی پــه صــفات کــې
بــې شریکــه پادشــاهي کــا شــهر یــاردی

کاکړ په پورته بېتونو کې لومړی الله (ج) په لوړو صفتونو یادوي ورپسې وحدت الوجود عرفاني فلسفي له دریځې نه د الله (ج) د وحدانیت بیان کوي.

همدارنگه بل ځای د پښتو ژبې نازکخیال شاعر کاظم خان شیدا په حمدیه کلام کې د خپل خالق اوصاف او ستاینه داسې کوي:

ای دکل جهان صنیعه
ای د هر اسمان تدیعه
کامله قدرت د تا دی
نادره صنعت د تا دی
لوی دیوان دې مرتب کړ
چې انسان دې منتخب کړ
هر ورځ ورق گردان یې
مخترع د نوي شان یې
تا له خاورو ادم ساز کړ
تا همراز او تا دمساز کړ
مار هم خپله روزي مومي
گاه خوړل کا گاهي شومي
ستا کرم پاکه سبحانه
مگس نه شړې له خوانه

له پورته بېتونو او څرگندونو څخه معلومېږي، چې پښتنو شاعرانو او لیکوالو په خپلو لیکنو کې له خپل محبوب سره د مینې په پار دالله (ج) پېژندنې ننداره وړاندې کړې او دا لړۍ تر ننه پورې روانه ده دلته غواړو د معاصرې دورې د ځینو شاعرانو په شعرونو کې د الله (ج) پېژندنې څرکونه ووینو.

جلال امرخیل وایي:

ربنــا پــه تکــه تــوره شــپه کــې تــه یــې
راسره مــل هــره لمحــه کــې تــه یــې

دښــته کــې تــه یــې پــه ذره کــې تــه یــې
د مــرګ او ژونــد پــه فاصــله کــې تــه یــې
تصــویر پــه تشــه آئینــه کــې تــه یــې
خــو لــه عــالم نــه پــه پــرده کــې تــه یــې
د خلقــت هــره پدیــده کــې تــه یــې
پــه نــور کــې تــه یــې پــه پــرده کــې تــه یــې
(۱ :۵۲)

که پورته بېتونو ته ځیر شو د وحدت الوجود عرفاني فلسفې رنګ لري، شاعر چې هرڅه ته ګوري خپل خالق ویني، د حقیقي مینې په پار هره لمحه له خپل محبوب سره تړلي بولي، پورتني بېتونه دې د پښتو ژبې دې ټېپې ته ورته خوند لري:

زمــا پــه سـترګو کــې دې کــور دی
چــې چېرتــه ګــورم هلتــه تــه ښــکارې مینــه

همدارنګه په بل ځای کې ښاغلی اباسین یوسفزی په خپل حمدیه کلام کې وایي:

دوړې شــګې ســینه کــې راتــه ښــکارې
د سیســتم هــره قطــره کــې راتــه ښــکارې
د لاســونو پــه لکیــرو کــې دې ویــنم
پــه شــلیدلي ګرېوانــه کــې راتــه ښــکارې
زه بــه څرنــګ ســتا لــه ذات څخــه منکــر شــم
د خپــل ذات هــره ذره کــې راتــه ښــکارې
حیرانېږمــه ودې منظــر تــه خدایــه!
چــې پــه هــره ائینــه کــې راتــه ښــکارې
خدایــه! ذات دې یــوه لویــه معــما ده
ښــکارې نــه خوپــه هرڅــه کــې راتــه ښــکارې
(۱ :۱۲)

پورته بېتونه هم په کایناتو کې د واحد ذات ننداره وړاندې کوي او شاعر د منصور حلاج غوندې د (همه اوست) عرفاني فلسفې له لارې په هر څه کې خپل

خالق ویني.

## پایله

هره وینا یا کلام د یوې موخې لپاره وي، چې ډېره څله هغه موخه یا په ټوله معنا بشپړه شي او یا یې هم بشپړاوي ته کار شوې وي، خو د ځینو لاملونو له مخې بشپړه نه شي.

په دې مقاله کې موږ دې پایلې ته رسېږو چې د پښتنو شاعرانو حمدیه کلامونه په کافي اندازې زیات دي او هر یو خپل خپل ځای لري، خو د پښتو ژبې کوم حمدیه کلامونه چې په عرفاني خم کې لمبېدلي دي هغه تر نورو کلامونو د خالق پېژندنې زیاتې پلوشې او خوشبویۍ لري او همدا لامل و، چې ما دې برخه ته توجه وکړه، زه هیله من یم چې د دې برخې نور څانګوال دا برخه لا پسې پراخه او مغتنمه کړي او موږ هغو باریکیوته یې ځیر کړي، چې تر اوسه پورې ورته نه یو متوجه شوي.

## مأخذونه


۱ ــ افغان، محمدنعیم، د وړانګو امیل، صداقت خپرندویه ټولنه: کندهار، ۱۳۹۴ لمریز کال.

۲- حبیبي، عبدالحی، د پښتو ادبیاتو تاریخ، لومړی او دوهم ټوک، دانش خپرندویه ټولنه: پېښور، ۱۳۸۴ لمریز کال.

۳- حبیبي، عبدالحی، پښتانه شعراء، لومړی ټوک، پښتو ټولنه، عمومي مطبعه: کابل، ۱۳۲۰ لمریز کال.

۴- عبدالرحمن بابا، د رحمان بابا دیوان، پښتو ټولنه، د څېړنیار محمد عارف غروال په زیار، دولتي مطبعه: کابل، ۱۳۵٦ لمریز کال.

۵- عبدالرحمن بابا، د رحمن بابا د کلام انتخاب، صداقت خپرندویه ټولنه: کندهار، ۱۳۸۸ لمریز کال.

٦- عمران فرهاد، د خوشحال خان خټک د اشعارو غورچاڼ، تاج منور خپرندویه ټولنه، هلمند افغانستان: هلمند، ۱۳۹۴ لمریز کال.

۷- محمد هوتک، پټه خزانه، پنځم چاپ، مومند خپرندویه ټولنه: ننګرهار، ۱۳۸۹ لمریز کال.

۸- فضل ولي ناګار، عرفان او د پښتو ادب په لرغونې دوره کې یې څرګونه، ناګار خپرندویه ټولنه: ننګرهار، ۱۳۸۸ لمریز کال.

۹- رحمت الله حکیمي، عرفاني ادبیات، تدریسي- چپټر، پکتیکا پوهنتون، د پښتو ژبې او ادب څانګه، ۱۳۹۵ لمریز کال.

# منثور و منظوم شعر او منثور نظم

**لنډیز**

نظم: هغه کلام چې وزن و اهنگ ولري، وزن و آهنگ د نظم بنسټيز توکي دي.

شعر: په کېښکلې او اهنگينه ژبه د فکر وخيال عاطفي ترون دی. کېښکلې ژبه يعنې خج.

د پښتو نظم عروضي جوړښت سېلابوتونيک يا څپيز خجيز دی.

په دې ليکنه کې د نظم او شعر په يو شمېر ډولونو خبرې شوې دي. د نظم او شعر ترمنځ بريد ټاکل شوی دی. منظوم شعر، منثور شعر او منثور نظم په بېلگو کې څرگند شوي دي. د شعر او نظم په باب ډېرې خبرې کېدای شي، خو مو ږ دلته يواځې يو څو نومونه څرگند کړي دي.

**سريزه**

تر اوسه لا دا لانجه حل نه ده او نه پرې ټول ادبپوهان په يوه خوله شوي چې نظم او شعر يو شی دی او که توپير لري، زه له هماغه پخوا په دې نظر وم چې دا دواړه متفاوت شيان دي او په خپلو منځونو کې ډېر توپير لري، اوس بحث دا دی چې ايا منثور او منظوم شعر او منثور نظم يو شی دی او که توپير لري او ايا د منثور نظم په نامه څه لرو او که نه؟

ښايي ډېرو دوستانو ته دا پوښتنه پيدا شي چې دا يو شی دي او کوم خاص توپير نه لري او يا هم دې مسايلو ته څه اړتيا ده، خو زما په نظر زموږ ځوان کادر يا په ټوله کې ځوان څېړونکي بايد په دې نزاکتونو پوه شي، چې دا هر څه يو نه دي او

هر یو په جلا قالبونو کې د مطالعې وړ دي او یا دا چې ځینــې مسـایل نـه شـته، خـو موږ مشهور کړي او د ادبیاتو په اصطلاح غلط مشـهور (مشـهود) مـو تـرې جـوړ کـړې دی، نو په دې مقاله کې تاسې دا مسایل ټول لوستلای شئ.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

د دې څېړنې اهمیت او مبرمیت په دې کې دی چې لـومړی پـه کـې د نظـم او نثر ترمنځ پولې جوتې شوي بیا یې د منثور نظـم پـه نامـه چـې کـوم شـیان مطالعـه شوي یا تر څېړنې لاندې نیول شوي پر هغې بحث شوی او بیا سمه لاره ښوول شوې ده چې څنګه ده او څنګه باید وي.

## د څېړنې موخې

د دغه ډول موادو څېړل نه یـواځې ادبي زیـاتونې رامـنځ تـه کـوي، بلکـې زمـوږ ځوان څېړونکـي پـه خپلـو څېړنیـزو چـارو کـې بـاریکیو تـه ځیـر کـوي او پـه دې یـې پوهوي، چې باید له څېړنې سره برسېرن چلند ونه کړي، ځکه څېړنـه بایـد ژوره او پـه رښتینې معنا حق ته رسېدلې وي، نو ځکه دا څېړل دا او دې ته ورته ژورې مـوخې را برسېره کوي.

## د څېړنې پوښتنې

په دې څېړنه کې لاندې پوښتنې ځواب شوې دي:

- ✓ منثور شعر کوم دی؟
- ✓ منظوم شعر څه ته وایي؟
- ✓ ایا په پښتو ادب کې منظوم نثر شته؟
- ✓ د شعر، نظم او نثر ترمنځ د ګډوالي او جلا والي پولې کومې دي؟

او دې ته ورته ځینې کوچنۍ او مرتبطې پوښتنې په کې ځواب شوې دي.

## د څېړنې میتود

په دې څېړنه کې له تشریحي، توضیحي، تحلیلي او د اړتیا پـه صـورت کـې لـه انتقادي میتود څخه ګټه اخیستل شوې ده.

## اصلي متن

په نظم پورې تړلي یو شمېر نومونه دنظـم لغـوي شـننه اسـانوي: نظـم، مـنظم،

تنظيم، نظام، منظوم، انتظام او... ددې ټولو نومونو ريښه نظم دی. نظم په لغوي معنا په مزي کې د مرغلرو پېيلو ته وايي.

د ادب په ژبه کې له مرغلرو نه موخه لفظونه او يا خبرې دي چې د مرغلرو په څېر ارزښت او اغېز لري او پېيل يې د خبرو کيفيت او اغېز لا رڼوي او زياتوي.

د نظم اصطلاحي شننه: هغه کلام چې وزن او اهنګ ولري. که څه هم په لومړيو کې نظم هغه کلام ته ويل کېږي چې وزن، قافيه او رديف ولري. د وخت په تېرېدو سره په ادب کې داسې ادبي ځيلونه يا ژانرونه رامنځ ته شول چې رديف يې نه لاره، نو نظم پوهان کښېناستل او پر دغه تعريف يې يو غور وکړ، دا ځل يې رديف اختياري وباله، دوی بيا هم بنستيز توکي قافيه او وزن وګڼل، خو چې کله له قافيې پرته نظمونه رامنځ ته شول، نو نظم پوهانو داتعريف هم پرېښود، پرمختګ يې وکړ اودنظم لپاره يې يوازې وزن شرط وباله.

نظم ځانته يوځانګړی اغېز لري.((...په پخوانيو وختونو کې نظم د شعر مقابل لوری و، نظم به منظوم کلام و چې د يوې موضوع دبيانولو لپاره به ويل کېده، ژبنی معيار او پوخ جوړښت به يې درلود، خو شعريت به په کې نه و، په نظم کې به ناظمانو ديني لارښوونې، اخلاقي بندونه، طبي او نور موضوعات بيانول او روزنيز هدف به يې درلود چې خلکو به يادول هم او د اړتيا پروخت به يې استناد پرې کاوه، داسې کسان هم وو چې هم به يې شعرونه ويل او هم به يې نظمونه جوړول لکه خوشحال بابا چې لوی ديوان ترې را پاتې دی او هم يې ګڼ روزنيز نظمونه ويلي دي، لکه فضلنامه، طب نامه، اخلاقنامه، فالنامه، بازنامه او نور او په شعوري ډول يې خپله شاعري او نظمونه سره بيل کړي او په فضلنامه کې د دی ډول نظمونو جوړښت داسې ښودلی:

دا سـېـر کـال چـې د غفـط دی
يـو کتـاب مـې پـه نمـط دی
چـې يـې نـوی بنيـاد کښـېږدم
يـو يادګـار پـه جهـان پرېـږدم
سـاده نظـم بـې دقتـه
بـې اشـکاله بـې لغتـه

پـــــه ضـــــعیف بحـــــر ویـــــلی
تکلـــــــف ځنـــــــي وتـــــــلی
چـــــې اســــان پـــــه یـــــادول وي
مخـــــتصر کښـــلی پـــه کښـــل وي
چـــــې هرڅـــــو ك ورتـــــه وگـــــوري
نیـــــك عمـــــل وتـــــه وښـــــوري

خو په شلمه پېړۍ کې چې شعري قالبونه مات شول، د بې شعریته نظم موضوع پر خپل ځای پاتې شوه او روزنیز کتابونه په نثر ولیکل شول، دا وخت د شعر نور ټول اصناف نظم وبلل شول او غزل د نظم په مقابل کې ودرېده او په دې ترتیب شعر په نظم او غزل ووېشل شو...)) ( ۱)

دنظم په باب مو څه نا څه پوهه پیدا کړه، دلته غواړو چې لومړی شعر وپېژنو، په پېژندنې یې له نظم سره توپیر جوتېږي، خو تر دې وړاندې دکار د اسانی او ښې څېړنې او ارزونې په موخه غواړوو چې شعر په درې عمومې برخو وویشو:

**۱: منظوم شعر:** هغه شعر ته وایي چې شعري توکي فکر، خیال، عاطفه او احساس، په اهنگینه ژبه په وزن لرونکو چوکاټونو کې ځای پر ځای کړي. وزن لرونکو چوکاټونو نه مو موخه د نظم بېلابېل اړخونه دي، لکه دیوانې او ولسي فورمونه چې په دې فورمونو کې دنظم بېلابېلې بڼې لکه قافیه وال او ردیف وال، نیمه ازاد او ازاد نظمونه راځي.

شعر دلته د نظم په چوکاټ کې رنگینه منځپانگه یا مخیل تصویري کلام دی. په دې لیکنه کې د منظوم شعر گڼې بېلگې له کلاسیک او هم له اوسني ادبه راوړل شوي دي.

**۲: منثور شعر:** منثور شعر ته سپین شعر هم ویل شوی دی. منثور شعر هغه شعر دی چې دنثر په چوکاټ کې شعري یا بدیعي توکي راغلي وي. شعري یا بدیعي توکي یعنې: تخییل، فکر، احساس، عاطفه، موسېقي یا اهنگ څخه عبارت دي . په منثور شعر کې ژبه له عادي حالته په ناعادي حالت اوړي، ژبه یې تصویري ده، کلمې یې زیاتره حسي وي. شاعر لوستونکی یا اورېدونکی د تخیل له لارې د ژوند په تجربو کې ورگډوي.

د استاد خادم یو نثر را اخلو چې شاعرانه تومنه لري:

**ویده ماشوم:** مازیګر لمر په غړغړه دی، د انګړ په منځ کې، د ګلانو د کیاریو په غاړه، وړوکی ماشوم په لوبو بوخت دی، په لمن کې خاورې اخلي، له یوه ځایه یې بل ته وړي او هلته یې غونډوي!!!

مور د کاله په کار اخته ده، په ډېره بیړه لګیا ده، کالي کونډۍ سنبالوي، ځکه چې ماښام دی او وخت ناوخته دی!

د کار په منځ کې یې چې پام شي، نو غږ کړي چې «زړګیه څه کوې؟ راځه ناوخته دی! هله ځار دې شم!!!»

ماشوم په خپله نیمکۍ او خوږه ژبه وایي: «ډوډو پکه کم!»

مور: «څه کوې؟!»

ماشوم: «دودۍ پکه کم!» یعنې «ډوډۍ پخوم!»

مور د کاله په کارو بوخته او ماشوم په خپلو لوبو بوخت دی!

وړې وړې مرغۍ چې په کیاریو کې یې ټوپونه وهل، خوشحاله خوشحاله او جلتې جلتې ګرځېدې، یوه یوه والوته! او ټولې خپلو بچیو او ځالو ته لاړې!

وخت تېرېږي، لمر ولوېد، له ښکیه تیاره راپورته او د ځمکې په مخ راخور شوه، د آسمان په شنه او نامحدوده فضا کې ځای په ځای ستوري راښکاره شول!

مور چې د کار د بیړې نه خلاصه شوه، د ځانه سره یې وویل: «آه! ماښام دی، تېر غونې ده، بچی مې هلته لوبې کوي! آه، زما هېر شوی دی!»

ورغله، څه ګوري، ماشوم د خاورو نه وړې وړې او پلنې پلنې ډوپکنۍ جوړې کړې دي!

خړ پړ پروت دی چې ستړی شوی دی، په خاورو کې یې سر ایښی دی او د خوب د قاصدانو لاس ته یې ځان سپارلی دی!!!

د ماښام په خړه تیاره کې مور د خپل ماشوم سرته ولاړه ده، زړه یې د یو عالم ترحم او رقت نه ډک دی، او چرت وړې ده!

«هو، د ژوندانه مثال همدا دی!

مور په خپل ژوند کې همدغسې په خاورو لوبې کوو!

په دغه لوبو اخته اوسو چې د مرګ دروند خوب په مونږ خپل چپاو راوړي او بل

عالم ته مو بوځي!!!

مګر، آه، څومره خوږې دي دا لوبې!

او څومره خوندور دی دا خوب چې په خپله خوښه او آزادۍ سره وي!!!»( ۲)

۳ **:منثور نظم یا نثري نظمونه:** په منثور نظم کې موږ دوه متضاد نومونه ګورو چې هغه نظم او نثر دی. له منثور نظم نه زموږ موخه مسجع نثر او یا هغه نثر دی چې هره کرښه یې د نظم په څېر ولیکل شي، خو وزن نه لري .د منثور نظم هغه فورم دی چې وزن نه لري، خو دلیکنې یو ترتیب لري، دلته نظم د موزون کلام په معنا نه، بلکې په منظمه توګه د نثر ټوټه ټوټه برخې لیکلو په معنا راځي. هغه نثري ټوټې چې په لیکلو کې یو ځانګړی نظم ولري او دغه نظم د یوې تسلسل لرونکې منځپانګې وي. دا هم له مقید او هم له نامقید وزنه ازاد دی.

ددغو ټوټه ټوټه برخو یوه نیمه ټوټه وزن هم لري، خو دلته تاکید پر وزن نه بلکې د نثري ټوټو په منظمه توګه داسې لیکل دي چې نظم ته پاتې کېږي، دشاعرانه جوهر په لرلو سره ورته منثور شعر هم ویلی شو .موږ په پښتو ادبیاتو کې د جوړښت له مخې د منثور یا نثري نظم دوه ډوله بېلګې لرو:

۱ **:سجع لرونکی نثري نظم:** هغه منثور نظم دی چې نثري ټوټې په کې په سجع راټولېږي او یوه مېسره له بلې بېلوي. په دې برخه کې موږ د پیرروښان مسجع نثر لومړۍ بېلګه ګڼو :

او بایزیده وکښه، په نوم د الله په نوم د سبحان

لپاره د ادمیان

چې سازېږي پرې کارونه د مردان...

۲ :هغه منثور یا نثري نظم چې نثري ټوټې په کې په یو منظم منځپانګیز تسلسل سره په داسې توګه ولیکل شي چې نظم ته ورته وي، خو وزن نه لري. یو ځانګړی اهنګ لري، دغه اهنګ د سپین نظم یا منثور نظم ټوټې سره منظموي، سپین نظم هم ورته ویل کېږي. که سپین نظم شاعرانه جوهر او ښېګڼې ولري، نو بیا سپین یا منثور شعر دی.سپین شعر یو مخیل شعر دی چې له قافیې او وزنه خالي دی او عروضي اصول نه پالي. په لومړیو کې سپین نظم یا سپین شعر هغه ته ویل کېږي چې قافیه ونه لري، خو کله چې شعر له وزن نه ازادي واخیسته، نو همدا

سپین نظم یا سپین شعر رامنځ ته شو، سپین یا منثور شعر د جوړښت لـه مخـې یـو خاص نثري اهنگ لري چې دغه اهنگ يې په جملو یا ټوټو وېشي.

بېلگه يې:

دا د فضل محمود روښان د نثري نظم یوه بېلگه ده:

((د ژوند لویه سرمایه
د ماضي عکس دی
چې د شعور په سپرلو کې
د لاشعور نه بر ځېره کېږي
د ژوند لویه سرمایه امید دی
چې همت او حوصله پېدا کوي
او د منزل په لوري د تگ کولو سبق ورکوي
ژوند یو داسې باغ دی
چې په کې ازغي ازغي دي
دا ازغي په مسلسل محنت محنت
صحت او حوصلو باندي گلونه کيږي
د خندا او مسکا رنگُ اختيار وي
اوپه ژوند کې خوند رنگ پيدا کوي
د کارل مارکس د نظریی نه بالا
کفر او اسلام په خپل خپل ځايي
د انسان د ټولو نه لویه سرمایه
د هغهْ عزت نفس او خودي ده
لېکن سپه خودي ختموي
دا به د معاشری نه لر کړو
چې عزت نفس او خودي مو په خپل ځای پاتي شي
ولې څنگه؟
بس هم دا سوال دی
چې لا تر اوسه پوری چا حل نه کړی شو))(۳)

د اسحق ننگیال څو منثور نظمونه چې د منثور یا سپین شعر جـوهر او کیفیـت لري دلته را وړو:

((څو منثور شعرونه مصطفی جهاد ته:

زموږ مړینه

-۱-

پرېوزه،
ارام ويده شه!
زموږ مړينه داسې ده
لکه زوکړه مو چې وه
او زوکړه مو
لکه مړینه مو چې ده.
↓↓↓
هغوی چې د خپلو کورونو
پر دسترخوانونو
ډوډۍ خوند نه ورته ورکوي
ژوندي وي.
پرېږده!
هغوی چې د پردیو د کاروبار
د افیونو او الکولو په چینو کې
د لغړو فواحشو
دپستو او مرمرینو غولانځو پر غرونو
یوه شېبه خوب
زموږ د ټولو په ژوند نه ورکوي
ژوندي وي.
او پرېږده!
هغوی چې ویاړ ګڼي
دخپلو ناوو پېغلتوب

له هغوی نه
په پردیو کتونو کې واخلي
ژوندي وي.
او
زه او ته
چې ژوندي وو مړه وو،
نو،
پرېوځه
ارام ویده شه!
زموږ مړینه
لکه زوکړه مو چې وه
او زوکړه مو
لکه مړینه مو چې ده.
۳۰/۵/۱۳۷۰
کابل
درد
-۲-
د پلار مړینه مې ولیده
اودورونو زړه چاودون هم
لوړې مې ډېرې وزغملې
او تندې هم
خو یوه یې دومره دردوونکې نه وه
لکه:
نشه چې نه وي پوره
او ښیښه پای ته ورسي.
۱۷/٦/۱۳۷۰
کابل)) (۴)

د ومان نیازي څو منثور نظمونه چې منثور یا سپین شعر یې هم بللی شو:

((راګ
زه باید
د خاورې متن ته
والوزم
د مینې وروستۍ
مرثیه
باید
هلته بشپړه کړم
غواړم له ځانګې تر متنه
په هوا کې
وروستی سفر مې
د مین مار
ځنګېدلې نڅا ته ورته وي
غواړم زما د روح
وروستۍ نغمه
د ویلون تر ټولو مات او ارام راګ کې تر سره شي
چې ژر یې هېره کړې)) (۵)

((سکوت
صحرا
د شعر
بشپړه متن دی
سکوت یې
غبروي
شک
اشنا
غږ او لهجه

د شک
بې منطقه
باد ووهله)) ( ٦)

## پایله

پایله دا راځي چې د نظم او شعر تر منځ برید څرګند دی. نظم یواځې چوکاټ یا فورم دی او شعر په دغه فورم کې رنګینه محتوا ده چې له فکر، تخیل، عاطفې او آهنګ څخه رغېدلې ده. مفکوره د تخیل په رنګ کې وړاندې کېږي. د نظم شکلي جوړښت او شعر ته په کتو موږ درې ډوله ویناوې لرو.

۱: منظوم شعر: هغه شعر چې د نظم په بېلابېلو چوکاټونو کې وي.

۲: منثور شعر: منثور شعر هغه شعر دی چې دنثر په چوکاټ کې شعري یا بدیعي توکي راغلي وي.

۳: منظوم نثر یا نثري نظم: . له منثور نظم نه زموږ موخه مسجع نثر او یا هغه نثر دی چې هره کرښه یې د نظم په څېر ولیکل شي، خو وزن نه لري . منثور نظم هغه فورم دی چې وزن نه لري، خو دلیکنې یو ترتیب لري، دلته نظم د موزون کلام په معنا نه، بلکې په منظمه توګه د نثر ټوټه ټوټه برخې لیکلو په معنا راځي. هغه نثري ټوټې چې په لیکلو کې یو ځانګړی نظم ولري او دغه نظم د یوې تسلسل لرونکې منځپانګې وي. دا هم له مقید او هم له نامقید وزنه ازاد دی. د سجعې په برخه کې د هرې کرښې وروستی برخه چې سجعې په کې وي، وزن مومي.

په ادبیاتو کې یو فورم چې په یوه ټاکلې ادبي دوره کې رامنځ ته کېږي، په پاللو سره په ټولنه کې دودېږي. کله ناکله د جوړښت له مخې یوه نوې بېلګه رامنځ ته شي، خو بیا نه پالل کېږي، بالاخره هېرېږي، خو ځینې وي چې د لیکوالو زړه پرې اوبه څښي، هغه په شعوري یا ناشعوري توګه پالي.

## مأخذونه

۱: طائر ځلاند، د پښتو غزل تنقیدي جاج، دانش خپرندویه ټولنه، دانش خپرندویې ټولنې تخنیکي څانګه: پېښور، ۱۳۹۱لمریز، م مخ.

۲: قیام الدین خادم، رڼه چینه، منظوم کلیات، لومړی ټوک، د لعل پاچا ازمون په زیار، د افغانستان د علومو اکاډمي د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست: کابل،

۱۳۹٦لمریز، ۴۰مخ.

۳: پروفیسور ډاکټر سلما شاهین، جدید نظم په پښتو کې، جدون پرنټنګ پرېس: پېښور، ۲۰۰۳م کال، ۴۵۳مخ.

۴: اسحق ننګیال، سیندونه هم مري، د محمد اسمعیل یون په زیار، یون کولتوري یون: کابل، ۱۳۷۹لمریز کال، ۱۵۲مخ.

۵: ومان نیاز،. د سکرو بخی، علمي خپرندویه ټولنه: ګردیز، ۱۳۹۳لمریز کال، ۱۳۰مخ.

٦: یاد اثر، ۱۴۰مخ.

خېړنوال سیدنظیم سیدي

# په اوسني پېر کې د ادبي کره کتنې وضعیت

## لنډیز

په اوسني پېر کې ادبي کره کتنه یوه تر ټولو مهمه او ارزښتمنه اړتیا ده چې په اړه یې ځینې کتابونه کښل شوي او لا کښل کېږي او دا په دې چې له امله یې ادبیات د غوړېدلو او کره کولو خوا ته ځي، خو له بده مرغه چې افغاني ادبیات او په ځانگړې توگه پښتو ادبیات لکه څنگه چې لازمه ده نه یې پرمختگ کړی او نه هم سم کره شوي دي چې زما په اند دا کار ډېر زیات لاملونه لري، خو لومړی تر ټولو ژور او بنسټیز لامل یې لومړی د کره کتنې ناسمه پېژندنه ده او دوهم ناسمه کره کتنه یا عقدوي او شخصي چلندونه دي چې له بده مرغه له امله یې نه یواځې ادبیاتو خپل ځای ځایگی نه دی موندلی، بلکې زیانمن او بې لوری کړي یې هم دي، نو وړاندې تر دې چې د ناسمې او عقدوي کره کتنې لاملونه وڅېړم او په ترڅ کې یې څرگنده کړم چې ولې پیدا کېږي او دغه کار د کومې موخې لپاره ترسره کېږي اړینه بولم چې په ادبي کره کتنې وغږېږم چې ادبي کره کتنه څه شی دی، د کومو موخو لپاره ترسره کېږي او په ټوله کې پر څو برخو وېشل کېږي؟

البته دغو او دې ته ورته پوښتنو ته به په دې څېړنه کې ځوابونه ومومو.

## سریزه

په دې کې شک نه شته چې په دې وروستیو کې په ځانگړې توگه د سپټمبر تر یوولسمې وروسته د نړۍ پر ادبیاتو سربېره د پښتو ادبیاتو په منځپانگه کې هم ژور بدلون راغلی هم د شعاري کېدلو خوا ته تللی او هم د بنسټیز کېدلو خوا ته،

یعنې که له دې برخې انکار وکړو چې شعاري شوی نه دی، نو دا به هم سمه خبره نه وي او که ووایو چې په ټوله معنا علمي او معتبر شوی، نو دا به هم بې انصافي وي، ځکه موږ گورو چې په لسگونو بې کیفیته، بې خونده او تکراري اثار هم لرو چې حتا هغه د چا خبره په یو ځل لوستلو هم نه ارزي، خو چاپ شوي او مارکېټ ته وړاندې شوې دي.

د دې لپاره چې د دغه ډول اثارو مخه نیول شوې وي، نو کره کتنې ته ډېره زیاته اړتیا لیدل کېږي. په دې مقاله کې لومړی د کره کتنې پېژندنه راغلې، ورپسې یې پر اړتیا او مبرمیت خبرې شوي او بیا یې ډولونه ښوول شوي په پای کې په پښتو ادب کې په اوسنۍ کره کتنې او د کره کتنې پر بهیر څېړنه شوې چې څنگه ده؟ ولې ده او د کومو لاملونو له مخې داسې ده، په ورته وخت کې یې د حل لارې هم وړاندیز شوي، هیله ده مقاله د دې برخې د بشپړاوي او غنامندۍ په برخه کې ممده واقع شي.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

د دې څېړنې اهمیت او مبرمیت په دې کې دی چې موږ څنگه کولای شو په افغانستان کې د بې کیفیته پنځونو مخه ونیسو، څنگه کولای شو چې په افغانستان کې د کره کتنې فرهنگ عام او معیاري کړو. دا لیکنه په دې برخه کې له لوستونکو سره مرسته کوي چې زموږ ټول ادبیات یا ټول پنځېدلي ادبي اثار بې کیفیته نه دي او نه ټول کره کتونکي له عقدو ډک دي، بلکې د گوتو په شمار کسان داسې دي چې نقدونه یې د عقدو له مخې کړي، خو د هغوی لپاره هم تجویز او توصیې شته.

## د څېړنې موخه

د دې څېړنې موخه دا ده چې په پښتو کې کره کتنه معیاري شي، د عقدوي او سلیقوي مسایلو مخه پرې ونیول شي، په پښتو ادب کې کره کتنه بنسټیزه شي او د کره کتنې معیارونه په پام کې ونیول شي.

کره کتنه یوه اړتیا ده او د ادبي اثارو د سمون لپاره باید کره کتنه وشي، خو د کره کتنې د قواعدو، اصولو او کړنلارو په رڼا کې.

ترڅنگ یې لویه موخه دا ده چې کره کتنې ته د دښمنۍ په سترگه نه، بلکې د سمون او رغون په نظر وکتل شي او د نورې نړۍ په څېر دلته هم کره کتنه یو عام

فرهنګ او د اثارو د غنا لامل وګڼل شي.

### د څېړنې پوښتنې

په دې څېړنه کې تر ډېره بريده لاندې پوښتنې پوښتل شوي:

- ✓ کره کتنه څه شی دی؟
- ✓ کره کتنه او سليقوي چلند څه توپير لري؟
- ✓ په پښتو ادب کې کره کتنه شته او که نه؟
- ✓ کره کتنه کوم ډولونه لري؟
- ✓ په اوسني پېر کې د کره کتنې وضعيت څنګه دی او څنګه بايد وي؟
- ✓ څنګه کولای شو کره کتنه بنسټيزه کړو؟
- ✓ د کره کتنې او شخصي عقدو ترمنځ توپيرونه کوم دي؟

او دې ته ورته ځينې کوچنۍ پوښتنې شته چې ټوله مقاله د همدغو پوښتنو د ځوابونو پر محور چورلي.

### د څېړنې ميتود

په دې مقاله کې تر ډېره هڅه شوې چې له تشريحي، توضيحي، تحليلي او د اړتيا په صورت کې له انتقادي ميتوده کار واخيستل شي.

### ادبي کره کتنه

کره کتنه (criticism) په لغت کې درهم له ديناره، سره له ناسره نه او ښه له بد نه جلا کولو، بېلولو او توپيرولو ته وايي او په ادبي اصطلاح کې د يو ادبي اثر د عيبونو او ښېګڼې معلومولو او همدارنګه د يو ادبي اثر تحليل، شننې او د ارزيابۍ هنر ته وايي چې د علم او ادب په رڼا کې ترسره کېږي. (۱)

خو ډاکټر عبدالخالق رشيد بيا د نوو غوښتنو په رڼا کې وايي: "کره کتنه د اوسني بشريت له معنوي او روحي ژوند يا په بله مانا ادبي ذوق سره تړاو لري او د هغو د تخليقي آثارو د ارزښت او اهميت ټاکلو په برخه کې څېړنې کوي..." (۲)

خو دا چې دا ارزښت او اهميت تر کومې کچې دی په اړه يې لږ نور هم ژور ځي او وايي: "په معاصر ادبي بهير کې کره کتنه هغه لارښود او روزنکی علم او ميتود دی چې د هغې په مرسته د يوه هېواد ملي ادبيات د ودې لورې نيسي او په خپل خلاق طبيعت سره يې لارښوونه کوي." (۳)

ادبپوهان وايي دغه کلمه له اره د يوناني krinein له کلمې څخه اخيستل شوې چې معنا يې سنجونه يا سنجش دی او پر همدې اساس بېلابېلو فرهنگونو هم د ادبي کره کتنې بېلابېلې معناوې را اخيستې چې د الفاظو له پلوه جلا، خو د منځپانگې له پلوه سره ورته دي، يعنې ادبي کره کتنه يې د خبرې سنجونې يا د خبرې پېژندنې په معنا را اخيستې ده او وايي: "ادبي کره کتنه يا د خبرې سنجونه او يا هم د خبرې پېژندنه هغه فن دی چې د يو ادبي اثر د کمي او کيفي اړخونو د سنجونې او ستاينې او همدغه راز د پرتلنې، تفيسر، شننې، ارزونې او داورۍ او يا هم د ادبي اثارو په اړه د داورۍ لپاره د معيارونو معلومولو ته وايي." (۴)

يعنې يو اثر هم له کمي پلوه او هم له کيفي پلوه تر ارزونې لاندې نيول کېږي او بيا يې سره کول او نا سره کول جوتېږي چې دغه سره کول او ناسره کول به د شخصي او عقدوي مسايلو له مخې نه وي.

همدا راز په پښتو- پښتو تشريحي قاموس کې لولو: "کره کتنه پښتو کلمه ده، لغوي معنا يې نقد، انتقاد، کرټسيزم، رښتينې قضاوت، ادبي نقد يا د انتقاد فن.... او د ادبي کره کتنې معنا:

وينا پېژندنه، د خبرو سنجونه، د ادبي آثارو د ارزښت او قيمت پېژندنې او د هغو له شرحې او تفيسر څخه عبارت دی، په داسې توگه چې د هغو آثارو ښه او بده منشاء وپېژندل شي."(۵)

په پورته پېژندونو کې گورو چې کره کتنه کره کولو ته وايي يا سره له ناسره نه بېلولو ته وايي، خو په دې شرط چې شخصي عقدې او مسايل په کې مطرح نه وي، خو عبدالحسين زرين کوب چې د معاصرو ادبياتو په نبض پوه ليکوال دی هغه بيا لږ نور هم پراخه ديد لري او د کره کتنې په اړه وايي: "ادبي کره کتنه د هغو ادبي آثارو بهاء او ارزښت دی چې له شرحې او تفسير څخه يې بايد ښېگڼې او بدگڼې معلومې شي او دا جوته کړي چې د دغو آثارو منشاء څه ده؟"(٦)

زرين کوب څو ښو او برجسته ټکو ته نغوته کوي، لومړی دا چې د اثر پر ارزښت او بهاء باندې خبرې کوي او دوهم له شرحې او تفسير څخه يې ښېگڼې او بدگڼې په ادبي چوکاټونو او آرونو کې معلومول چې له امله يې د اثارو منشاء هم معلومېږي، د آثارو له منشاء څخه موخه د اثر بنسټيزه موخه ده او ليکوال له وړاندې له ځان

سره محاسبه کوي چې زما دغه اثر د ټولنې لپاره کومې ګټې لري او کوم زيانونه. له بده مرغه زموږ په اوسني پېر کې ځينې داسې اثار هم چاپېږي چې نه يواځې په اخيستلو نه ارزي، بلکې که ځوک يې وړيا درکړي په لوستلو هم نه ارزي، خو د ادب نور چوکاټونه بيا دغه خبره په زغرده نه شي ويلی، نو ځکه ادبي کره کتنه دغه مسئله هم په علمي توګه او هم په مسلکي توګه بيانوي. البته کله چې د مسلکي توب خبره را منځ ته شوه، نو بيا د شخصي عقدو مسئله يا خبره په خپله نفي کېږي.

که تر زرين کوب ور تېر شو ځينو نورو پوهانو هم په دې اړه څرګندونې کړي چې په لنډيز سره به ورته ځير شو:

"کره کتنه د هنرونو په باره کې يوه مستدلله او سيستماتيکه مباحثه ده چې د هغو تخنيکونه او محصولونه توضيح او ارزيابي کوي. په دې ترتيب کره کتنه له استيتيکو کتنو (ښکلا پېژندنو)، عکس العملونو او کره کولو سره توپير لري". (۷)

" ادبي نقد هغه پوهنه ده چې ادبي آثار د هنري او ښکلا پېژندنې د پديدو په توګه مطالعه کوي، د پوهنې په دې څانګه کې د پام وړ يا موجود اثر له نورو ادبي آثارو سره له اړيکو لرلو پرته په يواځې يا ځانګړې توګه ارزيابي کېږي." (۸)

د "مولف چيست" مشهورې مقالې ليکوال مېشل فوکو په خپله مقاله کې د ادبي کره کتنې په اړه کاږي: "د کره کتنې کار له مولف سره د اثر د مناسباتو څرګندول نه دي او نه هم په دې لټه کې وي چې د فکر او يا متونو له لارې تجربه وکړي، بلکې غواړي د اثر جوړښت، فورم، ذاتي بڼه او منځپانګه يې تحليل او تجزيه کړي، نو ځکه په دې صورت کې دا پوښتنه پيدا کېږي چې اثر نو څه شی دی؟" (۹)

که تعريفونو ته په دقيقه توګه ځير شو، په ټوله کې د کره کتنې په اړه يو داسې تعريف يا پېژند نه لرو چې ټولو ته د منلو وړ وي او دا خبره ځکه د تامل وړ نه ده چې نن سبا ټوله نړۍ په بدلون کې ده او هر څه د بدلون په حال کې دي، نو ځکه دغه ډول بدلونونه هم د نوو غوښتنو او نوو خبرو لپاره وضع کېږي.

نو که د پېژندونو بحث را ټول کړو او په اړه يې ساده پېژند وړاندې کړو بې له شکه به وايو چې ادبي نقد ته چې په پښتو کې ادبي کره کتنه وايي لغوي معنا يې محاکمه کول او کره کول دي او فاعل يا نقاد او کره کتونکی بيا هغه څوک دی چې

د نقد ښېګڼې او نیمګړتیاوې لوستونکو ته وړاندې کوي او په ټوله کې د اثر پر منځپانګې منصفانه او ژوره رڼا اچوي.

په پخوا زمانو کې ټینګار په دې و چې ادبي کره کتنه باید د یو اثر نیمګړتیاوې او ستونزې پیدا او په ډاګه کړي او هغه تر نیوکې لاندې ونیسي. خو نن سبا هڅه کېږي چې د اثر ښه او غوره ټکي په ګوته شي او لوستونکي دې ټکي ته ځیر کړي چې اثر ولې او د کومو لاملونو له مخې ښه او غوره اثر ګڼل کېږي، نو همدا لامل دی چې نیوکې هم د ښېګڼو تر سیورې لاندې راځي او دا په دې منظور چې په اثر کې ښه ټکي په ګوته شي، نو د پاتې نورو په اړه یې خپله لوستونکي قضاوت کولای شي، چې دا خبره د کره کتنې د اصولو سره په ټوله معنا په ټکر کې ده.

تر کومه بریده چې ماته معلومه ده هوف هغه لیکوال دی چې د کره کتنې په اړه یې ډېرې علمي او دقیقې څرګندونې کړي چې په ټوله کې یې دغه څرګندونې په درې پړاوونو وېشل کېږي:

**۱- دودیز یا سنتي پړاو:** په دودیز پړاو کې د کره کتنې ډېره پاملرنه د شعر او یا نثر ظاهري اړخ ته وي، یعنې په ټوله کې شعر دوې معناوې لري چې یوه یې حقیقي او بله یې مجازي معنا ده، د ساري په ډول د پیر محمد کاروان په دغه بیتونو کې ګورو:

چې ورته خولې شوې د اصیلو مرغلرو اوبه
خپلو خبرو ته دې ورکړې د سندرو اوبه
ستا د تصویر تنکیو ښو ته شیشې مه شه لشې
په کانو چېرې ماتې مه شه د جوهرو اوبه

که چېرې د لومړي بیت ظاهري معنا ته ځیر شو، نو له ستونزې سره مخامخېږو، په دې معنا مرغلرې څنګه اوبه کوي او بیا یې خوله له کومه کړه، خو که حقیقي معنا ته یې ځیر شو، نو بیا هغه قوت او غښتلتیا په کې نغښتې چې په رښتینې معنا د ډېرو اصیلو، لیکوالو او شاعرانو خولو د کاروان الفاظو او یا شعرونو ته اوبه پریښې او ورته ګوته په غاښ دي، نو په دغه پړاو کې ډېر ځله دودیز تعریفونه او دودیز سېمبولونه مطرح کېږي، لکه پخوا به چې اوبه، خاوره، دیوان، ګل، بوستان، بلبل، ګونګټ او دې ته ورته الفاظ یا سېمبولونه په شعرونو کې کارېدل او خبره به له

هره پلوه پر همدغو مسایلو بانـدې را چورلېدلـه، خـو کـه د اوسـنیو د گوتـو پـه شـمار شاعرانو د شعرونو باطني معنا ته سرې ځیر شي، نو بیا مه کوه پوښتنه.

**۲- سېمبولیک پړاو:** په دغه پړاو کې ناقد یا کره کتـونکی ډېـر ځلـه د موضـوع منځپانگې ته ځیر کېږي او هڅه کوي پـه موضـوع (نـثر او شـعر) کـې د کـارول شـوو سېمبولونو په معنا ځان پوه کړي، چې څه وایي او څنگه یې وایـي، د سـاري پـه ډول مورږ د حمزه بابا دا کلام لولو چې وایي:

پرېـړده چـې لوظونـه د دروغـو دي رښـتیا کـړم
تـه راتـه سـبا سـبا کـوه زه بـه بېگـا کـړم
تـوان لرمـه دا چـې د مـاضي نـه خـراج واخلـم
زه بـه پخـوانی شـمه سـتا مینـه بـه پخـلا کـړم

اوس که د دغه شعر معنا ته ځیر شو، نو ښـایي دواړه معنـاوې یـې درتـه پـه مـخ کې کېښودل شي، خو دا چې د دغې برخې یا پړاو کره کتنې سرو کار له سـېمبولونو او حقیقي معنا سره دی، نو مجبور یو چـې د معنـا، معنـا تـه یـې ورشـو او هغـه بیـا د یوسف (ع) او زلیخا هغه خوندوره او له مینې ډکـه کیسـه ده چـې لـوی الله پـه خپـل قدرت سره د مشـرکینو یا معبودینو پر وړاندې یوسف علیه السلام ته بریا ورکـړه او زړه زلیخا یې د ځوانۍ په ولولو او جوش راوسته، چې پوره کیسه یې پـه قـرآن کـریم کـې ذکر شوې ده او د دې ترڅنگ په دې او دې ته ورته شعرونو کې گورو چې حمزه بابـا د لوظونه، دروغ، رښتیا، ماضي، خراج، مینه او دې ته ورته سېمبولونه کـاروي چـې د ادبي ترڅنگ یې تصوفي معناوې یې هم ژورې دي، نو دغـه ډول کـره کتنـې یـا پـړاو کې کره کتونکی په دغسې سېمبولونو ټینکار کوي او معنا یې را سپړي.

**۳- د مډرن یا نوې کره کتنې پړاو:** لکه څنگـه چـې پـه پـورتني پـړاو کـې هـم نغوته وشوه چې منځپانگې یا سېمبولونو ته ډېره توجه کېږي، پـه دغـه پـړاو کـې هـم همدا مسئله ده چې لومړی منځپانگه په ډاگه کېږي او بیا یې اصلي جوهر را برسېره کوي، ځکه که ته د یوې موضوع یا شعر جوهر ته ځیـر نـه شـې، نـو تـه بـه پـه عـادي الفـاظو څـه پـوه شـې او څـه خونـد بـه تـرې واخلـې. د سـاري پـه ډول د څېړنـوال عبدالغفور لېوال د یو شعر په دغو بېتونو کې لولو:

دا ستا په خندا گانو کې مینځلې دي سندرې
دا دومره چې رڼې او شرنګېدلې دي سندرې
چې باد ته ستا د زلفو رشتې پورته په نڅا شوې
په ما هغه شپه را وریېدلې دي سندرې

په خندا ګانو کې د سندرو مینځل، رڼې او شرنګېدلې سندرې، د زلفو رشتې نڅا ته پورته کېدل، د سندرو راورېدل هغه الفاظ دي چې د کلام جوهر په ډاګه کوي او د شعر پر مجازي معنا سربېره د شعر حقیقي معنا هم رابرسېره کوي، نو دغه ډول کره کتنه یا د کره کتنې پړاو په ټوله معنا د شعر او نثر جوهر را په ډاګه کوي او مورږ په دې پوهوي چې کره کتنه باید څنګه وشي او کوم شرایط په کې په پام کې ونیول شي.

نو د کره کتنې پړاوونو او بېلابېلو تعریفونو ته په کتنې سره ویلای شو، چې کره کتنه خورا ډېرې ځانګړنې لري چې له دغو ځانګړنو څخه به یې ځینو ته په لاندې توګه نغوته وکړو:

- ✓ د یو اثر د ښېګڼو او نیمګړتیاوو معلومول.
- ✓ له ښېګڼو او نیمګړتیاوو پرته د یو اثر تحلیل او ارزونه.
- ✓ د یو اثر په اړه حکم او داوري کول.
- ✓ د یو اثر د ارزښت معلومول.
- ✓ د یو اثر د منځپانګې او جوړښت تشریح کول.
- ✓ د یو اثر د فکر او غرض په اغېزمنه توګه جوتول.
- ✓ په یو اثر کې لیکوال د کومو څرګندونو هڅه کړې؟
- ✓ آیا خپلې موخې یې زبات کړي؟
- ✓ د لیکوال هڅې په دې ارزي چې وڅېړل شي؟
- ✓ په کره کتنه کې انصاف شوی او که نه.

او په دې توګه په لسګونو نورې ځانګړنې شته چې له امله یې یو اثر کره او سره کېدلای شي؛ نو که خبره را ټوله کړو موضوع ته په کتلو سره د دې وخت را رسېدلی چې د ادبي کره کتنې پر موخو وغږېږو چې کومې دي او باید کوم مسایل راونغاړي؟

## د ادبي کره کتنې موخې

زموږ ډېر ليکوال په دې اند دي چې ادبي کره کتنه يوه ځانګړې موخه تعقيبوي او د هماغې موخې لپاره ټول کتاب لټ په لټ کوي، په داسې حال کې چې ادبپوهان له دې خبرې سره همغږي نه دي او په کلکه يې ردوي، ځکه لکه څنګه چې په تعريفونو کې هم وويل شول د ادبي کره کتنې کار سره له نا سره څخه معلومول دي او دغه ناسره په ټول اثر کې په بېلابېلو موضوعاتو کې لټون غواړي، يعنې ادبي کره کتنه بېلابېلې موخې تعقيبوي او هر ليکوال د ځان لپاره آرونه او موخې لري چې د يو اثر په کره کتنه کې يې تعقيبوي، خو د دې خبرې معنا دا نه ده چې ګواکې ليکوال شخصي موخې لټوي، بلکې د کره کتنې د آرونو په رڼا کې د خپلو موخو په لټه کې وي.

ادبپوهان وايي چې په ټوله کې د کره کتنې برجسته موخې په لاندې توګه دي:

- ✓ د يو اثر د ښېګڼو او نيمګړتياوو په ګوته کول.
- ✓ د اثر په اړه داوري او قضاوت کول.
- ✓ د يو اثر تجزيه او تحليل.
- ✓ په کره کتنيز ډول د اثر لوستل.
- ✓ د اثر سنجونه او پرتلنه.
- ✓ د اثر د ښکلاوو پېژندنه.
- ✓ د اثر په معنا او د معنا په معنا ځان پوهول.
- ✓ د هنري ظرافتونو معلومول.
- ✓ د اثر د بڼې او جوړښت په چوکاټونو ځان پوهول.
- ✓ د هغو صنايعو او بدايعو په ډاګه کول چې په اثر کې نغښتي، خو څوک ورته په ساده ګۍ نه ځير کېږي.
- ✓ د هغو آرونو او چلندونو په ډاګه کول چې اثر ته يې ښکلا او ظرافت ورکړی.
- ✓ د اثر ستاينه. (۱۰)
- ✓ د يو اثر په لوستلو کې د درک او پوهېدنې قوه پياوړې کړي.
- ✓ له ليکوال سره مرسته کوي چې د بيا لپاره د اثر د نورو ښېګڼو ترڅنګ

ښکلا اوظرافت ته هم پاملرنه وکړي.

او دې ته ورته نورې موخې، خو که پورته موخو ته ځیر شو، نو ښايي ډېرې موخې یې سره ورته او یا نږدې وي چې پر دې اساس په یوه ډلبندۍ کې یې شمېرلی شو، خو تر ټولو مهمه خبره دا ده چې دغو ټولو موخو ته رسېدنه ښايي ستونزمنه هم وي، ځکه موږ په دې پوهېږو چې یو لیکوال په یو وخت کې د یو اثر کره له ناکره جلا کول او بیا یې پرتله کول نه شي کولای او نه یې له وسې پوره کار دی، ځکه که چېرې لیکوال په یو اثر پسې داسې ذره بیني سترګې په سترګو کړي، نو له نور ژونده به پاتې وي او ترڅنګ یې د شخصي- عقدو ټاپه هم پرې وهل کېدلای شي، نو ځکه وایو چې په موخو کې یې دا خبرې ټولې شاملې دي، خو دا چې کره کتونکی یې کومې په څه ډول تعقیبولی شي هغه د هر ناقد شخصي- کار دی، خو د آرونو مراعتول بیا شرط او اړینه خبره ده او همدا لامل دی چې ادبپوهان په دې ټینګار کوي چې ښه، دقیق او پیاوړی کره کتونکی تل د یو ادبي اثر تشریح، توضیح او تفسیر د خپل عالي ذوق او شعور په مرسته په ډېر دقت سره کوي او هڅه کوي چې شخصي مسایل ټول یوې خوا ته پرېږدي او چې کله دا مسایل مطرح شول، بې له شکه کره کتنه یو ستونزمن او له ربړو څخه ډک کار ګڼلای شو؛ نو که خبره لنډه کړو د کره کتونکي دنده دا ده چې لومړی د اثر روح ته ننوځي ځان پرې پوه کړي او بیا یې ښېګڼې او نیمګړتیاوې په ګوته کړي، البته ځینې ادبپوهان ښېګڼې او بدګڼې یادوي، خو زما په نظر که چېرې زموږ عقیدوي مسایلو او تقدس ته په کې سپکاوی نه وي شوی، نو هېڅ اثر بدګڼې نه لري، نیمګړتیاوې به وي، خو بدګڼې نه لري، ځکه بدګڼې څوک نه لیکي.

کره کتونکی به د ادیب پر افکارو او تجربو باندې غور کوي، هغه به له ځانه سره تحلیلوي د اثر سمه جاجونه به کوي، ښکلاییز او ظریف اړخ به یې جوتوي، ګونګ او پټ اړخونه به یې واضح کوي او بالاخره پر بېلابېلو اړخونو او خپل منځي اړیکو او تړاوونو باندې به یې بحث کوي او تر هغې وروسته به یې نیمګړتیاوو ته هم لوستونکي ځیر کوي، نو په دې صورت کې به هم لوستونکي ته او هم د کتاب لیکوال ته تجربه شي، چې په ګانده کې به یې له تکرار څخه ډډه کوي.

## د کره کتنې ډولونه

د کره کتنې د ډولونو په اړه ټول ادبپوهان پـه یـوه خوله نـه دي، ځینـې یـې د بېلابېلو ادبي مکتبونو له مخـې ډلبنـدي کـوي او ځینـې نـور یـې بیـا د میتودونـو لـه مخې وېش سم بولي، په داسـې حـال کـې چـې دغـه ډول وېشـنې نـه یـواځې دغـه صنف یا جوړښت ته زیـان رسـوي، بلکـې خپلـه ادبي کـره کتنـه تـر پوښـتنې لانـدې راولي، څکه هغه پدیده یا ادبي ډول چې تر اوسه یې خپل داخلي جوړښتونه سـم نـه وي او د انواعو په اړه یې د نظریاتو اختلاف موجود وي، نو هغه به د نورو لیکوالـو اثـار څه کره کړای شي او ناکره به ترې بېـل کـړي او کـه چېـرې دا کـار کـوي هـم د کـوم معیار له مخې؟

نو د دې لپاره چې دغه پوښتنه ځواب شوې وي او لـه داخلـي کشـمکش څخـه دغه صنف ژغورل شوی وي، په ټولـه کـې ادبي کـره کتنـه پـر دوو لویـو برخـو بانـدې وېشل کېږي: لومړی نظري کره کتنه، دوهم عملي کره کتنه.

۱- نظري کره کتنه: نظري کره کتنه هغه کره کتنه ده چې د ادبیـاتو ارزښـت او اهمیت ته پاملرنه کوي یا په بله وینا نظري کره کتنه هغې کره کتنې ته وایـي چـې د ادبي اصطلاحګانو، تعریفونو او مقولاتو منظمه او منسـجمه ډلبنـدي کـوي او لـه دې لارې د ادب کره والی لـه نـاکره والي څخـه جـلا کـوي یـا داسـې محاکـات او قواعـد مطرح کوي چې په وسیله یې ښه لیکوال او ښـه لیکنـه لـه بېکـاره لیکـوال او لیکنـې څخه جلا کوي.

خو ځینې لیکوال بیا په دې نظر دي چې نظري نقد هغه نقد ته وایـي چـې پـه هغې کې یواځې ادبي مسایل، د بیان او فنونـو مسـایل تـر کـره کتنـې لانـدې نیـول کېږي او د اثر لپاره یواځې تیوري جوړوي، یعنې په خپله اثر تر نقد لاندې نه نیسي-، خو که چېرې له درنو لیکوالو یا پوهانو سره همدا خبره ومنـو، نـو بیـا نظـري نقـد څـه معنا لري، څکه مونږ په لومړیو کې یادونه وکړه چې د کره کتنـې لپـاره تـر ټولـو مهمـه خبره د اصولو او قواعدو وضع کول نـه دي، بلکـې هغـه پـه عملـي او بـې پـرې توګـه تطبیقول دي چې د هغې په وسیله د اثر کره کول له نا کره کولو څخه جلا کېږي.

پوهان وایي چې د ای، اې، ریچارډز د ادبي کره کتنې اصـول یـا ( Principles of Literary Criticism) اثر چې په ۱۹۲۴ زېږدیـز کـال کـې کښـل شـوی او د نـور

ټروپ فـرای د ادبي نقـد تشریـح یـا (Anatomy of Criticism) اثـر چـې پـه ۱۹۵۷ زېږدیز کال کې کښل شوی د نظري کره کتنې تر ټولو ښــې او غـوره نړیـوالې بېلگــې دي.

خو د پښتونخوا مشهور ناقد بیا د نظري کره کتنې په اړه یو بل اړخ ته هم نغوته کوي او وايي: "په نظري کره کتنه کې د فن بنیادي څیزونو باندې بحث کېـږي، لکـه ادب څه دی؟

مقصد څه دی؟

د دوی ضرورت څه دی؟

ښکلا، تخیل او حقیقت څه دی؟ "(۱۱)

د ښاغلي سحر په څېړنه کې گورو چې د ادب نورو اړخونو ته هـم ور داخلېـږي او په دې توگه خپله خبره لږه نوره هم غځوي: "په عملي نقد کې په همدغـه رغکـړی شوي [رغول شوي] اصولو په رڼا کـې تنقیـد کېـږي، د ټولـو نـه ضروري او اهـم څیـز دغه بنیادي خبرې، یعنې نظریې دي، پـه کـوم چـې د اثـر خـالق او جـاج لگـوونکی ایمان لري او ځکه دغو خبرو ته ترڅه حده پورې ساینټیفیک ویلی شو.

دغه فنـي اصول نه د فنکار په مخ کې وي او هغه د دې په رڼا کې تخلیق کـوي او خپل غیر مادي خیال زموږ په مخ کې د ټکیو په څېر ږدي او بیا جـاج لگـوونکی د فن، د هغه د ژوند د گیرچاپیرو حالاتو په رڼا کې دغه څیر وگـوري، پـه نظـري تنقیـد کې وخت او زمانه بدلون راولي، د اصنافو کالبوتونه دومره غټ کړی شي چـې فنکـار په کې خپل خیالات په اسانه بیانوی شي." (۱۲)

نو گورو چې ښاغلی لیکوال پـه دې ډول کـره کتنـه کـې د کـره کتنـې چوکـاټ لوی گڼي او هغه د خوشحال بابا خبره:

څو دې توان رسي په لوی دریاب کې گرځه
په ویــــاله کــــــې دې زوال ویــــنم نهنگه

د لیکوال په وینا که هرڅومره د دې ډول کره کتنې چوکاټ پراخېږي په هماغه اندازه زموږ لپاره د یـو اثـر د تللـو چـاره اسـانېږي، ځکـه میـدان لـوی او سـترگی څـو اړخیزې وي.

که موږ همدغه بحث ته په دقیقه توگه ځیر شو، وینو چې په رښتیا هم د نظـري

کره کتنې میدان ستر دی، نه یوائې دا بلکې تر دې هم ستر دی، ځکه موږ د یو بل ناقد لیکوال په نظر کې گورو چې وایي: "نظري نقد یو لړ اصول او روشونه چاپیروي، چې د همدغو روشونو په مرسته په نظري نقد کې له ادب او هنر سره د مربوطو مسایلو او مباحثو ارزیابي کېږي او جاج یې اخیستل کېږي او د ادبي مېچونو او چوڼلو له لارې د تخلیقي آثارو د معیارونو تجزیه او تحلیل کېږي.

ادب څه شی دی؟ کره کتنه څه ارزښت لري؟ د کره کتنې له تخلیق سره څه ارتباط دی؟ نقاد څه مقام لري؟ او د بېلابېلو ژانرونو د فني ښېگڼو او بدگڼو د ټاکلو لپاره د لارښودي اصولو تشکیل او تحلیل، د دغو او داسې نورو پوښتنو لپاره د جوابونو پیدا کول، د نظري نقد کار دی.

یوائې دا نه بلکې د لوړو ټولو پوښتنو پر ټولو جوابونو نقد هم په نظري نقد کې شاملېږي یا په بله ژبه نظري کره کتنه د کره کتنې کره کتنه ده."(۱۳)

اوس دلته گورو چې د ادب ترڅنگ له هنر سره هم سروکار لري، خو دا چې زموږ یې له هنري څېل سره کار نه شته، نو یوائې د ادب پر ځانگړنو بحث کوو.

که خبره را لنډه کړو نظري نقد یا کره کتنه هغې کره کتنې ته وایي چې د یو لړ اصولو، قواعدو او روشونو په رڼا کې ادبي اثار تر تحلیل او تجزیې لاندې نیسي- او په وسیله یې عملي نقد ته لار پرانیستل کېږي یا په بله وینا نظري کره کتنه د وضع شوو اصولو یا د یوې بلې ذریعې له لارې د ادبي تخلیقي اثارو ښېگڼې، غوره والی، بېلوالی او بدگڼې ښیي او په دې توگه عملي کره کتنې ته لار پرانیزي.

**۲- عملي یا تجربي کره کتنه:** عملي کره کتنه هغې کره کتنې ته وایي چې پر یو مشخص لیکوال او یوې مشخصې موضوع باندې کره کتنه کوي. د ادبپوهانو په وینا په دغه ډول کره کتنه کې ډېر ځله کره کتونکی د خپلو ټاکل شوو معیارونو پر اساس یو اثر تر کره کتنې او ارزونې لاندې نیسي او په هغې کې ادبي ډول مشخص کوي، د اثر جوړښت ټاکي او بالاخره د اثر منځپانگه او بڼه یې تر سپړنې او تحلیل لاندې نیسي. (۱۴)

البته له خپلو ټاکل شوو معیارونو څخه موخه دا نه ده چې د شخصي- ملاحظو له مخې به کره کتونکی د لیکوال په خېټه چاړه منډي، بلکې موخه دا ده چې لیکوال به د کره کتنې له ټاکل شوو روشونو څخه یو یې غوره کوي او بیا به د اثر کره

او نا کره برخې سره جلا کوي، خو داسې چې وړاندېزې برخې هم ولري، یعنې د نظري کره کتنې عمده دنده دا وه چې د یو اثر ادبي والي او نا ادبي والی مشخص کړي، د ادبیاتو ارزښت او اهمیت په ګوته کړي، خو عملي کره کتنه بیا د همدغه ادبي او تخلیقي اثر ښېګڼې او بدګڼې د وضع شوو اصولو او آرونو له مخې کوي، البته په دې خبره شوې وه چې دغه آرونه دومره چوکاټي هم نه دي چې په ټولو ادبي اثارو کې د کاڼي کرښه وي، خو لږ تر لږه به کره کتونکي ته پرانیستونکې لار وي.

ځینې نور پوهان بیا په دې نظر دي چې ادبي کره کتنه د یو ځانګړي تخلیقي اثر بشپړه معرفي او ارزونه ده، یعنې پر یو اثر د پرېکړې کولو لپاره د هغه اثر له قواعدو او فنونو څخه علمي استفاده کولو ته تجربي کره کتنه وایي. د دوی په وینا په عملي کره کتنه کې باید د نظري کره کتنې له اصولو څخه چې هغه په طبیعي لحاظ پر شننې، تحلیل، ارزښت او د څارنې او حاکمیت پر کره کتنې ولاړ دي په ضمني توګه ګټنه وکړو.

که په ساده الفاظو یې ووایم په عملي کره کتنه کې په کار ده چې د نظري کره کتنې له ښېګڼو څخه استفاده وشي نه دا چې د نقل قول په بڼه یاده کره کتنه تر اغېزې لاندې راولي.

د ساري په ډول موږ په نظري کره کتنه کې ولوستل چې هغه شعر یا دغه کیسه تر کومې کچې ښه ده او د کومو لاملونو له مخې ښه ده، خو په عملي کره کتنې کې پر دې بحث کوو چې ایا فلانی متن "که شعر وي یا هم نثر" تر کومې کچې سم، مطمین او له ټولو اندېښنو څخه لرې دی، ځکه که چېرې موږ د متن اصالت او سموالی زبات نه کړای شو، نو بیا د کره کتنې معنا څه ده او د کومې موخې لپاره کره کتنه کېږي.

په نړیوالو عملي کره کتنو کې موږ کولای شو چې د ډاکټر جانسون او ډرایډن علمي مقالې او د کالریج د ادبي ژباړو یا "Biographia Literaria " اثر ځینې برخې چې د وردز ورث په اړه یې کښلي دي د ژوندیو بېلګو په توګه په نظر کې ونیسو.(۱۵)

که د عملي نقد له بحثه تېر شو، نو ادبپوهان په دې نظر دي چې نقد یا کره

کتنه یواځې پر همدې دوو ډولونو باندې منحصره نه ده، بلکې ځینې نور ډولونـه هـم لري چې په لاندې توګه ورته نغوته کېږي:

۱- نظري کره کتنه، ۲- توضیحي کره کتنه، ۳- قانون جـوړوونکې کـره کتنـه یـا نقد.

د قـانون جـوړوونکي نقـد پـه اړه وایـي چـې دا ډول قـانون تـر ډېـره د اثـر پـر منځپانګیز جوړښت، کره والي او ناکره والي سربېره د اثر پر حقوقي مسـایلو هـم نقـد کوي او دا کار په یوې بڼې نه یوې بڼې لـه ادبي سرقـت یـا ادبي غـلا سره هـم اړیکـه لري، په دې معنا موږ ډېر ځله ګورو چې پر یو اثر او یا مقالې د یو لیکوال نـوم لیکـل شوې وي، خو چې کله یې هم منځپانګې ته ځیرنه وشي، نو اثـر تـر نیمایـي زیـات د بل چا وي او لږ تر لږه یوه حواله هم نه وي ورکړل شوې، نو دغـه ډول نقـد تـه قـانون جوړوونکی نقد وایي. (۱٦)

خو ځینې نور ادبپوهان بیا نقد تر دغو ډولونو هم پراخ بولي او پـه دې نظـر دي چې نورې برخې هم لري، لکه:

۱- محاکاتي کره کتنه: هغې کره کتنې ته وایي چې یو ادبي اثر تـه د یـو خلـق شوي انسان یا ژونـدي، حقیقـي او واقعـي موجـود پـه سـترګه کتـل کېـږي او داسـې انګېرل کېږي چې په یاد کتاب کې هر څه حقیقي او ربښتینې دي. د دغـه ډول کـره کتنې نقد پر ربښتینوالي بانـدې ولاړ دی او پوهـان وایـي چـې د دې ډول کـره کتنـې بنسټ د افلاطون او ارسطو اثارو ته رسېږي یا د هغوی په اثـارو کـې د دغـه ډول کـره کتنې بېلګې لیدل کېږی.

۲- د عمل کولو یا عمل پالنې کره کتنه: هغه ډول کره کتنې تـه وایـي چـې پـه هغې کې پر لوستونکي د اثر اغېزه او موخې ته یې د رسېدلو یا بریالي کېدلو مسایل څېړي، په دې معنا په دې ډول نقد کې دا مسایل څېـړل کېـږي، چـې د ادبي اثـر د بریالیتوب او اغېزې جـرړه پـه څـه کـې ده او څنګـه کـولای شـو یـو داسـې ادبي اثـر وپنځوو چې پر لوستونکي اغېزه وکړي او مینه وال له ځان سره وساتلای شي.

د پوهانو په وینا دا ډول کره کتنه د رومیانو له مهالـه واخلـه تـر اتلسـمې پېـړۍ پورې په ادبي ټولنو کې واکمنه وه او تر هغې وروسته یې رنګ ورو ورو پیکه شو او نـن یې ښایي بېلګې پیدا هم نه کړای شو. د دوی په وینـا د دغـه ډول ادبي کـره کتنـې

نومیالی ځېرې ډاکټر جانسون او سرفلیپ سیډني دي. (۱۷)

۳- تبییني کره کتنه: په دې ډول کره کتنه کې اثر له لیکوالو سره په اړیکه کې نقد کوي، په دې معنا گوري چې لیکوال له خپل اثر سره څومره مینه کړې او څومره يې عاطفي برخورد، ځکه په افغانستان کې کره کتنه د دښمنۍ په معنا ده، خو په نورې نړۍ کې چې په یو اثر باندې کره کتنه ونه شي، نو لیکوال يې دومره خفه او نیولې وي چې مه کوه پوښتنه، ځکه له لیکوال سره دا اندېښنه وي چې زما په دې کتاب کې دومره څه هم نه و چې لږ تر لږه یو چا پرې یو څو کرښې کاږلې وای.

پوهان وايي د دې کره کتنې مشهورې څېرې د رومانتیک ښوونځي پلویان دي.

۴- عیني کره کتنه: دا ډول کره کتنه هغې کره کتنې ته وايي چې په کې اثر په خپلواکه توگه د لیکوال له نامه، موقف او دریځ څخه پرته په واقعي توگه تر کره کتنې لاندې نیسي. په دې ډول اثر کې ډېر ځله د اثر پېچلتیاوو، انسجام، توازن، رښتینوالې او په خپلو منځونو کې يې له یو بل سره اړیکو او همغږیو ته کتنه کېږي. د ادبپوهانو په وینا برونتیر يې بنسټگر دی او د ۱۹۲۰ لسیزې کره کتونکي، د شیکاگو مکتب او د نوي نقد پلویان يې مشهورې څېرې دي. (۱۸)

البته ځینې پوهان پر دې ډولونو سربېره په کره کتنه کې ځینې نور ډولونه هم اړین بولي او په دې نظر دي چې کره کتنه تر دې دایرې پراخه ده او لاندې نور ډولونه هم لري:

لکه: حکمي کره کتنه، استقرایي، اپلاتوني، ارستویي، مطلقه او نسبي، د اسطوره پېژندنې، اخلاقي، د ټولنپوهنې، تفسیري، تاریخي، قضايي، ټولنیزه، کلتوري، اروايي، متني، امپریسیونیستي، تربیتي او اخلاقي، تحلیلي، اساطیري، ارواپوهنیزه، جوړښتي، د متن، تطبیقي، د حال د شرحې، التقاطي او دې ته ورته نورې کره کتنې هم شته چې د بحث د نه اوږدولو په خاطر يې په هماغو پورته ډولونو بسنده کېږو او اوس په دې بحث کوو چې اوسنی وضعیت يې څنگه دی او ادبي کره کتنې ته تر اوسه پورې کوم زیانونه یا خنډونه په مخ کې پراته دي چې په ټولنه کې يې لکه څنگه چې باید وي ځان ته ځای پیدا نه کړای شو.

ښايي ډېر لاملونه ولري، خو زما په اند لاندې عمده لاملونه د دې لامل شوي

چې زموږ کره کتنې ته يې زيان اړولی او په ټولنه کې يې ځان ته مناسب ځای پيدا نه کړای شو.

### د کره کتنې پر وړاندې پراته خنډونه

لکه څنګه چې مخکې هم په لنډه توګه يادونه وشوه له بده مرغه په افغانستان کې لا تر اوسه هم کره کتنه په سمه او بنسټيزه توګه بنسټيزه شوې نه ده او نه هم ورته چندان پاملرنه کېږي، دا ځکه چې په افغانستان کې کره کتنه د دښمنۍ په معنا ده او هر څوک کوښښ کوي چې له دغې دښمنۍ څخه ځان وساتي، حتا زموږ په ادبي ټولنو او بهيرونو کې هم کره کتنه د شخصيتونو او ډلو ټپلو پر اساس کېږي، نه د ټاکل شوو آرونو او فرضيو له لارې؛ ځکه موږ پورته د کره کتنې ډولونه او ځانګې يادې کړې چې له بده مرغه په دې برخه کې له څو ګوتو په شمار اثارو پرته بل څه نه لرو.

دا چې ولې دا لړۍ داسې ده ښايي ډېر لاملونه ولري، خو زما په اند لاندې عمده لاملونه د دې باعث شوي چې څوک دې کره کتنې ته زړه ښه نه کاندي:

✓ د کره کتنې ناسمه پېژندنه: موږ په لومړيو کې په دې اړه بحث وکړ چې ايا ادبي کره کتنه يو سبک، لاره، اصول او قواعد دي او که سليقوي چلند، که چېرې يې سليقوي چلند وبولو، نو بيا خو موږ ډېرو ناغېړيو ته لار پرانيسته، خو لکه څنګه يې چې يادونه شوې وه په ټوله کې ادبي کره کتنه يو هنر دی، خو داسې هنر چې د همدغه هنريت له امله يې د علم پوړۍ ته هم ځان رسولی دی او د ځانګړو قواعدو په رڼا کې کېږي، خو په چوکاټي توګه هم نه؛ ځکه په چوکاټي توګه ترسره کول يې پر مشخصو لارو او تجربو ولاړ وي او د ټولو اثارو تجربې يو ډول نه وي، خو په ټوله کې د ادبي اثر د کره کتنې پر مهال ليکوال ته بويه چې د ادبي مسايلو په ټولو فنونو او ځانګړنو پوه وي او د يو اثر د کره کولو پر مهال د اثر د موضوعاتو په اړه کافي معلومات ولري.

د ليکوالۍ په اړه په ډېرو مسايلو پوه وي او ترڅنګ يې د ژبپوهنې په لاره هم تېر شوي وي، د ليکنښو او املاء په اړه تر ليکواله که زيات نه وي، نو کم معلومات خو ونه لري او د ادبياتو له نوو تيوريو سره هم بلد وي، ځکه په ادبياتو کې يو بحث دا دی چې ادبيات يو ځانګړی علم نه دی، بلکې تيوري ګانې دي، ځکه تر ډېره د

علم ځانګړنه دا ده چې پر تجربو ولاړ وي، خو تیوري ګانې بیا پر تجربو نـه، بلکـې پـر نـوو ملاحظـو او نیوکـو ولاړې وي، چـې همدغـه نیـوکې او تردیـد نـوې لارې او نـوې نظریات زیږوي چې هغه بیا د تیورۍ په نامه نومول کېږي.

په کره کتنه کې بل بحث د سبکونو د پېژندلو مسئله ده، په دې معنا مـوږ چـې کله د پښتو ادبیاتو تاریخ مطالعه کوو، نو ګورو چې په ټوله کې زمـوږ ادبیـات پـه څـو دورو باندې وېشل شوي او وروستۍ دوره بیا په پړاوونو، نو کله چـې د دورو یـا پړاوونـو سبکي ځانګړنو ته ځیر شو، ګورو چې هـره دوره او هـر پـړاو لـه یـو بـل سره د سـبکې ځانګړنو له پلوه د ځمکې او اسمان هومره توپیر لري چې په دې اړه د ډېرو معلومـاتو لپاره د اجمل ښکلي سبک پوهه کتاب له درنو لوستونکو سره مرسته کولای شي.

البته زموږ په ادبیاتو کې کله ناکله د نقد پولې په دې هم سـتونزمنې شي چـې موږ ډېر ځله د یوې ادبي برخې متخصص ځانګوال پـه نـدرت مونـدلای شـو، پـه دې معنا موږ چې کله یو اثر نقد کوو ګورو چې په اثر کې یـې د ادبي تیـورۍ، ادبي نقـد، ادبپوهنې او ادب تاریخ برخې ټولې راغلي او له ناقده لاره ورکه شي چې کومه برخـه یې په کومه تله وتلي، خو په نورو ټولنو کې بیـا دغـه ډول سـتونزې یـا کمـې او یـا پـه ندرت موندل کېږي، نو دا هم یوه بله ستونزه ده چې موږ یې لرو.

زموږ په نقد کې ډېر ځله د معلومـاتو تشـه هـم محسوسـېږي، د سـاري پـه ډول لیکوال به یوه موضوع تشریح کول غواړي، خو د وضاحت لپاره یې کله ناکله سرې اړ شي چې د یو بل علم اصطلاح یا ایډیم وکـاروي، خـو دې تـه یـې پـام نـه وي چـې د نوموړي لوستونکي یا اورېدونکي د هغه ایډیم په اړه کافي معلومات لري او که نه، نـو معنا دا چې زموږ اثر باید پر ادبي اړخ سربېره کله ناکلـه د ارواپـوهنې، فلسـفې او پـه ټوله کې د بشري علومو د څانګو په رڼا کې هم تشریح شي او په داسـې حـالاتو کـې بیا کره کتونکي ته موضوع هم یو څه اسانه شي.

په کره کتنه کې بل بحث د وخت او حالاتو دی، په دې معنا چې موږ ډېـر ځلـه د پوهاند حبیبي د پښتو ادبیاتو تاریخ له اثر نه د اوسنیو ادب تاریخونو تمه لرو او پـه همدې تله یې تلـو هـم، پـه داسـې حـال کـې چـې د هغـه وخـت شرایـط، امکانـات، کتابتونونه او د هغه وخت فقر په پام کې نه نیول اصلاً د کره کتنې آر نه دی، خو کـه چېرې موږ د هغه وخت حالات په خپل ذهن کې انځور کړل، نـو بیـا د اثـر پـه وزن او

خلاقیت پوهېدلای شو او د هغه وخت څېړنې په ډېرې اسانۍ سره د اوس له څېړنو سره پرتله کولای شو.

نو په ټوله کې که خبره را ټوله کړو ادبي کره کتونکی باید په ټوله معنا د یوې ټولنې له ادبي اثارو، حالاتو، تیوري ګانو او ورسره اړوندو موادو چې د کره کتنې کېدونکې اثر پورې اړه لري پوه او خبر وي او بیا دې اثر تر نقد لاندې ونیسي، خو له بده مرغه زموږ اکثره اثار د شخصي ملاحظو، سلیقو، د یو چا کم راوستلو، خپلې وړتیا ښودلو، د یو چا شخصي حریم ته د ننوتلو او دې ته ورته لسګونو ملاحظو له مخې کېږي، چې د همدې وجه له مخې نه څوک کره کتنې ته زړه ښه کوي او نه یې هم موجود آرونه معیاري او منل شوي بولي.

✓ په کره کتنه کې بل اصل د بې پرېتوب یا بې طرفۍ دی. په دې معنا موږ چې کله کره کتنه کوو، معنا دا چې داوري او حکم کوو او دا داوري باید د بې طرفۍ پر اساس وي، له بده مرغه افغانستان چې له سیاسي ګوندونه واخله بیا تر ژبنیو او قومي ډلګیو باندې وېشل شوی ډېر ځله زموږ په داورۍ کې هم دغه زهر شیندل شوي ښکاري.

زه د دې خبرې ښه شاهد یم، یو مهال ما د زېري پر جریدې کار کاوه هغه مهال زه دغو مسایلو ته ډېر ښه ځیر شوم، حتا مشرانو استادانو هم د نقد زغم نه و کړی آن د خپلو محصلینو د لیکنو پر وړاندې یې هم غبرګونونه ښودلي وو او په سیاسي مسایلو کې خو یې دومره افراط کړی و چې آن تر شخصي- حریمونو پورې ننوتي وو، نو کله چې په کره کتنه کې دا ډول عقدې را وسپړل شي بې له شکه نقد بې طرفه او د آرونو په رڼا کې نه دی، ځکه موږ دا خبره یاده کړه چې په کره کتنې که د لیکوال شخصیت او شخصي ملاحظو ته نه کتل کېږي، بلکې کره کتنه یې پر اثر کېږي او دا چې د اثر په کره کتنه کې باید کوم مسایل په پام کې ونیول شي پورته پرې تفصیلي خبرې شوې دي.

✓ سلیقوي چلند: په کره کتنه کې بله لویه ستونزه سلیقوي یا شخصي- چلند دی، خو دا سلیقوي چلند څه ته وایي او څه شی دی؟

موږ ډېر ځله فکر کوو چې که کله هم موږ پر نقد کېدونکي اثر خپل نظر ور زیات کړو، نو هغه شخصي چلند دی او هغه نقد دی، په دې ځای کې یوې باریکۍ

ته ځير کېدل په کار دي او هغه دا موږ وويل چې کره کتنه د نورو ټولو آرونـو ترڅنـګ هنريت هم دی او هنريت هله زېږي چې زموږ د ذوق مرانـدې ادبي خـوا تـه را کـاږل شي، معنا دا چې زموږ د ذهن بټۍ د ادب په اورغالي کې توده شي او دا هله کېـږي چې څه ذوق وپالل شي او څه هم سليقه خپل فعاليت وکړي، خو که دغه سـليقه پـه افراطي بڼه په نقد کې په نظر کې ونيول شي، نو هغه بيا د غوړه مـالانۍ پـه معنـا ده او که چېرې شخصيتي خواته لاړه شي بې له شکه هغه تقـريظ دی او د اثـر نقـد نـه، بلکې فردي نقد دی.

موږ چې کله پر اثر باندې د سليقوي چلند يا کره کتنې بحث کوو موخـه مـو دا ده چې پـه سـليقوي چلنـد کـې بـه هغـه دواړه بڼـې بايـد شـاملې نـه وي او چـې پـه تخليقپالنې باندې ولاړه وي نه يواځې د ادب ښېګڼو او نيمګړتياوو ته مو ځيـر کـوي، بلکې د يادې موضوع په اړه مو له ډېرو معلوماتو او نوو مسايلو هم خبروي.

البته ډېر ځله داسې هم کېږي چې کره کتونکی حتا خپلې خبرې او ذوق هـم پر ليکوال مني، د ساري په ډول موږ په يو اثر کې يوه ګرامري تشه ګورو او ښـه پـرې پوهېږو چې دا نيمګړتيا ده او په ګرامر کې يې اصلي بڼه داسې نه، بلکې داسـې ده، لکه (سربېره پر دې چې د ادبياتو دنده د عامه افکـارو....)، (پـر دې سربېـره چـې د ادبياتو دنده د عامه افکارو....) په لومړۍ بېلګه کې سربل او اوسـتربل خپـل ځايونـه بدل کړي او يو د بل پر ځای راغلي چې دا ګرامري تېروتنه ده، خو کـره کتـونکی پـر لومړۍ جملې ټينګار کوي او وايي چې ولـس د هغـې پـر ځـای داسـې ډېـر وايـي او همداسې دا نورې کوچنۍ او لويې ګرامري تېروتنې هم در واخله، نو که چېـرې اوس د کره کتونکي سليقوي چلند ته ځير شو، په دې پوهېږو چې په قصدي توګه يې اثـر د خرابۍ خوا ته بوته.

✓ کليشه يي مسايل: زمـوږ د ډېـرو اثـارو د نقـد نـه کولـو يـو لامـل کليشـه يـي مسايل دي، په دې معنا همدا اوس هم د استاد حبيبي له اثارو څخه زياته اسـتفاده کېږي، خو په عين حال کې يې بيا نقدوو هم، يعنې نـه نـوو مراجعـو تـه سر وربښـکاره کوو او نه ترې خبر يو او که استفاده هم تـرې وشي، يـو ډول د شـک پـه سـترګه ورتـه کتل کېږي. زما په ياد دي يو مهال په يوه نشراتي غونډه کې مو پـر ځينـو مسـايلو او مقالو باندې بحث کاوه، يو ښاغلي څېړونکي يوه مجله را واخيسته او هغه يې په ډېرو

سختو الفاظو رد کړه او نقد یې پرې وکړ، خو چې کله مو د علت پوښتنه وکړه، نو دلیل یې دا و چې نوموړي په کې له زړو اثارو هېڅ استفاده نه ده کړې او ټول اثار یې نوي دي.

په دې کې شک نه شته چې نوي اثار به هم خپلې نیمګړتیاوې لري، خو په هغه ټولنه کې چې لا هم علم او نظریات یې د اتیا کالو پخواني نظریات وي او لا هم له نوو علومو او اصولو سره په کې د دښمنۍ اعلان کېږي په هغه ټولنه کې به علم څه پرمختګ وکړي او کره کتنه به څه وده!.

دا منلې خبره ده چې لیکوال خلاقیت ونه کړي، نو کره کتونکی هم خلاقیت نه شي کولای، خو که له یوه اړخه خلاقیت وي او له بله اړه نه بیا هم ستونزه نه حل کېږي.

ډاکټر سروس شمیسا وایي: "ادبي کره کتنه یو خلاق کار دی او ادبي کره کتونکي ته بویه چې د لیکوال تر کچې د عالي او خلاق ذوق څښتن وي، خو له لیکوال سره به یې توپیر په دې کې وي چې هغه به ځینې تېروتنې د خلاقیت او نویوالي له امله کوي او دی به د هماغه نویوالي په رڼا کې لیکوال تېروتنو ته ځیر کوي یا کېدای شي لیکوال په هغو ټولو علومو او اصولو نه وي خبر، خو کره کتونکي ته بویه چې له هغو ټولو څخه خبر وي او په اړه یې سم قضاوت وکړي یا له دغو علومو څخه د اثر د کره کولو لپاره د ابزاري وسایلو په توګه د اثر په تحلیل او تشریح کې ګټه وکړي." (۱۹)

نو که خبره را لنډه کړو زموږ په زیاتو اوسنیو یا معاصرو کره کتنو کې چې د نوښت کوم څرګ نه لګي د پورته ټولو لاملونو ترڅنګ یې یو ستر لامل دا هم دی.

✓ له اثر سره عادي چلند: زموږ د کره کتنو لویه تشه دا هم ده چې موږ ډېر ځله د اثر پر عادي او سطحي مسایلو خپل وخت تېروو، د ساري په ډول دا کتاب په دومره مخونو کې په یوې داسې پښتۍ د فلانۍ ټولنې له خوا په دومره کال کې چاپ شوی. په دې کتاب کې د فلاني او فلاني لیکنې راغلي او د موضوع په اړه یې داسې ویلي بیا وایي چې دا اثر چې کومې ټولنې چاپ کړی تر اوسه پورې یې دا دا کارونه کړي او په راتلونکي کې به داسې کارونو ته هم اوړه ورکړي، د کتاب پښتۍ چې چا ډیزاین کړی، ډېر ښه انځورګر دی او په دې ځوانۍ کې یې دومره او داسې

کارونه کړي، په حقیقت کې دا ټولې هغه خبرې دي چې لوستونکی هم له ځان سره د بېلارۍ خوا ته بیايي، ځکه مور په خپلو کره کتنو کې دا ډول خبرو او بې ځایه تشریحاتو ته اړتیا نه لرو او نه هم د دې اړتیا محسوسېږي چې لیکوال باید خپل اثر په فلاني فونټ کې نه، بلکې په فلاني کې نیولای وای او یا یې سایز دومره نه، بلکې دومره نیولای وای.

دغه ډول خبرې له یوې خوا له اثر سره سطحي چلند دی له بلې خوا لوستونکي بلې خوا ته بوختوي او دریمه خبره دا چې محترم کره کتونکی په خپله هم د اثر په اړه بشپړ معلومات نه لري، خو دا چې له خلکو څخه ځان کم نه ګڼي او یا له خلکو هېر شوی، نو ځکه یو ځل بیا خلکو ته ځان ور یادوي، نور هېڅ معنا هم نه لري.

✓ کره کتونکی باید د یو واحد دریځ او یو واحد او معیاري لیکدود تابع وي، یعنې د لهجو قرباني شوی نه وي، ځکه نن سبا په پښتو ژبه او ادب کې لویه ستونزه د لهجو ده، ځینې ډلې شته چې خپله لهجه تر معیاره هم اوچته بولي، په داسې حال کې چې مشرانو به یې قطعاً دا کار نه وي کړی، نو ځکه یې ډاکټر سروس په اړه کاږي: "باید په پام کې ولرو چې کره کتونکی په خپلې ارزونې او تحلیل کې یو داسې منظم سیستم یا منسجم او واحد نظام جوړ کړي چې په هغې کې د متن ټولو پوښتنو ته په یو ډول او یو لیکدود ځواب وموندلای شي او په ورته وخت کې یې د ځوابونو اجزاوې سره په تضاد او ټکر کې نه وي، یعنې داسې نه وي چې مور د ادبي مسایلو په توضیح کې لیکوال یا مذهبي معرفي کړو او یا هم کافر یا په ځینو مخونو کې لیکوال راته عارف معلوم شي او په ځینو کې کمونیست او په دې توګه د خپلو زهرجنو افکارو له امله د لیکوال شخصیت له صفر سره ضرب کړو". (۲۰)

د دې خبرې ژوندۍ بېلګې زمور په ټولنه کې هم شته، یو مهال ما د کابل مجلې په پاڼو کې د یو ښاغلي مقاله خپره کړې وه، یوې ډلې مخالفینو یې مقاله لوستې وه او هره ورځ به یې زه احضارولم چې دا مقاله دې ولې خپره کړې، له دې مقالې نه سیاسي بوی خېږي او دا یو ډول... افکار بیانوي او دې ته ورته ځینې نورې خبرې چې آن د تکفیر تر بریده رسېدلې. له دې سره چې ما خپل ډېر دلایل وړاندې کړل او ټینګار مې همدا و چې دا موضوع د ادبیاتو په روح پورې تړلې او د

ادبیاتو ډېر ژور مسایل بیانوي، خو پر چا یې منې. د دغو ښاغلو دا مناظره دومره اوږده شوه چې اخر یې پر ما هم د هماغو ګوندي خلکو د زوی نوم کېښود.

پر دې سربېره یو مهال د یو لوی ادبي شخصیت په اړه غونډه جوړه شوې وه او په دې غونډه کې ډېرې علمي او اکاډمیکي مقالې ولوستل شوې، د پوښتنو پر مهال یو چا لاس پورته کړ او د وخت اجازه یې وغوښته، کله چې وخت ورکړل شو، نو هغه لومړی پر هماغه شخص نیوکې پیل کړې چې دا غونډه یې په ویاړ جوړه شوې وه او ویې ویل دا ډېر خراب شخص و، ځکه له یوې خوا یې شراب ښښل چې په خپلو شعرونو کې یې په خپله خوله یادونه کړې او بل یې د سرو زرو په جام کې ښښل چې دې ته په اسلام کې افراط او تفریط وایي، یعنې هم یې حرام کار کړی او هم یې په کې تفریط کړی، نو موږ په خپلو لیکنیو نقدونو کې هم دا او دې ته ورته بېلګې خورا ډېرې لرو چې یواځې پر همدې دوو یې بسنده شو.

✓ د یوې سمې او مناسبې لارې نه ښوول: د پورته څرګندونو او د کره کتنې د آرونو له مخې دا جوته شوه چې کره کتونکی یواځې کره کتونکی نه دی، بلکې یو ښه مربي، لارښود او استاد هم دی، هغه له دې سره چې د لیکوال متن ټوټه ټوټه او برخې برخې کوي، ښېګڼې یې یوې خوا او بد ګڼې یې بله خوا کوي، خو په ورته وخت کې ورته بویه چې د نیمګړتیاوو لپاره یې ښې، په زړه پورې او د علم په رڼا کې لارې هم وړاندیز کړي، چې کومه برخه لرې او پر ځای یې کوم مسایل د کومو اسنادو له مخې راوړي. (۲۱)

که چېرې زموږ کره کتونکي د اثر نیمګړتیاوې بیان کړي او بیا ورته لارښونه ونه کړي، نو معنا به یې داسې وي، چې یو ډاکټر ته ورشي هغه یې ناروغي تشخیص کړي، خو د درملو په نامه ورته څه تجویز نه کړي او ناروغ په خپل حال پرېږدي او یا درمل ورکړي، خو د خوړلو لارښوونه یې ورته ونه کړي، که چېرې ناقد اثر نقد کړي، نیمګړتیاوې یې په ګوته کړي او د حل لارې ورته وړاندیز نه کړي، بې له شکه به له لیکوال څخه لاره ورکه کړې او شونې ده چې په ګانده کې لیکوال بیا د هېڅ شي د لیکلو لپاره هم زړه ښه نه کړي او دا کار د دې لامل کېږي چې موږ خپلې نوې پوهې، تیوري ګانې او آن شهکار اثار له لاسه ورکړو چې زما په اند دا کار

بې له شکه له ادبي دنیا سره نه یواځې ظلم دی، بلکې وحشت او حتا په لویه کچه تېری هم دی.

## پایله

که خبره را ټوله کړو موږ د ادبي کره کتنې په اړه لږو ډېرې خبرې وکړې او د هغې ډولونه مو هم روښانه کړل، اوس راځو دې ته چې له دې دومره آرونو، اصولو او اثارو سره سره بیا هم ولې زموږ کره کتنه د کره کتنې په څېر نه ده او یا ولې تر اوسه پورې کره کتنه په سمه او دقیقه توګه بنسټیزه شوې نه ده؟

بې له شکه چې پورته یې په اړه تر یو ځایه خبرې وشې او لاملونه یې په ګوته شول، خو بیا هم زه دې پایلې ته رسېدلی یم ترڅو چې زموږ کره کتونکي خپلې شخصي- او سلیقوي ملاحظې پرې نږدي، ترڅو چې زموږ کره کتونکي ډلې او ډلبازۍ پرې نږدي، ترڅو چې زموږ کره کتونکي د ادبیاتو په ټولو برخو، علومو، فنونو، اصولو، ګرامر، قاعدو، لیکوالۍ او انشاء ځان پوه نه کړي تر هغې به زموږ نقد همداسې له زهرجنو او بې خونده خبرو ډک وي او ترڅو چې موږ نړیوالې غوره او بریالۍ تجربې خپلې ټولنې ته را انتقال نه کړو، تر هغې به زموږ دودیز او عقدوي نقد دوام لري.

د دې لپاره چې له دې ناروغۍ مو خلاصی موندلای وي په کار ده چې بې پرې او پرته له هر ډول عقدو څخه اثر د ادبي آرونو او د ه کره کتنې د منل شوو معیارونو په رڼا کې نقد کړو، ښېګڼې او بدګڼې یې په ګوته او بیا ورته ښې، مناسبې او د ټولنې له نزاکتونو سره سمې لارښوونې او وړاندیزونه وکړو، نو هله به زموږ نقد د نقد په څېر یا نقد وي او که داسې ونه کړو، نو تمه نه شته چې په نږدې ګانده کې دې هم دا ستونزه هواره شي.

## مأخذونه


۱- عرب علي رضایي، واژګان توصیفی ادبیات، لومړی چاپ، د معاصر فرهنګ خپرونې: تهران، ۱۳۸۲ لمریز کال، ۱۷۹ مخ.

۲- عبدالخالق رشید، د پښتو هنري ادبیاتو د کره کتنې لنډه تاریخچه، دوهم چاپ، د افغانستان ملي تحریک، فرهنګي څانګه: کابل، ۱۳۹۴ لمریز کال، ۱۲ مخ.

۳- همدا اثر، ۱۳ مخ.

۴- محمد شریفي، فرهنگ ادبیات فارسي، لومړی چاپ، د نشر نو فرهنگ خپرونه: تهران، ۱۳۸۷ لمریز کال، ۱۴۲۴ مخ.

۵- نصرالله ناصر، علي محمد منگل، حضرت محمد ویاړ او نور... پښتو- پښتو تشریحي قاموس، څلورم ټوک، د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز: کابل، ۱۳٦۵ لمریز کال، ۳۵۴۹ مخ.

٦- عبدالحسین زرین کوب، نقد ادبی، د امیر کبیر خپرونه: تهران، ۱۳۷۳ لمریز کال، ۵ مخ.

۷- سیدمحی الدین هاشمي، د ادبپوهنې ځانگې، میهن خپرندویه ټولنه: پېښور، ۱۳۹۳ لمریز کال، ۵۱۵ مخ.

۸- همدغه اثر، ٦۱٦ مخ.

۹- سیروس شمیسا، نقد ادبی، څلورم چاپ، فردوس خپرندویه ټولنه: تهران، ۱۳۸۳ لمریز کال، ۲۵ مخ.

۱۰- محمود جعفری، جایگاه نقد ادبی در ادبیات معاصر افغانستان، انټرنټي پاڼه، اخیستل شوی ۱۳۹۷/ ۱۳/۱

http://www.farda.org/articles/10_updates/100400/Soy_farda_poem_m_djaferi.htm

۱۱- سحر یوسفزی، ادب څه دی؟، پروگریسوا پرانر منگوره، سوات، دوهم چاپ، ۱۹۸۰ م کال، ۱۰۳ مخ.

۱۲- همدا اثر، ۱۰۳ مخ.

۱۳- د ادبپوهنې ځانگې، ۵۸۴ مخ.

۱۴- محمود جعفری، جایگاه نقد ادبی در ادبیات معاصر افغانستان، انټرنټي پاڼه.

۱۵- هدی صادقی مرشت، نقدی ادبی چیست؟، کف داستان انټرنټي پاڼه.
http://cafedastan.net/post-181.aspx

۱٦- زلمی هېوادمل، د کره کتنې ډولونه "تالیف او ژباړه"، د افغانستان د لیکوالو انجمن: کابل، ۱۳۷۰ ل کال، ۳۲ مخ.

۱۷- محمود جعفری، جایگاه نقد ادبی در ادبیات معـاصر افغانسـتان، انټرنټـي پاڼه.

۱۸- محمود جعفری، جایگاه نقد ادبی در ادبیات معـاصر افغانسـتان، انټرنټـي پاڼه.

۱۹- ډاکټر سروس شمیسا، نقد ادبي، ۲۳ مخ.

۲۰- ډاکټر سروس شمیسا، نقد ادبي، ۲۹ مخ.

۲۱- محمود جعفری، جایگاه نقد ادبی در ادبیات معـاصر افغانسـتان، انټرنټـي پاڼه.

ژباړن: صدیق الله بدر

# د نړۍ د نومیالیو لیکوالو د لیکوالۍ بریالۍ تجربې

**لنډیز**

معمولاً د نړۍ د مشهورو او پېژندل شوو لیکوالو ژوندلیکونه او ژوند پېښې ځکه ژباړل کېږي چې نورو ټولنو ته اوچت پیغامونه لري، ما هم په همدې نېت په دې ژباړه کې د نړۍ د مشهورو لیکوالانو، لکه: لیا موریارتي، سوفي کینسلا، جوجو مویز، اورسولا لوګین او دې ته ورته نامتو لیکوالو د لیکوالۍ او د ژوند تجربې له درنو لوستونکو سره شریکې کړې، چې د دې ژباړې له امله زموږ د سیمو ادبیات د نړۍ په سرلارو ادبیاتو کې شمېرل کېدای شي.

ما په دې ژباړه کې هڅه کړې چې د دغو ښاغلو د ژوند تجربې او د لیکوالۍ بریالۍ تجربې په دې نیامت شریکې کړم چې له امله یې زموږ ادبیات هم د نړۍ په سرلارو ادبیاتو کې راشي او زموږ ولس ته ډېر څه ورکړي.

**سریزه**

که خبره د ژباړې د کمیت وي، نو باید داسې اثار یا مقالې وژباړل شي، چې عامو لوستونکو ته هم جذابیت او په زړه پورې والی ولري، خو که خبره د کیفیت وي، نو موږ باید بیا د مسلکي کېدلو خوا ته لاړ شو او د مسلکي کېدلو پر خوا ګامونه پورته کړو.

تر اوسه چې زموږ په ادبیاتو کومه نیوکه کېږي د نورو ټولو لاملونو ترڅنګ یې یو ستر لامل دا هم دی چې ژباړې په کې ډېرې شوي او کمیت یې په کافي اندازې زیات شوی، خو د کیفیت ژباړې ډېرې کمې دي او باید کیفیت ته ډېره توجه وشي،

معنا دا چې کومې ژباړې چې شوي هغه د ادبیاتو تشې هم نه شي ډکولای، نور علوم خو پر ځای پرېږده، نو په کار ده چې ژباړې د مسلک او تخصص پر اساس وشي، نه د زیاتوالي او ناسم ذوق له مخې.

په دې مقاله یا ژباړه کې چې کوم څه تاسې لولئ هغه د نړۍ د پېژندل شوو مشهورو لیکوالو د لیکوالۍ او د ژوند تجربې دي، چې زموږ ادب او په ټوله کې فرهنګ ته ډېر څه ورکولای شي، نو له ژباړې یې زما موخه یواځې او یواځې همدا وه.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

هره څېړنه د یو اهمیت او مبرمیت لپاره کښل کېږي، د دې لیکنې یا ژباړې اهمیت او مبرمیت په دې کې دی چې له یوې خوا د بهرنیو لیکوالو او ادیبانو له بریالیو تجربو سره اشنا کېږو او له بلې خوا د ادبیاتو اصلي لوری پیدا کولای شو چې باید څنګه وي، ځکه ادبیات او یا په ټوله کې لیکوالي د وړتیاوو او زړه راښکون پر بنسټ ولاړه ده، نه د شخصیت او شخصي ملاحظو پر اساس.

## د څېړنې موخه

د دې ژباړې موخه په دې کې ده چې موږ ته د نړۍ بریالۍ تجربې را په ګوته کوي او په وسیله یې موږ د نړۍ اوچتو او شهکار ادبیاتو ته لار پیدا کوو او په دې توګه پښتو ادب هم د نړیوالو ادبیاتو او ژبو سیاله کېږي.

## د څېړنې پوښتنې

په دې څېړنه کې تر ډېره لاندې پوښتنې ځواب شوې دي:

✓ لیان موریاتي څه ډول لیکل کول؟

✓ سوفي کینسلا څوک و، څه وخت یې پر لیکوالۍ پیل وکړ او کوم اثار یې وپنځول؟

✓ جوجو مویز څه ډول لیکوال و، د لیکوالۍ بریالۍ تجربې یې کومې دي او څنګه بریالی لیکوال شو؟

✓ اورسولا لوګین څوک دی او کوم مشهور کتابونه یې کښلي؟

او دې ته ورته کوچنۍ پوښتنې په کې ځواب شوې دي.

**د څېړنې ميتود**

دا چې دا متن ژباړه ده، نو ميتود يې هم تشريحي او تحليلي دی.

**اصلي متن:**

## ليان موريارتي څه ډول ليکل کوي؟

ليان موريارتي د ۱۹۶۶ کال د استراليا په سيدني کې زېږېدلې او پـه ۲۰۰۴ کال کې يې په يوې چاپ خونې کې د تبليغاتو او بازارموندنې په برخه کـې تـر کلونـو زيار وروسته، ليکوالۍ ته مخه کړې ده.

موريارتي په ۲۰۱۳ کـال کـې خپـل لـومړی نـاول وليکـه چـې ((د خاونـد راز)) نومېده. د خاوند راز يو خندوونکی، غم انګېزه او له تعليق او تلوسې نه ډک نـاول دی چـې تراوسـه ۳ مليونـه ټوکـه پلـورل شـوی او پـه ۳۵ ژبـو ژبـاړل شـوی دی. درې ارزوګانې، وروستۍ کاليزه، هغه څه چې له اليس هېر شول، ستر واړه درواغ، د خاوند راز او لوی ګنهکار د موريارتي يو شمېر چاپ شوي ناولونه دي.

دلته له موريارتي سره د استراليا د پېژندل شوي ناول ليکونکي کيت فوريسـت او د ګاردين او ځينو نورو خپروونـو د مرکـو لنـډيز او ورسره پـه رايټـر دايجسـټ کـې د موريارتي د ليکلو اووه ځانګړې طريقې درسره شريکوو.

زه ځکه تل په خپلو کتابونو کې له سيدني غږېږم چې خپـل اسـتوګن مـې دی، په کې ډېره بلده يم او مجبوره نه يم چې د پېژندلو لپاره يـې څېړنـه او مطالعـه وکـړم، خو يو څه بايد ووايم او هغه دا چې زه په ځانګړي ډول کوم ځيز ته اشاره نه کـوم. پـه دې برخه کې چې د نړۍ په کچه ما کوم ايميلونه ترلاسه کړي، ما ته ډاډېينـه راکـوي او داسې احساس کوم چې خلکو زما په تجربو کې ځان شريک احساس کړی دی.

زه په کمپيوټر ليکل کوم، په لومړيو کې به مې چې په کمپيوټر ليکل کـول، سر راباندې ګرځېده خو اوس ورسره عادي شوې يم او په کمپيوټر له ليکلو خوند اخلم.

همدا چې کمپيوټر ته کښېنم بايد ليکل پيل کړم، خو غواړم چې د ورځې درې ساعته ښه کار وکړم. زه هېڅکله هم په خپلو ناولونو او داسـتانونو کـې د واقعـي ژونـد له شرايطو استفاده نه کوم. که وغواړم يوه پېښـه پـه يـو روغتـون کـې انځـور کـړم، يـو داسې چاپيريال رامنځ ته کوم چې له پېښو شوو مواردو په کې استفاده ونه کړم، خـو کولای شم چې وګورم دا هغه څه دي چې په يوه پېښه کې رامنځ ته کېږي.

زه تل له ځان سره دا وایم چې هېڅکله هم باید د خپل داستان لپاره له حقیقي ژونده په بشپړ ډول یو شخصیت را پټ نه کړم، خو چاره نه شته یو څه باید له خلکو راواخیستل شي.

ځینې لیکوال وړې لفافې لري چې خپل کرکټرونه په کې ورنغاړي، خو زه یواځې د شخصیتونو لیکل پیلوم. زه خپل کرکټرونه پېژنم او په دې پوهېږم چې څه ټکه رالوېږي او زه چېرته روانه یم. غواړم یوه صحنه داسې وکښم چې له هیجانه ډکه فضا ولري. زه لیکلو ته په تمه ناسته یم، لیکل د مینې وړ یو احساس دی.

تازه کارو ته مې توصیه دا ده چې یواځې پر خپل داستان فکر وکړي، نه په نورو څیزونو لکه د هغه پر چاپولو، خرڅېدلو او عاشقانه کولو.

له دې مه وېرېږئ چې څوک به مو خیال غلا کړي. که ځان د لیکلو په خوند کې ډوب کړئ او په پای کې بیا بیا سمونې او اصلاحاتو ته مخه وکړئ. کله چې مو دا کار وکړ بیا کولای شئ چې هغو نورو فکرونو ته هم تم شئ.

د ناول د لیکلو لپاره یوه ښه خبره دا ده چې تاسو یوه خیالي نړۍ رامنځ ته کوئ او کله چې ورته اړتیا پیدا کوئ، کولای شئ په هغه کې دمه شئ .

هر ځل چې لیکل پیلوم، د ټاکلو کلماتو پر لیکلو ژمنه کېږم. پرته له دې مجبوره کېږم چې د ترسره شوي کار پر بیا کتلو او اصلاح کولو ډېر وخت ولګوم.

کله چې لیکل نه شم کولای یا یوه پیاله چای څښم یا خواړه خورم یا پلی تګ کوم او یا هم حمام کوم، خو ډېر ځله هغه څه چې باید ترسره کړم هغه لیکل دي.

د ورځپاڼو او کتابونو لوستل، خلکو ته غوږ نیول، په قهوه خانو کې د خلکو د مکالمو اورېدل، کورنی ژوند او فولکلور، هغه څه چې هلکان او نجونې یې سره وایي، تلیفوني اړیکې او شخصي تجربې دا ټول د یو داستان د لیکلو لپاره زما د الهام سرچینې دي.

زه په خپلو ناولونو کې طنز کاروم، ښایي څوک تېرباسم، خو حقیقت دا دی چې ژوند همداسې دی، لکه له رڼا او تیارې جوړ ترکیب.

## سوفي کینسلا څه ډول لیکل کوي؟

بریتانیایي لیکواله او ژورنالیسته سوفي کینسلا چې اصلي نوم یې مدلین ویکهم دی، په ۱۹۶۹ کې زېږېدلې ده. نوموړې په اکسفورډ کې زده کړې کړې دي.

هغې د موسیقۍ په برخه کې زده کړې پیل کړې، خو یو کال وروسته یې خپله رشته بدله کړه او د اقتصاد، سیاست او فلسفې زده کړې ته یې مخه کړه. مخکې تر دې چې هغه د ټولو د خوښې په لیکواله بدله شي، مالي او اقتصادي ژورنالیسته وه.

کینسلا هغه لیکواله ده چې په پېرلو روږدې، کولای شې یو راز وساتې؟، د واده شپه او بې کوره الهې کتابونه یې په ملیونونه ټوکه خرڅ شوي او له څلوېښتو څخه په زیاتو ژبو ژباړل شوي دي. له (په پېرلو روږدې) کتاب څخه یې سینمایي فلم هم جوړ شوی دی.

کینسلا له دویچه وله او یو شمېر نورو رسنیو سره د خپلې لیکوالۍ او لیکلو په طریقو غږېدلې چې دلته یې لنډیز درسره شریکوو:

کله کله داسې پېښېږي چې څه ونه شم لیکلای، نو له دې امله بازار ته سر ورښکاره کوم ځکه بازار راته الهام بخښونکی ځای دی. په بازار کې ګرځم، خلک وینم، خبرې اورم، نوي او زاړه شیان مې له سترګو تېرېږي او یا د خپل همیشني عادت له مخې یو څه را اخلم.

د خپلو کتابونو موضوعات له کومه کوم، دا هغه پوښتنه ده چې بیا بیا مطرح کېږي. هر کتاب له یو کوچني فکر نه راپېلېږي. زه دغه فکر ته پراختیا ورکوم او بیا پر طرحې کار کوم.

ډېر ځله د لیکلو لپاره یوې قهوې خانې ته ځم، دا ما ته د الهام اخیستلو یو ښه مکان دی. هلته ډېر وخت تېروم. کله چې کیسه، کرکټرونه او ستونزې مې وموندلې، د ناول لیکل پیلوم.

پخوا مې د مدلین ویکهم په نوم لیکل کول، خو له ۲۰۰۰ کال نه راهیسې د سوفي کینسلا په نوم کتاب لیکم، دا خپل دلیل لري. وګورئ کله چې یو څوک وغواړي کتاب ولیکي، تل یو غږ او یا یو کرکټر الهام بخښونکی کېږي او د لیکوال لیدلوری ټاکی. د مدلین کتابونه یو څه جدي او ډراماتیک شخصیت لري، خو د کینسلا آثار مسرت بخښونکي دي. دا لیکوالي ځانته ځانګړي مقامونه لري. هر کله چې د لیکلو لپاره له دې دوو نومونو یو یې غوره کوم، هڅه کوم چې د هغه له لید نه لیکل وکړم.

ځوانو لیکوالو ته مې مشوره دا ده چې تل له ځان سره د یادښت یوه کتابچه

ولري. هر هغه څه چې يې په ذهن کې ګرځي، ويې ليکي حتی په هغه شېبه کې که کوم ټکی بې ربطه هم ورښکاره شي.

که غواړئ چې ليکوال شئ، هېڅکله هم له لوستلو لاس وا نخلئ، مطالعه واقعاً حياتي خبره ده. وړه چې وم، د سهارني په وخت مې له نورو سره د خبرو کولو په ځای د بيسکېټونو او شيدو پر قوطيو ليکل شوې کرښې لوستلې.

د ليکوال يا ليکوالې په توګه د نورو د رضايت ترلاسه کولو لپاره په کار ده چې ځان د يوه لوستونکي په ځای حس کړئ او دا ومومئ چې د کوم ډول اثر لوستل غواړئ. غواړمه دا ووايم، هغه څه وليکئ چې خپله تاسې خوښ او راضي ساتي.

زه د يوه نوي کتاب د ليکلو په وخت کې هڅه کوم چې خپل کار له نورو پټ وساتم، ځکه اوس دې باور ته رسېدلې يم چې ليکوال تر نورو ډېر اسيب پذيره او مات زړي دي. ډېر ژر تر اغېزې لاندې راځي. د دې لپاره چې د بشپړې ازادۍ په حالت کې ليکل وکړئ او د نورو د قضاوتونو له سيورو لرې اوسئ او له دې امله کومه اندېښنه درسره نه وي، په خصوصي ډول ليکل وکړئ او يا د ليکلو تمرين ترسره کړئ.

زما په نظر د يوه ليکوال لپاره تر ټولوسخت کار د خپل غبر مونډل دي. دې ته بايد ځير واوسو چې په کومه بڼه د کومو شيانو له ليکلو خوند اخلو. په دې توګه هغه څه چې غواړو، کولای شو چې ويې ليکو. حقيقت دا دی چې د هر کتاب ليکل سخت کار دی او کېدای شي په يوه مرحله کې د هر چا سر په ديوال ولګېږي. ښايي د داستان په کلي طرحه کې کومه تشه رامنځ ته شي او يا دا وسه مو نه وي چې يوه صحنه په ښه ډول پای ته ورسوو، خو مهم ټکی دا دی چې په هر ډول چې کېږي خپل کار بايد پای ته ورسوو. حتی که چېرته لومړۍ نسخه ډېره غوره نه وي او بيا ليکلو او اصلاح کولو ته اړتيا ولري، حداقل تاسو خو د يو کتاب ليکل پای ته رسولي چې وروسته به يې بياليکلو ته اوږه ورکوئ.

کوم وخت چې وپوهېږم نور نو ليکلو ته دوام نه شم ورکولای، پلي تګ ته مخه کوم، خو هېڅکله هم د ليکلو د بيا پيلېدو په تمه مخامخ کمپيوټر ته نه کښېنم. ډېر ځله مې په همدې بڼه د داستان ليکلو په وخت کې راپيدا شوو ستونزو ته حل لاره موندلې ده.

هر څوک د ويلو لپاره يو داستان لري او هرڅوک کولای شي خپل ليکل بهتره

کړي. د ليکلو او ليکوالۍ ځينې تکنيکونه زده کېداى شي، تاسو هم هڅه وکړئ زده کړه وکړئ او خپل کار بهتره کړئ. زه اوس هم د هر کتـاب لـه ليکلـو سره نـوي ټکـي زده کوم.

دا ليکل دي چې تاسو پسې ګرځي او تاسو پيدا کوي. له ځان سره دا فکـر مـه کوئ چې غواړئ د داوينچي راز په څېـر يـو کتـاب بايـد وليکـئ. تاسـې خپـل ليکـل وکړئ، تاسي به په خپله د راتلونکي يوه ستره پديده ياست.

کومېډي ليکل مې خوښېږي، آن تر دې بريـده چـې غـواړم يـو پيغـام د طنـز او شوخۍ په وسيله نورو ته ولېږدوم؛ ځکه زه غواړم خلک وخندوم او خوښ يـې وسـاتم. زه واقعاً نيکمرغه يم او دا ځکه چې زه ليکل کوم، زه هغه کار تـرسره کـوم چـې ورسره مينه لرم.

## د جوجو مويز د ليکوالۍ شېبې:

جوجو مويز چې بشپړ نوم يې پـايولين سـارا جـو مـويز دى، پـه ۱۹٦۹ کـال پـه لندن کې زېږېدلې ده. نومړې له ۲۰۰۲ کال راهيسې د عاشقانه نـاولونو ليکلـو تـه مخه کړې چې  تر اوسه يې دوه ځلې د عاشقانه ناول جايزه ترلاسه کړې او آثار يـې د دنيا په يوولسو ژبو ژباړل شوي دي.

له بارانه تېښته،  خارجي مېوه، د معشوقې وروستۍ ليک، د طاووس پلـورنځى، د ناويانو کښتۍ، نقره يي خليج، د شپې موسيقي، نڅاګر اس، زه له تا مخکـې، هغـه نجلۍ چې تا پرېښودله، يو د يو دپاسه، له تا وروسته او يو يـواځې پـه پـاريس کـې د نومړې چاپ شوي ناولونه دي.

دلته چې څه له تاسو سره شريکوو، له جوجو مويز سره د يوې مرکې لنډيز دى، چې هغې په کې د خپلې ليکوالۍ او د ليکلو په طريقې غږېدلې ده.

کيسې له خپل شاوخوا ماحول نه پيدا کـوم. کلـه کلـه کرکټرونـه پـه مجـزا ډول ذهن ته مې لاره کوي، وروسته دغه کرکټرونه سره يوځاى کوم.

يو ليکوال بايد د خپل داستان له ټولو کرکټرونو سره خواخوږي ولري او ځـان د هغوى پر ځاى احساس کـړي. کـه داسـې ونـه کـړي خپـل کرکټرونـه پـه سـمه توګـه انځورولاى او هغه ته وده ورکولاى نه شي.

که چېرته د يوې حساسې احساسي او هيجاني صحنې د ليکلـو پـه وخـت کـې

سترگې مې له اوښکو ډکې نه شي، پوهېږم چې صحنه مې ښه نه ده انځور کړې، کله هم چې غواړم د لوستلو په وخت لوستونکي ته یو حس پیدا شي، لومړی بايد دا حس ما راوتخنوي.

ما خپل ځانته د کار کولو وختونه ټاکلي، که کومه ستونزه نه وي، سهار همدا چې له خوبه را ويښه شم، د مېز تر شا کښېنم او ليکل پيلوم، البته د سهار له ٦ بجو تر اووه نيمې پورې. وروسته له هغه چې نور کارونه مې خلاص کړل، د سهار له لسو بجو د غرمې تر دوه نيمو پورې ليکل کوم، خو زما د خوښې وخت د غرمې له دريوو بجو د شپې تر لسو پورې دی چې هېڅکله مې هم دې خوښې ته نه يمه رسېدلې.

که وکولای شم خلک فکر کولو ته اړباسم، د درک ور داستان وليکم او په يو وخت کې خلک هم وخندوم او هم وژړوم، اصلاً دې خبرې ته اهميت نه ورکوم چې څوک ما ته څه لقب راکوي. غواړم چې د ادبياتو (جاکومو) پوچيني و اوسم. دا چې په لوستونکي کې احساسات را وپاروم، نه شرمساره کېږم.

تر کومه ځايه چې پوهېږم لوستونکی غواړي په داستان کې خالي ځای ډک کړي. لوستونکی له دې کار نه خوند اخلي، نو زه بايد داسې يوه فضا رامنځ ته کړم، چې د دې کار د ترسره کولو لارې ورته برابرې شي. مخکې له دې چې خپل کار پيل کړم، د خپلو داستانونو له کرکټرونو يو روښانه انځور لرم. هيله مې دا ده چې داسې يو څه زما په داستانونو کې په ښه توګه راڅرګند شي.

دا چې په ناولونو کې مې د جديت ترڅنګ طنز هم شته، دا زما په روحيې پورې تړلې خبره ده. يو وخت مې دا احساس کړ چې د ژوند د جدي ستونزو ترڅنګ له طنز نه ګټه اخيستنه ګټوره پرېوځي. ځينې ورځې خندوونکې خبرې په خپله راځي او زه د کار د مېز تر شا له خندا ورته بډوډې نيسم. ځينې ورځې چې د دې خبرو درک نه وي، زه هم ورپسې سر نه ګرځوم، ته بايد باور ولرې چې خندوونکې ځيزونه په خپل وخت په خپله راځي.

زه د ليکلو لپاره له لب ټاپ نه استفاده کوم. له ليکلو سره ايډيټ هم کوم. هره ورځ د خپلې تېرې ورځې ليکل شوې کرښې بيا ګورم او يوه زياته برخه يې حتی پاکوم. هغه اصلاحات چې راولم، تر هغه زيات دي چې په لاس ليکل وکړم. زه د يو داستان لپاره هم له ليکلو مخکې او هم د کار په وخت کې تحقيق کوم. کله

کله په دې مرحله کې حتی امکان لري چې ټول لیکل شوی داستان بدلون ومومي. دا کار د تحقیق کولو له خوندونو څخه بولم.

پر کرکټرونو چې څه راځي هغه یې حق دی، که څه هم کله چې کوم کرکټر انځوروم په داسې یو ځای کې مې ځان موممم چې ته وا خپله اروا په تېښه وهم. کله چې کال دوه وروسته خپلو تېرو کارونو ته ور گرځمه، له ځان سره وایم: ((واه! څومره ظالمانه و.)) خو زه هڅه کوم چې خلک له ښو پېښو سره مخامخ شي. ژوند هسې هم په کافي اندازې سخت دی.

یو د یو دپاسه ناول کې هلکان له هوټل نه ډېره غلا کوي، ځینې فکر کوي چې دا زما له شخصي تجربې سرچینه اخیستې، خو رښتیا دا ده چې زه له هوټل نه د غلا نه یمه، زه ډېره ډارنه یم، تل دا خیال کوم چې یو گارسون په گوښه کې ولاړ دی او تر شونډو لاندې وایي: زه دې څارم او وینم چې ته څه کول غواړې.

## د اورسولا لوگین د لیکوالۍ تجربې؟

علمي - تخیلي او فیمینسته لیکواله اورسولا لوگین په ۱۹۲۹ کال کې د امریکا په کلفورنیا کې زېږېدلې ده. نوموړې یوه ښه شاعره هم ده او د ماشومانو لپاره یې کیسې هم لیکلې دي، خو د لوگین ډېر شهرت د علمي- تخیلي داستانونو او د فانتیزي لنډو کیسو او ناولونو د لیکلو په خاطر دی.

تر اوسه د لوگین گڼ ناولونه، د لنډو کیسو او شعرونو ټولگې او د ماشومانو لپاره د کیسو ټولگې چاپ شوې دي چې شمېر یې۴۵ ته رسېږي.

سمندر- وچه او اکومن د لوگین د ناولونو مجموعې دي. په سمندر- وچه کې له سمندر- وچې یو جادوگر، د اتوان مقبرې، ترټولو لرې کڅ، تهانو او یو شمېر نور ناولونه او د سمندر- وچې لنډې کیسې راغلې دي.

په اکومن کې د مخلوع یا بې تاجه، د روکانون نړۍ، د شړل شوو سیاره، د اوهامو ښار، د تیارې کیڼ لوری او د نقل ناولونه او یو شمېر لنډې کیسې راغلې دي او هغوی چې له اومیلاس نه لاس په سر شول د لوگین د لنډو کیسو ټولگه ده. لو گین تراوسه څو ځلې د هوگو او نبیولا مهمې او معتبرې جایزې ترلاسه کړې دي.

نوموړې د پاریس ریویو په ۲۲ گڼه کې د خپلې لیکوالۍ ځینې رازونه بیان کړي چې دلته یې یوه برخه درسره شریکوو، اوریدل لیکلي دي:

نه غواړم چې څوک دې ما یواځې علمي - تخیلي لیکواله وبولي. ما غوندې یوه لیکواله او شاعره چې په هر ځای کې حضور پیدا کوي او د یوې ونې غوندې ښاخونه یې له هرې خوا او هر سوري سر راهسکوي، په هیڅ یوه سوري کې نه ځاییږي او نباید هم چې کوم سوري ته ورتېل وهل شي.

سخت لیکوال له فزیک، ستورپېژندنې او ښایي هم له کیمیا پرته له نور هر څه انکار وکړي، بیولوژي، ټولنپوهنه او انسان پېژندنه ورته نرم او بیخوده علم ښکاره شي. دوی ته دا مهم نه دي چې انسانان د یوه ژوندي موجود په توګه څه کوي، خو ما ته دا هر څه مهم دي. زه تر ډېره ټولنیزو علومو ته مراجعه کوم او الهام ځینې اخلم. په تېره له انسان پېژندنې متاثره یم. کله چې یوه بله داسې دنیا انځوروم چې یوه ټولنه په کې ژوند کوي، هڅه کوم د دې ټولنې پېچلتیا وښیم او یواځې دا ونه وایم چې دا یوه امپراتوري ده یا هغې ته ورته یو څه.

یو وخت په دې پوهه شوم چې دې ته اړتیا نه شته، د هغه څه په اړه چې یو نارینه یې لیکي زه یې هم ولیکم یا هرومرو هغه څه ولیکم چې حتماً د یوه نارینه لوستونکي په کچ و مېچ برابر وي.

په هر حال! ښځې خپلې ځانګړې جنسیتي تجربې لري چې دغه تجربې هم د ویلو هم د لیکلو او هم د لوستلو ارزښت لري. د همدې لپاره مې په یو نوي طرز ویرجینیا وولف ولوسته بیا د نورو ښځو لیکوالو په لټه کې شوم. هغه وخت د فیمینیزم ادبي غورځنګ دا ټینګار درلود چې دغه اثار ولوستل شي. حس مې کړل چې ښځې کولای شي یو څه ولیکي او هغه څه چې لیکي یوه متفاوته تجربه ده. کلونه تېر شول چې د یوې ښځې په توګه مې لیکل پیل کړي دي.

د ځانګړي سبک داستان لیکل یو لړ کلي ملزومات لري.

لوستونکي یو مشخص لوري ته کاږي، مشخص داستانی قوس لري او پر هغه ټکیو لاس ږدي چې لوستونکی دې ټکیو ته د لیوالتیا له مخې لوستل پیلوي.

کله چې په یو ځانګړي فورم کې لیکل کوې، سوژې او خیالونه په یو مشخص قالب کې درته مخه کوي. که له فورم نه وتلی کار کوې دې ته ځیر کېږې چې نور نو د سوژو او خیالونو درک نشته.

ذهني انرژي او ځانګړی غور او دقت مې د نورو د ژوند تجربه کولو او یوه ذاتي

علاقه مې له بېلابېلو لارو د هغوی په اړه فکر کولو او د یو کار ترسره کولو ته ورکاړي. ښایي له همدې امله تر واقعي نړۍ د خیالي نړۍ په اړه لیکل کوم. د یوه لیکوال په توګه په دایمي ډول له نورو کسانو سره د لوبې کولو په حال کې یم.

ریالیزم یو پېچلی سبک دی او تر ډېره د لویانو خیال په کې ساتل کېږي چې ښایي همدا یې د کمزورۍ ټکی وي. خو فانتیزي تلپاتې او په هر ځای کې حاضره ده او هلکان ځان ته راکاږي.

کله چې څوک پوښتي ما له اوله همدا غوښتل چې لیکواله شم؟ ورته وایم نه! زه له اوله لیکواله وم، نه مې غوښتل چې لیکواله شم، نیویارک ته لاړه شم او خلک رانه تاو وي. ما یواځې غوښتل خپل واقعي کار چې لیکل دي په ښه توګه تر سره کړم.

## دان دلیلو څنګه لیکوال و؟

امریکایي لیکوال دان دلیلو په ۱۹۳٦ کال د نوامبر په شلمه زېږېدلی او تراوسه په دې توانېدلی چې تر پنځه ویشتو پورې زیاتې نړیوالې ادبي جایزې ترلاسه کړي.

دلیلو خپله لومړۍ جایزه په ۱۹۷۹ کال کې او وروستۍ یې په ۲۰۱۰ کال کې اخیستې ده.

اتمي جګړه، ډیجیتالي پېر، سړه جګړه، نړیوال تروریزم، هنر او د ژبې پېچلې ځانګړنې د دلیلو د اثارو موضوعات دي.

د میزان میاشت، امریکانا، لیبرا، د ارواګانو نړۍ، واورین شور، کې صفر، راپرېوتې سړی، د امګا ټکی او یو شمېر نور د دلیلو له چاپ شوو ناولونو څخه دي.

دلیلو د پن فاکنر جایزه، د پن سال بلو جایزه، د کتاب ملي جایزه، د امریکا د کتاب جایزه، د خلاقو هنرونو لپاره د Guggenheim جایزه، د کتاب د سفیر جایزه او یو شمېر نورې جایزې ترلاسه کړې دي.

نوموړي له لاس انجلس ټایمز سره په یوه مرکه کې د خپلې لیکوالۍ او لیکلو پر طریقو غږېدلی دی، چې لنډیز یې دلته درسره شریکوو:

یوه چاپي پاڼه نه یواځې دا چې باید یوه معنا ولري، بلکې ښایي چې یو تصویري مفهومي واحد هم وي.

زه تر ډېره د هغـو تـورو او کلماتـو پـه نسـبت چـې پـر یـوې پـاڼې کښـل کېـږي حساس یم. د غږونو انطباق نه یواځې په اوازونو کې، بلکې په یـوه کلمـه کـې د تـورو ترمنځ انطباق لږ څه رازداره دی.

زه تل د ټایپ له ماشین نـه اسـتفاده کـوم او لـه قلـم او کاغـذ نـه د مرسـتندویو وسایلو په توگه کار اخلم. په ۱۹۷۰ کې د ټایـپ ماشـین مـې خـراب شـو او د المپیـا کمپنۍ دوهم لاس ماشین مې واخیست، ډېر راحته کار کوي. ښـه والـی یـې دا دی چې توري غټ ښیي او زه د ټایپ په وخت پوهېږم چې څه لیکم.

زه له اوسنۍ نړۍ لږ لرې پاتې یم، ایمیل نه کاروم. زه یـو آی پـډ (Ipad) لـرم، چې انټرنېټ ته د اړتیا په وخت کې ترې استفاده کوم.

زه د یو تصویر پـه دواړو اړخونـو فکـر کـوم. لیکـوال تـه ښـایي هیلـه ولـري چـې شخصیتونه یې په درې اړخیزه نړۍ کې ژوند وکړي، لومړی د لیکوال په ذهن کـې او دوهم د لوستونکو په ذهن کې.

زه چې کله د یو تصویر په اړه فکر کـوم لـه ځانـه پوښـتم: آیـا هغـه پـه درې واړو اړخونو کې وینم؟ وینم یـې شخصـیتونه ویـنم، سـړي گـورم، واټونـه او موټرونـه ویـنم. داسې ښکاري چې دا ټول د ذهني واقعیت په یوه ځانگړې سطح کې وجود لـري. زه نه شم کولای د یوه کرکټر د څېرې ځانگړنې تشخیص کړم، هغه هم کله چې پـر دې کرکټر پورې اړوند یو فکر راسره وي.

ځوان چې وم جدي داستانونه مې نه لوسـتل، هغـه وخـت مـې ((د دښـمن لـه جزیرې نه وتښتېدم)) په څېر کتابونه لوستل. تـر هغـه پـورې چـې د جیمـز فـارل یـو داستان مې ولوست او پوه شوم چې کېـدای شي ادبیـات د هغـو مکـانونو پـه اړه وي چې ما په کې ژوند کړی دی.

هر څه له الفبا سره را پیل شـول. د تـورو شـکل یـوه معنـا لـري چـې زه نـه شـم کولای تعریف یې کړم. دغه الفبا څرنگه موږ د یو داستان منځپانگې تـه چـې پـه ژوره یا دقیقه معنا مرگ ته نغوته لري، ورکاږي؟

زه هېڅ کوم ځواب ورته نه لرم، ما په دېـرش کلنـۍ کـې لیکـل پیـل کـړي، خـو کاش پخوا تر دې مې را پیل کړي وای. کله چې د لومړي ناول لیکل مې پیـل کـړل، یو منظم کاري سیستم مې نه درلود. ناڅاپي به مې لیکلو ته مخه کړه، کله بـه مـې د

شپې په وروستیو کې او کله به مې له غرمې وروسته لیکل کول.

اوس په ورځ کې څلور ساعته د سهار لـه مخـې لیکـل کـوم او دوه درې سـاعته هم تر غرمې وروسته کار کوم.

زه د واقعیت د اړولو هڅه نه کوم، دا هغـه څـه دي چـې زه یـې ویـنم او اورم. دا فورم دی چې لیکوالو ته اجازه ورکوي، د بشري تجربو د کشفولو لپاره یو لوی فرصت په لاس کې ولري. زما هدف له ژبې خوند اخیستل دي. دا که د یو کتـاب یـا د یـوې جملــې د لیکلــو پــه مــټ وي او یــا د کرکټرونــو د انځورولــو لــه لارې چــې ښــایي خندوونکي، غوسه ناک، روي، تاوتریخوالي زېږوونکي او یـا د دې ټولـو یـوه مجموعـه وي.

زما په اند د یوه ناول لیکل د خپل جوړښـت، غوښـتنو، ژبـې او پـای پـه نسـبت لېوالتیا لري. له دې امله په ډېرو هغو مرحلو کې چې زه په لیکلو بوخـت یـم، دې تـه په تمه پاتې کېږم چې وروسته به څه کېږي، چېرته او څرنګه به څه راپېښېږي.

زه د لیکلو په نسبت بصري حس لـرم، زه غـواړم یـوه صـحنه د امکـان تـر بریـده داسې یو څه وي چې تصور کولای یې شوو؛ لکه څنګه چـې ځینـې لیکـوال داسـتان لولي، زه غواړم ووینم چې په پاڼه کې څه پېښېږي.

**پایله**

په پایله کې دې نتیجې ته رسېږو چې د نړۍ معتبرې ژبې هم له ژباړو خلاصې نه دي، حتا انګریزي ادبیات او په ټوله کې ژبه چې د نړۍ پـه معتـبرو ژبـو او ادبیـاتو کې راځي هم د ژباړې له سینده ډکه ده، نو زموږ د ژبې په څېر ژبې خـو بایـد ژبـاړې ولري، د دغه ډول ادبي اثارو د ژباړو څو ښـېګڼې وي، یـو دا چـې زمـوږ ادب تـه نـوې تجربه او نوی ادب لار پیدا کوي، دوهم موږ د نړۍ له ادبیاتو خبرېږو او تر ټولو مهمـه مسئله دا چې موږ د بهرنیو لیکوالو له بریالیو تجربو خبرېـږو چـې څنګـه دي او بایـد څنګه وي؛ ځکه زموږ په ټولنـه کـې ډېـر ځلـه تمـه دا وي چـې زمـوږ لیکـوال پـر دې سربېره چې ښه لیکوال دی یا وي بایـد ښـه شخصـیت او د راشـه درشـې خاونـد هـم وي، په داسې حال کې چې په یو لاس کې دوې هندوانې نه نیـول کېـږي، نـو ځکـه موږ ته په کار ده چې ډېر ځله د لیک ترڅنګ د لیکوال شخصیت هـم ونـه ارزو چـې څنګه دی او څنګه دې وي، مهمه دا ده چې ټولنې ته یـې څـه ورکـړي او څنګـه یـې

ورکړي.

د دغه ډول اثارو ژباړې نه یواځې زموږ ادبیات غني کوي، بلکې موږ په نړیوال کلي کې ګډوي او د نړۍ له معتبرو ادبیاتو مو خبروي چې پر کومه خوا روان دي، که چېرې همدغه او دې ته ورته ژباړې نه وای، نو نن به موږ د هایکو، ادبي خاکو او حتا له عروضي شاعرۍ هم خبر نه وای، نثري ادبي ژانرونه خو پر ځای پرېږده، نو ځکه د دې ډول ژباړو اړتیا ډېره لیدله کېږي او موږ دا اړتیا په دې برخه کې تر یو ځایه درک او وړاندې کړای شوه، هیله ده دا لړۍ نوره هم پسې وغځېږي او زموږ ځوان ځېړونکي دغه بریالۍ تجربې دومره زیاتې کړي چې له امله یې زموږ د ادبیاتو لمن دومره پراخه شي، چې خلک او نړیوال زموږ له ادبیاتو خپلو ژبو ته ژباړې وکړي.

د همداسې یوې ورځې په هیله.

څېړندوی ګل غوټۍ خاورې

# په معاصر پښتو ادب کې د اسطورې پراختیا

## لنډیز

اسطورې د فوق طبیعي ځواکونو او ارباب الانواعو په اړه هغه خرافي یا نیمه خرافي داستانونه دي، چې د روایت په بڼه له پرله پسې نسلونو څخه یو بل ته رالېږدي، اساطیر د بشري وګړو د پهلوانیو له کیسو او د پیریانو او ښاپیریو له کیسو سره، چې د ساتېرۍ لپاره جوړېږي، توپیر لري.

د اسطورو یو غرض د نړۍ توضیح او بیان دی او جوړوونکي یې د طبیعي پېښو لپاره شخصیت ټاکي. ائوهمروس (څلورمه مخزېږدي پېړۍ) اسطورې د پخوانیو موجودو قومونو له مبالغې ډکې کیسې ګڼلي دي، خو په ټوله کې اسطوره د پهلوانیو، اتلولیو، مېړانو، سرښندونو او هنري لذایذو هغه مبالغه لرونکې کیسې دي چې په هر عصر او زمان کې د هماغه وخت له غوښتنو او اړتیاوو سره سمې زېږي.

اسطوروي ادبیات په معاصر پېر کې نه یواځې موجود دي، بلکې لا یې هم وده کړې او خلکو ته ډېر په زړه پورې ادبیات دي، چې یوه بېلګه یې د هنر په زور د ملالې میوندۍ تپه ده.

## سریزه

ادبیات ډېر ډولونه او صنفونه لري، چې هر یو صنف او ژانر یې د وخت د اړتیاوو او غوښتنو په پام کې نیولو سره زېږېدلی او پراخه شوی دی، موږ په ادبیاتو کې داسې صنفونه او ژانرونه هم لرو، چې یا ورته توجه نه کېږي او یا یې هم ډېره د مینه والو پاملرنه ځانته نه ده را جذب کړې، د ساري په ډول یو مهال چې خلکو په

کافي اندازې وخت لاره، نو رومان ته به یې ډېر وخت ورکاوه او پر هغې بـه یـې خپـل ساعت تېراوه، خو نن سبا یې نه یواځې ځوک نه لـولي، بلکـې چنـدان لیکـل کېـږي هم نه او نه دومره د پام وړ مینه وال لـري، همداسـې د تکـل او ادبي افتـو بیوګرافیـو مسئله هم ده، خو پر عکس پر ځای یې بیا هایکو، ټپییزه، ټکـوریزه، لنـډکي شـعرونه او دې ورته صنفونه او ژانرونه رامنځ ته شوي، چې خلک یې ډېر مینه وال دي.

ښایي ډېر لاملونه ولري، خو یو لامل یې د خلکو لـه حـده زیاتـه بوختیـا او لټـې ده، دا سمه ده چې ځینې خلک په کافي اندازې بوخت شوي، خو ځینې بیـا دومـره لټان او سهولت غوښتونکي دي، چې آن ژوند یې هم ځانتـه ماشـینـي کـړی او همـدا لامل دی چې د ناروغیو کچه ورځ تر بلې مخ پر زیاتېدو ده، نو په کار ده چې ادبیات د هر عصر له غوښتنو سره سم پر مخ لاړ شي.

په دې بحث کې موږ د ادبیاتو پر هغـې برخـې بحـث کـړی، چـې هـم پـه پخـوا زمانو کې موجود و او هم اوس موجود دي او د نوو غوښتنو په رڼا کې پنځول کېږي.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

د دې څېړنې اهمیت او مبرمیت په دې کـې دی چـې لـومړی اسـطوره معـرفي شوې او بیا ورپسې اسطوروي اشعار، دا ځکه چې تر اوسه ډېر څېړونکـي دا دواړه یـو ګڼي، په داسې حال کې چې دا هر یو ځانته دنده او چاره پر مخ بیایي.

د دې ترڅنګ د دې څېړنې اهمیت په دې کې هم دی چـې پـه معـاصر عصـر کې اسطوروي ادبیاتو ته نغوته شوې او نوې ښېلګې په کـې راوړل شـوي، چـې دا کـار زموږ له لیکوالو سره د دې موضوع په لا څېړنه او سپړنه کې مرسته کوي او لارښـودي بڼه ورته لرلای شي.

## د څېړنې موخه

د دې څېړنې موخه په دې کې ده چې ولې مـوږ اسـطوروي ادبیـاتو تـه ارزښـت ورکوو او ولې یې په نوي پېر کې هم باید وپالو، ځکه موږ همدا اوس ځینې ژانرونه له لاسه ورکوو او ځینې نور د لاسه ورکولو پـه حالـت کـې دي، خـو پـرعکس اسـطوروي ادبیات بیا ورځ تر بلې مخ په ودې دي، دا ځکه چې له اړتیاوو سره سـم غوښـتنې پـه پام کې نیسي.

## د څېړنې پوښتنې

د دې څېړنې په اوږدو کې لاندې پوښتنې ځواب شوې:

- اسطوره څه شی دی؟
- اسطوروي ادبیات څه شی دی؟
- ایا د لرغونې پېر او د نوي پېر اسطورې یو شی دي؟
- ایا په نوي عصر کې اسطورو ته اړتیا لیدل کېږي؟
- ولې نور ژانرونه یا صنفونه له منځه ځي او اسطوروي ادبیات وده کوي؟
- د اسطورې د پراختیا لاملونه څه دي؟

او دې ته ورته ځینې کوچنۍ پوښتنې په کې ځواب شوې دي؟

## د څېړنې میتود

په دې څېړنه کې تر ډېره له تحلیلي، تشریحي، توضیحي او د اړتیا په صورت کې له انتقادي میتوده کار اخیستل شوی دی.

## د څېړنې اصلي متن

وړاندې تر دې چې په معاصر پښتو ادب کې د اسطورې پر پراختیا او زیاتېدا خبرې وکړم، اړینه بولم چې د اسطورې په اړه یو لنډ غوندې بحث وکړم، چې اسطوره څه شی دی او څنګه یې پښتو ادب ته لاره وکړه؟

## اسطوره

اسطوره له (اسطار، اسطاره، اسطیر، اسطیره، اسطور، اسطوره) څخه جوړه شوې ده.

"سیوطي" فکر کوي، چې اسطوره داسې د جمع نوم دی چې مفرد نه لري، خو ابو عبیده وایي چې اساطیر د اسطاره جمع ده، خو ادبي دایرة المعارف بیا اسطورې هغه خرافي یا نیمه خرافي افسانې او کیسې بولي، چې د مافوق الطبیعه ځواکونو په اړه رامنځ ته شوې او نسل په نسل را پاتې دي. (۱)

په دغو تعریفونو کې لکه څومره چې په کار دي هومره معلومات نه شو پیدا کولای او یا هم د اسطورې سمه پېژندنه ګرانو لوستونکو ته نه ورکوي، نو ځکه اړ یو چې لږ نور وړاندې هم لاړ شو او په اړه یې جوت تعریف پیدا کړو.

د آریانا دایرة المعارف پښتو ورژن د دوهم دور په لومړي ټوک کې لولو:

"اسطوره: په انګرېزي ژبه کې اسطورې ته Myth او اسطورو ته Mythos وايي. په عربي کې افسانه د اسطورې په معنا او مفهوم کاروي. په يوناني ژبه کې د Myth کلمه د Mythos څخه مشتق شوې ده. همدا رنګه په يوناني ژبه کې د افسانې کلمه د (ميتولوژي) په معنا او مفهوم راغلې ده، چې له دوو کلمو (ميتوس) او (لوګوس) نه جوړه شوې ده، چې په لومړي سر کې د هر ډول کيسې په معنا استعماليده، هومه روس دا کلمه د حکايت او سر ګذشت په معنا راوړې ده، پندار دا کلمه د ميلاد نه پنځه پېړۍ مخکې د سرګذشت او افسانې په معنا وکاروله.

ځينې فولکلور څېړونکي ميتولوژي د اسطورو ټولګه بولي او د علم الساطير په معنا يې کاروي. ميتولوژي (اسطورې) داسې يو ځانګړی نظام دی چې په اصل کې مذهبي رنګ لري، چې خارق العاده او د انسان د توان نه پورته پېښې او د نړۍ د پيدايښت په اړه رنګارنګ تصورونه، خيالونه او مفکورې لري. له دغو اسطورو نه د لرغوني انسان انګېرنه دا وه چې هغه د طبيعت، کائيناتو او په نړۍ کې د نورو پېښو د پيدايښت او رامنځ ته کېدو په لاملونو باندې نه پوهېد، هڅه يې دا وه چې د هغې زمانې د انسان د ژوندانه دا مرموز او پټ لاملونه په ګوته کړي." (۲)

په دې پېژندنه کې ګورو چې اسطورې دوې معناوې پيدا کړې، يعنې په مکتوبي ادبياتو کې هغو داستانونو ته ويل کېږي چې د انسان په ژوند کې پېښېږي، خو په فولکلور کې بيا هغو داستانونو ته ويل کېږي چې په وسيله يې د انسان پټ او مرموز لاملونه جوتېږي، خو ايا دغه پټ رموز چې د فولکلور په ژبه بيان شي هغه څومره حقيقت لري او ايا هغه داستانونه چې په مکتوبي ادبياتو کې بيانېږي هغه کوم دي او څنګه دي؟

له بده مرغه دا تعريف بيا هم د لوستونکو ټولې پوښتنې نه شي ځوابولای، ځکه اسطوره يوه داسې کلمه ده چې ډېر لږ نامسلکي کسان پرې پوهېږي او د دوی ټولو تمه دا ده چې په معنا يې ځان پوه کړي، نو په کار ده چې دا برخه لږه نوره هم واضح شي.

عبدالغفور لېوال په خپل کتاب کې کاږي: "اسطورې د فوق طبيعي ځواکونو او ارباب الانواعو په اړه هغه خرافي يا نيمه خرافي داستانونه دي، چې د روايت په بڼه له پرله پسې نسلونو څخه يو بل ته رالېږدي، اساطير د بشري وګړو د پهلوانيو له

کیسو او د پیریانو او ښاپیریو لـه کیسـو سره، چـې د ساتېرئ لپـاره جـوړېږي، تـوپیر لري. اسطورې له دینـي روایـاتو سره اړیکـې لـري او پـه یـو شـمېر ادیـانو کـې همـدا اسطورې تکرارېږي یا ردېږي.

د اسطورو یو غرض د نړۍ توضیح او بیان دی او جوړوونکي یې د طبیعي پېښـو لپاره شخصیت تـاکي. ائـوهمروس (څلورمـه مخزېـږدې پېـړۍ) اسـطورې د پخوانیـو موجودو قومونو له مبالغې ډکې کیسې ګڼلي" (۳)

په دې تعریف کې ګورو چې اوسنیو غوښتنو ته څه ناڅه ورنږدې کېـږو، پـه دې معنا موږ د اسطورو په اړه اورېدلي، چـې اسـطورې هغـه مـافوق الطبیعـي، خـرافي او خارق العاده پېښې یا کیسې دي، چې ډېر ځله د موجوده انسان له وسـې پورتـه وي او په هغې کې اکثره وخت کرکټرونه یا د پېښو اتـلان یـا نیمـه خـدایان وي او یـا هـم داسې انسانان چې د خدایانو ځانګړې پاملرنه ورته وي، چـې پـر همـدې خـاطر ډېـر ځله د موجوده حالاتو او پوښتنو ځـواب نـه شي ویـلای، خـو دا چـې انسـان یـو ډول یاغي هوس هم لري، نو ځکه غواړي چې د ذهني سکون او همداسې یاغي هـوس د اېلولو لپاره دا ډول داستانونه ونغوړي.

دا ښکاره خبره ده چې انسان په هر عصر کې داسې غوښتنې لـري، چـې هغـه له انساني وسې پورته وي، مثلاً په معاصره عصر یا اوسني پېر کـې هـم د انسـان یـوه غوښتنه دا ده چې لکه د خوب د نړۍ غوندې والوزي، بې شانه ځـواک او زور ولـري، بې خرته پیسې ولري او داسې نور، نو همدغو غوښتنو ته په کتلو سره په اوسـني پېـر کې ادبپوهان په پراخ مفهوم سره اسطوره د لرغونو انساني ټولنو او انسـانانو تـرمنځ د هغو وېرو، خوبونو، باورونو، وهمونو، خیالونو، غوښتنو او اړتیاوو حکایوي یا افسانه وي خبرې دي، چې د دوی له ربښتینې ژوند سره په یوې بڼې نـه یـوې بڼـې اړیکـه لـري، خو دا اړیکه کېدای شي کله کله حقیقت وي او کله کله هـم هـوس او ارمـان، یعنـې کله چې د ارمان او هوس خبره رامنځ ته کېږي، نـو بیـا خپلـه دې خـبرې تـه قـایلېږو چې اسطوره به له مبالغې، اغراق او غلو سره ملـه وي، تخـیلي موجـودات بـه پـه کـې وي، مافوق الطبیعي یا تر طبیعت پورته شیان، لکه پورته چې هم ورتـه نغوتـه وشـوه، لکه د انسانانو الوتل، بې حده ځواک لرل او داسـې نـور پـه کـې شـامل وي؛ خـو پـه داسې حالاتو کې پوښتنه پیدا کېږي چې دا ټول شیان له څه شي سرچینه اخـلي او

څنګه پیدا کېږي یا انسان ولې د داسې شیانو او غوښتنو هوس کوي؟

ادبپوهان وايي انسان په دوو حالاتو کې داسې غوښتنې یا ارمان کوي، یو دا چې د کوم ځا یا ناحیې له خوا نه زیانمن شي او دوهم دا چې بېلابېلې انساني غوښتنې، لکه وېره، رواني سکون، خپل روب داب پر خلکو اچول، په ټولنه کې بې حده نااندېولي او په لسګونو نور داسې لاملونه د دې باعث کېږي، چې انسان دا ډول غوښتنې په خپل وجود کې وروزي او پراخې یې کړي، چې ښه بېلګه یې زموږ پخواني یا لرغوني ادبیات دي.

البته دلته د یوې خبرې یادول اړین بولم او هغه دا چې د نړۍ د اکثرو هېوادونو لرغوني ادبیات له دې اړخه تقریباً سره ورته دي، په دې معنا موږ چې کله د یونان لرغوني ادبیات لولو، نو په کې ګورو چې د سیند خدای، د ښکلا خدایګڼه یا الهه، د لمر رب النوع، د سیند، کرنې، باد، باران او داسې نورو طبیعي اشیاوو او موجوداتو خدایګنې یا خدایان ګورو چې یا په ټوله معنا خارق العاده انسانان دي او یا هم نیمه انسانان، خو د خدایانو ځانګړې پاملرنه ورته شوې او مرګ یې اسانه، نه دی. همداسې مسئله زموږ په لرغونو فولکلوري ادبیاتو کې هم شته، مثلاً: د ادم خان د رباب ټنګ ته د کلي پېغلې نه ټینګېږي، د درخانۍ ښایست داسې وي چې ځوانان یې په لیدلو له هوشه وځي، د سېب خندان او انار ژړان په کیسو کې هم له خارق العاده مسایلو سره مخامخېږو، د فتح خان داستان هم همداسې در واخله، نو معنا دا چې انسان په معاصر پېر کې هم داسې غوښتنې لري، چې امکان یې نه یوائې اوس، بلکې تر دې هم په متمدنې ټولنې کې ناشونې برېښي، خو بیا هم پوښتنه دا ده چې ولې په معاصر پېر کې انسان داسې غوښتنې لري او څنګه کولای شي خپل ذهن له دومره پرمختګ سره سره بیا هم په دې مسایلو بوخت وساتي؟

د محمد اکبر کرګر په وینا انسان ته ستونزمنه ده چې له شعور او احساس څخه لرې پاتې شي او یا بې شعوره ژوند وکړي، ځکه انسان د بشریت د طبیعي پدیدو لپاره د انساني شخصیت په هستولو پیل کړی. بشر نه یوائې غرونه، دښتې، ځنګلونه، تېږې او بوټې په افسانو کې په خبرو راوستي، بلکې ورسره یې نړۍ د ښاپېریانو، دیوانو او هیولاوو څخه هم ډکه کړې ده او تر اوسه یې کوه قاف انګازې د خلکو په اذهانو کې اچولې، خو په دې ټولو مبارزو کې تر ډېره انسان بریالی او برتر

وي، یعنې ډېر کم د ځینو لاملونو له مخې نه وي بریالی شوی، نور اکثراً انسان ګټونکی وي.

خو په اوسني پېر کې ګورو چې انسان یو داسې طبیعت کې ژوند کوي چې ډېر ځله د جنګ جګړو له امله فکر کېږي چې انسان کوم خاص ارزښت نه لري او یا هم یو شو انسانان ډېر زیات د قدر، ځواک او ارزښت وړ دي، نو په داسې طبیعت کې چې د انسان پر موجودیت پروا نه کوي، د طبیعي موجوداتو، لکه ډبرې، بوټي او حیواناتو پر ځای چې د انسان لپاره ګټور یا زیانمن دي، نو ښه والي او بد والي ته یې قایل کېږي او نړۍ د اهورا او اهریمن د جګړې ډګر بولي.

په همداسې حالاتو کې اسطوره زېږي، انسان شعور پیدا کوي او له طبیعت نه جلا کېږي، انسان په اسطوره کې د خپل انسان کېدلو له تاریخ نه په ډېرو لرې لرغونو زمانو کې چې حتا د لیک لوست پته هم نه وه، اسطورې او افسانې ثبتوي او بیا یې په ترتیب سره له یوه نسل نه بل ته لېږدوي.

محمد اکبر کرګر زیاتوي، په تېره اوږده زمانه کې په هرې اندازې چې د انسان شعور او احساس وده وکړه، نو اسطورې هم ښاخونه او پنجې پیدا کړې، دې کې شک نه شته چې ټولې اسطورې د "خلقت له افسانې" څخه په بېلابېلو روایتونو سره پیل شوې دي او په تاریخي حماسه او واقعي تاریخ په استقامت کې یې وده او تکامل کړی دی.

د هرې فرهنګي حوزې اسطورې هغه څه دي چې انسان له طبیعت او حیواني نړۍ څخه جلا کوي، د تمدن پر لور خپله روښنایي او ځلا جوتوي، له اسطورې پرته هېڅ فرهنګ نه شي کولی موجود وي او له طبیعي سالم قوت پرته د خپل زوزاد ساتنه وکړي.

پر دې اساس اسطوره د انساني نړۍ لید شیره او شربت دی، د هغه ژوند ته رڼا او روښنایي ورکوي، انسان له اسطورې پرته بې ریښې او بې هویته دی، اسطوره د تخیل او تعقل ځواک ته لوری او بڼه ورکوي او انساني شخصیت ته فرهنګي هویت ورکوي، اسطوره داسې هویت پاڼه یا تذکره ده چې په هغې کې د بشریت د انسان کېدلو بهیر او شعور وده ثبت شوې ده. (۴)

خو د دې خبرو معنا دا هم نه ده چې زموږ معاصرې اسطورې دې هم خدایان

او خدایګنې ولري او موږ دې په اوس وخت کې هم په همدغو مسایلو عقیده ولرو، ځکه پورته یادونه وشوه چې له هر عصر ـ سره د اسطورې ښاخونه هم زیاتېږي او بدلېږي، یعنې نوې کېږي د هر پېر غوښتنې نوې او له اړتیا سره سمې وي، نو ځکه که د لرغونې یونان عقاید چې آن تر هومر، یوروپیدس او سوفوکل پورې کسانو ته یې هم د هغوی د شهکار اثارو د پنځولو له امله د خدایانو نظر کاوه، عقیده په پام کې ونیسو، نو دا بیا یو ښکاره عقیدوي، دیني او فرهنګي ټکر دی، چې زموږ په ټولنه کې اوس دا شیان یا انسان ته د خدای هومره ارزښت ورکول یا یې خدای ګڼل نه شته، خو په هند او ځینو نورو بت پرستو هېوادونو کې ښایي دا مسایل کفر لرونکي او پارونکي نه وي، خو په ټوله کې زموږ له غوښتنو سره سم پر ځای د دې چې اسطورې کمې شي زیاتې شوي او لا هم زېږي، چې د نورو سترو لاملونو ترڅنګ یې ښایي یو ستر لامل جګړې او جنګونه وي، چې پر لاملونو یې پورته خبرې وشوې.

د ادبپوهانو په وینا په اسطورې کې د جنګ جګړو ترڅنګ یو بل مهم لامل هم شته چې هغه د اسطورې استعارې دي، د اسطورې استعارې هغه څه دي چې زموږ په همدا اوسني ژوند کې هم بې درکه زیاتې دي، په دې معنا نامتو انګریز ژبپوه ماکس مولر وایي چې اسطورې د حقیقت د استعاره یي بیان لپاره جعل شوي دي. د نوموړي په وینا ژبه نه شي کولای چې د انسان تفکر او اندېشه په بشپړه توګه بیان کړي، ځکه خو له استعارو څخه مرسته غواړي او په دې توګه اسطورې رامنځ ته کوي. دی اسطورې ته د هغه سیوري په سترګه ګوري چې ژبه یې پر فکر غورځوي. (۵) او دا هغه خبره ده چې لا هم زموږ په ادب کې مخ په وده روانه ده، یعنې ډېرې داسې نوې تشبیه ګانې ګورو چې موږ ته خوند راکوي او هڅه کوو چې ډېره یې وکارو او لا هم همداسې نوې تشبیه ګانې پیدا کړو، خو که د تشبیه روح ته توجه وکړې، نو هغه به یو ډول اسطوره یې تشبیه وي، لکه، نفس له سپي، ښامار او شیطان سره تشبیه کول، بې عاطفي او نامهربانه انسانان له دیوانو سره، ځان او یا نور ښه انسانان سیمرغ سره، غني او سخي انسانان چې د ورکړې لمن یې پراخه وي راته د هما مارغان برېښي، ګران او نادرکه ملګری راته د انځر ګل وي، تاوجنې او کبرجنې زلفې راته ماران او داسې په لسګونو نورې نوې تشبیه ګانې هم کاروو چې دا ټول اسطوروي تشبیهات دي او په اوسنۍ شاعرۍ کې تر پخوا ډېرې لیدل

کېږي: لکه د درويش دراني په دې شعر کې چې لولو:

تـه د خپـل وطـن پـه شـتمنۍ بانـدې اغيـار سـاتې
وايـه چـې ترڅـو بـه پـه شـودو بانـدې ښـامار سـاتې
دا د پښـــو تڼاکـــه او دا اوښـــکه د ښـــو د سر
دا دواړه غمــي بــه روغ د ژونــد پــر لويــه لار ســاتې
پرېــږده د بېــدردو دنيــا پرېــږده چــې بېــدرده وي
ته به اې درويشه پر زړګي بانـدې پرهـار سـاتې (٦)

دلته ګورو چې د (وطن شـتمني، شـوده، ښـامار، دواړه غمـي، بېـدرده، پرهـار) ټول هغه اسطوروي تشبيهات دي چې دې شعر تـه يـې ځـانګړې ښـکلا ورکـړې او د انســان د اوســنيو غوښــتنو تــرجماني کــوي، خــو څنګــه پــوه شــو چــې دا ډول شــعر اسطوروي تشبيهات لري او نور اشعار يې نه لـري يـا څنګـه اسـطوره لـه نـا اسـطورې څخه جلا کړو؟

د دې پوښتنې په ځواب کې ادبپوهان وايي چې د اسطورې پـه پيدايښـت کـې دوه ډوله انساني او ناانسـاني اصـول موجـود دي، چـې د بــشر د ژونـد پـه پوهـاوي، تعاملاتو او ټولنيزو مسايلو کې پر اغېزمنتيا سربېره په هـنري پنځونـو او ښـکلاوو کـې هم بې اغېزې نه دي او همدغه هنري اغېزې موږ لاندې اصولو ته متوجـه کـوي چـې بايد په وسيله يې اسطوره يا اسطوروي مسايل له نا اسطوروي سره تفکيک کړو:

۱- په اسطوره کې د طبيعت د بېلابېلو حالاتو بيان کېږي او دا بيان تر ډېره لـه اغراق سره اغږل شوې وي، يعنې د واقع بين انسان پـه نظـر نـامعقول معلومـات هـم ورسره مله وي، خـو د پـام وړ ټکـی پـه کـې دا دی چـې اسـطوره د لرغـوني انسـان د طبيعت او حالاتو په اړه ليدلوري موږ ته وړاندې کوي او موږ هم ځينو حقايقو ته ځيـر کوي.

۲- اسطوروي شخصيتونه اکـثراً اربـاب الانـواع، الهـې او پهلوانـان وي، لکـه پـه لرغوني يونان کې آشيل، هيلن، افروډايټـې، هـرا، پـه لرغـونې آريانـا کـې اسـفنديار، رويين تن، سياووش او داسې نور.

۳- واحد شخصيتونه پـه بېلابېلـو او متعـددو اسـطورو کـې تکرارېـږي او د ژونـد داستان يې ادامه مومي، نو پر دې اساس ويلای شو چې د هر ملت د اسطورو ټولګـه

د یو ډول نظام او داخلي جوړښت اساسات دي چې د هغې ټولنې یو منسجم انځور او د ادراک پیاوړتیا څرگندوي. (۷)

خو ادبپوهان لاندې نورې خبرې هم د اسطورې او نااسطورې ترمنځ زیاتوي.

۴- اسطوره ستاسې د ذهن بشپړ تمثیل هم دی، یعنې که غواړئ چې له عادي انځور څخه پورته انځور ولرئ، نو خبره له حقیقته لرې پراخېږي او اسطوره یې کېږي، لکه د ارم ښاپېرۍ، د زړه بوغځه، هیولایي پنجې، د نظر غشي او داسې نور.

۵- اسطوره هغو باورونو ته وایي چې د یو مهال انسانانو پرې باور درلود او اوس یې هم ځینې خلک د اعتقادي ارزښتونو په توگه مني.

٦- اسطوره تل د یوه خلقت د روایت متضمنه ده، معنا دا چې اسطوره دا په ډاگه کوي چې څنگه یوه پېښه یا څه رامنځ ته کېږي، موجودیت پیدا کوي او خپله هستي پیل کوي او تر اوسه یې را رسولې ده، د دې پنځېدا بنسټ میتافزیکي ځواکونه دي، چې په ټولنه کې موجود دي. (۸)

د دغو ملاحظو او سپارښتنو په وسیله موږ کولای شو، چې اسطوره له نااسطورې څخه جلا کړو، خو په اسطوروي شعر کې بیا دا خبرې نورې هم پراخېږي، خو که په الفاظو کې یې همدا ډول مسئلې وې، نو اسطوروي شعر یا الفاظ دي.

البته پورته موږ یادونه وکړه چې اسطوره په کټ مټ معنا او پخوانۍ بڼه تر اوسه نه ده پاتې، بلکې هر پېر ځانته غوښتنې او ځانگې لري، په نننې پېر کې چې اسطوروي شعرونه، کیسې، فلمونه، داستانونه او دې ته ورته ژانرونه او صنفونه زیات شوي، نو د نوو غوښتنو په رڼا کې دي او موږ هېڅکله هم په کې پخواني کټ مټ اصول نه شو موندلای، لکه د درویش دراني په شعر کې مو چې نوې غوښتنې وموندې.

نو معنا دا ده چې اسطوره د هغې پېښې یا واقعاتو وینا ده چې له پخوانیو موږ ته را پاتې ده، خو دا چې دا پېښې څنگه دي او څنگه دې وي، پورته یې په اړه لږو ډېرې خبرې وشوې.

که خبره را ټوله کړو اوسني شاعران له اسطورې څخه په نوې بڼه یا د نوو غوښتنو په رڼا کې استفاده کوي، دوی غواړي چې له اسطوروي مشهورو څېرو او

پهلوانانو څخه د يوې پېښې په يادونه او ځرګندونه کې استفاده وکړي او هلته يې مېړانې وستايي، يعنې په همداسې پېښو کې يې د سېمبول په توګه وکاروي، نه يواځې خپل اتلان او اسطوروي شخصيتونه، بلکې د نورو ټولنو اسطوروي شخصيتونه هم د خپل شعر، موضوع او يا پېښې د بشپړاوي لپاره راوړي او نومونو څخه يې استفاده وکړي.

لکه څنګه چې معلومېږي د نړۍ د نورو ژبو په څېر د پښتو ژبې د شاعرانو برداشت هم له اسطورې څخه د سياسي او تاريخي ترځنګ ادبي او هنري دی، همدا د هنر او تخيل ځواک دی چې په هر زمان او هر پېر کې اسطوروي ادبياتو خپل رنګ او اغېز لرلی، يو مهال يې يو ډول شيان د سېمبول او ارزښت وړ ګڼلي او ادبيات يې په کې پنځولي او بل وخت يې نور شيان او نور ارزښتونه، نو پر دې اساس ويلای شو يا د ځينو ادبپوهانو په باور هغه مفاهيم چې شاعر يې په لټه کې دي او غواړي د اسطورې له لارې يې بيان کړي هغه د انسان فکري او فرهنګي معاني ده يا هم سياسي مفاهيم دي، چې شاعر يې نه غواړي او يا يې هم په مستقيم ډول د بيانېدلو ځواک نه لري؛ ځکه اسطوره کله ناکله ځېل شوې غوښتنې او تجسم شوې نفسانيات دي چې د کېدلو شونتيا يې نه وي او په حقيقت کې اسطوره يې ځايناستې شوې وي، نو ځکه مونږ وايو چې په معاصر پښتو ادب کې اسطوره په کافي اندازې شته او که وغواړو چې بېلګې يې راوړو، نو ښايي د لسګونو شاعرانو او ليکوالانو بېلګې راوړو، خو دا چې د موضوع لمن دومره پراخه نه ده، نو د مقالې د غځېدا د مخنيوي لپاره به د څو شاعرانو بېلګو ته متوجه شو چې اسطوروي شاعري له ورايه په کې ځان په فلسفي بڼه ښيي:

ملا ارزاني خويشکی وايي:

که هوا کا د بين ماته
ښه جنت به يې شي ماوا
پر د وبين شراب اوبه شه
بې خبر دې له هوا
دی ژوندی په دې هوا دی
له هوا دی بې پروا (۹)

په دې بیتونو کې د انسان خود شناسي گورو چې په ځومره لوی احترام ځان ته قایل دی او په ذهن کې یې یوه اسطوروي دنیا جوړه کړې ده، البته که دا بېتونه له تصوفي اړخه تشریح شي، ښايي د مقامونو پر اساس ورته جواز پیدا کړای شو، خو له اسطوروي اړخه جوته خبره ده چې انسان په خودۍ او ځان باورۍ یا لړ تر لړه ایډیال ژوند او شخصیت په اړه خبرې کوي، چې د اسطورې نړۍ ته پرې ورننوځي.

همدا راز د غزل د بابا په ځینو بېتونو کې هم اسطوروي اوچتې بېلگې گورو:

چـــې د درد پـــه اوبـــو عقـــل اودس وکـــا
سـهوه نشـته کـه بیـا مـونځ د عشـق ادا کـړي
مېلمســـتیا د زړه د غوښـــو کـــړم ښـــو تـــه
کـړي اغـزي رنگـین اودس، د گـل ثنـا کـړي
زه حمـــزه د چـــا د ســـوي زړه لـــوگی یـــم
چـــې فنـــا مـــې منزلونـــه تـــر بقـــا کـــړي (۱۰)

په دې بېتونو کې بیا هم انساني غوښتنې په ډېر اوچت او هنري ډول گورو چې د انسان خیالات بیانوي او په ورته وخت کې یې کلام ته اسطوروي رنگ هم ورکړی دی.

همدا راز که د پښتو ژبې سرلاري شاعر خوشحال بابا کلام ته متوجه شو، نو هغه دغه ډول ځرگندونې ډېرې زیاتې کړې، چې په لاندې توگه ورته اشاره کېږي:

صـورتگر چـې ښـه صـورت پـه دېـوال سـاز کـا
کـــل عـــالم یـــې پـــه صـــفت زبـــان دراز کـــا
د هغـــه نقـــاش پـــه صـــنع نظـــر نـــه کـــا
چـې لـه څـه څـاڅکي نـه دا نقـش و طـراز کـا
سـترگې، وروځـې، پـوزه نـور کېـږدي پـه مـخ کـې
غـــاښ و شـــونډې، ژبـــه، خولـــه سره پـــرداز کـــا
یـــو سر بـــل سر پـــه سر جـــوړ کـــا دوه غوږونـــه
چـــــې پـــــه دواړو اورېدنـــــه د اواز کـــــا
کـــه څـــوک زر کتابـــه وکښـــي لـــه دې بابـــه
که په کښل شي، زر بـه نـور پسـې آغـاز کـا (۱۱)

په دې بېتونو کې خوشحال بابا د انسان د زوکړې او هستۍ هغه انځور وړاندې کوي، چې نوموړي په خپل ذهن کې له ځان سره انځور کړی دی، دی وايي چې انسان له يو ځاځکي اوبو نه جوړېږي، خو دغه کثيفو اوبو ته خدای دومره لوی مقام او منزلت ورکوي، چې زموږ له وسې ډېره پورته خبره ده، خوشحال د دې ترځنګ چې د انسان پيدايښت کې د الله د ذات ټولې معجزې مني، خو ترڅنګ يې هغو لرغونو اسطورو ته هم نغوته کوي، چې په هغې کې به انسان يو ځاځکی اوبه ګڼل کېدلې او دا اوبه به په چينو کې پټې ساتل کېدلې چې د ديو، اهريمن، شيطان او يا هيولا ورته لاس ونه رسي او دا هستي له نيستۍ سره مخامخ نه کړي؛ نو ځکه له دې ټولو خبرو سره سره بيا هم فکر کوي، چې د انسان انځورګر يا صورتګر څنګه يوه داسې نقطه يا ځاځکی اوبه په داسې صورت سازوي چې کل عالم يې په صفت ژبان درازوي.

نو که له خوشحاله هم را تېر شو زموږ ډېرو شاعرانو اسطوروي شعرونه ويلي، چې د ټولو راوړل يې د دې مقالې له حوصلې نه وتلې خبره ده، خو دا چې په معاصر پېر کې اسطوروي بېلګې ولې زياتې دي ډېر لاملونه لري، چې ځينو ته يې په لنډيز سره اشاره کوم:

ادبپوهان وايي په ټوله کې اسطوره هغه کيسه ده چې له يوه نسل څخه بل ته لېږدي او زبادول يې ناشونی دی، چې رښتيا ده او يا هم دا چې جوړه شوې دې وي. افسانه، کيسه، نقل يا هم اسطوره يوه ټولګه، د يوې نقشې تشريحي بڼې ته هم وايي او نور...

يوه بېلګه يې ښايي د ميوند پېښه هم وي، په دې معنا موږ په دې باور لرو چې د ميوند په تاريخي جګړه کې (ملالې) بېرغ پورته کړ او د يوې لنډۍ په ويلو يې افغان مبارزين وهڅول، چې د انګرېزانو لښکرو ته ماته ورکړي. د دې کيسې تاريخي روايت هغه هم د اسنادو پر بنسټ (تاريخ) دی، خو که يو هنرمند، شاعر يا ليکوال را پاڅېږي او د ملالۍ له همدې تاريخي پېښې څخه د خپل هنر په مرسته يوه په زړه پورې کيسه جوړه کړي، چې لوړ ادبي ارزښت هم ولري، دا په حقيقت کې د ملالۍ اسطوره يې بيا هستونه ده، چې په دې هنري هڅه کې ميوندۍ ملاله په يوه

اسـطوره بـدلېږي. د اوسـمهالو د اسـطورو بيـا پنځـول همداسـې تـرسره کېـږي. پـه اوسـمهالو ادبيـاتو کـې د نړيوالـو، مـلي او آن فـردي (تخـيلي) اسـطورو بيـا را ژونـدى کـول او پـه نـوي ذهنــي- هـنري چاپېريـال کـې يـې لوبـول لـه ادبيـاتو سره د اروپاپـوهنې او فلسـفي افکـارو د نـږدې اړيکـو پـر ځمکـه يـو پـه زړه پـورې نوښـت دى، چې پښتو ادبياتو ته په شلمه پېړۍ کې را رسېدلى دى. (۱۲)

همدغو خبرو ته پـه کتلـو سره پـه اوسـنۍ شـاعرۍ او پـه ټولـه کـې پـه اوسـنيو ادبيـاتو کـې مـوږ د ډېـرو داسـې ځـانګړو اثـارو او مقـالو شـاهدان يـو، چـې سراسر اسطوروي ادبيات لري او د هنر په زور يې ادب ته لا ښکلا او ځلا ورکړې ده چې بـې له شکه نور ليکوال يې د پاللو او پراختيا هڅه کوي او تمه ده چې دا لړۍ همداسـې جاري پـاتې شي، ځکـه ادبيـات هلـه وده کـوي، چـې د زړو عقايـدو او چوکـاټونو پـه موجوديت کې نوي عقايد او چوکاټونه په کې وزېږي او وده وکړي او له نېکـه مرغـه دا لړۍ زموږ په ادب کې ګړنـدۍ روانـه ده، چـې د لانـدې بېلګـو پـه راوړلـو سره خپلـې خبرې را ټولوم:

صديق پسرلى وايي:

د خداى په هنرتون کې لـوى هـنر يمـه پـه خپلـه
هـم بـت يمـه پـه خپلـه، هـم بتګـر يمـه پـه خپلـه
د خپلـو خواهشـاتو لـه ولکـې بـه وځـم څنګـه
پـه ځـان پسـې وتلـى يـو لښـکر يمـه پـه خپلـه
دا سـپينې ربـې اوښـکې، دا سـاړه اسـويلي ګـوره
طوبـا يمــه پــه خپلــه او کــوثر يمــه پــه خپلــه
خطر مې هم له ځانه دى، ګوهر مې هم په زړه کـې
توفان يمه په خپلـه، سـمندر يمـه پـه خپلـه (۱۳)

عمر دراز مروت له نوي ديده بيا داسې اسطوروي ادبيات پنځوي:

لا يــې د ښايســت اورونـه ګـرم دي سـاړه نـه دي
څو چې مې وتلي يې د غم هندوان له زړه نه دي
ننګ دى که غېرت دى که پښتو کـه سـادګي ده سـتا
کــوم روايتونـــه دي د غـــره د پښـــتانه نـــه دي

ستـرگې کـه بانـه دي، اننگـي کـه رخسـارونه دي
حقه دې په تاسو وي دا ټول سرې خواره نه دي(۱۴)

او بالاخره فلسفي او په خپله وينا يې لېونی غني بيا داسې وايي:

دې گوگل کې مې دننه
هم دينا ده هم قيامت
دا هم لاره هم کاروان دی
هم تدبير دی هم قسمت
پروت په دې کې ټول داستان دی
د جزا او د سزا (۱۵)

## پايله

د پايلې په توگه ويلای شو لکه څنگه چـې اسـطوره پـه هـر عصر۔ کـې بېلابېـل تعريفونـه او غوښـتنې لـري همداسـې پـه معـاصر عصر۔ کـې هـم د هـرې موضـوع او غوښتنې لپاره ځواب وايي، خو معنا يې دا نه ده چې په معـاصر ادب کـې دې هـم د پيريانو، ښاپيريانو، ديوانو او خارق العـاده يـا مـافوق الطبيعـي موجوداتـو لپـاره وقـف شوی وي او د همدغو موضوعاتو په اړه دې بحث وکړي، بلکـې پـه معـاصر عصر۔ کـې لکه پورته چې هم نغوته وشوه د هنر، تخيل او عاطفې پـه زور يـې د ميونـدی ملالـې ټپه هم اسطوره کړې ده او بايلودې جگړه يې پرې گټلـې او دا د اسـطورې يـوه دنـده هم ده، ځکه اسطوره معمولاً هغو کارونو لپاره رامنځ ته يا ايجادېږي، چې معمولاً هغه خارق العاده او له اغراقه ډک وي، د ساري په ډول مور د حضرت علي (رض) پـه اړه په دينو متونو کې گورو چې هغه له ونې ټيټ انسـان و، خـو پـه اسـطوروي شـکل بيـا کټ مټ د دې خـبرې خـلاف شـاهدان يـو، پـه دې معنـا د افغانسـتان د باميـانو پـه ولايت کې د امير بند يا بند امير په نامه بند ډېر مشهور دی، چې ښې يخـې، تـازه او زياتې اوبه لري او دا بند به تل د اوبو د زياتېدلو له امله نړېده، لکه څنگه چې تـاريخ شاهدي ورکوي افغانستان په پخوا زمانو کې دومـره امکانـات نـه لـرل چـې د داسـې بندونو مخه پرې ډب کړي، ځکه د دې سيمې اوبه لکه د نورو دريابونو په څېر پـه يـو موسم کې کمې، بل کې مناسبې او بل که زياتې وي او چې کله بـه هـم د اميـر بنـد اوبه زياتې شـوې، نـو د زيـاتون لـه املـه بـه يـې بنـد لـه ځـان سره يـوړ، خـو مـوږ پـه

اسطوروي شکل اورو، چې حضرت علي (رض) چې کله دې سيمې ته راغی او دا بند يې وليد چې نړيدلی او خلکو ته يې مالي زيانونه اړولي، نو سم له واره يې خپل ذوالفقار پر ځمکه کېښود او لسټوني يې را بډ وهل، ترڅو چې ورته د چا پام کېده نوموړي ټول بند تړلی و، چې تر اوسه پورې همداسې تړلی پاتې دی او د دوی په اصطلاح گفتي دی تر ننه په عادي تړل شوي شکل نه ړنېږي.

اسطوروي داستانونه دا هم زياتوي چې کله حضرت علي دغو اوبو ته گډ شو، نو دا اوبه يې د پښې تر بنده پورې وې او نوموړی په کې ډېر عادي ولاړ و، په داسې حال کې چې زموږ ديني روايات بل څه وايي او عقل ته هم دا خبره چندانې د منلو وړ نه ده، نو ځکه وايو چې اسطوروي ادبيات له اغراق، غلو او مبالغې څخه هم ډک وي، خو د هر عصر له غوښتنو سره سم.

## مأخذونه


۱- عبدالغفور لېوال، په ادبياتو کې د اسطورې ځېړنه، د افغانستان د علومو اکاډمي، د اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست، شمشاد هاشمي مطبعه: کابل، ۱۳۹٦ لمريز کال، ۱۸ مخ.

۲- آريانا دايرة المعارف، پښتو ورژن، دوهمه دوره، لومړی ټوک، د افغانستان د علومو اکاډمي، د دايرة المعارف رياست، نبراسکا مطبعه: کابل، ۱۳۸٦ لمريز کال، ۳۷۸ مخ.

۳- عبدالغفور لېوال، په ادبياتو کې د اسطورې ځېړنه، ۲۰ مخ.

۴- محمداکبر کرگر، کيسه، تېرمهال او ټولنيز ناخوداگاه، هاشمي خپرندويه ټولنه: ننگرهار، ۱۳۹٦ لمريز کال، ۷٦- ۷۷ مخونه.

۵- غلام حسين مصاحب، دايرة المعارف فارسي، چاپ پنجم، جلد اول، انتشارات امير کبير: تهران، ۱۳۸۷ لمريز کال، ۱۱۷ مخ.

٦- درويش دراني، په کاڼي کې هنداره، دوهم چاپ، صحاف نشراتي موسسه، اکرم پرېس: لاهور، ۲۰۰٦ م کال، ۲۳ مخ.

۷- ډاکټر عبدالقيوم قويم، اسطوره در شعر معاصر دری، خراسان مجله، د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبياتو مرکز، دوره سوم، سال دهم، جوزا- سرطان: کابل، ۱۳۹۱ ل کال، ۲-۳ مخونه.

۸- ډاکټر سیروس شمیسا، نقد ادبي، درېم چاپ، د میترا چاپ: تهران، ۱۳۸۸ لمریز کال، ۲۷۰ مخ.

۹- ارزاني خویشکی، د ارزاني خویشکي کلیات، سمونه او څېړنه د ډاکټر پروېز مهجور خوېشکي، پښتو اکېډېمي، پېښور یونیورسټي، جدون پرنټنګ پرېس: پېښور، ۲۰۰۵ م کال، ۲۲٦ مخ.

۱۰- حمزه شینواری، د حمزه شینواري کلیات، (دوهم ټوک) سریزه، څېړنه، اوډون او وییپانګه د محمد آصف صمیم، د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت، مطبعه طباعتي و صنعتي احمد: کابل، ۱۳۸۷ لمریز کال، ۱۰۳۰ مخ.

۱۱- خوشال خان خټک، د خوشحال خان خټک کلیات، د عبدالقیوم زاهد مشوانې په زیار، دوهم چاپ، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور: ۱۳۸۷ لمریز کال، ۱ مخ.

۱۲- عبدالغفور لېوال، په ادبیاتو کې د اسطورې څېړنه، ۱۴۱- ۱۴۲ مخونه.

۱۳- محمد صدیق پسرلی، غزل بڼ، د میدان وردګو ولایت، افغان مسلکي مطبعه: کابل، ۱۳۹۰ لمریز کال، ۱۲٦۸ مخ.

۱۴- عمر دراز مروت، د حالاتو په تورتم کې، دانش خپرندویه ټولنه: پېښور، ۱۳۸۸ لمریز کال، ٦۰ مخ.

۱۵- عبدالغني خان غني، د غني کلیات، د قومونو او قبایلو چارو وزارت: کابل، ۱۳٦۴ لمریز کال، ۴۸۷ مخ.

پوهیالی محمدصدیق

# په پښتو شعر کې نوې کره کتنې

## لنډیز

لکه څنګه چې پښتو ادبیات په ټوله کې په درې دورو بانـدې وېشـل کېـږي همداسې، درېمه دوره هم پر پړاوونو وېشـل کېـږي، چـې هـر پـړاو ځانتـه د سـیاسي منطق ترڅنګ ادبي منطق هم لري او تر ډېره قانع کوونکي ځکه دي چې ډېرو لـوی ادبیان پرې په یوه خوله شوې دي.

نو کله چې په پښتو شعر کې د نوې کره کتنې بحث رامنځ ته کېږي، دا مسـئله حل ده چې ولې نوې کره کتنه، ځکه هر دور یا پړاو ځانته غوښـتنې او اړتیـاوې لـري او شاعر اړ دی چې د اړتیاوو او ولس د غوښتنو په پام کې نیولو سره شاعري وکړي.

په دې مقاله کې په همدغې نوې شاعرۍ کې د نوې کره کتنـې ارونـه وړانـدې شوي، چې باید څنګه وي.

## سریزه

د ادبیاتو د درېمې دورې شاعري له ډېرو خوبیو او رنګارنګیو څخه مالامـال ده، په دې دوره کې موږ د ادبیاتو لورى هم ګورو چې ثابت او یو ډول نه دی، د هر عصر- او هرې واکمنۍ له غوښتنو سره سـم یـې لـورى بـدل شـوی دی چـې دغـه بـدلون د ژبانونو ترڅنګ ډېرې ګټې هم لرلې.

د ساري په ډول موږ د پښتو په نظم او نثر کې په خورا زیـات ډول نـوي ژانرونـه ګورو چې په همدې عصر کـې پیـدا شـوي او اوس دومـره پښـتو شـوي چـې لـه بلـې ټولنې څخه د راغلو ژانرونو ګومان هم پرې نه کېږي.

همدا راز پر جولیزې بڼې سربېره یې منځپانګیزې بڼې هم دومره بدلون کړی، چې مه یې کوه پوښتنه، یعنې د ولس غوښتنې او اړتیاوې یې په پام کې نیولي او ډېر ځله یې د ولس اواز په دومره صراحت او خلاصې مرۍ اوچت کړی، چې آن مسوول کسان یې هم ډار کړي او یو کار کولو ته یې اړ ایستي دي، خو دا چې ځینې وخت یا افراط شوی او یا هم ترې ناسمه ګټنه شوې هغه جلا بحث دی، خو ادیبانو بیا هم خپل مسوولیت هېر کړی نه دی او دا چاره یې په منظمه توګه ترسره کړې ده.

دا چې د پښتو شعر منځپانګه نوې شوې، نو د تللو چوکاټونه یې هم باید نوي شي، چې په دې مقاله کې همدا مسایل بیان شوي او تر وسې وسې پرې بحث شوی، هیله ده زموږ څېړونکي او لارویان دې برخې ته توجه زیاته کړي او دا مزل پسې وغځوي.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

د دې څېړنې اهمیت او مبرمیت په دې کې دی چې د پښتو شعر د کره کتنې نوي ارونه موږ ته په ګوته کوي چې کوم دي، ځکه د نړۍ په ټولو ژبو کې معیارونه د ژانرونو لپاره پیدا کېږي، نه ژانرونه د معیارونو لپاره، خو موږ ډېر ځله له دغې قاعدې سره ځان نه جوړو، په دې مقاله کې دا بحث په واضح توګه بیان شوی دی.

## د څېړنې موخه

د دې څېړنې موخه په دې کې ده چې کره کتنه له نوې دیده کتل شوې او بیا په شعرونو کې تطبیق شوې، بله مهمه مسئله په کې شاعري ده، پخوا شاعري د چوکاټونو لپاره کېدله، خو اوس شاعري د منځپانګې او ولس لپاره کېږي، له زړه پاڅي او پر زړه کښېني، نو ځکه یې هغه قالبونه مات کړي او پر همدې اساس نوي اصول ورته وضع کول په کار دي.

## د څېړنې پوښتنې

په دې څېړنه کې تر ډېره لاندې پوښتنې په منطقي توګه ځواب شوې دي:

- ✓ شعر څه شی دی؟
- ✓ کره کتنه څه شی دی؟
- ✓ د کره کتنې نوې غوښتنې کومې دي؟

✓ د کوم شیان په کره کتنې کې اړین دي او کوم شخصي مسایل دي؟
او دې ته ورته ځینې کوچنې پوښتنې هم په کې ځواب شوې دي.

## د څېړنې میتود

په دې څېړنه کې تر ډېره له تشریحي، توضیحي او تحلیلي میتود څخه استفاده شوې او د اړتیا په صورت کې انتقادي میتود هم په کې راغلی دی.

## اصلي متن

هر ژیړونکی چې پر یوې موضوع باندې کار کوي، نو خامخا به یوه موخه لري. د موخې د حاصلولو لپاره اړینه ده چې انسان د مشخص میتود په ټاکلو سره په کار پیل وکړي. کله چې انسان د موخې پر لور حرکت کوي، نو د هغه کار او زیار په پایله کې د مادي او ذهني تولید د رامنځ ته کیدو لامل ګرځي. څرنګه چې موخه لرونکی کار په وجود راوړي او تولید په ټولنه کې په خپله د یوې اړتیا په اساس رامنځ ته کیږي. د یوې ټولنیزې پدیدې ارزښت د زمانې د ضرورت او د چاپیریال د شرایطو په پام کې نیولو سره سم ټاکل کیدای شي. ارزښتونه او معیارونه په ادبیاتو کې مطلق او ابدي نه شي کیدای د هر چاپیریال او زمانې هنري تخلیق او ایجاد د بلې زمانې او چاپیریال له ایجاد او تخلیق سره توپیر لري.

په تېرو زمانو کې د ادبي اثارو کره کتنه تر ډېره حده د بلاغت د اصولو پر بنسټ وه. بلیغ کلام هغه دی چې پر اورېدونکي باندې اغېزه پرېباسي او د اثر اچولو لپاره اړینه بلل شوې وه چې کلام د اورېدونکي یا لوستونکي د حال مطابق وي. د بېلګې په توګه، هغه لیکنه چې په دېرش کلن ځوان اثر کوي په لس کلن هلک یې شاید ونه کړي یا د غمرازۍ ژبه بېله او د مبارکۍ بېله په کار ده.

د دې لپاره چې یو کلام پر مخاطب باندې اغېزه واچوي دا هم اړینه ده چې کلمې یې سمې وي. د بېلګې په توګه کلمې دې د جملې په هغه ځای کې راغلې وي چې د ژبې د ګرامر غوښتنه ده، ویل یې اسانه وي چې ژبه ورسره په ستونزمنه نه شي او نا اشنا دې نه وي چې په معنا یې پوه شو. دغسې کلمې فصیح ګڼو او هر هغه کلام چې هم له فصیحو کلمو رغېدلې وي او هم په نورو باندې اغېزه اچولای شي، بلیغې بلل شوې دي.

پخوانو د کلام د اغېزناک والي لپاره ځینې طریقې او تخنیکونه موندلې دي

چې په بدیع، بیان او معاني کې یې مطالعه کوو. زموږ پخوانو د ښه شعر د معلوملو لپاره په دغو تخنیکونو او جوړښتونو ډېره تکیه کوله. د دوی لپاره شعر هغه کلام و چې وزن او قافیه یې لرله او ښه شعر هغه و چې بدیع، بیان او معاني ته په کې پام شوی و.

دولت شاه سمرقندي په تذکرة الشعرا کې (نهمه هجري پېړۍ) په امیرخسرو دهلوي نیوکه کوي چې شعر یې تصنع نه لري او بدیعي صنایعو ته یې توجه نه ده کړې.

د بلاغي پوهو د درې گونو څانگو (بدیع، بیان او معاني) پر اساس د شعر کره کتنه تر اوسه پورې زموږ د کره کتنې اصلي جریان دی.

په دې کې شک نه شته چې بلاغي علوم د کره کتنې لپاره ډېر مهم دي، مگر زموږ د بلاغي نقد یو عیب دا دی چې اکثره مهال په همدغو دریو څانگو کې له پخوا راهیسې موجودو نیمگړتیاوو ته انتقادي نظر نه کوو او بس په دې پسې گرځو چې د پلاني شاعر په شعر کې پلانی جوړښت هم شته. ایا دا جوړښت (صنعت) په رښتیا د ښکلا په پیدا کولو کې برخه لري او که هسې په پخوانو کتابونو کې راغلي او موږ په پټو سترگو منلي دي؟

د دري ژبو ښوونځیو د لسم ټولگي په پښتو کې د بدیع د المربع صنعت په باره کې لولو:

هغه نظم یا شعر ته وایي چې یو شاعر یوه رباعي داسې راوړي چې عمودي او افقي یو ډول ولوستل شي.

د یار له غمه په زړه افگار یم
له غمه څه وایم دردمند یم خوار یم
په زړه دردمند یم هر گوره بیمار یم
افگار یم خوار یم بیمار یم زار یم

پورتنی شعر عمودي او افقي یو شان لوستل کېږي.

منظور دا دی چې د لومړۍ مصرعې (د یار) د دوهمې مصرعې (له غمه)، د دریمې مصرعې (په زړه) او د څلورمې مصرعې (افگار یم) که سره یو ځای کړو، لومړۍ مصرعه ورنه جوړېږي. د نورو مصرعو کلمات هم په دې طریقه مونډلای شو.

له پخوانو سره وخت زيات و او په ورځني ژوند کې يې د تعجب کولو لپاره ډېر څه نه موندل. دوی به شايد د المربع له لوستلو خوند اخيستی وي، خو دا لذت له هنري او ادبي ښکلا سره تعلق نه لري. موږ چې په يوويشتمه پېړۍ کې هم پخواني بديعي درسونه د کاڼي کرښې گڼو، د افسوس خبره ده. په پخوانيو بديعي کتابونو کې دا هم يو جوړښت دی چې شعر دې له بې ټکيو کلمو جوړ وي. دا بيا بل جوړښت (صنعت) دی چې کلام دې له بې الفه کلمو رغېدلی وي.

زموږ د بلاغي کره کتنې بل عيب دا دی چې په شعر کې هر صنعت يا هر جز ته جلا جلاگورو خو د شعر د ټولو اجزاوو ترمنځ پيوستون او واحد وجود ته ځانگړی پام نه کوو. مثلاً دې ته به گورو چې قافيه يې د قافيې د فن مطابق ده او که نه، خو دې ته به نه گورو چې دغه ډول قافيه د شعر له ټولې موسيقي سره څومره سمون خوري او د شعر ټوله موسيقي د معنا په رسولو کې څومره برخه لري؟

د دې ډول کره کتنې يو عيب دا هم دی چې د ژوند د هغې تجربې په برخه کې ډېر څه نه وايي چې دغه صنعتونه يې د بيانولو لپاره په کارېږي. ايا شاعر په رښتيا د ژوند يوه تجربه او معنا راښيي، که خبره يې هسې د جوړښت (صنعت) د استعمال لپاره کړې ده. د المربع په مثال کې صنعت و او کلمې يې طبعاً بې معنا نه وې، مگر په اسانه پوهېږو چې دغه کلمې د صنعت د راوړلو لپاره کتار شوې وې، نه د ژوند د تجربې د بيان لپاره.

موږ د دې وروستۍ نيمگړتيا د پوره کولو لپاره يو بل ډول کره کتنه لرو چې اخلاقي کره کتنه يې بولو. دغه ډول کره کتنه د بلاغي هغې غوندې د پخواني يونان او روم له زمانې راروانه ده. افلاطون ته معمولاً د اخلاقي کره کتنې د سرلاري په سترگه کتل کېږي.

دغه کره کتنه ادبي اثارو ته تر ډېره حده له دې نظره گوري چې اخلاقي ارزښتونو ته يې څومره خدمت کړی دی. د بېلگې په توگه دا خبره به مهمه گڼل کېږي چې شاعر د سخاوت، صداقت يا عفوې ستاينه او د دروغو، غيبت يا بخل غندنه کړې وي.

په دې کې شک نه شته چې شعر د اخلاقي فضايلو د رواجولو لپاره ډېر خدمت کړی دی او د انگرېز شاعر شيلي (په ۱۸۲۲ کې مړ) دا خبره له حقيقته

خالي نه ده چې د اخلاقو بنیاد واعظانو نه، بلکې شاعرانو ایښی دی، خو له دې خدمته به دا نتیجه نه اخلو چې دواړه دې په یوه تله کې وتلل شي.

زموږ په اخلاقي کره کتنه کې ډېر ځله دې ته نه دي کتل شوي چې اخلاقي درس یې وچ په وچه وړاندې کړی دی او که د هنر په جامه کې؟

له بلې خوا زموږ په اخلاقي کره کتنه کې د اخلاقو د مفهوم نسبیت ته چندان توجه نه کېږي. هغه خبره چې دوه سوه کاله مخکې عیب ګڼل کېده، اوس به عیب نه وي او برعکس. کاظم خان شیدا ډېر اخلاقي انسان دی مګر په دېوان کې یې شیعه وو ته په بده سترګه کتل شوي دي او له مزدورانو او لاس لاندې کسانو سره د شدت توصیه کوي.

اوسنی شاعر که دغسې افکار ولري، سختې نیوکې به ورباندې وشي خو د شیدا په زمانه کې د هغه د اخلاقي نظریې دا رنګه کمزورۍ د زغمولو وړ وې.

په پخوا زمانو کې چې د پرمختللې ټکنالوژي نشتوالي د دنیا خلک د اوس هومره سره غوټه کړي نه وو او د ولسونو ارتباط خورا کم و، مذهبي یا قومي نفرتونو ډېر جنجال نه جوړاوه. دغه راز په تېره زمانه کې دا عامه نظریه وه چې لاسبري کسان د شدت حق لري او بلکې شدت ورته په کار دی. شیدا وایي:

نرم چــوب وي همېشه غذا د کرم
شیدا مه شه مرد خالي له سیاسته

د وخت په تېرېدو سره د ټولنې نظرونه، غوښتنې او اړتیاوې بدلېږي. په تېره زمانه کې چې د وړي د مړولو لپاره مختلفې لارې نه وې، د وګړي د سخاوت ستاینو ته ډېر ضرورت و، خو اوس د ټولنې له نظامه غوښتنه کېږي چې وګړو ته کار پیدا کړي او مهارتونه ورزده کړي او که څوک له لوږې مري، په ټولنه یې حق دی چې ویې ژغوري. دغو تغییراتو د وګړي د سخاوت اهمیت کم کړی او ماهیت یې ور بدل کړی دی.

هغه کره کتنه چې د شعر پیغام ته اهمیت ورکوي، نور ډولونه هم لري. په شلمه پیړۍ کې د مارکسي نقد تر اغېزې لاندې ځینو کسانو شعرونو ته له طبقاتي نظره او د طبقاتي مبارزې له عینکو وکتل. ځینو نورو هم د شعر اهمیت د هغه له اجتماعي پیغامونو سره غوټه کړ.

زموږ په ادبي کړیو کې په شلمه پیړۍ کې دا فکر ډېر عام و چې شعر د ټولنې هینداره ده او په دې خبره چندان غور ونه شو چې د شعر په ماهیت کې خو خیال او مبالغه شامل دي او که دا هینداره وي، نو تاریخ، ټولنپوهنه او نور علوم به څه بولو؟

په نولسمه پیړۍ کې په اروپا کې د رومانتیزم پیروانو وویل چې هره زمانه خپلې تقاضاوې لري، موږ څه مجبوریت لرو چې د روم او یونان د اصولو رسۍ په غاړو وګرځوو؟

همدا وجه وه چې د رومانتیک مکتب په نقد کې د شاعر او لیکوال د خپلې زمانې مطالعې ته توجه ډېره شوه. له بلې خوا په نولسمه پېړۍ کې ساینسي۔ علومو چټکه وده کوله، ساینس پوهانو به د طبیعي پېښو د علتونو موندلو ته ډېر اهمیت ورکاوه. ادبپوهانو د هغوی په پیروۍ د شعر عامل، یعنې شاعر (د شاعر ژوند او شخصیت) ته توجه ډېره کړه. موږ د اروپا له پرمختګونو په شلمه پېړۍ کې خبر شوو او د شلمې پېړۍ په ادبي څېړنو او نقد کې مو د شاعر د ژوند او زمانې مطالعې ته زیات پام وکړ. زما په نظر زموږ دغه ډول کره کتنه ځینې عیبونه لري:

یو دا چې زموږ په دغسې اکثرو نقدونو کې هنري او ادبي مقصد هېر شي او لیکنه د هغې زمانې په تاریخ بدله شي. د روښانیانو ا و درویزه یانو په باره کې یا د خوشحال خټک په باره کې زموږ اکثره لیکنې له ادبي تحقیقاتو سره لږې او له عمومي تاریخ سره زیاتې مربوطې دي.

بله دا چې د شاعر د ژوند او د هغه د زمانې ځینو محدودو اړخونو ته ګورو. مثلاً دا راته مهمه وي چې د شاعر د زوکړې او مړینې نېټې معلومې کړو، د هغه قبیله، شجره او اولاد وپېژنو، د هغه د زمانې د واکمنو نومونه واخلو او که پیر لري د پیر ذکر یې وکړو، مګر د خپلو پخوانو شاعرانو د وخت د پسولونو، لباسونو، خوراکونو، اجتماعي ادابو، دودونو، ارزښتونو، طبقاتي روابطو یا مثلاً تعلیمي نظام له مطالعې سره مو خاصه دلچسپي نه ده ښودلې.

د مجرم د کورنۍ غړو، د قام قبیلې کسانو، کلیوالو او نورو شاوخوا وګړو ته سزا ورکول، په تېرو زمانو کې عام وو. موږ که له دغه پخواني رواجه خبر ونه واوسو، د رحمان بابا د بیت دا دوهم مثال به نااشنا غوندې راښکاره شي او زړه ته مو پرې نه

وځي:

درست صورت د یوه نوک په درد درمن شي
وران شـــــي شهر د یوه ســــــــړي په تور

د شاعر د ژوند او شخصیت د مطالعې لپاره له ځینو نورو پوهنو مثلاً ارواپـوهنې یا سبک پوهنې ښه استفاده کېدای شي چې موږ دې اړخ ته لازمه توجه نه ده کړې. یو شاعر که یو اخلاقي صفت یادوي دا ضرور نه ده چې دی دې همدا صـفت ولـري، ارواپوهان وايي چې یو څوک ممکن هغه څه ډېر یاد کړي چې نه یې لري.

دا جمله مشهوره ده چې سبک یعنې شخصیت. د یـو شـاعر لـه خپـل انفـرادي سبک سره ښه بلدتیا مو ممکن د هغه زړه ته ورکوز کړي او د هغه د شخصیت په پټـو رازونو مو خبر کړي. په سبک پیژندنه کې د سم مـتن پـه برابرولـو کـې هـم ډېـره ښـه استفاده کېدای شي. څو کاله پخوا مـا د رحـمان بابـا د سـبک پـه بـاره کـې مطالعـه کوله. هغه وخت مې په دې یقین راغی چې کـه د رحـمان بابـا سـبک ښـه وپیژنـو، د رحمان بابا په دیوان کې به د هغو غزلونو د شاملولو یا نه شاملولو پـه اړه پرېکـړه راتـه خورا اسانه شي چې په بابا پورې انتساب ته یې د شک په سترگه گورو.

ځینې کسان شاید ووایي چې د شاعر د ژوند او زمانې په بـاره کـې معلومـات د هغه د وخت د سیاسي، اجتماعي او اقتصادي تاریخ د لیکلو لپاره پـه کـارېږي، نـه د هغه د شعر د هنري ارزښت د معلومولو لپاره، خو دا نظر سـم ځکـه نـه دی چـې کـه موږ یوه زمانه ونه پیژنو د هغې زمانې د ادبیاتو سمه پیژندنه راته مشکله کېږي او کلـه چې یو متن سم نه پیژنو قضاوت هم وربارندې سم نه شو کولای.

د متن تصحیح زموږ د تنقیدي کار یو بل اړخ دی.  پخـوا چـې مطبعـې نـه وې، په لاس لیکل شوي اثار به څو کاله وروسته وشرېدل او بیـا لیکلـو تـه بـه یـې ضرورت پیدا شو. دغه بیـا لیکنـه بـه کاتـب کولـه او  د کاتـب د سـواد کچـه، دقـت، حوصـله، لهجه، ذوق او نظریات هغه عوامل وو چې د متن د پخوانۍ بڼې په ساتل کېدو یا نـه ساتل کېدو یې اثر درلود. معمولاً به هر متن په هر ځل لیکلو کـې یـو څـه بدلېـده. د متن پیژندونکو لوی مقصد دا دی چې  داسې متن برابر کـړي چـې  تـر وسـه وسـه د شاعر د کلام اصلي بڼې ته ورته وي.

د خوشحال خټک دا بیت مشهور دی:

په سوات کې دی دوه ځيزه که خفي دي که جلي
مخــــزن د درويزه دی او دفـــــتر د شـــيخ ملي

د قلمي نسخو د ځينو پوهانو په قول د دغه بيت د (ځيـز) پـر ځـای پـه قلمـي نسخو کې (کفر) راغلی دی، خو څرنګه چې استاد دوست محمد خان کامل مرحـوم د ډېرې کلکې عقيـدې خښـتن و، د شـيخ مـلي د دفتر او د اخـون درويـزه د مخـزن الاسلام لپاره يې د (کفر) کلمه مناسبه ونه بلله، په (ځيز) يې واړوله او اوس دغه بيت په اړولې بڼه مشهور شوی دی. کامل مرحوم په شلمه پيړۍ کې د پښتو متن پـوهنې تر ګردو دقيق او امين استاد بللای شو، خـو ان د هغـه غونـدې کـس هـم ممکـن پـه متن کې تصرف وکـړي. نـو پخوانـو کاتبـانو او د مـتن غيرمسـلکي تـدوين کوونکـو بـه څومره تصـرفات کړي وي!

د استاد کامل او څـو نـورو ګوتـه پـه شـمار مـتن پوهـانو پـه لاس لـه تهيـه شـوو متنونو پرته زموږ اکثره چاپ شوي کتابونه له بلا شمېر تېروتنو ډک دي.

البته د متن تصحيح يواځې له قلمي نسخو سره تعلق نه لـري، زمـوږ د چـاپ د زمانې اکثره کتابونه هم ګڼې تېروتنې لري چې په کار ده ځوان متن پيژنـدونکي دې اړخ ته پام واړوي او په تېره بيا د مهمو اثارو د سم متن تهيه کولو ته وخت ورکـړي. د ادبپوهنځي محصلانو ته د چـاپ شـوو متنونـو ورکـول او د متنپـوه اسـتاد تـر څـارنې لاندې د هغو د سمون چارې ورسپارل به څو اړخيزې ګټې ولري.

هغه کسان چـې د متنونـو پـه تصـحيح بوخـت دي، پـه حقيقـت کـې نـورو کـره کتونکو ته د سمې ارزونې لار پرانيزي. زمـوږ اکـثره متنونـه د ګڼـو تېروتنـو پـه وجـه د نقادانو د کار مخه نيسي.

زموږ د شعر د اوسنۍ کره کتنې پر دغو اصلي جريانونو سربېره د نقـد لـه ځينـو نورو ډولونو مثلاً له فورماليزم، نوې کره کتنې New Criticism (چې اوس نو په دنيا کې نوې نه ده او پنځوس، شپېته کاله پخوا يې د ځـوانۍ وختونـه وو)، اروا پـوهنيزې کره کتنې، مارکسي کره کتنې او اسطوره يـي کـره کتنـه هـم يـو څـه او اکـثره وخـت نيمګړې استفاده شوې ده، خو د اوسنۍ زمانې د کـره کتنـه لـه ځينـو نـورو مشـهورو نظرو مو نه يواځې عملي استفاده نه ده پيل کـړې بلکـې د هغـو پـه بـاره کـې نظـري معلومات هم زموږ په ژبه کې په نشت حسـاب دي. د سـټرکچرليزم، فمنيـزم، پوسـت

مډرنیزم، نوې تاریخولي **New Historicism**، هیرمنوتیک او نورو نظریو معرفي او په کره کتنه کې ورنه استفاده به زموږ په ټولنه کې فکر، فرهنګ او ادبیات د پرمختګ نوي پړاو ته داخل کړي.

## پایله

د پایلې په توګه ویلای شو، چې د یوه لیکوال یا شاعر د ادبي اثر پر سبک باندې د کره کتنې کولو لپاره د څو لارو چارو درک کول ډېر اړین دي:

یو کره کتونکي ته اړینه ده، چې په خپل کار تر پیل مخکې د بېلابېلو زمانو منتخب متون او د متونو نسخې ولولي،

څکه ترڅو چې د راز راز دورو لیکنو تیرونه تر لاسه نه کړي. زما په اند وبه نه شي کړی چې د یوه ادبي اثر هغه اصلي څیره رابرسېره کړي. که کره کتونکی د هغه مهال چې اثر په کې پنځول شوی او پنځګر په کې ژوند کاوه معلومات ونه لري، فکر کوم چې د اثر اصلي بڼه به یې بې خونده وي، لکه د ادیانو پوهیدل، په تصوف او فلسفه پوهیدل، په عمومي تاریخ کې مطالعه، په معاني او بیان پوهیدل، د ادب تاریخ هر اړخیزه مطالعه دا ټول هغه څه دي چې د کره کتونکی لپاره د یوه اثر په کره کولو کې تر ډېره بریده مرسته کولای شي، خو کره کتونکی لکه څنګه چې مخکې هم ورته نغوتې وشوې دا ټول مسایل به په بې پرې توګه په پام کې نیسي- او شخصي مسایل به څنډې ته کوي، نو هله زموږ ادب تاریخونه، ادب تیوری او په ټوله کې ادبیات خپل ځای ځایګی موندلای شي او که چېرې شخصي- مسایل په کې په پام کې نیول کېږي، نو بیا یې همداسې خونه ورانه بوله.

## مأخذونه

١- رفیق، محمد رفیق، په افغانستان کې د پښتو معاصر شعر سبکونه، کابل پوهنتون: کابل، د ماستری پروګرام لچکر نوټ، ۱۳۹۷ لمریز کال.

۲- وزیري، محمد اقبال، د ادبیاتو تیوري: هالینډ، ۲۰۱۲ زېږدیز کال.

۳- ښکلی، اجمل: سبک پوهه، مومند خپرندویه ټولنه: جلال اباد،۱۳۹۰ لمریز کال.

۴- هېواد مل، زلمی، د متن څېړنې میتودلوژي، یوه کلنه علمي پروژه، د ژبو او ادبیاتو مرکز، ګستتنر: کابل، ١٣٦٧لمریز کال.

**پوهندوی شاه محمود کېوال**

# په ژبه او وینا کې د مغزو ونډه

**لنډیز**

ژبه یو داسې غړیز سیستم دی چې د وګړو د عصبي سیستم او مغزو تر کنټرول لاندې فعالیت کوي. له شک پرته چې د وګړي ټول اروایي او بدني خوځښتونه او فعالیتونه د یوه واحد سیستم تابع دي چې ټول عصبي سیستم رغوي. په دې سیستم کې بیا بېلابېلې برخې ګډې دي، لکه: مغزه، شوکي نخاع او... چې هره برخه یې خپله دنده لري او د بدن یو فعالیت کابو کوي. ژبه چې غږونه او غږغونډونه یې د یوې معنا او مفهوم لپاره د وګړو په بدن کې زېږي، له عصبي سیستم او مغزو سره اړیکه لري او له هغه ځایه ورته لارښوونه کېږي. غږ او غږغونډونه چې د یوې فزیکي ښکارندې په توګه له خولې راوځي، یوه معنا او مفهوم بل وګړي ته لېږدوي، چې معنا او مفهوم بیا یوه ذهني ښکارنده ده.

**سریزه**

د ژبپوهنې یو ډول دا موضوع څېړي چې ژبنۍ لړۍ او چار له عصبي سیستم او مغزو سره څه اړیکی لري. ژبه د یو غړیز سیستم په توګه د عصبي سیستم تر څار لاندې فعالیت کوي. عصبي سیستم او مغزه یوخوا د ګړیدلو د فعالیت څارګر دي او غږغونډونه یا وییونه هغه معناوې بل ته لېږدوي چې زموږ په مغزو کې دي، بله خوا د اورېدنګ فعالیت هم له مغزو سره اړیکی لري.

کلیدي نومونې: ژبه، وینا، عصبي سیستم، ماغزه چې په اوستا کې ورته مازغه وایي.

## د ثېړنې اهمیت او مبرمیت

دا څېړنه د ژبې او غرېزې پوهونې په لړۍ او بهیر کې د عصبي سیستم او مغزو پر تخنیکي ونډې څرخي. دا ډول څېړنې په پښتو ژبه کې په نشت شمېرل کېږي، ځکه یې اړتیا ډېره ده. دا څېړنه په ژبه کې د ونډوالو اړخونو د پېژندنې لپاره اغېزناکه او ګټوره ده.

پښتو ژبپوهنه که څه هم تر یو ځایه رسېدلې او د پښتو ژبې زده کوونکو او څېړونکو ته کافي مواد لري، خو لا ډېر کار ته اړتیا شته، په نړیوالو معتبرو او پرمختللو ژبو کې ژبپوهنه ډېره بډایه ده. کومه موضوع چې په دې لیکنه کې څېړل شوې، په پښتو کې یې څرکونه لږ یا هېڅ دي. دا موضوع د ژبې د څېړنې او پوهېدنې په لړ کې ډېره مهمه ده چې پوه شو، ماغزه په ژبه او وینا کې څه ونډه او څه ډول کار کوي.

## د څېړنې موخې

د وګړني او ټولنیز پوهاوي یوه بشپړه ګټوره وسیله ژبه ده چې له غړونو او غړغونډونو رغېدلې ده. د ژبې او ګړېدنګ په چار کې د ماغزو ونډه پېژندل او په هغې پوهېدل د دې څېړنې موخه ده. همدارنګه په دې وسیله د څېړونکي لپاره د معنوي امتیاز لاسته راوړنه د دې لیکنې بله موخه ده.

## د څېړنې میتود او مواد

د دې څېړنې او د موضوعاتو د رڼاوي او سپیناوي لپاره له ګټورو او باوري اخځونو ګټنه شوې ده او میتود یې تر ډېره تشریحي، تحلیلي او توضیحي دی.

ژبه د وګړو ترمنځ د پوهونې او راپوهونې غرېز سیستم دی او ماغزه د ټولو انساني خوځښتونو مرکزي څارګر، په دې معنا، هر ډول خوځښت چې د انسان په بدن پورې اړه لري، په یو ډول له مغزو سره تړل کېږي. د پوهونې او راپوهونې لړۍ خو بیا هسې هم څرګند مغزي فعالیت ګڼل کېږي. د ژبې او وینا اصلي موخه هم د وګړو ترمنځ د اړیکو ټینګښت او یو بل ته د هغو مفاهیمو لېږدونه ده چې د دوی په مغزو کې دي. ژبنی غرېز سیستم د مفاهیمو د یوې لېږدونکې وسیلې دنده ترسره کوي. موږ دلته هڅه کوو، هغه تخنیکي لړۍ وسپړو چې مغزه څه ډول په ژبه، ګړهار، وینا او پوهونه کې ونډه اخلي چې د پښتنو په ډول به دا موضوع مطرح کړو:

**پوښتنې**

**۱ـ** د مغزو جوړښت څه ډول دی؟

۲ ـ په ژبه او وينا کې د مغزو ونډه څنګه او څومره ده؟

۳ ـ د مغزو په کومه برخه کې د وينا عمل ترسره کېږي؟

۴ ـ د مغزو په کومه برخه کې اورېدنه ترسره کېږي ؟

ژبه د داسې ترونې، غږيزو پيلامو يو ټولګه ده چې د يوې ټولنې وګړي يې د خپلمنځي تړاو او پوهاوي لپاره پر کار اچوي (۳: ۲۸).

کله چې څوک وغواړي يو څه په ژبه راوړي، لومړی يې مغزو کې يو غږانځور جوړېږي چې يو روحي چار دی، مغزه غږيز غړي په کار اچوي چې د سا هوا او بيا بهرنۍ هوا په مرسته غږ پر څپو بدل کړي. په دې توګه د همغه غوښتنې يا موخې ذهني غږ انځور د ويلو او اورېدلو وړ ګرځي او ګړنی يا ژبنی چار ترسره کېږي، نو که غږېدونکی غواړي همغه څه يو بل چا ته څرګند کړي په بله وينا د چا خبرې واوري، همدا چار په سرچپه ډول پيل او پای مومي.

له غوږ نه يې مغزو ته د فزيولوژيکي لېږد او بيا يې په مغزو کې له ګړېدونګي سره روحي سازښت، معنا دا چې که اورېدونکی پر خپل وار هم وغواړي له ګړېدونکي سره وګړېږي، نو د ده له غوږه د غږېدونکي تر غوږ پورې به همغه لار وهي، لکه پاس چې څرګنده شوه ( ۴ : ۸ ).

ژبه د کړکيچنو عصبي، عضلي او فزيکي عمليو او خوځښتونو ټولګه ده. د انسان عصبي جهاز او مغزه د ګڼو عصبي سلولونو له ټولګو څخه جوړ شوي دي چې نومېرلې دندې لري. د مغزو په يوه برخه کې يو شمېر عصبي ولې غځېدلي او په مستقيم او نامستقيم ډول د بدن ټولو غړو او غږيزو غړو ته رسېږي. کله چې وغواړو يو څه په ژبه راوړو، لومړی يو ډول عصبي فعاليت د مغزو په خوځند ځای ( Motor Aria ) کې رامنځ ته کېږي چې د غږيزو غړو کنترول يې پر غاړه دی. که څه هم د دې فعاليت لامل او ډول په سمه توګه څرګند نه دی، خو د فزيولوژی پوهان وايي چې دا فعاليت په سلولونو کې د يوې کيمياوي عمليې له امله ترسره کېږي او د غږيزو غړو د خوځښت او فعاليت لامل ګرځي. په دې ډول ګړهار يا وينا په څو پړاوونو کې پای ته رسي:

۱ ـ ګرېدل، په دې معنا چې عصبي فعالیتونه پیلېږي او غرېز غړي خوځوي.

۲ ـ د غرېزو غړو په خوځېدو سره د سا هوا او بیا له انسان راګرځېدلې هوا څپېزه کېږي او په دې ډول وینابیز غږونه زېږي.

۳ ـ د انساني چاپېریال هوايي څپې د متحدالمرکز کړو په څېر خوځېږي او لار وهي.

۴ ـ او د اورېدونکي غوږ ته رسي.

۵ ـ د اورېدونکي غوږونه، اورېدلي غږونه د اورېدونکي حس د عصبي ولیو په مرسته مغزو ته لېږدوي. دا غږونه له هغو غرېزو بېلګو او نظامونو سره چې وییونه او غونډونه یې نوموو او په حافظه کې خوندي او زېرمه دي، تطبیق کېږي او د هغوی د مفهوم او مدلول له درک وروسته ویناوال یا ګرېدونکي ته ځواب وايي او دا عملیه بیا ترسره کېږي، په دې ډول د ژبنۍ یا غرېزې پوهونې عملیه او ګرېدل پای ته رسي( ۱: ۳۲ - ۳۳ ).

روغتیايي او اروايي (فزیولوژي) عصبي سیستم داسې راپېژني:

عصبي سیستم د غړو ټول فعالیتونه کنټرولوي، دا سیستم د اندوکراین په پرتله چټک دی چې اندوکراین هم یو کنټرولي سیستم دی. د انسان عصبي سیستم په ټوله کې دوه لويې برخې لري:

- مرکزي عصبي سیستم Central Nervous System
- محیطي عصبي سیستم Peripheral Nervous System

مرکزي عصبي سیستم بیا لاندې دوې برخې لري:

- مغزه Brain
- شوکي نخاع Spinal Cord

محیطي عصبي سیستم چې له مغزو او شوکي نخاع څخه بهر پروت دی، هم دوی برخې لري:

۱ـ ځاني یا خودکاره عصبي سیستم Automatic Nervous System

دا سیستم بیا لاندې برخې لري:

- سمپاتیتیک عصبي سیستم Sympathetic Nervous System
- پاراسمپاتیتیک Parasympathetic Nervous System

- د هاضمې جهاز دننني عصبي سيستم Enteric Nervous System

۲ ـ جسمي عصبي سيستم Somatic Nervous System

دا هم لاندې برخې لري:

- حسي نيورونونه Sensory Neurons
- حرکي نيورونونه Motor Neurons

مغزه بيا لاندې درې لويې برخې لري:

- Prosencephalon: چې مخني ماغزه ( Forebrain ) يې هم بولي، لاندې دوی برخې لري:

۱ ـ Telencephalon: چې د مغزو دوه برخې يا کرې په کې دي.

۲ ـ Diencephalon: چې تلموس، هيپوتلموس، ميتاتلموس او سب تلموس په کې دي.

- Mesencephalon: چې منځني ماغزه (Midbrain) يې هم بولي.
- Rohmbencephalon: چې وروستي يا کوچني ماغزه ( Hindbrain ) يې هم بولي، په دوو برخو ويشل کېږي:
- Metencephalon چې له حدبه (Pons) او مخيخ (Cerebellum) څخه رغېدلې برخه ده.
- Myelencephalon يا د Medulaoblangata بصله (۷: ۷۱ - ۷۲).

مرکزي عصبي سيستم چې له ماغزو ( Brain ) او شوکي نخاع (Spinal cord ) څخه جوړ دی چې پر حياتي عملونو باندې د څار مرکزونه دي. په دې معنا چې د چاپېريال او د بدن له دننه څخه اخيستل شوي اطلاعات تشخيص او تعبيروي او هغوی ته ځواب وايي.

په مغزو کې (لوی او مخني، منځني او د مغز ساقه) برخې ګډون لري، د لويو مغزو هغه برخې چې زموږ د ځېرنې سره سيده اړيکي لري، په لاندې ډول، د هغوی له دندو سره:

Frontal برخه: خبرې کول، رفتار يا سلوک، د مسايلو حل، پلان جوړونه.

Parietal برخه: د درد حس، فشار، تماس، تودوخه، خوند.

Temporal برخه: اورېدل، بويول، د بدن توازن، حافظه

Occipital برخه: لیدل، د ژبې زده کړه ( ۲: ۵۵، ۵٦ ).

د (فزیولوژي طبي) اثر د یادو برخو دندې داسې لیکي:

Frontal د پرانتل برخه یا پیځکی

- د فکر، ګرېدا او ارواییي حالت کنټرول
- د ځوځښتونو پلان رامنځ ته کول

Parietal دیوالي پیځکی

- د پوټکي، مفاصلو او غړو د حسي اخذو اخیستنه او د درد او اړیکو د اخذو په توګه د هغوی تحلیل، په فضا کې د پښو او لاسو وضعیت.
- د غوږو او سترګو د وارداتي بهیر تحلیل.

Occipital د اکسیپیتل پیځکی

- د لید مرکز

Temporal د شقیقې پیځکی

- د غږ تحلیل
- ارواییي احساس
- د څیزونو د بڼې او رنګ تحلیل
- پر ګړېدلو پوهېدل
- د بویلو ځای ( ۷: ۷۹ ).

د (روان شناسی عمومي) لیکوال د یادو برخو دندې داسې ښیي:

مخنی پیځکی ( Frontal lobe ) د ډېرو استعدادونو ځای دی، چې کولای شو له هغو څخه یې د خپلوی، نوښت او پلان جوړونې ځواک نومونه یاد کړو.

(Parietal lobe) : دا پیځکی یا برخه د مغزو په پورتنۍ برخه کې د مخنیو مغزو تر شا پرته ده. بدني حواس همدلته رامنځ ته کېږي او د ژوند د چاپیریال اړوند یادښتونه هم همدلته زیرمه کېږي.

د وروستیو مغزو برخه ( Occipital lobe ): په بشپړ ډول د سترګو او لیدنو د درک لپاره ځانګړې شوې ده.


د شقیقې پیځکی ( Temporal lobe ): د سترګو او غوږو ترمنځ مغزو په دواړو لورو کې ځای لري. اصلي دنده یې د اورېدلو درک، ژبه، حافظه او د هېښتیا منلو


ځينې بڼې دي( ٦: ٦٧، ٦٨ ).

له پورتنيو ټولو يادونو زموږ موخه داده چې په مغزو کې هغه برخه وپېژنو چې په ژبه، پوهونه، ګرېدنګ او اورېدنګ کې ونډه لري. ځينې د عصبي سيستم او مغزو هغه برخه چې په ژبنيو فعاليتونه پورې اړه لري داسې راښيي:

١ ـ د Broca برخه: فرانسوي رنځپوه ( پيرپل بروکا ) پر ( ١٨٦١ م ) کال پر هغو وګړو ازميښت وکړ چې ګرېدنګ کې يې نيمګړتيا وه او پوه شو چې د مغزو کومه برخه کې زيان، د ژبنۍ او ګرېدنګ نيمګړتيا او تتله کېدو لامل ګرځي. له همدې امله د مغزو دغه برخه د هغه په نوم (بروکا) ياده شوه ( ۵: ۸۵ ).

دا برخه د مخنيو مغزو په کيڼ اړخ کې پرته ده او د غړونو د زېږد دنده لري (۸: ٣٦ ).




٢ ـ Wernicke برخه: کارل ورنيک الماني رنځپوه، د (پيرپل بروکا) لار په بل ډول وڅارله. هغه پوه شو چې د ګرېدنګ نيمګرتيا په ټوله کې د (بروکا) د برخې زيان نه دی، بلکې يوه بله برخه چې د پوهېدنې او درک دنده لري، د ژبنۍ يا ګرېدنګ نيمګړتيا لامل ګرځي. له همدې امله د مغزو دغه برخه د دې پوه په نوم (ورنيک) ياده شوه ( ۵: ۸۵ ).

اروايي فزيولوژي د هغو وګړو وضعيت څېړلی چې ژبنۍ نيمګړتيا لري او دا يې روښانه کړې چې دا نيمګړتياوې د مغزي زيانونو له امله رامنځ ته کېږي. ځينې وخت مغزي سکتې، تومورونه او نور په وينا يا ګرېدنګ کې د اختلال لامل ګرځي. د دې حالتونو يو مهم يې د مغزي رګونو ترل کېدل دي، که د ګرېدنګ په اړوندو

مرکزونو کې رامنځ ته شي، د ژبې یا ګړهار د نیمګړتیا یا تتله کېدو لامل ګرځي. په ژبنی یا وینايیزه نیمګړتیا کې د مغزي زیان له امله د ژبې په پوهېدنه، د جملو تکرار او معاناوال ګرېدنګ کې نیمګړتیا پېښېږي.

د ښي لاسو وګړو تر ۹۵ سلنه ډېر او د کیڼ لاسو ۷۰ سلنه د ګرېدنګ لپاره د هغوی د مغزو کیڼه برخه یا کره کاروي. دې ته هم پام په کار دی چې د مغزو ښي نیمه کره هم د ګړېدلو پر وخت د قضايي اړیکو، نقشو او کړکیچنو هندسي تصویرونو په درک کې ستره ونډه لري ( ۵: ۸۴ ).

**پایله**

د دې څېړنې په بېلابېلو برخو کې دا موضوع رڼه او روښانه شوه چې د ژبې او ګرېدنګ په چار کې عصبي سیستم او ماغزه څه راز ونډه اخلي او د معناوو د بهرنۍ شتون او لېږد لپاره ماغزه څه چار ترسره کوي. دا څرګنده شوه چې د پوهاوي لپاره لومړی خوځښت په مغزو کې رامنځ ته کېږي او سمدستي د وینايیزو او غږېزو غړو په وسیله اړوند غړونه او وییونه رازېږي. غړونه او وییونه د هغو ذهني ښکارندو او معناوو د لېږد لپاره وسیلې دي چې زموږ په مغزو کې زیرمه شوي دي.

مناقشه: په پښتو ژبه کې د نیرولینګوستیکس ( Neurolinguistics ) په اړه څېړنیز مواد دومره لږ دي چې سړی پرې د نشت حکم کولای شي. له دې امله حتا د دغې پوهې نوم هم په پښتو کې په نشت شمېرل کېږي، خو موږ به ورته (مغزژبپوهنه) ووایو. دا پوهه د ژبپوهنې یوه څانګه ده چې په هغه څه غږېږي چې د دې لیکنې سرلیک دی. یاده پوهه د مغزو او وینا یا ژبې ترمنځ اړیکي څېړي.

**وړاندیزونه**

د نړۍ په کچه په ژبنیو مسایلو او د ژبپوهنې په برخه کې پراخ کار شوی چې له بده مرغه جګړه ځپلې پښتو ترې دومره لرې پاتې شوې ده. د پښتو ګرامرپوهانو د زیار او کړاوه وروسته هم موږ د نورو پرمختللو ژبو په څېر بشپړ مواد نه لرو. دا چې دغه ډول مسایل د پوهنتونونو د ژبې او ادب په برخه کې ښوول کېږي، نو په کار ده، دومره مواد په کې ولرو چې له ښوونکو او زده کوونکو سره مرسته وکړي. د ژبې څانګوالو ته وړاندیز دی چې دغې برخې ته پام وکړي.

## مأخذونه

۱ ـ الهام، محمد رحیم، روش جدید در تحقیق دستور زبان دری (چاپ دوم، به کوشش سید علی محمد اشراقی)، انتشارات یوسفزاد: کابل، ۱۳۹۱ لمریز کال.

۲ ـ جبران، جوهر، د ارواپوهنې مبادي، مسلم خپرندویه ټولنه: ننگرهار، ۱۳۹٦لمریز کال.

۳ ـ زیار، مجاوراحمد، پښتو وییپوهنه او وییرغاونه، (دریم چاپ )، دانش خپرندویه ټولنه: کابل، ۱۳۹٦ لمریز کال.

۴ ـ زیار، مجاوراحمد، پښتو پښویه، دانش خپرندویه ټولنه: پېښور، ۱۳۸۲ لمریز کال.

۵ ـ شمس، شمس الدین، روانشناسی فزیولوژیک، انتشارات نامی: کابل، ۱۳۹۲ لمریز کال.

٦ ـ علیمی، سراج الدین، صدیقی، ذبیح الله، حبیبی، محمدناصر، روانشناسی عمومی، انتشارات یوسفزاد: کابل، ۱۳۹۲ لمریز کال.

۷ ـ فروتن، محمدناصر، فزیولوژي طبی، (چاپ دوم)، انتشارات عازم: کابل،۱۳۹٦ لمریز کال.

۸ ـ مرهون، محمد، اوازپوهنه، کاینات څېړنیز او د ژباړې مرکز: کابل، ۱۳۹۴ لمریز کال.

محمد آصف صميم

**کتاب پېژندنه:**

# د استاد خادم ځینو اثارو ته لنډه کتنه

## لنډيز

کتاب پېژندنه يا د اثارو بيبلوگرافي هغه بحث دی چې له بده مرغه زموږ په ټولنه کې ډېر ځله د عقدو او شخصي لېوالتياوو له مخې کېږي، يعنې د نقد يا کره کتنې بحث ډېر نه وي، خو د شخصي- عقدو بحث په کې ډېر وي، البته په دې پوهېږو چې د کتاب معرفي يوه مسئله ده او د کتاب نقد بله، خو بيا هم له موږ څخه دا دواړه بحثونه سره اغږل شوي وي.

په دې مقاله کې ما د لوی استاد قيام الدين خادم يواځې د اثارو برسېرنه جاجونه کړې او په لنډه توگه مې معرفي کړي، چې کوم دي او کوم مسايل يې په څه ډول بيان کړي، تمه ده چې زموږ ځوان سترگور څېړونکي د دغو اثارو نورو باريکو ته هم په مشکافي سترگيو وگوري او نورې خواوې يې هم را برسېره کړي.

## سريزه

په پرمختللو ټولنو کې اصل دا دی چې هر کتاب د کتاب پېژندنې په نامه يا د کتاب د معرفۍ په نامه يو لنډيز هم لري او د دې لنډيز گټه دا وي چې د څېړونکي او يا د عام مينه وال ډېر وخت په نورو مسايلو چې د بوختيا پر مهال ورسره د ده کار نه وي، نه ضايع کېږي، خو زموږ د ادب لمن لا تر اوسه هم له داسې مسايلو ملامال نه ده يا به يې فهرست گورو او يا به هم مجبوراً ځينې کتابونه لولو، چې د بوختيا پر مهال له موضوع څخه د لرې مسايلو مطالعه کول ذهن په نورو چارو بوختوي او له

څېړونکي اصلي خبره هېروي.

که څه هم زموږ ځینو نومیالو استادانو، لکه استاد حبیبي، استاد هېوادمل، استاد رفیع او ځینو نورو په دې اړه مستقل کتابونه وکښل او د اثارو برسېرن جاج یې واخیست، خو په ټوله کې په اوسني را روان بهیر کې دا کارونه ډېر لږ دي او مینه وال دغه ډول کارونو ته ډېره اړتیا لري.

ما دا مقاله په دې نیامت کښلې چې یو ځل د دغې برخې ځانګوال او څېړونکي دغه هیر شوي کار ته په دقیقه توګه ځیر کاندم او په دې توګه د ادبپوهنې او مأخذ پوهنې بحث یو ځل بیا پیل شي.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

د دې څېړنې اهمیت او مبرمیت په دې کې دی چې د استاد خادم اثار په کې ټول معرفي شوي او څېړونکي په ډېرې اسانۍ سره د خپلې اړتیا او خوښې وړ دقیق او کره معلومات پیدا کولای شي، ترڅنګ یې هغه څېړونکي چې غواړي د خپلې څېړنې اړوند مواد د خادم په اثارو کې پیدا کړي، نو له دې لارې یې پیدا کولای شي او د استاد خادم د ټولو اثارو په لټې پسې د څېړنې وخت نه نیسي.

## د څېړنې موخه

د دې څېړنې موخه په دې کې ده چې زموږ ځوان څېړونکي باید له یو اثر سره عقدوي او شخصي چلند ونه کړي، بلکې د علم، پوهې، د څېړنې د ارونو او قواعدو له دایرې نه اثر ته وګوري او نقد یې کړي، ترڅنګ یې د نقد او معرفي برید پولې هم سره جلا او یوه په بله کې ګډه نه کړي.

## د څېړنې پوښتنې

په دې څېړنه کې تر ډېره لاندې پوښتنې ځواب شوې دي:

- ✓ استاد خادم څومره اثار کښلي؟
- ✓ د استاد خادم اثار پر کومو موضوعاتو چورلي؟
- ✓ استاد خادم یوائې د ادب لیکوال و او که په نورو برخو کې هم اثار لري؟
- ✓ د استاد د نثر ځانګړنې کومې دي او نورو لیکوالو یې په اړه څه کښلي؟

او دې ته ورته ځینې نورې پوښتنې د دې مقالې په پاېو کې ځواب شوې دي.

**د څېړنې میتود**

په دې څېړنه کې تـر ډېـره لـه تشریـحي، تحلـیلي او توضـیحي میتـود نـه ګټـه اخیستل شوې ده.

**د څېړنې متن**

موږ چې کله د خادم صاحب د اثارو خبره کوو، نو ښـایي ډېـرو لوسـتونکو تـه دا پوښتنه پیدا شي، چې په دې مقاله کې به د استاد خـادم ټـول اثـار لـه ټولـو کوایفـو سره معرفي شوي وي په داسې حال کې چې داسې نه ده، له دې لیکنـې څخـه زمـا موخه دا ده چې لومړی د لنډ لیکلو چمونه خپل کړو او ترڅنګ یې د استاد خـادم د اثارو هغه مسایل بیان کړو، چې د ټول اثـر اسـتازي یـې وکـړای شي، نـو د دې لپـاره چې خبره را نه ونه غځېږي رابه شو د استاد اثارو ته:

۱- د خادم داینستي ( khadem Dynasty ) له خوا په لومړي ځل پنځـه سـوه ټوکـه چاپ شو. ددې اثر په سر کې د خپرندوی بې سرلیکه لیکنه راغلـې ده چـې پـه کـې وایي:

۲- (دمور مینه) دخادم صاحب د یو شـپېتو ناچـاپو قلمـي ( ! ) اثـارو نـه یـو اثـر دی. دخادم صاحب دیو شپېتو ناچاپه قلمي کتابونو نه په د مور مینه برسېره ( ! ) یـوولس روغ پاتې دي، نور یې په افغانستان کې د روسانو پـه یرغـل کـې دافغانسـتان د ډېـرو ملي شخصیتونو غوندې خاورې شوي دي. بیـا د سریـزې لیکـوال قتیـل خوږیـانی د سریزې په سر کې لیکي:

دمور مینه د هغې کوچنۍ رسالې نوم دی، چې علامه استاد قیام الدین خـادم په ډېره خوږه ژبه ژباړلې ده.

د مور مینه دهغې مور دزیاتې مینې ژباړه ده، چې دګـوډ تېمـور پـه شـان د یـوه بې رحمه پاچا پر وړاندې په ډېر جراأت درېږي او دخپـل زوی پوښـتنه تـرې کـوي. د دې پـه خـبرو کـې دومـره زړه ورتـوب پـروت دی، چـې ناسـت کسـان یـې جـراأت تـه حیرانېږي او هر څوك داستفهام په نظر ورته ګوري، چې دغه بوډۍ اودومـره جـرات، چې د ګوډ تېمور په شان له یوه بې رحمه پاچا څخه، چې ملکونه یـې سـوځولي او د وینو لښتي یې بهولي دي؛ دخپل زوی د مرګ او ژوند پوښـتنه کوي.له یـوې ګوښـې اواز پورته کېږي، چې عشق او سپېڅلی عشق. په دې پسې په خپلـه ژبـاړن ((د مـور

مینه)) په نامه ( ب مخ ) په لیکنه کې وایي:

دا قصه گورکي لیکلې ده؛ گورکي د روسي ادبیاتو داسمان ځلانده ستوری دی چې شرق او غرب یې پېژني، دډېر تعریف محتاج نه دی. د گورکي آثار هم ښکلي دي.دا قصه هم شعر دی او هم حقیقت او هم لوړ پند او عبرت. ددې قصې د ترجمې په وخت کې ما د قصې په ترتیب کې لږ شانې تغییر کړی دی، خو د گورکي نوم او د نوم او ضمیر احترام هېڅوك دې ته نه پرېږدي، چې د هغه په اسلوب کې گوتې ووهلی شی.

ق.خادم

د (مور مینې) سرلیکونه: د مور مینه، دمور زړه او روسي سجیه دي، چې په ۳۷ مخونو کې ځای شوي دي؛ خو پر آرې کیسې سربېره سره له دې چې ژباړن ورته نه دي لیکلي؛ دوه نور لیکونه هم راغلي دي، چې دا عصر- د ملیتونو دي او (د دنیا ټول انقلابونه کلتوري دي) نومېږي. هغه دواړه لیکنې د افغان ولس جریدې د ۱۲۴۸ له گڼو را اخیستل شوي دي. درسالې په پای کې د افغان ولس د ۱۲۴۸ کال له شپږمې گڼې نه د خادم د فکر د سمندر دا مرغلرې راغلي دي:

زه خو داسې فکر کوم چې ادب د سیاست مور ده. روغ سیاست د نهضتونو پلار دی، نشنلېزم د مسلکونو بنیاد او اخر د ټولو اقتصاد دی.

د الفت شاعري:

چې پیدا مو پښتو ژبه کې الفت شو
د پښتو دښکلا خوب مو حقیقت شو
چا خاطر کړو د خپل قوم په خدمت کې
چې شاعر رانه اخته په سیاست شو

حبیبي او دپښتو تاریخ:

جواك تاریخ دپښتو ژبې یې بیان کړ
حبیبي په پښتو ژبه لوی احسان کړ
په دې کار تر هغه وخته ځوربدلو
چې په کړیو خدمتونو یې پښېمان کړ

او دا بېلگه هم د اورېدو ده چې: پښتانه او د پښتو مخالفت نومېږي:

ځوك ناپوه شو، ځوك محتاط اوځوك بدبين شو
د پښتو بياض چې سپين پاتې و، سپن شو
پښتانه د پښتو ژبې مخالف شول
سرنوشت د پښتو دغسې تعيين شو

او د ځان په اړه وايي:

خادم څه دی؟

څه پوښتنه دخادم كوئ چې څه دی
په پنجره كې بندي شوی يو مرغه دی
د پښتو په كبيره ګناه كې ګډ شو
ځوك خبرنه شو چې څنكه او څه دی

د استاد قيام الدين خادم د ادبي پوړۍ په باب، د خپلې ارزونې پر ځای د هغه د ادبي كهكشان د پوهاند رښتين استاد بېنوا ارزونه بسنه بنده ګڼم چې وايي: خادم دپښتو يو پوخ ليكوال، ښه شاعر او نوميالی دی.خادم دخپلې ليكوالۍ په ۳۰ كلونو كې ډېر ادبي او علمي خدمتونه كړي دي او دغه لار يې د يو مسلك په توګه ټينګه كړې ده. د ډېرو زلميانو استاد او لارښوونكی دی او دردمن كسان ورته په درنه سترګه ګوري.

**۳- ادبي پوړۍ:** دا په ۱۳۱۴ ل كې په دوو ټوكونوكې يو ژباړلی اثر دی، چې وروسته بيا د لويو اصحابانو په نامه دپېښور پوهنتون كتابخانګې (يونيورسټې بك ايجنسي) له خوا خپور شو. په دغه كتاب كې د لوی څښتن د ستر نازولي حضرت محمد مصطفیٰ (ص) د سپېڅلو يارانو سيرت او تاريخ دی، چې استاد خادم په ډېر دقت او علمي صلاحيت په خوږه او روانه پښتو ژباړلی دی.

**۴ - نوی ژوندون:** دا داستاد خادم دلنډو او ادبي نثرونو ټولګه ده چې د پوهاند حبيبي په وينا: (مضامين يې ډېر عصري اوحياتي او افكار يې د جديدې تربيې له اساس سره سم دي).

د دې ټولګې پر ځينو ټوټو باندې د رابندر نات ټاګور او علامه اقبال دافكارو رنګ پروت دی. دغه اثر ۱۳۲۰ ل كال كې د پښتو ټولنې له خوا چاپ شوی دی.

پښتانه شعراء لومړی ټوك او داستاد خادم ونډه ددې اثر راټولوونکی او اړوند لیکوال که څه هم استاد حبیبي دی؛ خو هغه ارواښاد په خپله په دې تحقیقي اثر کې داستاد خادم دونډې یادونه داسې کوي:

ښاغلی قیام الدین خادم چې تر ټولو لومړی حق لري او دکتاب ډېری برخې یې لیکلې دي او په پلټنو کې یې زیار کښلی دی.( ۱۵ مخ)

**۵ - روهي ګلونه:** له ببڼ نیکه نه نیولې د للمې تر ملا احمدګله پورې د پښتو د پنځوسو شاعرانو دشعرونو یو غوړچان دی چې په ښلو ښلو نومونو (مخ، سترګې، وروځې، زلفې، خال او...د ښکلیو د ښکلا په ستاینه دشاعرانو له ویناوو شوی دی.دې اثر په ۱۳۲٦ ل کې دپښتو ټولنې له خوا دچاپ جامه اغوستې ده.

**٦ - د شریف سرګذشت:** دا د اردو ژبې د لیکوال نیاز فتح پوري د یوې لیکلې کیسې یا داستان پښتو ژباړه ده چې استاد خادم په خوږه او روانه پښتو کړې ده.دا اثر په ۱۳۳۲ ل کې دهېواد دورځپاڼې له خوا خپور شوی دی.

**۷ - د ملغلرو امېل:** د دې شعري ټولګې لومړی نظم په ۱۳۰۹ ل کې ویل شوی چې لړ یې تر ۱۳۲۱ ل پورې راغځېدلی دی.

ددې ټولګې ښلګې زیاتره دلرې او برې پښتونخوا په خپرونو کې خپرې شوې دي، چې د ټولګې په بڼه د چاپ پر وخت یې استاد اهداء داسې کړې ده:

هغه زلمي ته یې اهدا کوم چې ادب د حیات دپاره مبداء باندې عقیده او باور لري، چې شاعر د بیتونو سازوونکی، نه دقومونو جوړوونکی دی.

**۸ - خیالي دنیا:** داستاد خادم د هنري نثر یا ادبي ټوټو ټولګه ده چې ده منثور اشعار بللي دي. دالفاظو ښکلا، دمعنا ژوروالی، ښکلي تصویرونه، د ژبې خوږوالی او فصاحت د دغو ټوټو هغه خصوصیتونه دي، چې هغه د ښو شعرونو په لړ کې دروي. دا اثر په ۱۳۳۹ ل کې د پښتو ټولنې له خوا خپور شوی دی.

**۹- نبوغ او عبقریت:** د پښتو ټولنې له خوا په ۱۲۴۰ ل کې د دې خپاره شوي ۴۸ مخیز اثر په باب د ملي ادب او ژورنالېزم خادم نومي اثر لیکوال سرمحقق عبدالله بختانی خدمتګار لیکي:

د استاد خادم دغه کتاب د هغه وخت د لیکوالو ترمنځ معرکة الامراء _ ډېرو لیکوالو ورباندې مثبت تقریظونه لیکلي دي...او ځینو ورباندې اعتراضونه هم کړي

دي. چا ليکلي چې مولینا خادم د نبوغ او عبقریت کراړې فلسفې موضوع ښه تعقیب کړې او د قدر وړ خدمتونه یې ګاللي دي او دا کتاب د علمي اسلوب پر بنسټ سم لیکل شوی دی او چالیکلي دي، د دې پر ځای چې د داسې علمي او فلسفي موضوعاتو د تشریح او تحلیل لپاره یې له علمي او تحقیقي دلایلو څخه کار اخیستی وای او د علماوو او پوهانو نظر یې سره له خپلو علمي قضاوتونو څرګند کړی وای، له خپل عندي نظر او تصور څخه یې کار اخیستی دی.( د همدې اثر ۲۹ مخ)

**۱۰- مکارم الاخلاق:** دا د عربي ليکوال الشيخ عبدالقادرالمغربي د اخلاق والوحيات پښتو ژباړه ده، چې ديني، ټولنيزه او اخلاقي منځپانګه لري.

استاد ددې کتاب ژباړه د ۱۲۱۸ ل د میزان په ۱۳ مه بشپړه کړې وه، خو د چاپ او خپراوي وار ورته یو ځل په ۱۳۴۳ ل د هېواد د ورځپاڼې په مرسته او بیا په پېښور کې د پوهنتون کتابځانګې په مټو ورغی.

**۱۱ - نوې رڼا:** دا داستاد خادم د ټولنیزو، سیاسي او ادبي سلو لیکنو او مضامینو ټولګه ده، چې وخت پر وخت په خوره بېنه د هېواد په خپرونو کې خپره شوې ده، په بشپړه توګه په ۱۳۴۳ ل کې چاپ شوه. د دې اثر اهداء: نوې رڼا زموږ د ټولنیز تورتمونو لپاره نن هم د پېلوځې کار کوي. د یادونې ده چې په نوې رڼا کې پښتون ملت نوم دی، د قام نوم نه دی. نومې لیکنه ۳۸۹ مخ استاد الفت لیکنه ده.

**۱۲- لرغوني پښتانه قومونه:** دا په ۱۰۳ مخونو کې خپور شوی اثر دپښتنو پر ستړه، آر او بنسټ یوه ژوره څېړنه ده، چې لنډيز یې استاد په خپله داسې وړاندې کړی دی:

۱ -دکابل شاهان.

۲- یفتلیان، کوشانیان، اسکایان، پارتیان د ساك او پارت وروري، ساك او کاسي ولس او پارتي قبیلې.

دا رساله په ۱۳۵۳ ل کال په پېښور کې چاپ شوه.

د پښتون ستړه او ځانګې د وړوکچه – ۲۲ مخه – نظم ۱۳٥٦ – اهداء مولینا عبدالحمید افغاني ته د رسالې په باب په مخکینو خبرو کې لیکوال او شاعر په خپله

وايي:

دا رساله د ((دپښتون سته او ځانګې)) تاسې تـه د پښـتو او پښـتونولی پـه اړه يوه لنډه اجمالي خاکه در وړاندې کوي.

د دې لنډيز لوستل د هر هغه چا لپاره، چې د پښتون د پېژندلو او لـه منځنـي شرق او منځني اسيا سره علاقه لري، ضروري دي، نـو کـه هـر څـوك غـواړي چـې د دغو مسايلو په باب، چې دلته ورتـه اشـارې شـوې، زيـات مسـتدل معلومـات حاصـل کړي. زموږ نور کتابونه لکه علمي پښـتونولي، پښـتون او پښـتونولي، لرغـوني پښـتانه قومونه، پښتني تاريخپوهنه، نوې رڼا او نوې لار ته دې رجوع وکړي، تفصيل به هلتـه ومومي.

په دې پسې د پښتون پر پښت، سته او ځانګو غږېـږي. د ~ ۳ مـخ پـه دوهمـه برخه کې تر پښت وروسته په خپله پر پښتنو زيات ګړېږي بيا په پاتې ۱۲ مخونو کـې دپښتنو تاريخ او افغاني نومې منظومې ځای شوي دي.

**۱۳- نصوص الحکم:** د مولينا قيام الدين خادم رباعيـات د خـادم داينسـتي له خوا په ۲٦٦ مخونو کې پنځه سوه ټوکه په ړومبـي ځـل پـه ۱۳۷۹ ل پـه حليمـي چاپخې کې چاپ شول.

په سر کې يې د پښتون مفکر په نامه د يوه بې نومه ليکـوال لـه خـوا پـه شـپږو مخونو کې يوه سريزه راغلې ده. بيا د کتاب په هر مخ کې دوې دوې څلـوريزې دي، چې ټولې يې ۵۳۲ ته رسي.

لومړی څلوريزه يې حيات نومېږي چې په کې وايي:

حيـــــات قـــــوت دی او اقتـــــدار دی
زنـــــده ګـــــي زور او واك اختيــــار دی
چـــي دا دوه څيــزه پـــه کـــې کامــل وي
هغـــــه واجـــــب دی پروردګـــــار دی

او وروستی دا يې داسې مشوره او دژوندانه اوبه نومېږي:

کـــه ســـوداګر يـــې دا ســـودا پرېـــږده
کـــه يـــې مـــاهر دا مـــدعا پرېـــږده
کـه ريالېسـت يـې پښـتون خـو قـام دی

ځلـــه یـــې وژنـــې دا ســـلا پرېـــږده
+ + +
د ژونـــــد لاره ده مشـــــکل گــــــذاره
هو شرط پـه کې دادی چې تـه بـه درومې
دژونـــد اوبـــه دي تپـــه تیـــاره کـــې
خــو کــه نــه درومــې نــو څــه بــه مــومې

**۱۴- بلکا:** د (مولینا قیام الدین خادم دشعرونو مجموعه) دا ټولگه هم د خـادم دانستي له خوا په ۲۲۱ مخونو کې خپره شوې ده، چې چاپ کال یې ۱۳۸۰ ل دی.

پر دې ټولگه لومړی د ښاغلي قتیل بلکا نومي لیکنـه راغلـې، ورپسـې د کـار او لاره په نامه د استاد خادم یو قصیده ډوله نظم راغلی دی، چې استاذ یې په پـای کې کښلي دي:

دا نظم د ((ای د دې جهان خاونده!)) له نظم څخه وروسته لیکل شـوی دی. ورپسې داستاد خادم پر څاروان نـومي اثـر د ښـاغلي عبـدالهادي هـدایت د اسـتاد خادم شاعري او د ده نوې چاپ شوې لیکنـه را اخیسـتل شـوې او بیـا دا ځکـه چـې پښتون یم، د شاعر زړه، ای د دې جهان خاونده! او افغان ولس نـومي نظمونـه دي، ورپسې په بسم الله الرحمن الرحیم داستاد خـادم ((بلکـا)) پیلېږي او ورونـو لـه ۲۰ مخ نه د ټولگې شاعري، چې دا شاعري نظمونه، غزلې، قصیدې، ټـوټې او څلـوریزې لري، چې دلته یې د غـوراوي او خوښـۍ پـه نیامـت د خپلـو معـاصرو ملگـرو پـه بـاب لیکلې، یو څو بېلگې را اخلو:

**کامل مومند**

د انگرېز نامراد تعلیمه
پوه پښتون چې دې عاقل کړ
په مغربي تعلیم ((لیگی)) شو
خو پښتو ادې فاضل کړ
له نري رنځه ممنون یم
غټ مومند یې چې کامل کړ

لوی کرم و له اسمانه
چې پښتوت یې مایل کړ

**حبیبي او پښتو ژبه**

حبیبي په پښتو ژبه نامور شو
خو اخر له خپله کاره لاس په سر شو
خدایزده کوم ظالم ستومانه په خپل کار کړ
د پښتو قلم یې کېـښود مرور شو

**بختاني او پښتو**

بختاني په کار د ژبې ښه پوهېږي
چې دا بد حال د پـښتو گوري ځورېږي
زړه یې غواړي چې را گډ شي په میدان کې
د اسلافو حال چې وگوري ډارېږي

**د بېنوا پښتو**

چې را یاده مې پښتو د بېنوا شي
سره گلونه د بهار سترگو له راشي
دادب په بې قدرۍ داسې خفه شم
خوږین زړگی مې په سلگو کې په ژړا شي

**پایله**

ماته د دې ننـۍ درنې غونډې سمبالگرو د ((استاد خادم د آثارو ارزونه)) نومې سرلیك راکړی و، خو ما څه د وخت د تنگسې په پلمه او څه د موضوع پښـې داوبوتـه کولو په عذر او په دې چې په ارزونه کې کره ونه هم راځي، یا راتله، نو په تلې کـې د شړشمو زرغونول لوی ځیگرونه غواړي. پـه همـدې شـننیزه بیلیـوگرافۍ یاکتابښـودنه مې بسنه وکړه. هیله ده ستاسې خوا او داروانښاد خادم اروا مې نه وي درنه کړي.

څېړندوی سمیله احمدزۍ

# په انګیو کې د ښځو د یادونو او فریادونو انځور

**لنډیز**

د ادبپوهانو په وینا پښتني ولسي ادب او فولکلور تر ډېره د پښتنو ښځو د فکر محصول دی، په دې ادب کې د ښځو د ژوند بېلابېلې خواوې منعکسې شوې دي او د دوی د نرم، لطیف او زړه سوانده احساس سپېڅلې هېنداره ده.

د ټولنپوهانو په وینا پښتنې ښځې ډېر ځله د احساساتو او د ټولنې د ناسمو دودونو قرباني شوې دي، چې همدغو بې دودیو دوی ته د هنر ژبه ورکړې او د ولسي ادب په یو چوکاټ کې یې د خپل زړه غوټه پرې پرانیستې ده.

له دغو سندرو یا سندرو څخه یوه یې هم د انګۍ سندرې دي چې پښتني ښځمنو د ټولنیزو بې عدالتیو په پایله کې د دې سندرو په وسیله خپل غبږ پورته کړی او تر موږه یې را رسولی دی.

په دې مقاله کې د ښځمنو په هغو ناخوالو او ساندو بحث شوی چې ډېر ځله یې آن د خوښیو او خوشحالیو په مراسمو کې هم له ډېره درده له خولې وځي.

**سریزه**

ولسي سندرې ښکلې او ارزښتناکه برخه او د ولس د ټولنیز ژوند رڼه بېلګه ده چې په پېړیو- پېړیو ځلیدلې او ترموږه را رسیدلې دي.

دا سندرې د ولس د اړتیا له مخې رامنځ ته شوي او د دوی له ژوند سره اوږه په اوږه را روانې دي، د دوی د ژوند خوږې او ترخې، لوړې او ژورې، ښې او بدې په خپله سینه کې خوندي کوي، چې د خوښیو او خوشحالیو په وخت کې د مستو

سندرو په توگه شرنگهار کوي اود خوښی اظهار پرې کوي .همدارنگه د خپلو غمونو او ماتمونو په دوران کې بیا د دردونکو ساندو په توگه دروند غم ښکاره کوي.

دغه سندرې چې بېلابېلې برخې لري لکه: لنډۍ، سروکې، غاړې، ساندې، د اتڼ نارې، انگۍ او داسې نوردا ټولې تر ډېره د ښځو له خوا ویل شوې دي او د دوی د ژوند د بېلابېلو خواوو انځور وړاندې کوي. زه چې پر کومې موضوع لیکل غواړم هغه انگۍ دي،انگۍ یا په بله ژبه د پښتنې ناوې د ژړا سندرې زموږ په ټولنه کې له ډېرې پخوا زمانېراهیسې دود دی.

په دې سندرو کې پښتنې ښځې د یو خاص حالت او کیفیت او ځانگړي ملحوظاتو تر اثر لاندې د خپل احساس او زړه خبرې تر خولې را باسي او تر موږه یې را رسوي.

په انگیو کې د پښتني ښځو د ژوند رښتینې خوا بیان شوې ده چې تکلفي او تصنعي بڼه نه لري.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

د دې موضوع اهمیت او مبرمیت پـه دې کې دی ولسي- سندرې تر ډېره د ښځو د نرم او لطیف احساس زېږنده دي او د دوی د ژوند، هیلو، غوښتنو، ناخوالو، غمونو او د ورسره شوي ظلم او ناروا کیسې بیانوي او تر ډېره دوی له محرومیتونو، نادودو او ناروا دودونو څخه سر ټکوي، نو ما هم په دې مقاله کې له همدغو سندرو څخه یوه ښکلې خو دردوونکې برخه (انگۍ) انتخاب کړې تر څو د دې سندرو تر شا د ښځو په غوښتنو، اهدافو او پیغامونه خبر شو او د دوی د ژوند ریښتیني حالات درک کړو.

## د څېړنې هدف

د دې موضوع له څېړلو څخه هدف دادی، چې تر اوسه د ولسي- سندرو دغې زړه راښکوونکې برخې ته تر ډېره توجه نه ده شوې او کومه مفصله لیکنه او څېړنه پرې زما له نظره نه ده تېره شوې، همدارنگه ما په دې برخه کې د خلکو له خولو نه ځینې هغه نوې او په زړه پورې سندرې را ټولې کړي، چې لا پرې تر اوسه چا کار نه دی کړی او دا سندرې زموږ د ولس د دود، دستور او ثقافت ښه ښکارندویي کوي.

## د څېړنې میتود

په دې څېړنې کې له تحلیلي او تشریحي میتود څخه کار اخیستل شوی او د اړتیا پر مهال مې مرکې هم کړي چې د موضوع له تفصیل او ښې تشریح سره یې ګټه کړې ده.

## د څېړنې پوښتنې

په دې څېړنه کې هڅه شوې چې لاندې پوښتنې ځواب شي:

۱- ولې پښتنې ښځې د واده په ورځ د خندا او خوشحالیو پر ځای ویر او ژړا کوي؟

۲- آیا چغیان او انګۍ یو مفهوم افاده کوي او که فرق کوي؟

۳-د انګیو تر شا پیغامونه او اهداف د نورو پښتنو ښځو په ژوند کې څومره موثر دي؟

## په انګیو کې د ښځو د یادونو او فریادونو انځور

انګۍ د پښتني ولسي سندرو یو ځانګړی فورم دی چې ځانته ځانګړي شکلي او موضوعي خصوصیات لري، دا سندرې تراژیدي بڼه لري چې ناوې یې د ژړا په څپو کې په خاص آهنګ او وزن وایي.

لکه څنګه چې جوته ده تر ډېره د پښتني نجونو ودونه په خوښه نه وي د میندو، پلرونو او مشرانو په خوښه ودیږي؛ نو ځکه ناویانې ناراضه وي، احتجاج کوي، په زړه کې یې غوټې وي، ګیلې لري او د خپل ټول درد او دوک د ښکارولو لار یې «انګۍ» بللې وي او دا سندرې د ځانګړي ژړا په ترڅ کې وایي.

په حقیقت کې انګۍ د پښتنې مېرمنو د دردېدلو زړونو دوک او نه تم کېدونکی فریاد دی چې د دوی قهر او غوصې د اوښکو په نمجنو او د ژړا او انګولا له څپو سره مل شوې دي.

انګۍ د پښتني فولکلور هغه برخه ده چې په خپل چوکاټ کې یو ځانګړی سکښت او جوړښت لري.

په فني اعتبار د انګیو د مسرو په جوړښت هېڅ پابندي نه شته دا په ویونکې پورې اړه لري چې خپل جذبات او احساسات په څو مسروکې کښې او څنګه بیانولای شي، په دې خاطر ځېنې انګۍ لنډې او ځینې بیا اوږدې وي. انګۍ یو

ځانګړی وزن او اهنګ لري اوتر ډېره د ردیف له قید څخه ازادې وي، خو د قافیې پابندي هم په کې موجوده وي .

تر ډېره د انګیو جوړښت د اتڼ نارو ته ورته دی او هر یو یې دوه مسریز، درې مسریز، څلور مسریز او ان پنځه مسریز او تر دې زیات وي. (۱: ۳۲مخ)

مسری یې د مطلب تر بشپړیدو پورې زیاتیږي، انګی په بېلابېلو سیمو کې بېلابېل نومونه لري چې د هوی سندرې، انکی، چغیان او وردګو کې اوښکي په نامه هم یادیږي.

سرمحقق زلمی هېوادمل په دې اړه لیکي:« چغیان د خپل جوړښت له پلوه دوه مسریزې، درې مسریزې او څلور مسریزې دي او حتی تر دې زیاتې مسرې هم لري. ( ۷:۱۳ مخ)

انګی د پښتني فولکلور یوه ځانګړې او خوږه برخه ده، چې کلونو وړاندې پېل شوي او خوله په خوله تر موږ پورې رارسېدلې دي

د ادبپوهانو په وینا انګی لومړی ځل په سنځرخېلو قبیلې کې ترلاسه شوي، نو ځکه د سنځرخېلو نارو په نوم یې هم شهرت موندلی او وروسته بیا نورو ځایونو ته لېږدول شوې دي.

انګی تر ډېره ټولنیز، احتجاجي، اخلاقي، انتقادي، تاریخي، توصیفي دیني، د ښېرو، طنزیه، ویرنه د درد او ناهیلیو موضوعات را نغاړي.

دا سندرې د پښتني فولکلور یوه ځانګړې برخه ده کله چې نجلی چاته ورکړل شي، نودغه نجلی له هماغه وخت څخه د انګیو په جوړولو فکر کوي او د واده ورځو کې کله چې د ناوې وړلو لپاره ورا راځي نو ناوې د پلار له کوره د روانېدو په وخت کې د بېلتانه نارې وهي او د زړه خبرې یې د دردونکو سندرو په ډول له خولې راوځي او نورې ارمانجنې ښځې او همزولې یې هم ورسره ملې شي، ناوې په تخت کښېنوي او ناوې په وای- های،های سره انګی وایي او خپل د مظلومیت اظهار کوي او په نږدې خپلوانوسختې نېوکې او خبرې کوي .

د انګیو د ویلو او وخت په اړه د پښتو ژبې فولکلوریست لیکوال پروفیسور سیال کاکړ وایي:

«د واده په سهار پښتنه ناوې، په ښکلي پسول او رنګینو جامو پسوللې وي. دا

ګل ټيکرى پر سر د خپلو همزولو په منځ کې کيني او پـه دې ډول د انګيـو سـندريزه دنيا آباده کړي.

د بېلتانه په دې سختو شېبو کې پښتنه ناوې نه يوازې په خپله ژاړي، بلکې د خپلو سوزناکو انګيو په وسيله ټول چاپيريال په ژړا راولي. پښتنه ناوې خپلې دا ډول سندرې په ځانګړي وزن او آهنګ سره وايي. په دې سندرو کې د آها، هو، آهـې او د آبې احتجاجي کلمات د يوې پښتنې نـاوې د خـورا خوږمنـو احساسـاتو ښـکارندويي کوي.

دا سندرې په يوه ځانګړي آهنـګ پيليـږي او لـه کـوم سـاز و سرود پرتـه د ژړا د پيل ځانګړى انداز دى چې لږ وروسته ورپسې منظومې انګې اوريدل کېداى شي.

که څه هم د انګيو د رامنځ ته کېدو زمانه نه شو ټاکلى، خـو دومـره ويـلاى شـو چې د انګيو سلسله لـه ودونـو سره سـم پيـل شـوې ده، يعنـې د ولسي ادب د دغـې پانګې سرچينه له پښتني ودونو څخه اخيستل کيږي. د پښـتني فولکلـور دغـه برخـه پـه خپلـه غېـږه کـې د ښـځينه پښـتني احساسـاتو ډول ډول انځورونـه رانغـاړي. پـه دغوانځورونو کې له پښتني ښځو سره د تر سره شوونادودو په ترڅ کې يو هـم د ولـور وېروونکى انځور دى، چې حساسو پښتنو ښځو دغـه زيـاتى ډېـر پـه ښـکاره ډول تـر سيم کړى دى او مورې يې په انګيو کې له ورايه ليدلاى شو: لکه په لانـدې انګـې کـې د يوې پښتنې ښځې فرياد:

د سپينې خو نې پر وره انګار
و دې نرېږي بورى بازار
لکه مينايم تل په چغار
چې خرڅه کړې يم ظالم پلار
څه به يې کومه که وي سردار
نه مي جوړېږي د زړه پرهار (٦: راديويي مرکه)

همدارنګه د ولور په مقابل کې د نجلۍ ورکړه او په نوي کور کې خپله ناخوښـي او محروميت داسې بيانوي:

زه په خپل کور کې وم په راحت
بابک خرڅه کړم په ډېر دولت

په پردي کور کې مې نه شته عزت
خود به ژړا کړم په هر ساعت ( ۱: ۳۲ مخ)

یا هم په لاندې انگی کې یـو هـوس پلـوی پـلار د دوهـم واده لپـاره خپلـه لـور قرباني کوي او دغه مظلومه نجلۍ د پیسو په بدل کې دهغـې د خوښـې پـر خـلاف چاته ورکوي، دا نجلۍ هم د خپل د تور برخلیک په ویر کې د بېوسـۍ چیغـې پـه دې توگه څرگندوي:

بابــــک اخیســــتي شـــــنه بنډلونــــــه
د بــــــل واده دی وینـــــــي خوبونـــــــه
زه یــــــم روانــــــه خــــــالي لاســــــونه
نـــه مـــې کـــالي شـــته نـــه مـــې بوټونـــه
تکـــــړی د بـــــل دی دبـــــل پینونـــــه
وړم تــــر قیامتــــه بــــه زه پیغورونـــــه
تـــــرودغلي شــــــه زمــــــا زر مرگونـــــه
ســــــړی رغــــــوي خپــــــل کفنونــــــه
بابکــــــه مــــــه دې خېــــــژه ارمــــــان
خرڅــــــه دې کــــــړم لکــــــه حیــــــوان
پېغــــور دې راکـــــی پـــــه دې جهـــــان
تــا بــه لوټــو راوړ ایــمان ( ٦: راډیــویي مرکــه)

په انگیو کې پښتنې په پلار او نورو هغو خپلوانو چې د دې په برخلیـک کـې لاس لري رسا گوزارونه کوي او زړه پرې تشوي، لکه:

د ســــپیني خــــونې تــــر مــــخ مــــاخې
بابکــــه زهــــر دې ســــه زمــــا روپــــۍ
پــــر سر بــــه وړمــــه د غــــم ټــــوپۍ
پــــه پښــــو بــــه وړمــــه د ویــــر کپــــۍ
د ســــپیني خــــونې پــــه وره یــــې تــــړم
پښــــتنو خــــود بــــه بــــوغي وهــــم
زه لــــــه بابکــــــه گیلــــــې کــــــوم

نــــن شــــنې روپـــۍ ســــوم ویـــې خــــوړم
تـــر بـــوره لاس مــــې پـــه لاس کـــې درکـــۍ
مــــا ویــــــل تــــه بــــه رایــــــج کــــۍ
تـا د ظـالمو پـه لاس کـې ورکـۍ ( ۵: ۲۴۰ مـخ)

انګۍ د ښځو هغه چیغه او فریاد دی چې د دوی د محرومیت او بېوزلۍ انتها څرګندوي.لاندې بیتونو کې دا موضوع وګورئ:

شینکۍ کوتره وم ښورېدمه
نه چا نـــــیومه نه چا کتمه
په هر یــــو ټکي به پریوتمه
نن ناولده یې کښېستمه (۱: ۳۳مخ)

پښـتنه نـاوې خپـل غـم لـه نـورو همزولـو سره هـم شریـک کـوي د دې پـر دې بدبختۍ نه یوازځې چې دا ژاړي بلکې نورې ښځې او همزولې یې هـم د دې پـه بخت د افسوس اوښکې تویوي:

خورې هوی که غاړه لوی که
اکــــاګــــــان درتــــه ولاړ دي
اکاګانو زړونه لوی دي ( ٦: رادیویي مرکه)

په ډېرو پښتنو سیمو کې دا رواج ده کله چې پښتنه نجلۍ ودیږي، نو نجلۍ تـه یو ځانګړی تخت جوړوي او د ورور له لوري د نجلۍ پر سر د ګل ټکرۍ په نامه لوپټـه په سر کیږي چې د سرسایه ټکری هم ورته وایي، دا په دې معنا چې په دې نجلـۍ د ورور سیوري تل وي او په پښو یې چوټۍ یا کپۍ په پښو کوي چې په دې وخت کې یوه پېغله خپل د زړه فریاد د ورور په وړاندې داسې څرګندوي:

(فلانی) وار کــــړه که د وار کړې
کپۍ غایتې نه پــــــه پښو کړي
ته له هر یې کــــــپۍ وریـــــړې
چې بله شپه یې رابـــــاندې کړي
شــــــــــپه مو پــــــه مړو تېرومه
زه به په ظالم ځان رسومه ( ٦: رادیویي مرکه)

په دې انګۍ کې د یوې نجلۍ د ناخوښۍ او نارضایتۍ انتها ګورو لکه چې ناوې خپل ورور ته وایي کېږي تنګې دي مه را پښو کوه، تا خو زما د رضا خلاف ورکړې یم اوس راباندې دا تنګې کېږی هم په زوره په پښو کوې، نو په سوېو ژړا او انګولا کې وایي: ته غم مه کوه زه بله شپه په تا نه کوم شپه مې دې په مړو وشي خو په تا نه.

یا هم په لاندې انګیو کې یوه ښځه د خپل پلار د کور ارمان کوي او له نوي کور څخه خپله کرکه او ناخوښي څرکندوي:

سپینه ټیکریه، کپن مې ته سې
تــــنګه کمیسه آزاد به نه سې
د بابا کوره پیدا به نه سې (۲: وېب)

همدارنګه په لاندې انګیو کې پښتنې ښځې په ناروا دودونو په زغرده ګوزارونه کړې دي اوهم د خپل تیاره ژوند په تورنو کسانو یې هم د ویر ناره کړې ده:

د سپـــېنې خونې پر وره، دودونه
ولات آبـــاد دي، په سره ګــلونه
پر ما امـــبار دي د ویـر غمونه
نه ســـترګې تورې نه سره لاسونه
مرګي دې وخوري داسې توبـرونه
پـــه غوړو اوري مـــدام ګایـونه
پر خپل بخت ژاړي دا خوارې نجونه (۲: وېب)

بله بېلګه:

د سپـــینې خـــونې پر وره غنم
زه بـــرابره پر وره کېــــــنم
ســـوال دمـــکې پر دربار کوم
داره پـــات اجـــیان یادوم
زه د ایـــدرې له روانـــه سم
پردۍ نړاندې نه خپلوم (۸: ۱۰۵-۱۰٦ مخونه)

وګورئ لاندې انګۍ چې له نوي تهذیب او مصنوعي رنګارنګیو څخه لرې دي

په غرونو او کلیو کې له اوسېدونکو نالوستو پېغلو ښځه د بې انصافۍ پرده ځنګه په زغرده لرې کوي او د دوی د پلار، مشر ورور او یا هم د کورنۍ د بل مسوول کس بې دودۍ ځنګه بیانوي.

خلـــک یـــایي مه ژاړه، ژړا روا ده
خندا د نـــجونو په نیــــمه خوا ده
د پلار پر کور مې یــــو ســهار دی
و ګورستان ته څوړېدنګ ګران دی
د ګور ستانه بیا ختنګ ګران دی (۳: ۱٦ مخ)

پښتنې ښځو په انګیو کې د خپل ژوند ډېر اړخونه څېړلي دي: خپله بېوزلي، ټولنیز جبر او همدارنګه له یو شمېر ناخوالو سره سره یې دینـې او مـذهبي مشران، ملایان هم نه دي پرېښي چې هغوی داسلامي اصولو، د شرعـي احکـامو او فقهـي اړتیاووپر ځای تش د دود، دستور، رواج له مخـې د نکـاح پـر وخـت لاس پورتـه کـړی دی، دا نه ګوري چې زوم د ناوې د شرعي اصولو مطابق وړ دی که نه. ځکه نـو پوهـه پښتنه په انګۍ کې د دغه ظلم پر وړاندې خپل جذبات دا ډول بیانوي:

د ســـپینې خــونې پـــر وره غـــنم
شـــــینکۍ کــــوتره وم والــــوتم
پـــر هـــره پاڼـــه بـــه پرېـــوتم
زه لــــه باچــــا نـــــه وېرېـــــدم
توپــک یـــې ډک کـــړ وې ویشـــتم
په مـړه یـې نـه کـړم رنځـوره یـې کـړم
و لـــوی کالـــه تـــه یـــې اړه کـــړم
زه و مـــلا اکـــا تـــه ښـــیرې کـــړم
زه به تر مرګه اوسوز کوم(۲: وېب)

په همدې ترتیب د شرعي اصولو خلاف لـه یـوې پښـتنې ښـځې سره د شـوې ناروا په اړه دا ډول اشاره کوي او د بېوسۍ چیغې وهي:

دا د ســپین غـره پـه سرکـې برېښـنا
پښـــتنو وکـــۍ حـــال لـــه مـــلا

پــه کــم مــذهب یــم ورتــه روا
زه یې وربېره یم دی مه اکا (۲: وېب)

د اسلامي او انساني ټولنې دا یو منلی حقیقت دی چې د واده کولو لپاره به دهلک او نجلي رضایت شرط وي، خو له بده مرغه په پښتني ټولنه کې د هلک او نجلۍ په ځانګړې توګه د نجلۍ رضا او خوښۍ ته نه کتل کیږي او د خوښې پر خلاف یې زاړه او سپین ږیري ته واده کیږي البته زموږ په ټولنه کې دا کومه نوې یا د حیرانتیا خبره ځکه نه ده چې تر دې وړاندې هم ډېرې نجونې سپین ږیرو او بوډاګانو ته د ځینو ملاحظو او پیسو په خاطر واده شوې دي. چې له بده مرغه تر اوسه هم ځای ځای دا ناسم دودونه تر سترګو کیږي، چې لاندې انګې یې ښه سپیناوی کولای شي:

زړه کــه رابــد دی د لالا رابــد دی
زړه کـه راښــه دی د بابـا راښــه دی
پـه مـاهي غوښـتی د ځـان واده دی
و تربـــــور و ودری و کچــــــارۍ
ټوپــک رواخلـــئ تـــورې ځنـــډئ
دی مه نیکه دی زه یې لمسۍ ( ماخذ)

یا هم په لاندې لنډۍ کې دغه احتجاج ګورو:

په سپینه ږېره دومره مینه
په سترګو ړوند شې د لمسۍ پر ځای دې یمه ( ۳: ص۲۲)

پر بې باندې د خور او لور ودول یوه بله تراژیدي ده، زموږ په ټولنه کې ځینې نارینه دوه، درې او یا څلور ښځې لري او دا ښځې اکثره په نوموړې سړي باندې د دوی له خوښې او رضایت پرته په زور واده شوې وي، په لاندې انګۍ کې دغه نارضایتي او عدم توافق یوې پښتنې ناوې داسې بیان کړی دی:

د سـپینې خـونې پـر مـخ مـې یـاره
ظالمـــه کومـــه دې ده مېړانـــه
مـوږ دی ویشـتلی پــه ټوپـک دواړه
تـر مـا بـه دا وي پـه ځـان اریانـه

(۴:۳مخ)

د پښتنې ټولنې په ځینو ناوړه رواجونو او دودو دستور کې دا جواز هم شته چې وړې او ماشومې نجونې واده کړي، چې پښتنه ناوې په دې ناوړه عمل داسې اعتراض کوي.

بابا وچ مه سې زما له ازاره
لکه لرګي د نغري پر غاړه
زه د نه لویه کم نه هوښیاره
په پردي کورکې به یم اریانه
( ۴: ۳ مخ)

په انګیو کې د انساني نفسیاتو مطابق پښتنې ښځو د پردیسۍ ځوروونکي احساس یادونې هم کړي دي، دغه یادونې په ځوروونکي جذباتي کړو وړو کې نغښتل شوې دي:

د بر نیمې سر کې ودونه
مرغان راوځي په کتارونه
بابک ورکړي دي سلامونه
یایي سلام یایه پر خوار و لوښه
خواري دي نه لري ارمانونه
په ما پسې کلپ دي بې کنجۍ
ورونه (۲: وېب)

دا چې پښتنه ناوې تل په دې اړه فریاد کوي، خو بیا یې هم څوک نه اوري نو له ډېره درده وایي:

د هوا مرغان به غږومه
د ادې حال به ځینې کومه
بابا ظالم دی وېره یې کړمه
بخشش به زه نه ورته کومه
مامي یایې چپ که نه چپ کومه
نن مې واک خپل دی چې و ژاړمه

زه تــر هغــو بــه چېغــي وهمــه
چــې لــه بابــا لــه کــوټې وتمــه
مــخ بــه راپــټ کــم وبــه درمــه
څــه وکــم خدایــه چــاره ده کمــه؟
(۲: وېب)

همدارنگه په لاندې انگیو کې هم د ولور لـه ظالمانـه دود چـې د زیـات رقـم پـه بدل کې یوه ښه ښایسته نجلۍ پر یوه معذوره، اتیاکلن سـپین ږیـري یـا یـو نـا سـیال سړي ته ودیږي، یادونه شوې ده:

د ســپینې خــونې پــر وره دودونــه
تــر خولــه مــې وزي ســاړه آهونــه
نــه مــه ادې شــته نــه مــه وروڼــه
(۸: ۱۰۵مخ)

همدارنگه لاندې انگۍ هم له پلار او مور نه د یـوې پښـتنې نجلـۍ ناخوښـي او گېلې څرگندوي چې د دې له ژوند او برخلیک سره یې لـوبې کـړې دي او د دې خوښه یې په پام کې نه ده نیولې:

ادکــې وخــورې د گوتــو ســتوري
د گوتــو ســتوري د ســترگو ســتوري
پــــه لــــوړ ســــهار دې تیــــارولم
لکــه حــاجي د مکــې پــه لــوري
حاجي لا ښه دی حج یې قبول شي
پـه مـا بـه نـورې نړانـدې ږغـل شي
(۲: وېب)

همدارنگه یو بل ناوړه دود چې په پښتني سیمو کې رواج لري هغه په بـدو کـې د لور یا خور ورکړه ده، که څه هم تر ډېره دوی دغه کـار د یـوې دښـمنۍ لـه منځـه وړلو په موخه کوي او مقصد یې دا وي چې دا بدي په خپلوۍ بدله شي، خو په بدو کې له دغو ورکول شوو نجونو سره په هغو کـور کـې ډېـره نـاروا کېـږي او دوی تـر دې رسیږي چې مرگي ته تر ژوند ترجیح ورکړي:

د ســپينې خــونې تــر مــخ غــنم
زمــا نصــيبه ورک دې ســه نــوم
لــه ميــږو وزو دې زه ســمه کــم
بــد کــا کــو وکــا زه ژوبلــه شــوم
چــې پــه بــدي کــې ورکــړې يــم
د ډول سرنــا پــه نڅــا کــې خلکــو
حلاليدو له به زه ورځم ( ۳: ۳۱ مخ)

پـه لانـدې انګـۍ کـې هـم د يـو بـل څـورونکي دود يادونـه شـوې چـې هغـه د بـدل دود دی بـدل پـه پښـتني سـيمو کـې ډېـر رواج لـري، همدارنګـه پـه پښـتني ټولنـه کـې کلـه چـې نـاوې ودېـږي، نـو نـاوې تـه د پـلار لـه کـوره زيـور، کـالي او دکـور سـامان ورکـوي او کـه چېـرې کومـه نـاوې يـاد دود پـوره نـه کـړي نـو د خسرـ کـور کـې ورتـه پېغـور ورکـول کيـږي او پـه بـدل کـې لـه ورکـړې نـاوې يـا بـدل ګـړې سره پرتلـه کيـږي او د عمـر پېغـور ورتـه پـاتې کيـږي. پښـتنې نجـونې په دې باب هم داسې اواز کوي:

د ســپينې خــونې تــر مــخ مــاخۍ
بابـــا ور کـــړې يـــم پـــر سرۍ
پـــه مـــا يـــې راوړه ښـــه نـــاوکۍ
کــې يــې نــو لــه پــر ښــه نيــالۍ
اوس مــا وربــاسي ســخته ګــړۍ
نـه مـې بالښـت سته نـه مـې نيـالۍ
پېغــور بــه راکــي پــردۍ ټــولۍ
يــاېي څــه در وکــو بابــا مــورکۍ
جــواب بــه څــه کــړم زه خــوارکۍ
( ۴: ۲۴۰ مخ)

همدارنګه کله چې ناوې جوړه يا سينګار شي او د زوم کورنۍ د ناوې بېولـو تـه راشي، نو د ناوې همزولې او پېغلې د دې په بېلتون کې سوې چيغـې، فريادونـه پـه غريو او نيولي آواز کوي:

ســــپین وکـــاږه خــــورې د سرو دې وار دی
خسر گنی دې راغله د دریا آواز یې درزهار دی

په پای کې به د انگیو څو بېلگې رواخلو چې په هغو کې د پښتنې ناوې هېلې، احساسات، اعتراضونه، احتجاجات او تمایلات له ورایه ښکارېږي:

دا دکــــوټې پـــه چوکـــاټ ولاره
لالکـــه راســـه مـــا کـــه حلالـــه
په اوس گړی یم په مـرگ خوشـحاله
(۴:۳مخ)

زه ســـې راووتـــم لـــه کیـــږدی
یـــو څـــومې وکـــې ســـوې بـــوغې
د تربـــرو بنـــدې وې وی کجـــاری
لیـــاتور ټوپـــک وو لیاشـــتې لـــونگی
اوس خـو نـو څـه سـو هغـه تربرونـه
ســـوې دوی پـــه واچـــول تلاکونـــه
ســـې تـــا بـــه نـــه وړی پـــردی مرونـــه
اوښـــکې تویـــوې پـــر گریوانونـــه
تـــر شـــامې پـــاتې مینـــدې پلرونـــه
(۴:۳مخ)

مـــا مـــې راکـــه دواړه لاســـونه
ســتا پـر لاسـو دې شـینکې خالونـه
تـــا خـــو لیـــدلې پـــردې گوزارونـــه
کـــږې خـــبرې کـــاږه گایونـــه
ماتـــه بـــه راکـــړې پـــر زړه داغونـــه
( ۴ : ۳ مخ)

نو که دا خبره راټوله کړو په دې توگه په انگیو کې د پښـتنو مېرمنـو د بېوسـیو، ناخوالو، محرومیتونو، سویو چیغو او دردونـو کیسـې بیـان شـوې دي چـې د واده پـه ورځ یې ناوکی په سوز او گداز سره وایي او د هغو ناوړو دودونو یادونه کوي، چـې د

نوموړې  په ژوند کې د بدمرغیو لامل شوې دي.

## پایله

انګۍ چې د پښتني فولکلور یوه ښکلې او زړه راښکونکې برخه ده د پښتني ښځمنو  رښتینې عکاسي یې کړې ده په دې سندرو کې پښتنې پرې له  شوي ظلم او ناخوالو څخه  پرده پورته کوي او په زغرده په هغو کسانو چې د دې پر  وړاندې یې ظلم کړی دی او د دې د ژوند د بد مرغۍ سبب ګرزېدلي دي غږ پورته کړی  او په خپل تو ر برخلیک یې تورن ګڼلي دي.

په دې سندرو کې پښتنې پر خپلو ناخوالو او محرومیت د بېوسي اوښکې تویوي او د هغو ناوړو دودونو پر وړاندې د اعتراض غږ پورته کوي چې د ښځو پر ژوند یې تور سیوری غوروځولی . دا سندرې ناویانې په ژړغوني، سوي او لوغړن غږ په غریو او غم سره وایي اوله خپل برخلیک څخه نارضایتي ښکاره کوي. په هر حال: انګۍ را ته ورته ځانګړنې لري چې د ټولو ځانګړنو بیانول د دې لیکنې له حوصلې څخه وتلې خبره ده، خو زه به خپلې خبرې د لاندې انګۍ په راوړلو سره ختمې کړم، خو هیله ده چې دې برخې ته زیاته توجه وشي او زموږ درنې خویندې د نوو غوښتنو په رڼا کې نوې انګۍ چې لا هم په ځینو سیمو کې شته راټولې او خوندي کړي.

د سپینې خولې په وره دودونه
له پاسه راغلل خرکي رودونه
پر سر یې راوړل د مړو هدونه
ورته ولاړې بې پلرو لونه
اوښکې څڅېږي پر ګریوانونه (۴:۳)

## مأخذونه


۱. ګل غوټۍ خاورې، د پښتو شفاهي ادبیات شکل او مضمون، لومړی چاپ، د افغانستان علومو اکاډمي: کابل، ۱۳٦٦ لمریز کال.

۲. په انګیو کې د ښځینه جزباتو تصویر، لیکنې مجله، پښتو اکاډمي: کوټه، د اخیستنې نېټه: ۱۳۹۷/۲/۱۰. www.pashto academy. com

3 . ابوالخیر ځلاند، انګۍ د نیمې نړۍ فریاد، پښتو ادبي کاروان: کوټه،

۱۹۹٦ لمریز کال.

۴. توریالی ځاځی، «انگۍ د پښتنو مېرمنو د مبازې او احتجاج پیاوړی سنگر»، د اصلاح ورځپاڼه،دریمه دوره، چهارشنبه، د غویي میاشت، ۱۳۹۰ لمریز کال، ۳ مخ.

۵. حبیب الله رفیع، زرینې ځانگې، د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز:کابل، ۱۳٦۰ لمریز کال.

٦. آرزو زیارتواله، کوزه پښتونخوا، « انگۍ»، آزادي راډیو، بارکوال میاخېل، رادیویي مجله، کابل، سه شنبې ورځ/ د کب میاشت/۱۳۹٦لمریز کال.

۷. زلمی هېوادمل، د پښتو ادبیاتو تاریخ، لومړی ټوک، دویم چاپ، دانش خپرندویه ټولنه: پېښور، ۱۳۷۹ لمریز کال.

۸. محمد داود وفا، د فولکلور پېژندنې لاربښود، ختیځ اکاډمي: ننگرهار، ۱۳۹۲ لمریز کال .

څېړندوی عبدالاحدمنګل

# په پښتني فولکلور ټولونې او څېړنې کې
# د ختیځپوهانو ونډه

## لنډیز

پښتو فولکلوري او ولسي ادب د پښتون ټبر هغه لویه معنوي شتمني ده چې د دوی ژوند، ژواک، ټولنیز تعاملات او کړه وړه ترې روښانه معلومېږي، نو ختیځپوهان چې کله هم دې خاورې ته را غلي لومړی هڅه یې د پښتون ولس په مزاج د ځان پوهولو کړې ده چې هغه د پښتني ولس له فولکلوري روایاتو او کلتور څخه ښه څرګندېږي، نو لومړی کوښښ یې د پښتني فولکلور د را ټولولو کړی دی.

په دې مقاله کې د ختیځپوهانو په فولکلوریکو څېړنو رڼا اچول شوې، د هغوی چارې په جامع ډول ارزول شوي، کره او ناکره برخو ته یې اشاره شوې ده، په دې برخه کې د دوی هڅې او تېروتنې دواړه په ګوته شوي دي.

## سریزه

د اتلسمې پیړۍ په وروستیو کې انګریزي ښکیلاکګر د خپلو استعماري موخو او هدفونو ترسره کولو لپاره لومړی د هند پراخو سیمو ته راغلل، هغه یې په خپلو استعماري لوموکې راښکیل کړ او بیا د خپلو همدې شومو موخو د غځولو لپاره د لرې پښتونخوا له لارې افغانستان ته راغلل او چې کله یې په دې سیمو کې د پښتنو دکلتور او فولکلور دغه بډایه پانګه ولیدله، نو د دې ولس پر تاریخ، فرهنګ، احساساتو او عقایدو باندې د پوهېدو او خپرېدو لپاره ورته ډېره غوره او اغېزناکه

وسیله د پښتنو دکلتور او فولکلور مطالعه ښکاره شوه، نو ځکه یې د هغـو پـه راټولولـو او څېړلو لاس پورې کړ.

ولسي ملي او تاریخي روایـات او د فولکلـوري ادب نـور تـوکي او برخـې یـې راټـولې کړې، هر اړخیزې څېړنې او سپړنې یې پرې وکړې او هغـه یـې دځـانګړو کتـابونو او ټولګـو په بڼه چاپ او خپاره کړل.

سره له دې چې دوی دا کار دخپلو استعماري موخو او هـدفونو لپـاره کـاوه، پـه دې وسیله یې ځانته د افغانانو اسلامي او ملي روحیه، ژوند دود او عنعنې معلومولې، خو پښتنو ته یې دا ګټه ورسېدله چې د فولکلور او ولسي ادب یوه برخه خوندي شـوه او هم دفولکلور ارزښت او اهمیت ته د ځینو افغاني لیکوالو او څېړونکو پام واوښـت، پر ټولولو او خوندي کولو یـې پیـل وکـړ او پـه معـاصره طریقـه د فولکلـور د راټولـونې، څېړنې او تحلیل چارې پیل شوې.

مخکې له دې چې د پښتو ژبې پر فولکلوري ادب او په ځانګړې توګه د ولسي-ادب د اصـنافو د راټولولـو، څېړلـو او خپرولـو پـه اړه د ختیځپوهانو(مستشرقینو) پـر کارونو او ادبي خدمتونو څه ووایـو، لـومړی غـواړم د مستشرق (ختیځپـوه) کلمـې پـه لغوي او اصطلاحي معنا لنډ بحث وکړم، ځکه چې د دې موضع لنـډ وضـاحت بـه لـه موږ سره تر بحث لاندې موضوع په څېړنه او سپړنه کې پوره مرسته وکړي.

### د څېړنې اهمیت او مبرمیت

په دې کې دی چې تر اوسه د ختیځپوهـانو لـه فولکلـوري آثـارو څخـه پریمانـه ګټه اخیستل کېږي خو د هغوی پر فولکلوري موادو پراخه او بشپړه تنقیدي کتنه نـه ده شـوې، پـه دې اړه مـې د ځینـو پوهـانو نظریـات، تحلیلونـه او قضـاوتونه لـه خپلـو نظریاتو سره د څېړنېزې مقالې د موضوع د اثبات لپاره وړاندې کړي، ځکه چـې ډېـر پښتو پوهان د ختیځپوهانو نظریاتو ته ترجیح ورکوي، نو دلته لازمه و ګڼل شـوه چـې د ختیځپوهانو چـارو تـه د درنښـت تـر څنـګ؛ د هغـوی د کـارونو نیمګړتیاوتـه هـم د پوهانو توجه را واړول شي.

### د څېړنې موخه

لکه څرنګه چې معلومه ده، د پښتو ولسي ادبیاتو د ثبت، ټولولو، خونـدي کولـو او شننې چار لومړي ځل ختیځپوهانو پیل کړې، خو داچـې دوی د دې ژبـې اصـلي

ویونکي نه وو او بل د خپلو موخـو لپـاره یـې دا کـار تـر سره کـاوه، نـو د پښـتو ولسي ـ ادبیاتو او بدیعي ادب ډېر توکي را ټول کړي او په یوه بـل کـې یـې سره گـډ کـړي، د دې مقالې موخه په دې کې ده، چې یـواځې د څتیځپوهـانو فولکلـوري څېړنـو جـاج اخلي چې د یادو منابعو تجزیه، تحلیل او د فولکلوریکو توکـو او د هغـوی نیمگړتیـاوو ته په کې اشاره کول دي، تر څو څېړونکي د لومړیـو منـابعو پـه توگـه پـه دقیـق ډول گټه ترې پورته کړي.

## د څېړنې پوښتنې

- ختیځپوه چاته ویل کېږي؟
- په دې مقاله کې د ختیځپوهانو په کومو چارو بحث کېږي؟
- پښتني فوکلور لومړی ځل چا را ټول کړی؟
- ایا د ختیځپوهانو فولکلوري څېړنو ته کره او پوره ویلی شو؟

## د څېړنې مېتود

دغه څېړنه د توضیحي، تشریحي او انتقادي مېتودونو په رڼا کې تـر سره شـوې ده.

ختیځپوه چاته ویل کېږي؟

مستشرق دعربي ژبې کلمه یا ویی دی چې رېښه، جرړه یې (ش، ر، ق) ده. لـه دې جرړې نه دعربي قاعدې مطابق ډېر لفظونه جوړېږي، لکه: شرق، شرقـاً، شـارقه، تشرق، اشرق، شرقـه، مشرـق، مشرـقي، مشرـیق، استشرـاق، مستشرـق او نـور. د دې لفظونو په معناوو کې د لمر، لمر ختیځ ،لمر خاته او روښانتیا معنا شاملې دي، یعنې هغه ځایونه، علاقې یا ملکونه دي، چېرتـه چـې لمـر څرېکـه وهـي او دغـه ځایونـه یـا ملکونه روښانه کوي.

په بله وینا، په خاص ډول دلوېدیځو یا غربي اروپایي ملکونو هغه شـمېر پوهـان او څېړونکي، چې د آسـیایي هېوادونـو او قومونـو پـه بـاب یـې د تـاریخ پـه اوږدو کـې لیکنې او څېړنې کړي دي، هغوی ته دختیځپوهانو یا مستشرقینو نوم کـارول شـوی، همداشان ځینو پوهانو د غربي نړۍ هغه عالمان او محققین چې د مشرـقي ژبـو او علومـو په میدان کې یې علمي او تحقیقي څېړنې کړي دي، مستشرقین گڼلي دي.

ډاکټر جاوید خلیـل پـه خپـل اثـر (( پښـتو او مستشرـقین )) کـې د مستشرـقینو د

پېژندنې په لړ کې داسې ليکي: (( هغه عالمان، پوهان او ليکوال دي چې مشرقي ژبې يې زده کړې دي او بيا يې په دې کې وخت په وخت تحقيقونه او ليکونه کړي دي، دې قسمه ليکوالو ته ايرانيان، ((خاور شناسان)) يا ((شرق سناسان)) افغانستان کې ورته (ختيځپوهان)) او دلته پښتونخوا کې ورته ((مستشرق )) وايي. په انګريزۍ کې ورته (Orientalist) اورينټلست کلمه کارولی شي.))(۳: ۲۸مخ)

۱- مشهور ختيځپوهان: راورټي، پادري هيوز، ډارمسټېټر، ډورن، الفنسټون، والټربيليو، ګريسن، پلاوړن، جارج روس کيپل، سرالف کيرو، ميکنزي، پادري جان ليډن، پادري رابرت کلارک، پادري جنرالډسن، ګولډن شتيت، مارګنسټېرن، ډلکټراي ټرومپ او نور.

البته د ختيځپوهانو(مستشرقينو) په ترسره کړوکارونو کې به ځينې وړې لويې نيمګړتياوې او غلطۍ هم شوي وي، چې د هغې اصلي سبب د دغو بهرنيو پوهانو له پښتو ژبې او پښتون قوم او همدارنګه د هغوی له دود دستور او کلچر سره د دغو بهرنيانو نا بشپړه آشنايي او پرې نيمګړې پوهېدنه ده. خو په عام ډول د دوی زياتره ليکنې او څېړنې تر ډېره بشپړې او د هغه وخت له علمي او څېړنيزو معيارونو سره برابرې وې، نو ځکه موږ ته د خپل قوم، هيواد، ژبې او ادب په هکله ډېر غوره معلومات په واک کې راکوي.(۴: ج مخ)

ديادونې وړ ده، ښاغلي ليکوال چې پورته دځينو هغو ختيځپوهانو نومونه اخيستي چې د پښتني فولکلور په راټولونه او خپرونه کې يې ونډه لرلې، ځينې د نولسمې پيړۍ دافغان - انګليس لومړۍ او دوهمې جګړې په زمانې کې پښتونخوا ته راغلل او د پښتنو د فولکلور په راټولولو کې يې لږه يا ډېره ونډه اخيستې، لکه الفنسټون، ډارمسټېټر، ميجرراورټي او نور او ځينې يې معاصرختيځپوهان دي، چې تر درې څلور لسيزو مخکې پورې ژوندي وو، لکه اسلانوف عثمانوف دوريانکوف او نور چې ډېر يې روسي پوهان وو.

څېړونکي او فولکلوريست پروفيسر- سيال کاکړ د ختيځپوهانو د ادبي او فولکلوري څېړنو په باب خپل نظر داسې وړاندې کړی دی: ((د اروپا پوهانو (ختيځپوهانو)، ځينوپوهانو دپښتو ګرامرونه ليکلي دي او ځينو بيا زموږ د ژبې ضرب الامثال او لغات راغونډ کړي دي. ځينو بيا دا زيار ايستلی دی چې د ادب مينانو ته

یې د پښتو ملي سندرې وړاندې کړې دي او ځینې پلټونکي داسې دي چې هغو د پښتنو د نسل او نژاد په باب خپل عقاید ښکاره کړي دي، لکه ایم آرایلفنسټون، ایچ جي راورټي، هنري والټربیلو، میجر لوریمر، جي اي گریرسن او د پښتو لوی پوهاند ډارمسټټر ...))(٦: ٥،٦ مخونه)

زموږ دا نومیالي څېړونکي د پښتو د ادبي او فولکلوري څېړنو په اړه د دغو ختیځپوهانو یواځې نومونه اخلي، خو دانه وایي چې پښتو ژبې ته یې د ادب او فولکلور په کومو برخو کې څومره او څنگه کار کړی او نه پردې تحلیلي کتنه کوي چې دا کار ترکومې کچې سم او باوري دی.

محمدابراهیم عطایي د ختیځپوهانو د پښتو فولکلوري توکو ټولونې، څېړنو او څرنگوالي په اړه لیکي: (( د پښتو فولکلور ټولونې او څېړنې کار په نیمه علمي شیوه په نولسمه پېړۍ کې د اروپایي ختیځ پېژندونکو په لاس پیل شو.))( ٥: ١٢٢، ١٢۴ مخونه) لیکوال دلته په دې څرگندونو کې موږ یواځې د دوو ختیځپوهانو (الفنسټون او راورټي) له هغو لیکلو او ترتیب کړو آثارو څخه خبروي او هغه د (کابل سلطنت بیان او د افغانستان او بلوچستان پر احوالو باندې نوټونه په نومونو راپېژني چې لیکوالو په کې د پښتني فولکلور او ادب ځینې توکي او ژانرونه خوندي کړي، خو نور یې د هغوی د فولکلوري کار په څرنگوالي، او څومره والي هیڅ نه دي ویلي، په کار خو داده چې په دې اړه یې هم لږ او ډېر وضاحت ورکړی وای، ځکه که اوس د هغو آثارونه زموږ لاس رسی نه کېدای، نو لږ ترلږه خوبه مو یې د موضوعاتو او کار د نوعیت او کیفیت په اړه معلومات درلودلای.

د ختیځپوهانو د فولکلوري څېړنو په باب له مطالعې څخه دا څرگندېږي چې ډارمسټټر لومړنی ختیځپوه دی چې د نورو فولکلوري موضوعاتو ترڅنگ یې د پښتو فولکلوري ادب په برخه کې ولسي- سندرو ته هم پاملرنه کړې ده، هغه یې په بېلابېلو لارو چارو راټولې کړي، په یوه مجموعه کې یې خوندي کړي دي، له ورکېدو او هېرېدو یې ژغورلي او ترموږ یې رارسولي دي

دیادونې وړده چې د ډار مسټټر د ولسي- سندرو، لنډیو او متلونو ټولگه (د پښتونخوا د د شعرهاروبهار) لومړی ځل په ١٨٨٨م کال دپاریس دختیځ ټولنې له خوا دپاریس په سرکاري مطبعه او دوهم ځل په ١٩٧۴م کال په المان کې چاپ

شوې او دریم ځل په ۱۳۵٦لمریز کال د حبیب الله  رفیع په زیار د پښتو ټولنې له خوا چاپ او خپره شوې ده، دمګړۍ یې عبدالباري جهاني متن له نوو سمونو سره چاپ ته چمتو کړی چې ډېر ژر به چاپ شي.

د پښتني فولکلور د چاپي مجموعو څېړندود اثر لیکوال موږ ته د ځینو نورو ختیځپوهانو نومونه او هغه آثار راپېژني چې نومړو په کې د پښتني فولکلور ځینې توکي راټول کړي، خوندي کړي ، څېړلي او سپړلي دي.

نومړی لیکي: په دغه لړ کې دځینو نورو ختیځپوهانو نومونه هم دیادولو وړ دي. په هغو کې یو (ټاربرن) دی چې په خپل اثر (بنو یازموږ افغاني سرحد ( Bonau or our Afghan Front) کې چې په ۱۸۷٦ع کال چاپ او خپور شوی ځینې پښتو توکي، فولکلوري کیسې، متلونه او نور فولکلوري مواد راټول کړي او انګریزي ته یې ژباړلي دي. بل ختیځپوه چې د پښتو فولکلور ځینې برخې یې انګریزي ته ژباړلي (سي، آي، بایل) نومېږي، نومړي پښتو متلونه، نکلونه، د پښتنو ځینې دودونه او داسې نور مواد په خپل اثر (پښتو نکلونه) کې چې په ۱۹۳۸ ع کال په پېښور کې د فقیر چند مهر له خوا د دوهم ځل لپاره چاپ شوی خوندي، کړي دي. (۷: ۱۱۵، ۱۱٦ مخونه)

دغسې د دغو ختیځپوهانو د هغو علمي او عملي هڅو، چې دوی د پښتني فولکلور او ولسي ادب د راټولولو، خوندي کولو او خپرولو لپاره د نولسمې پېړۍ له لومړۍ نیمایي څخه تر اوسه په دې تېره یوه نیمه پېړۍ کې ترسره کړي، د یادونې او ستاینې او پرځینو ترسره کړو کارونو کې د نیمګړتیاوو ښودنې په اړه کره کتنې، نیوکې او بېلابېلې څرګندونې شوي، دلته موږ په همدغو پوښتنیو یادونو او څرګندونو بسنه کوو، را ځو دېته چې د پښتني فولکلور په را ټولولو او څېړلو کې د ختځپوهانو کومې چارې د کرکتنې د بحث وړ دي؟

د ترسره کړو څېړنو انتقادي جاج

دمخه مو دپښتني فولکلور د راټولولو، څېړلو او خپرولو لپاره دختیځپوهانو د علمي او عملي هلو ځلو او ادبي خدمتونو په اړه بحث کې د دې ټکي یادونه کړې وه چې بهرنیانو که د هرې ښکیلاکي، موخې او غرض لپاره دا کار کړی وي دا د موضوع یو اړخ دی چې ډېر یې سیاسي او هدفي بُعد دی، که څه هم په دې لاره

کې يې هر ډول هڅې کړي او دغه برخه پرخپل ځای دبحث وړ ده، خو پښتون ولس ته يې په ځرګنده دا ګټه را رسيدلې چې هم يې دکلتور او فولکلور يوه برخه له هېرېدنې او ورکېدنې وژغورل شوه او ترټولو مهمه دا چې د ولس د دغې ارزښتناکې پانګې ارزښت او اهميت ته يې پام ور واوښت، په عصري بڼه د هغې راټولولو، خوندي کولو څېړلو او سپړلو ته لاس په کار شول، دا ټول د غير پښتنو پښتو پوهانو د هڅونې او پاملرنې له امله وو، که نه وي، نو تر دغه وخته خو په خپله پښتنو ته فولکلور يو بې ارزښته څيز ښکارېده. دلته بياهم له اصلي بحث څخه دلېرې کېدو له ډاره په دې علمي او عملي هڅو او هلو ځلو کې د ختيځپوهانو په اصلي موخو او غرضونو څه نه وايو، يواځې د دوی په ترسره کړي کار د دې لپاره کره کتنه کوو چې د هغو ځينې نيمګړتياوو او کمزورتياوو ته په کې اشاره وکړو چې زموږ د او اوسنې او راتلونکې نسلونه په ځانګړې توګه څېړونکې بايد د مطالعې په جريان کې پر دې پوه شي چې د يادو منابعوکوم اړخونه قوي او کوم نه دي او د استفادې په صورت کې هر څه مخکې له مخکې ورته واضح وي، ځکه لکه مخکې مو چې وويل د پښتوژبې د ولسيـ ادبياتو د څېړنې په بهير کې نوموړي پوهان له زياتو غلطيو سره مخامخ شوي چې د استفادې لپاره پرې پوهيدنه او د دغو نيمګړتياوو رفع کولو ته پاملرنه ضروري ده. دلته ځينې هغه نظريات او ځرګندونې را اخلو چې زموږ خپلو څېړونکو او همدارنګه په خپله ځينو بهرنيانيو ختيځپوهانو په ګوته کړي دي.

((د اوسني ګړني ادب او د پښتني فولکلور ټولونې ربړي)) مقالې ليکوال استاد زلمي هيوادمل د پښتني فولکلور په باب د ترسره شوو څېړنو په اړه د بحث په وروستۍ برخه کې ليکي چې: (( د پښتني فولکلور په باب څېړنې موږ په عمومي ډول په دو کټګوريو بيلوو:

۱- د مستشرقينو څېړنې.

۲- د افغاني پوهانو څېړنې.

د مستشرقينو (ختيځپوهانو) څېړنې په عمومي ډول له ځينو خطاوو سره ملې دي، خو البته که له تيروتنو يې ورتېر شو بيا هم زموږ د فولکلور څېړنې په عمومي سير کې بې بدله نه دي. د دې څېړنو بل عيب دا دی چې د مسايلو په تفسير کې

هر چاله یوې خاصې مفکورې کار اخیستی دی چې د هغو مفکورو په چوکاټ کـې د پښتني معاشرې ځېړل به حتمي څه ستونزې پېښوي. او دا په دې معنا چـې پښـتانه دیوې جلا کلتوري ساحې او سـېدونکي خلـک دي. کلتـور او فولکلـور یـې د ځینـو خاصو اجتماعي، سیاسي او ملي خصوصیاتو تابع دي چې دیوې خاصې مفکورې په کالب کې یې ځېړل وراني پېښوي.

هغه تعبیرونه چې مستشرقینو زموږ دځینو فولکلوري او کلتوري پدیدو پـه مـورد کې کړي دي زیاتره یې صحیح او په واقعي شکل تطبیقي بڼه نه لري او صرف د هغو ښاغلو د ذهنیت مولودیې ګڼلای شو.

زمـوږ ځینــې محـترم فولکلـور څېړونکـي او کلتـور پوهـان د دغـو مستشرقینو نظریات دیو منل شوي اصل په توګه په خپلـو څېړنـو کـې را اخـلي او پـه دې نیامـت چې فلاني مستشرق (ختیځپوه) دغه خبره کړې او یایې دغه نظریه وړاندې کړې، نـو هرو مرو به صحیح وي. (۸: ۱۵٦، ۱۵۷مخونه)

دلته په دې لیکنه کې د لیکوال موخه داده چې د پښتني فولکلور او کلتـور پـه باب د مستشرقینو لیکنو او څېړنو ته دې په کره کتنه او انتقادي نظـر وکتـل شي، دا ځکه چې هغوی د پردي کلتور خلک دي، د ځینو غرضونو او موخو لپاره دلته راغـلي او د خپلو موخو لپاره زموږ پرکلتور او فولکلور څېړنې کـوي. نـه زمـوږ د ژبـې او ادب لـه ټولو ښـیګڼو او ځانګړتیـاوو خـبر دي او نـه پـه دې کلتـور او فولکلـور کـې نغښـتي ټـول جزئیات ورمعلوم دي او نه هغه په ټوله معنا او مفهوم سـم درک کـولی شي. لـه همـدې امله زموږ د فولکلور او کلتور په اړه د دوی په لیکنو اوڅېړنو کې له ډېـر غـور او احتیـاط سره سره بیـا هـم تیروتنــې کېـږي او ځینــې وړې لــویې نیمګړتیــاوې او کمزورتیــاوې ترسترګو کېږي، باید په انتقادي نظر ورته وکتـل شي او هغـه د څېړنـو لـه لارې پـه نښـه شي او که استفاده ترې کوو، باید له پوره احتیاط څخه کار واخلو.

روسي ختیځپوه اسلانوف په هغه لیکنه کې چې سرمحقـق معتمـد ژبـاړلې او د فولکلور پوهنې سمپوزیم د مقالو په ټولګه کې د ((پښتو فولکلور او په شوروي اتحـاد کـې یـې ژوره مطالعـه)) ترسرلیـک لانـدې خپـره شـوې، پـه هغـې کـې د لویـدیځوالو ختیځپوهانو د پښتني فولکلور او کلتور په اړه په ترسره شوو ځینو څېړنو نیوکې کـوي او وایي چې: ((تر دې نژدې وختونو پـورې پښـتني فولکلـور پـه تیـاره کـې پـروت و او

دعلم رڼا وربانديې نه وه لګيدلې او نه يې علم ته مخ ښکاره کړی و، يواځې ځوتنو غربي محققينو دا فولکلور ټول کړی او دغور او څېړنې لاندې يې نيولي و چې د دوی په مينځ کې مشهور فرانسوي عالم ډار مسستېټر امتياز لري. ده په پاريس کې په ۸۹- ۱۸۸۸) کلونو کې يو کلاسيک اثر (د پښتونخوا د شعر هار او بهار) چاپ کړ. دا اثر زياتره د پښتو د ولسي۔ سندرغاړو اشعارو ته وقف شوی دی، خو ځينې فولکلوري مواد او د شفاهي ادب بېلګې هم په کې شته، لکه د زانګو سندرې، اللو اللو، متلونه، محاورې، چيستانونه، لنډۍ او نور چې لا تر اوسه يې خپل اهميت او ارزښت د لاسه نه دی ورکړی، مګر د غربيانو له خوا د پښتنو د فولکلور دغه ټولونه او چاپ که څه هم يو مثبت او ګټور کار دی، خو له بلې خوا يې دغه فولکلور نيمګړی کړی او محدود کړی او زيان يې ور رسولی دی. په دې معنا چې تقريباً د پښتونخوا يواځې د ختيځې خوا فولکلور ټول شوی، يعنې د دوی په مجموعو کې يواځې دهغو پښتنو فولکلور راغونډ شوی چې د افغانستان نه د باندې او سېږي چې په دې تقدير پښتو فولکلور نيمه خوا او زيان وموند. د دغه نيمګړي فولکلور له جملې نه يوه د متلونو مجموعه ده چې د ميجر چ، ا، بيليوله خوا راټول شوې اوپه ۱۹۲٦م کال يې په کلکته کې چاپ کړې ده، بله د سندرو مجموعه ده، چې (ا، ب، ها وايل) راټوله کړې او دا کار يې، په ۱۹۰۷کې سرته رسولی دی او بله د پروفيسر۔ مارګنستېرين هغه فولکلوري مواد دي، چې د افغانستان د سرحدونو[1] نه هغه خواته مينځته راغلي دي او کوم چې په خپله په افغانستان کې موجود دي، هغه په دغو مجموعو او کارونو کې نه دي ځای شوي او غربي عالمان ورنه بې خبره پاتې دي... )) (۱: ٦۵، ٦٦مخونه)

پوهاند عبدالحی حبيبي د ډار مستېټر د پښتونخوا شعر هاروبهار اثر، چې د دوهم ځل لپاره په ۱۳۵٦لمريز کال د پښتو ټولنې له خوا خپور شوی، پر هغه باندې دخپلو ليکلو توضيحاتو په برخه کې چې د دې اثر په سريزه کې يې د موضوعاتو د تحليل په لړ کې کړې دي، دلته د دغو توضيحاتو ځينې ټکي په لنډيز سره راوړل کېږي:

[1] - دا د روسي عالم نظر دی چې محمد اکبر معتمدکټ مټ ژباړلی دی، د افغانستان يا لرې او برې پښتونخوا تر منځ د بېلتون کومه رسمي کرښه لاتر اوسه نه ده منل شوې. (ليکوال)

۱- په لومړۍ برخه کې یې د پیر روښان د مړینې کـال د ((هنـدژبې)) کتـاب د لیکوال ګریرسن په پیروۍ ۹۹۴ق ۱۵۸۵م کال ښودلی چې نومـوړي تـه داغلطـي د دبستان مذاهب د اثر له لوستلو څخه را ولاړه شوې، د ځینو څېړنو له مخې د روښان د مړینې کال، ۹۸۰ق / ۱۵۷۲م دي. (البته داوسنیو څېړنو په پایله کـې د روښـان د مړینې کال ۹۸۵هـ ق په ډاګه شوی دی.)

۲- مخزن په پښتو ژبه د اخـون درویـزه اثـر دی چـې دینـي احکـام، د روښـاني فرقې رد او ځینې مذهبي اخلاقي مطالب لري، خو مخزن افغاني د نعمت الله هروي ساماني تالیف دی چې د ۱۰۱۸ هـ په شـاوخوا کـې پـه دري ژبـه لیکـل شـوی او د پښتنو سیاسي تـاریخ او انسـاب یـې څېـړلي دي. څېړونکـي (ډارمسـټېټر ) دواړه ګـډ کړي او یو اثر یې بللی دی.

۳- د پیر روښان او خیرالبیان اثر په اړه، چـې لـه نومـوړي څېړونکـي سره کـوم ابهام و، هغه په لویدیځ المان کې د دغه اثر پیدا کېدو او په ۱۳۵۳لمریز کـال کابـل کې له چاپ او خپریدو سره له منځه ولاړل.

۴- د تاریخ مرصع په باب د څېړونکي تېروتنه، چې هغه یـې دخوشـحال د زوی اثر ګڼلی، هغه د خوشحال خان د زوی نه، بلکـې دلمسيـ (د اشرف خـان هجـري د زوی) اثر دی.

۵- کـومې خـبرې او څرګنـدونې چـې لیکـوال او څېړونکـي د خلکـو سـندرو د اصالت او ګټورتوب او جامعیت په بـاب کـړي، هغـه ډېـرې کـوچنۍ او سـطحي او لـه تېروتنو سره مل دي ، د دې سـندرو پـه موضـوعاتو، ډولونـو، بحرونـو او وزنونـو بانـدې مفصلو او هر اړخیزو څېړنوته اړتیا ده، کومې بېلګې چې دوی راټولې کړي او خوندي کړي په خروار کې د موټې حیثیت هم نه لري.

د دې سندرو د شاعرانو په باب چې لیکـوال او څېړونکـی دا نظـر لـري چـې دا شاعران او سندر غاړي دنسل له مخې پښتانه نه دي او په پښتني ټولنه کې ورتـه پـه سپکه سترګه کتل کېږي دا هم سمه نه ده، ښایي په استثنایي ډول به ځینې داسـې هم وي.

٦- څېړونکي چـې د پښـتو د تـاریخي اشـعارو لرغـونې بېلګـې د هنـدي مغولـو (ګورګانیانو) او لوی احمد شاه له زمانې او له هغه څخه راوروسته وختو کـې مونـدلي

او په دغه اثر کې يې خوندي کړي، سره له دې چې ما په لومړي ټوک پښتانه شعراء او دوهم ټوک د پښتو ادبياتو تاريخ کې د اسلامي دورې دلومړنيو او د غزنويانو د دورې، يعنې دوروستيو زروکلونو د مودې ځينې نمونې مونډلي او خپرې کړي دي. (۲: ۳۸، ۴۴مخونه)

استاد حبيبي چې په خپلو ځرګندونو کې د ډارمستټر په پښتو ادبي او فولکلوري څېړنوکې د کومو تېروتنو يادونه کړې او د هغې د سمون لپاره يې خپل نظر وړاندې کړی، پرځای دی، د دغه اثر په جوړښت، ترتيب او تنظيم، د شعرونو په ثبت او ليکلو کې هم لږې ډېرې تېروتنې شته، د ولسي- شعرونو د ډولونو د پېژندنې په اړه هم تېروتنې لري، شعري فورمونو ته دغزل پرځای چاربيته او چاربيتوته داستان او قصه ويل شوي، د شعرونو ترتيب او تنظيم يې هم ګډوډ دی.

د اشعارو تصنيف او ډلبندي يې سمه نه ده کړې، د ليکنې او ثبت له مخې هم ډېرې املايي او انشايي تېروتنې لري او ځينې شعرونه، لنډۍ، متلونه، چيستانونه او نور غلط او نيمګړي ليکل شوي دي.

دلته د ختيځپوهانو د فولکلوري څېړنو په اړه د بحث د پايلې په موخه د پښتني فولکلور د چاپي مجموعو د څېړندود اثر ليکوال، څېړنوال نصرالله ناصرځينې ځرګندونې را اخيستل کېږي چې د غير پښتنو پښتو پېژندونکو د فولکلوري څېړنو د نيمګړتياوو دښوونې لپاره يې پرې کره کتنه کړې ده.

نوموړی ليکي: ((زموږ يو شمير محترم څېړونکي د ختيځپوهانو آثار لولي، د هغو له آثارو څخه په ډاډمنه توګه استفاده کوي او د دوی دغه څېړنې ديو منل شوي اصل په توګه مني، حال دا چې دغو آثارو ته بايد په انتقادي نظر وکتل شي او کله چې راته دا ځرګنده شوه چې د دغو موادو هغه برخې، چې په سمه توګه راټولي شوي، بيا په خپلو ليکنو او څېړنو کې ترې استفاده وکړو.))(۷: ۲۲مخ)

څېړونکی د خپل همدغه فرعي تنقيد په وروستۍ برخه کې وايي، چې زما دغه يادونې دا معنا نه لري چې ګوندې د ختيځپوهانو کارونه له يوې مخې ردوو او د دوی دغو هلو ځلو ته اهميت نه ورکوو، البته د هغوی هڅې په خپل ځای د اهميت وړ دي، ځکه چې ترټولو لومړی دغې خواته دوی توجه کړې او د هغه وخت له شرايطو سره سم يې د هغه مهال د روشونو پراساس دغه کار ترسره کړی دی.

د پښــتني فولکلــور د راټولولــو، ثبتولــو، څېړلــو، تحليــل او خپرولــو پــه اړه د ختيځپوهانو په ترسره کړو، کــارونو کــې د شتوســتونزو، نيمگړتيــاوو او کمزورتيــاوو پــه باب زموږ په معاصرو فولکلوري او ادبي څېړنو کې داشــان او دېتــه ورتــه نــورې ډيــرې څرگندونې هم شته او که په ځانگړې توگه د دغو بهرنيو پوهــانو پــه فولکلــوري څېړنــو هر اړخيزه کره کتنه وشي، د فنونو او علومو د وېش، تجزيه او تحليل په اړه به زيــاتې تيروتنې رابرسېره شي، دلته زما موخه له دې څرگندونو نه همدومره وه چې يــواځې د موضوع حق ادا شي، ځکه که زه ټکي په ټکي په دې برخه کې د پوهانو نظريات را اخلم او بيا د هر ختيځپوه پر اثــر انتقــادي تحليــل وړانــدې کــړم دا د دې ليکنــې لــه حوصلې بهــر خــبره ده، خــو مــا پــه دې بــاب د مقــالې لــه حوصــلې سره ســم ځينــې څرگندونې او کره کتنې را واخيســتلې، انشــاالله هيلــه مــې داده چــې د پښــتو ولسي- ادب څېړونکي به په خپلو څېړنو کې دا ټکي په پام کې ولري او ښه به داوي چې له دغو فولکلوري څېړنو څخه د استفادې په موخه او يا پرهغو باندې د استناد پر مهــال له غور او علمي احتياط څخه کار واخيستل شي.

بلــه خــبره داده چــې پــه ختيځپوهــانو کــې زيــات شــمېر داســې پوهــان شــته چــې لــه مســلک سره ســم يــې دا کــار نــه دی تــر سره کــړی، پــه دې معنــا چــې ډېــر ختيځپوهــان د هــم هغــه مســلک خاونــدان نــه و، پــه امــاتور ډول يــې دا چــاره تــر سره کــړې او يــا يــې دې خواتــه پــام شــوی او پــه دې ترتيــب يــې پــه خپــل ژونــد کــې د لاســته را وړنــې لپــاره لــه ځانــه څخــه خــاطرات پريښــې، دا معلومــه ده چــې پــه نــړۍ کــې ځينــې خلــک داســې کــارونو تــه مخــه کــوي خپــل نــوم د بشر- پــه تــاريخ کــې ثبتــوي، ځينــې وخــت دا ډول کړنــې گټــورې تمــامېږي، د بېلگــې پــه توگــه يــې يــوه گټــه د پښــتو ولسي- ادب را ټولــول دي، کنــه د پښــتو د ولسي- ادب، فرهنــگ او کلتــور د را ټولــونې او پــرې پوهېــدنې هدفونــه معلــوم دي او پــه خپلــه هــم هغــو ختيځپوهــانو پــر دې اعــتراف کــړی، خــو د ضــميمې پــه توگــه مــې دوهــم اړخ تــه ځکــه اشــاره وکــړه چــې پــه نــړۍ کــې داډول زيــاتې نمــونې لــرو، پــه ځــانگړې توگــه د ســياحانو، پاچاهــانو، ســوبمنو او گرځنــدويانو چــې د ټولنــو، تمــدنونو، ملتونــو د جغرافيــې او تــاريخ پــه اړه غــوره مــواد جــوړوي چــې د پښــتنو د

تـاریخ، کلتـور او جغرافیـې زیاتـه برخـه پـه همداسـې منـابعو کـې خونـدي شوې ده.

## پایله

کله چې پر فولکلور بحث کوو، نـو لـه دوه ډولـه نظریـاتو سره مخـامخېږو یـو د کورنیو پوهانو نظریات دي او بل د بهرنیـو پوهـانو نظریـات دي، د اسـتاد حبیـب الله رفیع په ګډون اکثریت کورني ادبپوهان په دې نظر دي چې پښتني او پـه ټولـه کـې آریایي فولکلور له میلاده وړاندې زېږېدلی چې د بېلګې په توګه د سوما بـوټي کیسـه یادوي او وجودي فلسفه يې هم تشریح کوي، خـو بلـه ډلـه پوهـان بیـا بهرنیـان دي، چې هغوی له دغه ډول نظریاتو سره چندان دلچسپي نه لري، خو لږ تـر لـږه پـه دې ګروهې دي چې افغاني فولکلور ډېرو لرغونو زمانو ته رسېږي.

د ادبپوهنې یو اصل هـم همـدا دی چـې مـوږ بایـد پـر لیکلـو او لاس تـه راغلـو شواهدو بسنده شو او د هغې له مخې پرېکړه وکړ، دا سمه ده چـې د فولکلـور پـه اړه پرېکړې لږې متفاوتې دي، ځکه فولکلور د سینې پر سینې را انتقال ته وایي، خو بیا هم چې کله لیکل کېږي، ادبپوهان همغې تـه ارزښـت ورکـوي، نـو پـر دې اسـاس د پښتو ژبې لومړني ثبت شوي فولکلوري مواد د همدغو ختیځپوهانو له خـوا دي چـې دوی پرې کار کړی، ثبت کړي يې دي او موږ يې د هغـه رښـتینې ارزښـت تـه متوجـه کړي یو او پر همدې اساس وروسته ورته ټولنې او مرکزونه جوړ شول او تـر ننـه دا دی ثبتېږي، خو د بدمرغۍ ځای خو بیا هم دا دی چې نن هم ورته لکـه څنګـه چـې پـه کار ده توجه نه کېږي او له بده مرغه د زوال کندې خوا ته روان دي.

په دې مقاله کې دا او دې ته ورتـه ارزښـتونو بانـدې تفصـیلي خـبرې وشـوې او دې پایلې ته ورسېدو چې فولکلور باید د نوو او مډرنیزم غوښتنو په رڼا کې ثبت شي، کار ورته وشي او د ځانګړې پاملرنې وړ وګرځـي، ځکـه یـوه ناسـمه مقولـه دا ده چـې فولکلور د وروسته پاتې ټولنې زېږنده ده، خو که چېرې دا خبره ومنو، نو بیا باید ټوله نړۍ له فولکلور څخه کنګاله وي، په داسې حال کې چې نړۍ د نوو غوښتنو او ټولـو پرمختګونو سره سره بیا هم د خپل ولس فولکلور ته ځانګړې پاملرنه کـړې او لا هـم د هغې د خوندیتابه په درشل کې دي، نو تمـه ده چـې مـوږ هـم دغـو ارزښـتونو تـه پـه رښتینې معنا متوجه شو او د غني افغانستان غني فولکلور ولرو.

## مأخذونه

۱- اسلانوف، پښتو فولکلور او په شوروي اتحاد کې يې ژوره مطالعه، د محمد اکبر معتمد پښتو ژباړه، د فولکلور پوهنې سمپوزيم (د مقالوټولگه)، گستتنر چاپ، د علومواکاډمي، د ژبو او ادبياتو مرکز: کابل، ۱۳٦٥لمريزکال.

۲- حبيبي، عبدالحی، د پښتونخوا شعرهارو بهار، دوهم چاپ، پښتوټولنه، د ښوونې او روزنې مطبعه: کابل، ۱۳۵٦ لمريزکال.

۳- خليل، جاويد، پښتو او مستشرقين، پېښور پوهنتون، پښتواکېډيمي، جدون پرنټنگ پرېس: پېښور، ۲۰۱۱ع کال.

۴- رحيم، عبدالرحيم، په خارج کې پښتو څېړونکي، پښتوټولنه، دولتي مطبعه: کابل، ۱۹۷۴ع کال.

۵- عطايي، محمدابراهيم، په افغانستان کې د پښتو فولکلور ټولونې او څېړنې د کار پر سابقه باندې کتنه، فرهنگ مردم (مجله)، د اطلاعات او کلتور وزارت: کابل، ۱۳٦۴لمريزکال.

٦- کاکړ، ولي محمدخان سيال، پښتني فولکلور، يونايټيډپرنټرز: کوټه، ۱۹۷۱م کال.

۷- ناصر، نصرالله، د پښتني فولکلور د چاپي مجموعو څېړنددود، د علومواکاډمي، ازادی مطبعه: کابل، ۱۳۸۳لمريزکال.

۸- هېوادمل، زلمی، د اوسني گړني ادب او پښتني فولکلور را ټولونې ربړې (مقاله)، افغان ياد، کابل پوهنتون، د ژبو او ادبياتو پوهنځی، دولتي مطبعه: کابل، ۱۳٦۰ لمريزکال.

پوهندوی ببرک میاخېل

# ډرامه مخ پر ودې ژانر

**لنډيز**

ډرامه له نورو هنري ژانرونو څخه يو جلا ژانر دی، کیسه‌ییزه بڼه لري، خو ټول پيغام د کرکټر پر مټ په‌کې انتقالیږي. د ناول او لنډې کیسې سره يې توپير په همدې کې دی، چې هغه د لوستلو څېزونه دي، خو ډرامه د لیدلو او اوریدلو هنر دی. ډرامه له مکالمو پرته ناممکنه ده، خو په ناول او لنډه کیسه کې بیا دا اړتیا کمه لیدل کېږي.

ډرامې په شلمه پېړۍ کې پښتو ادب ته لاره موندلې، لومړۍ پښتو ډرامه ژباړه ده او بیا د عبدالاکبرخان اکبر د «درې یتیمان» په نوم ډرامه ایجاد شوې. په بره پښتونخوا کې بیا د عبدالرحمن پژواک «کلمه داره روپۍ» ډرامه ډېره په زړه پورې ده چې په (۱۳۱۷ ل) کال کې لیکل شوې، له ده وروسته عبدالروف بېنوا په زړه پورې ډرامې ولیکلې.

د پښتو راډيويي ډرامو په خپرواي کې د پېښور، ال انډیا او بي بي سي راډيوګانو ونډه له نورو ډېره ده. پېښور راډيو د کوزې پښتونخوا لیکوالو ډرامې خپرې کړي دي، ال انډیا د حمزه شینواري او هندي پښتنو ځینې ډرامې خپرې کړي او بي‌بي‌سي د «نوي کور نوي ژوند» په نوم ډرامه له څو لسیزو را په‌دې خوا خپروي.

ډېرو پښتنو لیکوالو په دې ژانر کې خپل قلمونه ازمویلي، چې په مقاله کې به د ځینو نوموتو لیکوالو یادونه وشي. په دې وروستیو کې د افغانستان ځینو خصوصي تلويزيونونو هندي او ترکي ډرامې ژباړلي، خپرې کړي او خپروي يې چې دا هم

پښتو ته د ژباړل شوو ډرامو په یو پړاو کې شمېرلی شو.

## سریزه

شلمه پېړۍ د پښتو ایجادي ادب د ودې او پرمختیا دور دی، په دې تاریخي دوره کې پښتو ادب په نثر کې بېلابېل اصناف خپل کړي او پاللي دي. د نورو اصنافو تر څنگ په کیسه ییزو اصنافو کې هم د پام وړ ایجادات شوي، په لره او بره‌پښتونخوا کې لنډې کیسې، ناولونه او ډرامې ولیکل شوې. ځینې ډرامې پر سټېج وړاندې شوې او دا بهیر د وخت په تېرېدو پیاوړی شو.

تکړه لیکوالو دې هنري صنف ته مخه کړه، په سلگونو ډرامې یې ایجاد کړې او په لسگونو ډرامې له نورو ژبو څخه پښتو ته را وژباړل شوې. نوموړی ژانر په لرې او برې پښتونخوا کې وپالل شو، خو عبدالاکبر خان اکبر، افضل رضا، عبدالروف‌بېنوا، عبدالمنان ملگري او حفیظ الله تراب په کې ډېر قلم و ازمایه. (٦: ٢٥١- ٢٥٦)

پښتو ته ډرامه هم د ناول او لنډې کیسې په څېر له انگریزۍ څخه د اردو په لار راغلې او لیکل یې دود شوي. څېړنې داسې ښیي چې پښتو ته لومړۍ را ژباړل شوې ډرامه د «اندر سبها» په نامه یادېږي، خو د ژباړونکي نوم یې نه دی معلوم. په کوزه پښتونخوا کې لومړنۍ لیکل شوې ډرامه د عبدالاکبر خان اکبر «درې یتیمان» دي، چې په ۱۹۲۷ م کال د اتمانزو د ازادسکول (ښوونځي) د کالیزې په غونډه کې د ستیج پر مخ ننداري ته وړاندې شوې ده.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

د دې څېړنې اهمیت او مبرمیت په دې کې دی چې په پښتو ادب کې د ډرامې پر تاریخي شالید او پایښت سربېره د پښتو ژبې او ادب ډرامې هم څېړي، چې څنگه دي، څنگه باید وي. همدا راز دغه ډرامې چې لیکل کېږي ارزښتونه او اړتیاوې تر کومې کچې په کې په پام کې نیول شوي او څومره تروړل شوي.

## د څېړنې موخې

- د پښتو ډرامې د تاریخي بهیر سپړنه.
- د پښتو ډرامو د مشهورو لیکوالو پېژندنه.
- ددې موضوع په اړه د نورو څېړونکو پام راړول.

## د څېړنې پوښتنې

په دې څېړنه کې تر ډېره لاندې پوښتنې ځواب شوې دي:

- ✓ ډرامه څه شی دی؟
- ✓ د ډرامې تاریخي ارزښت په څه کې دی؟
- ✓ د ډرامې پایښت په څه کې دی؟
- ✓ کومې ډرامې چې لیکل کېږي ایا زموږ د ټولنې غوښتنې دي او کـه ټـولنې ته یې ننګونې پیدا کړي؟

او دې ته ورته ځینې پوښتنې په کې ځواب شوې دي.

## د څېړنې میتود

ددې څېړنې ډول کتابتوني دی او له تشریحي میتود څخه ګټه اخیستل شـوې ده. د موضوع په اړه له معتبرو او موثقو ماخذونو څخه استفاده شوې ده.

## ډرامه

ډرامه د یوناني ژبې کلمه ده چې له ډراو څخه اخیستل شوې ده، ډراو د عمل کولو معنا لري؛ نو همدا لامل دی چې ډرامه په (کولو، ښودلو) تعبیر شوې ده؛ یعنې هغه څه چې په عمل کـې ښـودل کېـږي. پـه اصـطلاح کـې ډرامـه د هـنري ادبیـاتو هغه ژانر دی چې د خبرو اترو یا مکالمو پـه فـورم لیکـل شـوې وي او د ژونـد پـر یـوه کیسه یا داسې یوه پېښه را څرخي چې که واقعیت نه وي خو چې رښتینواله پـه کـې منعکسه شوې وي. (۱)

او یـا پـه بلـه وینـا: ډرامـه د یـوې داسـې ژونـدۍ کیسـې بیـانګره ده چـې د ټولنې احساسات او جذبات په کې به داسې انداز بیان شوي وي چې د حرکتونـو او خوځېدو په بڼـه وړانـدې شي او تمثـیلي بڼـه ولـري. ادبپوهـان ډرامـایي وحدتونـه (د زمـان وحـدت، د مکـان وحـدت، د عمـل وحـدت) د ډرامــې د فـن بنسـټیز تـوکي بولي. (۲)

د ډرامې په اړه بېلابېل اندونه شته، څوک یې د فطرت پیښې بولي، څـوک یـې د رښتیاوو منظرکښنه په ګوته کوي، خو د ژوند د یو اړخ عکاسي به په‌کې شوي وي.

له‌دې ټولو خبرو سره - سره ډرامه د هنري ادبیاتو په لړ کې هغه ادبي او هـنري ژانر دی چې د تمثیل له لارې خلکو ته وړاندې کېږي. د ډرامـې کرکټرونـه د ښـودلو

او عمل کولو پر مټ کولای شي چې خپله موخه اوربدونکو او لیدونکو ته وښیي.(۳)

د ډارمې په اړه تر نور څه ویلو وړاندې به اړینه وي چې پر تاریخي سېر یې لړ څه تم شو.

## د ډرامې تاریخي سېر

سره له دې چې تر اوسه دا لا نه ده سپینه شوې، چې د ډرامې د فن ابتدا څه وخت، څنگه او چېرته وشوه؟ له تاریخي مطالعاتو اوڅېړنو څخه داسې ښکاري چې په لرغوني مصر کې څو زره کاله پخوا د (ایپیدوس) په نوم یوه ډرامه د (اوسېدوس) پاچا د مړینې په وخت کې ښودل شوې ده، ځینې هنر څېړونکي وایي: کېدای شي (ایپیدوس) لومړنۍ ډرامه وي، خو د اوسني وخت په ډرامایي لوازماتو په فني لحاظ پوره ډرامه (تهس پس) په (٥٦ ق،م) کال د یونان په مرکز اتن کې وښودل شوه.(۴)

په هندوستان کې د ډرامې مواد دومره ډېر وو چې دوه زره کاله پخوا وربانـدې (بهرتا) یو کتاب لیکلی دی.

زموږ په گران هېواد لرغوني آریانا کې د ډرامې فن له لرغونې زمانې راهیسې د ملتونو په منځ کې په مختلفو بڼو او تر ځانگړو شرایطو لاندې وده او انکشاف کړی دی.

پخوا به ډرامې زیاتره د سټېج په سر ښودل کېدې، اما له اتلسمې پېړۍ څخه را په دې خوا د راډیو او ټلویزیون څپو ته ورننوته او تنگه دایره یې پراخه شوه او له همدغه ځای نه یې پښتو ادب ته هم لاره پیدا کړه.

## ډرامو ته ځغلنده نظر

د پښتو لومړنۍ طبعزاد ډارامه (( درې یتیمان )) داتمانزو په های سکول کې، د ښوونځي د کالیزې په مناسبت زده کوونکو وړاندې کړه، دا ډرامه په لرې پښتونخوا کې په (۱۹۲۷م) کال کې عبدالاکبر خان اکبر لیکلې چې د اتمانزو په آزاد ښوونځي کې ننداري ته وړاندې شوه. په دې ډارمه کې ښاغلي اکبر خان په اصلاحي بڼه د ټولنې د زورواکو زور زیاتی په گوته کړی و.

دوهمه ډرامه هم عبدالاکبر اکبر د تربور په نامه لیکلې ده او دا هم لکه پورتنۍ ډرامه په (۱۹۲۸م) کال د اتمانزو د آزاد سکول په کالیزه غونډه کې سټېج

شوې ده.

دربمه ډرامه هم د خدايي خدمتګاران تر عنـوان لانـدې د عبـدالاکبرخان اکـبر له خوا ليکل شوې ده. پـه افغانسـتان کـې بيـا پوهانـد اسـتاد عبـدالحی حبيبـي، د لومړنۍ ډرامې موسس هم ګڼل کېږي، ( توريالۍ پښتنه) د پوهانـد حبيبـي لـومړنۍ ډرامه ده چې په ( ۱۳۱۴هـ ش) کال کې ليکل شوې او په ( ۱۳۱۵هـ ش) کې دغه نندارليک طلوع افغان مهال ګڼې خپورکړې دی، چـې د افغانسـتان د خپلـواکۍ پـه جګړه کې د ښځو د برخې اخيستلو يو کوچنی انځـور دی، چـې زيـاتره پښـتو لنـډۍ په‌کې ويل شوې. دوهمه ډرامه هم د پښتو حماسي ډرامـه کلمـه داره روپـۍ ده چـې عبدالرحمن پژواک ليکلې ده. (۵)

د يادونې وړ ده چې "توريالۍ پښتنه" ځينـې ليکوال ډرامه او ځينې يـې لنـډه کيسه ګڼي او هر يو خپل خپل دلايل وړاندې کوي.

بله پخوانۍ ډرامه استاد عبدالروف بېنوا ليکلې ده، چې د کلو انځـور نـوميږي، له دغو ډرامو وروسته په لره او بره پښتونخوا کې په سـلګونو ډرامـې ليکـل شـوې دي چې د ټولو يادونه به زموږ ددې ليکنې له حوصلې پورته وي. اوس به لږ څه د ډرامې پر ډولونو تم شو.

**د فورم او منځپانګې له پلوه د ډرامې ډولونه:** ادبپوهان ډرامه د منځپـانګې له مخې په دوو ډولونو ويـشي، تراژيدي ډرامه او کوميډي ډرامه.

۱: تراژيدي ډرامه: د ډرامې په صنف بندۍ باندې تـر ټولـو زوړ کتـاب د ارسـتو دی چې پر ډرامايي شاعرۍ، تراژيـدي او کوميـډي ژونـدۍ بحـث پـه‌کې شـوی دی. ارستو د تراژيدي په باره کې وايي: تراژيدي د انسانانو تقليد نـه دی، بلکـې د عمـلي ژوند د نېکمرغۍ او بد مرغۍ تقليد دی.په کار دی چې د دې عملي تقليد د بيـانولو لپاره يوه داسې طريقه غوره شي چې د عمل په هره برخه کـې يـو ځـانګړې جـذابيت پيدا شي او دا هم اړينه ده چې دا د ډرامې په رنګ کې وي.

۲: کوميډي ډرامه: دا يوه لرغوني يوناني کلمـه ده چـې پـه خونـدورو کلماتـو او حرکـاتو سره تمثيلـيږي. لوبغـاړي يـې هـم بايـد کوميډيکـه وي، ترڅـو پـه ځـانګړو ښودنو سره د ژوند په هغـو پېښـو ملنـډې ووهـي چـې لـه ټـولنيزو نـابرابريو، انسـاني سلوک او صفاتو څخه لـرې وي، کوميـډي ډرامـه لـه تراژيـدي ډرامـو نـه وروسـته دود

شوه. د یادونې وړ ده چې تراژیدي یواځې په دې مفهوم نه ده چې سرې دې ورته په لېو، لېو وژاړي او کومیډي هم یواځې دا معنا نه لري چې سړی دې ورته وخانـدي، بلکې دواړه ډوله ډرامې د نورو هنري او ادبي ښـېګڼو ترڅنګ د ښوونې او روزنې انتباهي، انتقادي او اصلاحي ټولنیز اړخونه لري.

د فورم له مخې د ډرامې ډولونه: په عمومي توګه د فورم له مخې ډرامې په څلور ډوله دي؛

۱: سټېج ډرام.

۲: راډیو ډرام.

۳: ټلویزیونې ډرامې.

۴: فلمونه ننداریکونه.

چې یې دلته د بحث د اوږدېدو له امله تشریح او تفصیل نه شو راوړلای. (٦)

**د پښتو ډرامو جوړښت**: په پښتو ادب کې د نورو هنري ژانرونو په څېر ډرامه هم ځانته چوکاټ لري، چې ځینو ادیبوهانو ډرامایي وحدتونه د ډرامې د فن بنسټیز توکي ګڼلي دي، د ارستو په اند ډرامایي وحدتونه درې دي:

۱: د زمان وحدت

۲: د مکان وحدت

۳: د عمل وحدت

وحدت هغه تاثر او اغېزه ده چې پر سټېج له پیل نه تر پایه خپور او احساسیږي.

پلاټ په ډرامه کې بنسټیز او اساسي توکی دی او همدغسې په پلاټ کې شامله پېښه یا کیسه، چې د هغې پر بنسټ ډرامه جوړیږي، پیل، اوج او پای لري. د ډرامې په پلاټ کې شامله پېښه او کیسه د نورو ضمني پېښو سره په ارتباط په شپږو پړاوونوکې بشپړیږي چې دلته هر پړاو په لنډه توګه تشریح کوو. (۷)

لومړی پړاو(پیلامه) : له پیلامې نه موخه لومړني واقعات او پېښې دي په دې پړاو کې معمولاً پېژندګلوی کېږي او په دې لړ کې د کردارونو تعلق او اړوندتیا ښودل کېږي.

دوهم پړاو: په دې پړاو کې پېښه ورو - وروڅرګندیږي. دا پړاو د ډرامې د عمل

لپاره بنسټيز اهميت لري.

دربم پړاو(د اوج ټکی) : په دې پړاو کې پېښه يو حساس او نازک حالت ته رسيږي، دې پړاو ته په انګريزي ژبه کې کلايمکس يا انتها ويل کېږي.

څلورم پړاو: دا پړاو په حقيقت کې د تېرو پېښو او واقعو منطقي نتيجه وي.

پنځم پړاو: په دې پړاو کې د کړکېچونو او جنجالونو د نتېجو او حل څرګندونه يو په بل پسې پېل کېږي. دلته لازمه ده چې له لنډيز څخه کار واخيستل شي.

شپږم پړاو( انجام ياپايله): دا وروستی پړاو دی چې په کې د متضادو او مخالفو قوتونو ترمنځ تصادم ختم شي او له ټولو اصلي او فرعي پېښو نه يوه منطقي نتيجه لاس‌ته راځي. دا نتيجه هر څه چې وي د ليدونکو مخې ته راشي او خبره ختمه شي. (۸)

## د لنډې کيسې، ناول او ډرامې توپير

د لنډې کيسې، ناول او ډرامې تر ټولو ستر توپير دا دی چې ډرامه ټوله په مکالمه چورلي او بې له مکالمې نه د ډرامې تصور هم نه شي کېدای، خو په ناول کې کله - کله مکالمو ته اړتيا پيښه شي او په لنډه کيسه کې بيا دا اړتيا ډېره کمه او په نشت شمېر ده، ډېرې داسې لنډې کيسې شته چې هېڅ مکالمه نه لري، خو کيسه په ټولو کې مشترکه ده.

## پايله

د پايلې په توګه ويلی شو، په پښتو ادب کې لومړۍ ډرامه په شلمه پېړۍ کې رامنځ‌ته شوې‌ده. په پښتو کې د ډرامې لومړنی ليکوال عبدالاکبر خان اکبر دی، ورپسې ډېرو مشهورو ليکوالو دا ژانر پاللی او پښتو ادب ته يې په سلګونو ډرامې وربخښلي دي. د سټېج، راډيويي او تلويزيوني ډرامې وليکل شوې او د ټولنې بېلابېل دردونه په‌کې منعکس شول. د نورو ژبو په څېر په پښتو کې هم معياري ډرامې ايجاد شوې او همدارنګه په دې وروستيو کې له نورو ژبو څخه ډېرې ډرامې را وژباړل شوې.

مناقشه: د پښتو ډرامې په اړه په ځينو اثارو کې څنګزن او په ځينو کې ځانګړي عنوانونه شته او پرې بحثونه شوي دي. خو پر تاريخي سېر يې کوم ځانګړی بحث زما نظر ته رانغی البته که وي هم په دې بڼه به نه وي، ځکه مې ددې مقالې د

لیکلو هوډ وکړ. څېړنوال هاشمي په «د نـثري ادب ډولونـه» اثـر کـې د پښـتو ډرامې لومړني لیکوال چې څوک معرفي کړي، زما په څېړنه کـې هـم لـه هغـو څخـه یـو تـن (عبدالاکبرخان‌اکبر) لومړنی لیکـوال وښـودل شـو. هلتـه لـه نـورو ژبـو څخـه پـه دې وروستیو کې پښتو ته د را ژباړل شوو ډرامو په اړه کوم بحث نه دی شوی، خـو پـه دې لیکنه کې د وروستیو ژباړل شوو ډرامو په اړه هم بحث شوی دی.

## وړاندیزونه

- په دې وروستیو کې چې پښتو ته له نورو ژبـو څخـه کـومې ډرامـې را ژبـاړل کېږي، زموږ له فرهنګ سره پـه ټکـر کـې دي. لیکـوال دې د پښـتنو د ذوق خړوبولـو لپاره د خپل کلتور په رڼا کې د خپلـې ټـولنې لـه غوښـتنو سره سـمې ډرامـې ایجـاد کړي.
- رسنۍ باید د اصلاحي ډرامو خپرولو ته ځانګړي پاملرنه وکړي، څکه چې له همدې لارې په ډېرې اسانۍ سره د ټولنې هر قشر ته پیغام رسولی شو.

## مأخذونه

١. رشیدي، جمشید، ادب تیوري، انتشارات نامي: کابل، ١٣٩١ لمریز کال.

٢. رضا، افضل، ډرامه، یونیورسټي بُک ایجنسي: پېښور، ١٩٩٥میلادي کال.

٣. سـنګروال، شهسـوار نیـازي، د ډرامـې تـاریخ او فـن، یونیورسـیټي بُـک ایجنسي: پېښور، ١٣٧١ لمریز کال.

٤. مجـروح، مشــتاق یوســفزی، زرکــاڼې، تــاج پرنټنــګ پــرېس: پېښــور، ١٩٩٨میلادي کال.

٥. هاشـمي، سـید محـی الـدین، د لیکـوالۍ فـن، بـورډ ناصربـاغ: پېښـور، ١٣٨٣لمریز کال.

٦. هاشمي، سیدمحی الدین، د نـثري ادب ډولونـه، وحـدت خپرندویـه ټولنـه: پېښور، ١٣٨٩لمریز کال.

٧. هاشمي، سیدمحی الـدین، د ادبپـوهنې څـانګې، مـیهن خپرندویـه ټولنـه: کابل، ١٣٩٣لمریز کال.

٨. طاهر، محمد نواز، روهي ادب، د سید صفدر علي شـاه پښـتو ژبـاړه، دوهـم چاپ، پښتو اکیډیمي، پېښور، (ـــ)؟

پوهنمل سیداصغر هاشمي

# د ګل پاچا الفت په هنري نثرونو کې د ازادۍ غوښتنې پیغام

**لنډیز**

استاد الفت په ازادۍ مین و. د ده په نثرونو کې د فکر ازادي، ملي ازادي او د بیان ازادي په اړه وېناوې ډېرې دي. دی د ویښو زلمیانو فعال غړی او د دې غورځنګ له اهدافو یې د ازادۍ مفهوم په بېلابېلو مفهومونو ټولنې ته وړاندې کړې دي.

**سریزه**

د نړۍ ټول انسانان غواړي چې په ازادۍ کې ژوند وکړي او همدارنګه حیوانات هم اسارت ته خوشحاله نه وي. استاد الفت د ویښو زلمیانو د غورځنګ غړی و او ددې ګوند له موخو ازادي غوښتنه یوه مهمه موضوع وه، نو ځکه د استاد په وېناوو کې د ازادۍ په اړه ډېرې خبرې لیدل کېږي.

د دوی په وخت کې د بیان ازادي سانسور وه، خو ده د بیان په ازادۍ تأکید کاوه. په ځانګړي ډول د افغانستان انسانان یې فکر کولو ته هڅول او د فکري ازادۍ په اړه یې ورته د کار خبرې کړې دي.

**د څېړنې اهمیت او مبرمیت**

ازادي غوښتنه او خلکو ته دا پیغام ورکول چې ازادي یوه مهمه موضوع ده او په اسارت کې ژوند له ستونزو ډک وي، نو انسان د ازادۍ په اهمیت پوهېږي او

همدا د موضوع نویوالی ثابتوي چې خلکو ته د ازادۍ په ارزښت خبرې وشي.

### د څېړنې موخې

د ګل پاچا الفت په هنري نثرونو کې د ازادۍ پيغام د کوم ارزښت پر بنا وړاندې شوی دی. د ازادۍ مهمې برخې يې په ويناوو کې واضح او تشريح کړې دي او د بيان ازادي، ملي ازادي او فکري ازادۍ باندې يې له بېلابېلو اړخونو د بحثونو پلټنه د دې ليکنې موخې دي.

### د څېړنې پوښتنې

ـ ازادي څه ته وايي؟

ـ د استاد الفت په نثرونو کې د ازادۍ کومې برخې ښودل شوې دي؟

ـ استاد الفت په ملي ازادي، فکري ازادي او که د بيان په ازادي ډېر تأکيد کړی دی؟

### د څېړنې روش

په ليکنه کې له تشريحي او توضيحي مېتود ګټه اخېستل شوې ده.

### متن

د ګل پاچا الفت په پنځونو کې د ازادۍ غوښتنې په اړه ډېرې خبرې شته. د ويښو زلميانو د غورځنګ يو بنسټيز هدف د شاهي، فيوډالي او نيمه فيوډالي نظام په ضد مبارزه وه، چې د دې غورځنګ د يو کليدي شخص په ډول استاد الفت دغه دنده په سم ډول مخکې وړې ده. د ازادۍ په اړه د ده په نثرونو کې چې کومې خبرې راغلې دي، په شعرونو کې هم تر سترګو کېږي. ملي ازادي، فکري ازادي، د بيان ازادي او داسې نورو برخو کې مثبت فکرونه او نظرونه لري.

د نثري کليات په لومړي ټوک کې«ولاړې اوبه» په نامه ليکنې يوه برخه راوړم چې د ملي ازادي په اړه وايي: ((...زما پښو کې لکه غرونه لوی لوی زنځيرونه پراته دي او زه يې ځای په ځای درولی يم. هغه ازادي، چې مستو سيندونو او زورورو سېلابونو سره شته له ما سره نه شته.

زه عمق لرم، شور او مستي لرم، موج او حرکت لرم.

زه ډېر خلک غرقولی شم، مګر ځان له قيده نه شم خلاصولی.

زما قوت او طاقت ايسار دی، ما ځان ته د يوې چينې او يوه لښتي قدر ته مجرا

پيدا نه کړه او د دغو ماشومانو ازادي هم زما په برخه ونه رسېده. زه ډېر لوی قوت يم، مگر ازاد نه يم، ايسار يم، ځکه هېڅ نه شم کولی او هېڅ را نه جوړ نه شوه.

زما عمر عبث تيرېږي، نه رانه برق او بريښنا پيدا شوه نه سمسور باغونه، نه مې جهان وليده او نه جهان وليدم. زه ښارونو او ودانۍ ته ښکته نه شوم. ما خپل موج او حرکت ونه ليد او د شور او مستۍ په کيف ونه پوهېدم، زه د ځان غوندې نورو ډنډونو سره يو ځای کېدای نه شم، مگر د کابل سيند د کونړ له سيند سره يو ځای کېږي او دواړه له اباسين سره خپل موجونه خپل شور او خپله مستي يو ځای کوي.

قيد او اسارت عزيزان له عزيزانو نه لرې ساتي، ځکه د يوه کوهي اوبه له بل سره نه شي گډېدلی. لوی ډنډ ته لاره نه لري، مگر د اسمان ورېځې يو له بله گډېږي او د يوه باغ مرغۍ خپل شور او خپل مستي يو ځای کوي...))(۱)

د گل پاچا الفت د نثرونو لوی هنر دا دی، چې خپل هدف او پيغام په بېلابېلو فکرونو او نظرونو وړاندې کوي. په دې نثر کې يې د انسان ازادي د سيند له ازادۍ سره يو شان گڼلې ده، سيند چې هره خوا ځي، د ځان سره ښېرازي او خوشحالي وړي، دا ځکه چې ازاد دی. که انسان ازاد ژوند وکړي او د ازادۍ په مفهوم پوه شي، دی به ځان او ټولنې ته خدمت وکړي.(۲)

د ازادۍ مسلم حق په نړيوالو قوانينو کې هر انسان ته ورکړل شوی دی، له انسانانو پرته حيوانات هم اسارت نه غواړي، کله چې يوه مرغۍ بندي وي، چغې وهي، چې خلاصه شي او په ازادانه ډول ژوند ته دوام ورکړي، يا که چېرې يوه حيوان له پښتو وتړل شي، کوښښ کوي، چې ځان خلاص کړي او له بنده ځان خلاص کړي.

«مترقي ژوند» نثري ادبي ټوټې يوه برخه ده وايي: ((د عرف او عادت له غلامۍ څخه ازادي، د مدني پيشرفت په برکت حاصلېږي او زاړه ناکاره رواجونه د همدغې رڼا په مرسته له منځه ځي.

راشئ! چې اوس خپل ځانته په ډېر ځير وگورو او پخپل حق کې قضاوت وکړو، چې موږ د نوي ژوند په قبلولو کې څنگه يو او د نوو افکارو په څرگندولو کې څومره همت لرو.

زموږ ذهني ازادي، چې د پوهې او تنوير نتيجه ده تر کوم حد ده او له

اجتماعي نهضتونو سره څومره علاقه لرو؟)) (۳)

د ګل پاچا الفت ازادي له څو اړخونو او زاویو تر بحث لاندې نیول شوې ده، دی د فکر په ازادۍ ډېر تاکید کوي او د فکر ازادي د نورو ازادیو خورا ښه ګڼي.

(کورنی مرغه) په نامه لیکنه د ازادۍ په اړه یوه په زړه پورې برخه ده وايي: ((هو! هر څوک او هر څه چې د بل د لاس لاندې وي هغه د همدغسې ورځې لپاره روزل کېږي، وګوره بزګر خپل غویي څنګه ښه ساتي، په سره غرمه کې ورته وابښه کوي، اوبه ورکوي، چې بیا پرې جغ کېږدي او مځکه پرې واړوي. همدغه شان خپل کښت وخت په وخت پېه کوي، له غویو او پسو یې ساتي، چې له مځکې هسک او ژر وربېل شي.

همدارنګه هر کام چې خپل واک نه لري او د بل لاس لاندې ژوند کوي، هغو د نورو د ژوندون لپاره لکه چرګان او غویي ساتل کېږي او روزل کېږي، نو دوی ته که هر څومره ښه خواړه ورکول کېږي، همغه خواړه دوی د مړینې لپاره غټوي او نږدې کوي یې. دوی ته هغه څه نه ورښودل کېږي، چې دوی په خپل ځان ویسا کړی شي او په نړۍ کې په خپل واک ژوندون وکړی شي او د بل پاتې شونو ته سترګې ونه نیسي. هو! دوی هېڅکله نه شي کولای، چې هر څه په خپله وګټي او بل چا ته هیله او اسره ونه کړي.)(۴)

د ګل پاچا الفت د نثر نه کومه کوچنی برخه چې ما د خپلې موضوع لپاره راوړه که تر پایه ولوستل شي، د یو چرګ ازادي یې داسې انځور کړې ده او دایې ویلي دي، چې که چرګ ازادي واخیسته، نو له حلالې به خلاص شي. چرګ خاوند د همدې لپاره ساتي چې لوی شي او په پای کې یې د ځان لپاره حلال کړي، همدارنګه که انسان هم په اسارت کې ژوند وکړي، یوه نه یوه ورځ به ارمان کوي.

**ملي ازادي:** استاد په ازادۍ مین و او د ولس سوکالي او خوشحالي یې په یو ازاده ژوند کې لیده او نه یې غوښته، چې ولس دې په اسارت کې ژوند وکړي.دوی یې د فکر کولو لپاره هڅول او دوی ته یې د بیان د ازادۍ جرئت ورکاوه. الفت دې ته متوجه و، چې په افغانانو کې باید د فکر کولو تمرین ته لاره هواره شي، دا خلک اړتیا لري، چې د خپلې ټولنې، چاپېریال، د انسان او ټولنیزو اخلاقو په هکله فکر وکړي، چې دې ته متوجه شي، چې باید نیمګړتیاوې اصلاح او ښېګڼې لا ډېرې

کړي، هو! فکر کول د انسان مفکوره پیاوړې کوي او د ملي ازادۍ احساسات او جذبات په کې پیدا کېږي.(۵)

گل پاچا الفت د«ملي ناموس» په نامه لیکنه لري، وایي:((نن د هر ملت په نظر که خپل ملي استقلال د یوه ډېر لوی ناموس حیثیت لري او له دې نه لوی افتخار بل نه شته. د دغه مقصد لپاره خلک سرونه ورکوي، مالونه او اولادونه قربانوي او بې استقلاله ژوند ډېر لوی ذلت گڼي.که چېرې ملی احساس او ملي شعور په ډېر قوت موجود نه وای د استقلال قیمت به ډېر لږ او د دنیا لویې امپراتورۍ به نه ړنگېدې، استعمار به دغسې بده قیافه نه درلوده او یو ملت به د بل ملت تر سیوري لاندې خوشحال و.دغه ملي جشنونه چې هر مستقل ملت یې د خپل استقلال په یاد کوي او په ډېر قدر ورته گوري د ملیت تجلیل او احترام پکې پروت دی او همدغه معنی لري چې یو ملت د بل ملت حاکمیت په ځان نه شي منلی. موږ باید پدې خبره ډېر فکر وکړو چې ملي استقلال د ملي احساس او شعور محصول دی. هر څومره چې دغه حس قوي وي هغومره به زموږ استقلال هم قوي وي.

د استقلال ساتنه د ملت قوي جذبې ته ډېر شدید ضرورت لري، که دغه احساس په یوه ملت کې کمزوری شي، هغه د استقلال په قدر او قیمت نشي۔ پوهېدلی او د همدغسې ناپوهۍ په وجه دغه لوی نعمت ساتلی هم نه شي.

موږ باید خپل امتیازات ملي شعور او ملي احساس ډېر ټینگ وساتو او د خپل استقلال تقویه ور پورې مربوط وگڼو.)) (٦)

ملي ازادي د ملت په سطحه وي، که چېرې کومه اشغالگره قوه په کوم حکومت حمله وکړي او ملک ته په زور راشي او په خلکو ظلم وي، نو په داسې مواردو کې د ملي ازادۍ مفکوره ورکول مهمه موضوع ده.

د ملي ازادۍ لپاره په فردي ازادي، د فکر ازادي او د بیان ازادي لاره جوړوي، چې ملي ازادي تر لاسه کېږي. په ټولو ازادیو پوهېدل او د دې احساس پیاوړی کېدل له کورنۍ پیلېږي، والدین د ازادۍ د مفکورې ورکولو خورا ښه او لومړني استادان دي.

**د فکر ازادي**: استاد په نثري کلیاتو، (۸۸) مخ کې د (نوي درس) لیکنې کې د فکر د ازادۍ په باب وایي: ((زه د فکر ازادي له هر څه پورته گڼم، هر څوک له

ځانه خوابدی کوم، مګر خپل ځان او خپل وجدان خوشحال ساتم.))(۷)

استاد الفت د (فکر) تر عنوان لاندې د فکر د ازادۍ په اړه وايي: ((څو کاله د مخه چا په دې هېواد کې ښو ته ښه او بدو ته بد نه شو ويلی، څوک چې د فکر او رايې خاوندان بلل کېدل، په زندانونو کې واچول شول او فکرونه په کې مضمحل شول، اوس دنيا بل راز شوه او د دې عصر ـ کارونه له موږ نه فکر غواړي او د پخو فکرونو تقاضا کوي، موږ اوس مجبور يو، چې فکر او د فکر خاوندان پيدا کړو، يعنې د فکر کولو مشق او تمرين وکړو، د دې مشق لپاره ميدان او غولی په کار دی، چې هغه جرايد او مطبوعات دي، مطبوعات بايد ازاد وي او ازاد فکرونه په کې ځای پيدا کړي، په دې کار کې ډېرې فايدې دي او دغه ازادي زموږ لپاره ډېره ضروري ده، اوس زموږ په مغزو کې فکرونه وچ شوي، موږ د فکر په توليد قادر نه يو، که چېرې د جرايدو او مطبوعاتو ازادي د يو قانون له مخې پيدا شوه، له دماغونو نه به څه وزېږي او سرګرداني به ورکه شي.هر يو به د خپل فکر په صحت او غلطۍ پوه شي، ځکه چې فکر ازاد شي، اقتصاد هم ازادېږي او هرڅوک ښو ته ښه او بدو ته بد ويلای شي، که فکر ازاد شي، هر څوک به د خپل حق مطالبه وکړي او خپل حق به وغواړي.))(۸)

د ګل پاچا الفت نثري کليات د فکر د ازادۍ په اړه لسګونو ليکنې لري، چې د بېلګې په ډول د الفت نثري کليات«لومړی او دويم ټوک) ۹، ۱۲، ٥٦، ۹۲، ۱۰۸، ۱۴۹، ۱۷۳، ۲۴۰، ۲۴۱ او داسې نورو مخونو کې له بېلابېلو بعدونو څخه د فکر د ازادۍ په اړه خبرې لري، دی مفکر او مبتکر ليکوال و، نو ځکه يې د فکر په ازادۍ ډېر تاکېد کاوه.

د (بې ګناه بندي) په نامه ليکنه يې خورا ښه مثال دی وايي:
«پربېږدئ!» پرېږدئ دا بې ګناه بندي پرېږدئ.
مه وېرېږئ د ده په ازادولو کې هېڅ خوف او خطر نه شته.
فساد او شرارت له ده څخه نه پيدا کېږي.
د ده بندي کول لويه ګناه ده.

دی هغه يوسف دی، چې د بې ګناهۍ په سبب په زندان کې لوېدلی دی.که دی له زندانه را والوزي ستاسې اينده سنجولی شي او ستاسې د بلې ورځې غم

خوړلی شي.

پرېږدئ! دا بې گناه بندي پرېږدئ.
که دی خلاص شو ستاسو انتظام به په ډېر ښه شان وکړي.
ستاسې وړي به ماړه کړي، ستاسې بربنډ به پټ کاندي.
تاسې دغه ښکلی موجود په تورو ځاگانو کې مه غورځوئ.
په زندانونو کې يې مه اچوئ.
پرېږدئ دا بې گناه بندي پرېږدئ!
دی به ستاسې د گډو وډو او پرېشانه خوبونو صحيح تعبيرونه وکړي.
ډېرې سختې، مبهمې او مجملې غوټې به پرانيزي.
دی د راتلونکي حال پيشبيني کولی شي.
د طبيعت په رمزونو او اسرارو پوهېږي.
د جوی او فلکي اوضاعو اقتضارات ورته معلوم دي.
پرېږدئ پرېږدئ دا بې گناه بندي پرېږدئ!
د ده په ازادولو باندې علم او پوهه زياتېږي.
وطن رڼا کېږي او ړانده بينا کېږي.
دی له خپلو جفا کارو ورونو سره هم ښه سلوک کوي.
دی ډېر پېچومي اوارولی شي.
دی ډېرې کړې سمولی او ډېر مشکلات حل کولی شي.
ما خوب ليدلی، چې دا بندي حلاصېږي او د سلطنت په کرسۍ کېني.
ښه فکر وکړئ.
دا بندي څوک دی.
پس له ډېره فکره وايم
فکر دی فکر!»(۹)

استاد الفت په څومره قوت سره د فکر ازادي انځور کړې ده، د فکر ازادي يې پرمختگ گڼلې ده او د ټولنې د بهبود لپاره فکري کارونه او فکري توليد ته اړتيا په نظر کې نيولو سره يې په ويناوو کې د فکر د ازادۍ په اړه په لسگونو ځايه خبرې شته.فکر د بدن هغه لومړی وزير دی، چې لارښوونه يې له زړه کېږي او فکر بيا

دننني او بهرني حسونه ته د ښه او یا خراب کارونو امر کوي، په بدن کې اول زړه او بیا فکر دی، چې د ټول بدن نماینده ګي کوي، ښه فکر د ښه کړو وړو او بد فکر د بدو اعمالو تمثیل کوونکي دي.

**د بیان ازادي:** استاد ازادۍ ته له هر څه ډېر ارزښت ورکوي او پر ازادۍ مئين دی (نثري کلیاتو ۳۲۰ مخ) کې وایي: ((هو؛ هر څه او هر څوک چې د بل د لاس لاندې وي، هغه د همدغسې ورځې لپاره روزل کېږي، وګوره بزګر خپل غوایی ښه ساتي، په سره غرمه کې ورته واښه کوي، اوبه ورکوي، چې بیا پرې جغ کېږدي او ځمکه پرې واړوي، همدغه شان خپل کښت وخت پر وخت پېه کوي، له غویو او پسو یې ساتي، چې له ځمکې هسک او ژر وربېل شي. همدارنګه هر قام چې خپل واک نه لري او د بل لاس لاندې ژوند کوي، هغو د نورو د ژوندون لپاره لکه چرګان او غوایي ساتل کېږي او روزل کېږي، نو دوی ته که هر څومره ښه خواړه ورکول کېږي، همغه خواړه دوی د مړینې لپاره غټوي.)) (۱۰)

د ژوند ازادي، د ملک ازادي، د انسان ازادي، د فکر ازادي، ملي ازادي او د بیان ازادي د محتوا له مخې د استاد الفت په پنځونو کې پیدا کېږي. د بیان ازادۍ په اړه هم د ګل پاچا الفت نثرونه د کار خبرې لري، د ویښو زلمیانو غورځنګ غړي د بیان د ازادۍ غوښتونکي وو. د ده په کلیاتو کې یې په اړه ډېرې خبرې شته، چې د موضوع اړوند یوه برخه د پښتو نثرونو یې دلته راوړم: ((د خلکو خدمت دا نه دی، چې سړی به ارومرو د دوی د خوشحالۍ لپاره کار کوي، بلکې حقیقي خدمت دا دی، چې د خلکو خیر او ګټه په نظر کې ونیول شي او فکرونه، نظرونه، کارونه، خویونه اصلاح شي. که سړی د هر چا کار ته ښه وایي، چې هغه خوشحاله شي او ده ته په ښه نظر وګوري دا ډېره ټیټه سودا ده او د غلامۍ بوی تري نه ځي. که څوک خپه کېږي او خوشحالېږي، که خلک سړي ته په ښه نظر ګوري که په بد نظر، سړی باید ښو ته ښه او بدو ته بد ووایي. د بیان او وینا ازادي همدغه ده، د فکر او قلم ازادي همدغه تقاضا لري.د یوه او بل ښه نظر دومره قیمت نه لري، چې د انسان ازادي سلب کړي او په غوږ کې یې د غلامۍ کړۍ واچوي. د نورو نظر که هر څومره ښه وي بیا هم هر سړی پخپلو سترګو بینا دی او له خپل نظر نه کار اخېستل په کار دي. که څوک هر څه د نورو په نظر ګوري خپل نظر ته به شرمنده وي او د

بصیرت حق به یې نه وي ادا کړی. سړی باید یوازې د پوهانو نظر په نظر کې ونیسي- او بس.» ویښو زلمیانو غوښته چې مطبوعات او رسنۍ ازادې خپرونې ولري او د بیان ازادي چې د هر انسان مسلم حق دی، په ملک کې پلې شي، دا چې استاد د دې غورځنګ هغه فعال غړی دی، چې په پنځونو کې یې د دې غورځنګ ډېر مرامونه وړاندې شوي دي، چې یوه برخه یې د بیان ازادي ده، په شعرونو کې یې هم دا برخه پیاوړې ده، «دارالمجانین» په نامه منظومه یې ښه بېلګه ده.

## پایله

ازادي د انسانانو لپاره یوه مهمه موضوع ده او د دې له ارزښته ټولنه خبرول د هر شخص کار وي، خو په ځانګړي ډول پوهان، عالمان او د فکر خاوندان دا مسوولیت لري، چې دا هدفمنده پدیده خلکو ته واضحه کړي. د لیکنې پایله همدا ده چې استاد الفت ازادۍ غوښتنې ته خلک هڅولي دي او د ازادۍ پر اهمیت له بېلابېلو اړخونو یې بحثونه کړي دي.

## مأخذونه


**۱**.گل پاچا الفت، د الفت نثري کلیات (لومړی او دویم ټوک)، ټولوونکي محمد اسمعیل یون او عبدالرحیم بختانی، دانش خپرندویه ټولنه: کابل، ۱۳۸۹ل، ۱۳۳ مخ.

۲. پوهنمل سیداصغر هاشمي، د گل پاچا الفت د هنري نثرونو معناییزه او بڼه ییزه شننه، پوهنملۍ رتبې ته لیکل شوی اثر، ۱۳۹۷ ل کال، ۷۷ مخ.

**۳**.گل پاچا الفت، د الفت نثري کلیات (لومړی او دویم ټوک)، ۱۴۷ مخ.

۴.گل پاچا الفت، د الفت نثري کلیات (لومړی او دویم ټوک)، ۲۰۴ مخ.

۵. عبدالغفور لېوال، د استاد الفت فلسفه، د استاد الفت یاد، کابل، میتودیک، ۵۵مخ.

٦.گل پاچا الفت، د الفت نثري کلیات (لومړی او دویم ټوک)، ۵۲۹مخ.

۷.استاد گل پاچا الفت شعري کلیات (لومړی چاپ)، د شهرت ننگیال په زیار، دانش خپرندویه ټولنه: پېښور، ۱۳۷۵ ل کال، ۸۹مخ.

۸.گل پاچا الفت، د الفت نثري کلیات (لومړی او دویم ټوک)، ۸۸ مخ.

۹.گل پاچا الفت، د الفت نثري کلیات (لومړی او دویم ټوک)، ۹ مخ.

۱۰.گل پاچا الفت، د الفت نثري کلیات (لومړی او دویم ټوک)، ۳۲۰ مخ.

# List of Contents


| No | Title | Author | Page |
|---|---|---|---|
| 1. | Ostad Jaaj, Almost… | M. Asif Ahmadzai | 200 |
| 2. | Pseudo-Archaeology… | Ajmal Khkulay | 200 |
| 3. | Mystical Effects in… | Rahmatullah Hakimi | 199 |
| 4. | Prose Poetry and … | LalPacha Azmon | 198 |
| 5. | The State of literary … | Sayed Nazim Sayedy | 198 |
| 6. | The Successful Writi… | T/ Sadiqullah Badar | 197 |
| 7. | The Development of … | Gul Ghotay Khawry | 196 |
| 8. | New Critique of… | M.Sadiq | 196 |
| 9. | The Role of Brain… | Shah Mahmoud Kadwal | 195 |
| 10. | A Brief Account of… | M.Asif Samim | 195 |
| 11. | Image of Women's… | Sameela Ahmadzai | 194 |
| 12. | Critic Rating to… | Abdul Ahad Mangal | 193 |
| 13. | A Quick Look to… | Babrak Miakhel | 193 |
| 14. | Freedom Message on… | S.Asghar Hashmi | 192 |

# Ostad Jaaj, Almost 50- Year in the Service of Education and Culture

Research Fellow M. Asif Ahmadzai

**Abstract:**
Assistant Professor Habibullah Jaj Pashtunzoi, the original resident of Paktia but livid in capital Kabul, he served as Pashto literature in Kabul University for almost 49 years. He had many academic trips to different countries of the world and translated world's literature to Pashto language and transferred to his students during the period. He also served as director of Pashto department and retired and stayed at home, and was died in 1397 solar year and had many printed and non-printed books.

---

# Pseudo-Archaeology

Assistant Professor Ajmal Khkulay

**Abstract:**
The word 'pseudo' is a Greek word meaning false apparent or supposed but not real. When prefixed to the word archaeology the term pseudoarchaeology simply means false archaeology.
It can be false for a number of reasons. Firstly, the archaeological methodology may not be undertaken using accepted scientific methods. Secondly, the interpretation of the data or the material remains excavated may not be consistent with the usual practices of analysis. Thirdly, the artefacts 'discovered' could be fakes or the entire archaeological concept could be orchestrated as a hoax.

Pseudoarchaeology is sometimes called fantastic archaeology but by whatever name it is given it is best identified as pseudo-science dressed in archaeological garments. Any archaeological theory, excavation site, or published results of excavations that do not conform to accepted archaeological practices generally fall into the category of pseudoarchaeology.

Pseudoarchaeology has some results, which are called kinds of pseudoarchaeology. There are there changes are brought by pseudoarchaeology:

1- It changes form of word.

2- Or meaning

3- Both form and meaning.

These changes have some reasons: in the result of a victory, conqueror tribe change the form of word to suit them with form of their own language; so they bring some phonological changes, second, they translate them into their language and third, sometime they don't have open reasons.

Pseudoarchaeology is not a scientific knowledge; but it has a value according to folklore. It tell us some stories, which are important as folkloric materials.

---

# Mystical Effects in Hamdieh Pashto Poems

Rahmatullah Hakimi

**Abstract:**

In the Pashto language, Hamdiyeh's poetry is great, but his research department has not paid much attention In this article I first discussed the poetry of Hamdiyeh And then the mystical poetry has been examined in the words of Hamdieh Pashto.

Because this is an accepted principle that in the mystical poetics of theology there are special and special effects.

But these effects come when it comes to paying more attention to it and considered as a valid value.

---

## Prose Poetry and Poetic and Prose Order

Pro.LalPacha Azmon

**Abstract:**
Poem is a poetry comprised of rhythm and song, rhythm and song are basic items of poem. Verse: In a narrative and song-type style, it is the emotional junction of thought and imagination. Narrative language is stressed here. Prosodial structure of Pashto language is syllabic and has firm regular metre. In this writing we discussed different types of poems and verses. There is a limit between poem and verse. Versified verse, prosaic verse and prosaic poems are exemplified. Verse and poem can be explored to a full extent but here we have mentioned a few names of them.

---

## The State of literary Criticism in the Current State

Sayed Nazim Sayedy

**Abstract:**
Literary criticism is the most important and most valuable thing about some books have been written about it and are still being written And the reason for this is that by literary criticism, the literature goes to perfection and goodness,
But it's a pity that the Afghan literature, especially Pashto

literature By the way, it must be developed and developed No progress has been made which seems to me to have many causes, The main reason for this is the first to introduce a false critique or incorrect introduction And in the next step, serious and diligent encounter with literary criticism, By doing so, not only did the literature of its place and its position not be achieved? Black is dangling it too. So, before I talk about the issue and make it clear what is the cause of the collisions why is it found and why these things are done, I think it is necessary to speak about literary criticism, which is literary critique. For what purpose it is done and in general it is divided into several sections?

---

# The Successful Writing of the Famous World Writer

T/ Sadiqullah Badar

**Abstract:**
Generally, the memoirs and the life of the famous writer's letter are translated into another language which has valuable messages to other communities. I also translate this way In this article, the life of the letter, the experiences and the way of the writer of the world's most famous writers Such as Vladimir Nabokov, Kafka, Ray Bara, Jean-Paul Sartre and so on.
By their works, today their literature is in the first place.
We have also done this translation so that the experiences and successes of these great figures in our literature also make positive changes. And enrich our literature.

# The Development of Myth in Contemporary Pashto Literature

Researcher Gul Ghotay Khawry

**Abstract:**

Myth is about the master of types and supramatist powers of superstitious and superstitious stories which has been transmitted to the breast as a narrative of generations.

Myths are different from genius stories and man made stories that are for the Thirty Hours.

One of the goals of myth is to explain and express the world and make it a natural person for natural events.

Ehemorus considers myths to be a kind of stories full of exaggeration of a nation. But in general myths are the overwhelming stories of trekking, heroism, courage, bravery and artistic pleasures. Which at any time and in accordance with the values and demands of a generation are exhausted.

---

# New Critique of Pashto Poetry

M.Sadiq

**Abstract:**

Pashto literature is divided into three periods In the same way, the third period is divided into stages, Each stage, along with political logic, has its own literary logic And it's convincing because the great literary people of the country have come to Sela .

When a Pashto poetry comes up with a new critique This issue is in fact solved, Because every round or stage in his own will, he

has his own desires, The poet and author are required to follow these demands and make poetry.
This article discusses this issue and introduces new principles of critique Which should be the case.

---

## The Role of Brain in Language and Speech

Shah Mahmoud Kadwal

**Abstract:**
Human language is a system of communication as well as human expression which is uttered out by speech organs. It is an organization of sound and vocal symbols. The sound produce from the mouth with help of various organs of speech, serve to convey some meaning full messages.. It means, all the psychological and bodily activities are reliant to one system. Phonemes (sounds) are the minimal distinctive units of sound which share meaning among the creatures. Human language as a system of communication works under control of nervous system.

---

## A Brief Account of Some of the Works of Ustad Khadem

M.Asif Samim

**Abstract:**
The bibliography or the bibliography of the work is a debate that, unfortunately, is unfolding in our society from the point of view of personal and complex considerations. That is, the issues of critique are not very much considered, but the problems of

personal complexes are very observable, Of course, we know that the introduction of the book is a discussion and a critique of the book of the Second Debate, but again, we have combined these two debates.
In this article, I made a superficial statement on the work of Professor Qayamdin Khadem And I'm introducing it intensively Which is and which issues have been discussed.
It is hoped that our young researchers will notice the widest possible extent of this work and its dimensions various discusses it.

---

# Image of Women's Memories and Frustration in Angai

Researcher Sameela Ahmadzai

**Abstract:**
According to literature scholars, Pashtun local literature and folklore is mostly the product of Pashtun women thinking, different aspects of women's lives are portrayed in literature and it is the mirror of their soft, tremendous and heartfelt feeling.
According to sociologists, Pashtun women are often sacrificed by emotions and invalid social traditions, these invalid traditions have given them an artistic language and have expressed their heartfelt in the form of public literature.
One of these titles or songs is a song of fiction ( انګی)with the help of which Pashtun women have arisen their voice against social injustice and has brought it up to us.
This article discusses those unfortunates of women who are often also expressed as a result of much pain in pleasure and happy ceremonies.

# Critic Rating to Folkloric Studies by Eastern Scholars in Pashto Language

Researcher Abdul Ahad Mangal

**Abstract:**
The Pashto folk literature is big spiritual and affluent richness of pashtoon tribe which defines social attitudes and costumes of pashtoons' life.
Whenever the eastren scholars traveled to pashtoon territory, at first, they tried to perceive pashtoon people tempers according to their cultures Thus, the first effort of these scholars was, to collect pashtoon folklore.
Finally, in this paper, discussed on eastern scholars folklorical studies and their folklorical activities which evaluvated integrally, till pashtoon folklorists try to avoid letting of mistakes during folklorics studies.

---

# A Quick Look to the History of Pashto Drama

Assist. Prof. Babrak Miakhel

**Abstract:**
Drama is a diverse genre among the other genres of arts which is more of story type but all the messages are conveyed with the help of the characters in it. Its difference with novel and short story is that novel and short story are reading materials but drama is more of a visual and listening material. Drama is incomplete without dialogs but in novel and short story the need for dialogs is less likely.

Drama was introduced into Pashto Literature in the twentieth century. The first Pashto Drama was the translation of a play and then Abdul-Akbar Khan wrote the first Pashto Drama named Three Orphans (Dre Yatiman). Similarly, Abdurahman Pazwak developed another memorable drama (Kalemadara Ropai) in (1373 L) in upper Pakhtoon-Khwa and then Aduraof Benawa wrote many more interesting dramas.

Peshawar, All India and BBC radio stations have played a vital role in broadcasting the Pashto Drama compared to others. Peshawar radio station has broadcasted many Pashto dramas of the writers from lower Pakhtoon-Khwa. Similarly, All India Radio station has also broadcasted Hamza Shinwari's and some other Hindi-Pashto dramas. Also, BBC has been broadcasting (Nawai-kor Nawai-zownd) a Pashto drama for the last few decades

Many Pashto writers have made their efforts in this genre; among them the most important ones will be mentioned in this article. Some private TV channels have also been telecasting translated versions of Hindi and Turkish dramas in Afghanistan which can be considered an era of translated dramas to Pashto.

---

# Freedom Message on Artistic Prose Gil Pacha Alfat

S.Asghar Hashmi

**Abstract:**

Ostad Ulfat was freedom lover. In his prose there is abundance of saying about freedom of thoughts, national freedom and freedom of speech. He was an active member of alert youth and through the goals of this movement he has explained the meaning of freedom in a number of ways to the society.